# د نړیوال طاغوت پر وړاندې
# د جهاد لومړی پړاو

## نیروبي او دار السلام ته لار

لیکوال: شهید شیخ ابو محمد المصري
پښتو ژباړه: عماد الدین خالد



خپرندویه اداره

د نړیوال طاغوت پر وړاندې د جهاد لومړی پړاو

# نیروبي او دار السلام ته لار

شیخ ابو محمد مصري رحمة الله علیه

پښتو ژباړه: مولوي عماد الدین خالد

القدس خپرندویه اداره


بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالۍ

دا کتاب دې هغو نازنیو شهیدانو ته ډالۍ وي، چې د حق د کلمې د لوړاوي او اسلام د عظمت د بیا را ژوندي کولو په لار کې یې ارواح زموږ له منځ څخه د جنت د قندیلونو په لور وکوچېدل.

د هغو زړورو استشهادي مجاهدینو یاد ته یې ډالۍ کوم، چې د خپل تن په وینو یې د عزت، شهامت او آزادۍ لارې رنګینې کړې

او د هغو مېړنیو زړه ورو زلمیانو ارواوو ته ډالۍ دی، چې د امت د راتلونکي د نجات له پاره له ځان څخه تېرېږي، د جهاد، قربانۍ او استقامت په لار کې ګامونه اخلي او د امت د عزت ژغورلو له پاره د خپل فکر، قلم او عمل ځواک کاروي.

الله جل جلاله دې دا کتاب د شهیدانو د ارمانونو د پوره کېدو او د اسلامي امت د عزت د اعادې وسیله وګرځوي.

ژباړن

۱۴۴۷/صفر المظفر/۵ هجري قمري

## لړلیک

د معاصر جهاد په تاریخ کې یو نایاب اثر ........ 1
په یوه شخصیت کې یوه نړۍ ........ 6
سوډان ........ 1
د سوډان له پلازمینې خرطوم څخه خدای پامانی ........ 3
د پاچا ظاهر شاه ماڼۍ ........ 11
ماڼۍ ماڼۍ وي، که څه هم زړه وي ........ 12
ماڼۍ ته د خلیفه د استازي راتګ ........ 15
نجم الجهاد ........ 17
د نارنج په کروندو کې خېمې ........ 17
په شاهي ماڼۍ کې سویان ........ 19
توره بوره ........ 19
نجم الجهاد ........ 20
پاسپورت ........ 22
کینیایي پلاوی ........ 22
کندهار ته ناڅاپي تګ ........ 24
له طالبانو سره په جګړه کې ګډون ........ 27
د کراچي هوایي ډګر ........ 32
د عملیاتو تمویل ........ 37
ختیځې افریقا ته ........ 37
د نیروبي هوایي ډګر ........ 38

هوټل ته رسېدل ........ 39
کاري پلان ........ 40
لومړی باران د بریښنا فیوز دی ........ 41
د سفر پیل........ 42
ساحل ته تګ ........ 42
د هارون کینیا پرېښودل ........ 44
د هند د بحر پر څنډه ........ 44
خرطوم ته ګرځېدل ........ 45
خرطوم کوموري ځوان ته ښه راغلاست وایي ........ 47
یمن ته په لاره کې خنډونه ........ 47
د سوبا کورونه ........ 48
طلحه افغانستان ته ........ 49
مؤذن د سهار د لمانځه لپاره اذان وکړ ........ 50
یو ستوری چې د ورځې په منځ کې ځلا کوي ........ 52
د مومباسا له ساحلي ښار سره نوی ملاقات ........ 55
له فهد سره زما ملاقات ........ 56
نوی پیک اپ........ 57
په صومالیه کې د کار نظارت کونکي ........ 58
مومباسا او د روژې میاشت........ 58
نوي کور ته تلل ........ 61
د یهودو او صلیبیانو په مقابل کې د نړیوال اسلامي محاذ تاسیس:........ 65
په لاره کې خنډونه ........ 66

تنزانیا ته سفر ........ 68
د بکس غل ........ 68
د کلیمانجارو غر ........ 70
مهاجر ........ 72
وخت تېرېږي... ........ 75
د زرو میلونو سفر په یو گام پیلېږي ........ 76
کاري پلان ........ 76
د کارونو وېش ........ 77
له وخت سره سیالي ........ 77
د هدف کشف ........ 78
د فیلا کرایه کول ........ 80
هارون په مصر کې ........ 82
په دارالسلام کې نوې گرمه نېټه ........ 83
مصطفی او پټ کار ........ 84
هارون کینیا ته ستنېږي ........ 85
د زر کیلومترو سفر په یو گام پیلېږي........ 86
امونیم نایټریټ ........ 86
دوهم وړاندیز ........ 86
د ژرندې د مِل نظریه ........ 86
د لرگیو بکسونه ........ 87
امونیم نایټریټ ........ 88
په تنزانیا کې د چمتووالي لړی ........ 90

مصطفی تنزانیا ته ځي ........ 91
د لومړي استشهادي راتګ ........ 91
د پیسو په کیسه کې نه کېدل ........ 91
د لارۍ اخیستل ........ 92
عملي تجربه ........ 92
په ښار کې دننه چټکه روزنه ........ 94
د ۱۹۹۸م فوټبال نړیوال جام ........ 94
دوهم استشهادي مجاهد ........ 95
د اسرائیلو د سفارت معلومات ........ 97
د موټربم د نصبولو بشپړېدل ........ 98
زیری ورکوونکی خوب ........ 99
ابو طلال المغربي په نیروبي کې ........ 100
حسین خرشتو ........ 102
د ابو طلال واده ........ 103
د هغه لیکنو په اړه بحث چې علي صوفان او دانیال فریدمان له دوی سره د کار لپاره د ابو طلال د هڅونې په اړه لیکلې دي ........ 104
مراکش ته سفر ........ 108
المهاجر او احمد تنزانیا ته ........ 111
هارون او عزام په ممباسا کې ........ 112
د الله ﷻ عابد بنده العوهلي ........ 113
کارکونکو ته خبرداری او مشوره: ........ 113
د سفر کولو عملیات ........ 115

هر څه چمتو دي ........ 115
ټول په مومباسا کې ........ 117
د مثال په توګه: توپنګچه ........ 117
لاسي بمونه ........ 118
مشرتابه ته د عملیاتو د نوعیت په اړه خبر ورکول ........ 119
مومباسا د خدای پامان! ........ 119
د ماهي اشتها لرم ........ 124
د اسنادو غرفه ........ 124
یادونه: ........ 125
وروستي لمسونه ........ 125
مشوره ........ 126
هارون ورور به د دواړو اتلانو ملګرتیا کوي ........ 126
هوا پر هغه طرف چلیږي، چې کښتۍ یې نه غواړي ........ 128
نصیحت ........ 128
یو خندونکی او نه هیریدونکی حالت ........ 130
هوټل ته رسېدل ........ 130
د طالبانو لیلیه ........ 133
مروان او العوهلي ........ 134
په ښارونو کې کار کونکو مجاهدینو ته مشوره ........ 134
خلفان دارالسلام پرېږدي ........ 135
هارون نیروبي پرېږدي ........ 135
ماډیلین البرایټ او د تمساح اوښکې ........ 136

په نیروبي کې د امریکا د سفیرې څرګندونې........................................................137
له کفارو سره جګړه د هغوی د کفر له امله ده که د دوی له موږ سره د جنګ کولو په وجه؟................138
مسأله: آیا په اسلام کې جهاد یوازې د یرغل تر مخنیوي پورې محدود دی؟.................................143
شبهه: د کفارو په خپل کور کې په نښه کول د الله ﷻ له دې قول سره په ټکر کې ده: لا اکراه في الدین؟..147
د امت ځوانانو ته آواز ........................................................................147
سرلارو ته نصیحت ........................................................................149
د جهاد د فضیلت په اړه ځینې نصوص..................................................................150
هغو مشرانو او سترو اشخاصو ته کتنه، چې نومونه یې په دې کتاب کې ذکر شوي دي ....................152

# د معاصر جهاد په تاریخ کې یو نایاب اثر

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله والصلاة والسلام علی رسول الله وعلی آله وصحبه ومن والاه اما بعد:

کله چې اسلامي امت د خلافت له عظیم نعمت څخه بې برخې شو او پر مسلمانانو د کفري نړۍ د ظلمونو او وحشتونو څپې راغلې، په همدې حال کې الله ﷻ د خپل دین د نصرت لپاره داسې مخلصین او د سپېڅلې عقیدې خاوندان را پیدا کړل، چې د امت د فکر، مبارزې او سیاسي بیدارۍ بهیر یې ژور اغېزمن کړ، دوی د عادي انسانانو په څېر نه وو، بلکې د لوړ هدف او قوي عزم لرونکي وو. دوی د مسلمه امت د دفاع، د باطلو قوتونو پر ضد د جهاد او اسلامي نظام د نفاذ په لار کې د ژوند تر ورستیو سلګیو لکه بنیان مرصوص ټینګ او ثابت قدم ودرېدل. د الله ﷻ د کلمې د لوړوالي لپاره یې ځان، مال، کورنۍ او اولادونه قرباني کړل او موږ ته یې د حق لاره د خپل تن په وینو نښاني کړه. دا د دین د شمعې هغه پتنګان وو، چې د دنیا له رنګینیو او ظاهري ښایستونو تېر شول، آرام ژوند، آسانتیاوې او مادي لذتونه یې پرېښودل او د الله ﷻ د دین لپاره یې د هجرت او جهاد لار خپله کړه، د کفارو پر ځالګیو د بازانو په څېر ور وبلوسېدل او استعماري قوتونه یې د غرور له نیلي را وغورځول. دوی د آخرت لپاره متې را نغاړلې وې او د مسلمه امت د درد سکروټې یې په زړونو کې بلې وې او په زړونو کې یې د اسلام، مسلمانانو او مسلمه امت د مظلومیت او بې وسۍ غشي مات شوي وو، دوی تل د مؤمنانو په درد دردمن ښکارېدل، د هغوی د انتقام لپاره به شپه او ورځ په فکر کې وو او دا هر څه یې نه د دنیا او شهرت لپاره کول او نه د جاه و جلال په خاطر، بلکې یوازې او یوازې یې د الله ﷻ دغه فرمان ته لبیک ویلی و، چې فرمایي:

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَاءِ وَ الْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚ وَّاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا (سورة النساء :۷۵)

«آخر څه دلیل دی، چې تاسې د الله په لار کې د هغو نارینه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ، چې کمزوري کړای شوي، (تر فشار لاندې نیول شوي دي )او فریادونه کوي، چې: اې زموږ ربه! موږ له دې وطنه چې اوسېدونکي یې ظالمان دي وباسه او له خپل لوري څخه زموږ کوم سرپرست او مرستندوی پیدا کړه».

د «نیروبي او دار السلام ته لار» کتاب لیکوال شیخ ابو محمد المصري رحمه الله هم له همدې مخلصو شخصیتونو څخه و، هغه د الله ﷻ د رضا لپاره قیام وکړ، د مسلمه امت له مقدساتو یې دفاع وکړه، د مظلومو مسلمانانو انتقام یې واخیست، د ظالم په وړاندې ودرېد او خپل ټول ژوند یې د توحید او رسالت د کلمې لپاره قرباني کړ. هغه رحمه الله د خپل قوي ایمان، ټینګې ارادې او قربانۍ له امله د مسلمه امت لپاره د تقوا، استقامت او فکري او عملي مبارزې هنداره شو.

ددې مبارک شخصیت او سترې هستۍ خپل نوم شیخ عبدالله احمد عبدالله و، چې د جهاد او سپېڅلې مینې په کاروان کې په ابو محمد المصري یا ابو محمد الزیات پېژندل کېده، د ۱۹۶۳ میلادي کال د جون میاشتې په ٦مه نېټه یې د مصر هیواد د المغربیة ولایت په یوه متدینه، علمي او په اقتصادي لحاظ متوسطه کورنۍ کې نړۍ ته سترګې وغړولې. نوموړی لا په ماشومتوب کې ډېر ځیرک، هوښیار او د ساده مزاج خاوند و. د ځوانۍ په عمر کې د غزل المحلة نومي فوټبال لوبډلې سره ولوبېد، خو دا یې د ژوند خورا کوچنی فصل و، ځکه هغه الله ﷻ د لویې قربانۍ لپاره انتخاب کړی و او د حق او باطل تر منځ د صراع او مبارزې ستر میدان ته په لار و.

شیخ ابو محمد المصري رحمه الله د حق او باطل د جګړې په تاریخ کې د عظمت یوه نه هېرېدونکې څېره ده. هغه یو متفکر، متحرک او مسؤول مجاهد و، چې خپل ژوند یې د الله ﷻ د دین لپاره وقف کړی و، د شوروي یرغل، امریکایي اشغال او صهیونیزم پر ضد د مسلمانانو د جهاد، مبارزې، انسجام او ویښتابه په برخه کې د مخکښو شخصیتونو له جملې څخه و، د القاعده تنظیم د نائب په حیث یې مسؤولیت اداء کړ، له شیخ سیف العدل حفظه الله سره یې د القاعده تنظیم د امنیتي او تدریبي جوړښتونو بنسټونه جوړ کړل، د صومالیې او سوډان د جبهاتو لپاره یې مجاهدین وروزل.

د۱۹۹٦ــــــــ۱۹۹۸ میلادي کلونو تر منځ کله چې القاعده تنظیم د افغانستان په غرونو کې د جهادي مرکزونو د بنسټ ډبره اېښودله، هغه رحمه الله یې د معسکراتو مسؤول و، هلته یې سلګونه مجاهدینو ته د تدریب او اعداد دورې ورکړې او په فکري، تخنیکي او استخباراتي مهارتونو یې سمبال کړل، په یوه بې سارې اقدام سره یې د افریقا په لویه وچه کې د امریکایي یرغلګرو دوه مهم او ستراتیژیک استخباراتي مرکزونه (د نیروبي او دارالسلام سفارتونه) هدف وګرځول.

شیخ ابو محمد المصري رحمه الله د الله ﷻ له لوري په داسې ځانګړنو ممتاز شوی و، چې هغه ته یې د امت په صف کې بیل شخصیت ورکاوه. هغه هوښیار و، د نظم او پلان جوړونې مهارت یې درلود. زغم لرونکی و، کلونه کلونه یې په زندان، محدودیت او تعقیب کې تېر کړل، خو له خپلې لارې او داعیې منحرف نشو. پر دین مین شخصیت و، له هوسا او آرام ژوند څخه تېر شو او د امت دفاع ته یې لومړیتوب ورکړ. مخلص و، د دنیا له

ښېګڼو تېر، د الله ﷻ لپاره تیار او د جهاد د مسیر یو ثابت قدم لاروی و او د قرآن کریم، سنة الرسول (صلی الله علیه وسلم) او سلف صالحینو د لارې متعهد راهي او د شهادت د لوړ مقام غوښتونکی و. هغه رحمه الله سره له دې چې یو زړور قومندان و، یو مخلص او متفکر داعي هم و. د مجاهدینو تر منځ یې لوړ مقام درلود او داسې شخصیت و، چې تاریخونه به وربانديې ویاړي. نوموړي د خپل جهادي ژوند تر څنګ د فکري او علمي مبارزې په ډګر هم خپل مسؤولیت اداء کړ. د خپلې جهادي مبارزې پر مهال یې دوه مهم آثار ولیکل، چې نومونه یې په لاندې ډول دي: (الطریق الی نیروبي ودار السلام) او (عملیات ۱۱ سبتمبر بین الحقیقة والتشکیک).

لومړی کتاب یې په ۱۹۹۸ میلادي کال کې په نیروبي او دارالسلام کې د امریکا پر سفارتونو د عملیاتو د تفصیلي پلان او عملي تجربو په اړه دی او دوهم کتاب یې د یوم التفریق ۱۱ سپتمبر د مبارکو عملیاتو د تفصیلي عواملو، تخنیکونو او لارښوونو په اړه دی، چې همدا کتابونه د القاعده تنظیم د کارنامې ستر تاریخي اسناد ګڼل کېږي.

«الطریق إلی نیروبي ودار السلام» چې پښتو ژباړه یې د «نیروبي او دار السلام ته لار» تر عنوان لاندې شوې ده، چې په افریقا کې پر مسلمانانو د وحشتونو او ظلمونو د پلان او تطبیق پر شیطاني ځالګیو د الله جل جلاله د فاتح لښکر له لوري د تندریزو استشهادي عملیاتو رښتینی داستان بیان په کې بیان شوی دی، چې د الله ﷻ له فضل وروسته د محترم شیخ رحمه الله د علم، تقوا، اخلاص، بصیرت، جهاد، استقامت او عقل یو بې مثاله انعکاس دی. دا کتاب له هغو آثارو څخه دی چې سړی پرې ژاړي هم، ویاړي هم، غبرګون هم پکې احساسوي او زړورتیا هم ترې زده کوي، ځکه د یوه داسې مجاهد او متفکر شخصیت له خوا لیکل شوی دی، چې د امت درد یې حس کړی و، د دښمن ظلم یې په خپلو سترګو لیدلی و، د مبارزې لاره یې نه یوازې داچې پیژندله، بلکې ورباندې تللی هم و او خبرې یې هم د یوه شهید خبرې دي، داسې شهید چې خپل ځان یې د الله ﷻ له دین څخه ځار کړ، خو کفر ته یې سر ټیټ نه کړ.

دا کتاب یوازې د نړیوال سرکښه او ظالم دښمن پر سفارتونو د برید داستان نه دی، بلکې د امت له زخمونو څخه راپورته شوی غږ هم دی، هغه غږ چې کلونه کلونه یې د مسلمانانو شهادتونه، تحقیر، زندانونه، تحریمونه او دسیسې زغملې وې او د امریکا د ظالمانه سیاستونو، د صهیونیستانو د وحشتونو او د مزدورو حکومتونو تر جبر لاندې هم چوپ نه شو.

لیکوال رحمه الله چې د امت د قضیې او معاصر نړیوال جهاد له بنسټګرانو څخه دی، د خپل قلم له لارې نه یوازې د عملیاتو داستان بیانوي، بلکې د خپل هر فکر، تصمیم او ګام تر شا مشروعیت، دلیل او شرعي اساس هم بیانوي. هغه رحمه الله په پوره ایماني غرور او اعتماد سره څرګندوي، چې دا اقدام یوازې د فلسطین او نورې نړۍ د مظلومو مسلمانانو د انتقام هڅه نه وه، بلکې د هغو قوتونو پر ضد یو عملي پیغام و، چې د اسلامي امت

پر ضد دسيسې جوړوي او دا پيغام بايد ټولو هغه جهتونو ته رسېدلی وای، چې د مسلمانانو پر وړاندې ظلمونه کوي، تر څو پوه شي، چې د دوی دا شوم اعمال به بې ځوابه نه پاتې کېږي. د هر ترسره کړي ظلم حساب به ورڅخه سره کېږي او د عمل په ژبه دا خبره واضحوي، چې تر هغه وخته ستاسې لپاره امنيت نشته، تر څو چې په فلسطين، کشمير، کاشغر، برما، هند او صومال کې مسلمانان آرام شوي نه وي .هغه رحمه الله د امت ځوانانو ته دا تنبيه ورکوي، چې که غفلت ته دوام ورکړي، نو ظالم قوتونه به يې په مسلسله توګه عزت، کرامت او مقدسات تر پښو لاندې کوي او د امت زخمونه به لا پسې ژور کړي.

په کتاب کې د افريقايي مسلمانانو د مظلوميت يادونه شوې ده، چې له سلګونه کلومترونو ليرې ځمکې څخه د الله ﷻ د دين دښمنان ورته راغلي دي، د عقبه بن نافع، موسی بن نصير او طارق بن زياد رحمهم الله پر لاسونو فتحه شوې خاوره يې اشغال کړې ده او مسلمانان يې له خپلو حقوقو څخه بې برخې کړي دي. د غزې اوسنی حالت چې د مظلومو او بې اسرې مسلمانانو پر وړاندې د صهيونيستي رژيم وحشت په کې اوج ته رسېدلی دی او همدې وحشي صفته رژيم په کې د امريکا او کفري نړۍ په ملاتړ د ماشومانو، ښځو، سپين ږيرو او بې‌ګناه مسلمانانو پر ضد نسل‌کشي روانه کړې ده، همدغه کتاب موږ ته دا درس راکوي چې يوازې په وير، دعاء او غوسه مو مسؤوليت نه اداء کېږي؛ بلکې عملا پريکنده موقف او د جهاد او معرکې په ميدان کې حاضرېدل فرض دي، ځکه د غزې جهاد يوازې د فلسطين تر پولو محدود نه دی، دا د امت د وجود او بقاء جهاد دی، غزه د ټول امت امتحان اخلي او مستضعفو مسلمانانو ته نجات ورکول د حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه توره، د سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه غشی او د خبيب بن عدي رضی الله عنه په څېر تر زندان او دار پورې تلل غواړي.

شيخ ابو محمد المصري رحمه الله داسې اغزنه لار پل کړه، چې له سلف صالحينو وروسته به يې مثال بيخي کم موندل شي. موږ ته يې په خپل کردار دا درس راکړ، چې که تاسې د الله ﷻ له توکل وروسته پر خپلو متو زور وکړئ، نو د امت له سره د عزت لويدلی تاج به بېرته ور په سر کړئ، د غزې د معصومو بچيانو اوښکې به ور پاکې کړئ، پر وچو شونډو به يې موسکا خپره کړئ، تاسې به د عمر فاروق رضی الله عنه په څېر د امت د يتميانو کفالت کونکي شئ او د محمد بن قاسم رحمه الله په څېر به د مسلمانو خويندو د عفت ساتونکي او د ټول اهل اسلام مدافعين شئ!

شيخ ابو محمد المصري رحمه الله په خپل اثر کې د مجاهدينو فکري، عقيدوی او اخلاقي اصلاح ته هم پوره توجه کړې ده، دا يې د جهاد له لوازمو څخه ګڼلي دي او ټينګار کوي، چې جهاد د تقوی او اخلاص عمل دی،

نه د نفسي خواهشاتو او شهرت غوښتنې. مجاهد باید د تقوی، تواضع، زغم او خدمت روحیه ولري، نه د غرور او خود خواهی.

د الله تعالی دا نازولی بنده او د امت ستر محسن شیخ ابو محمد المصري رحمه الله پر افغانستان له امریکایي اشغال وروسته په ۲۰۰۳ میلادي کال کې د ایران د مستبد او ظالم رژیم له لوري اسیر شو، تر یوې لسیزې زیات وخت یې د روافضو تر تعذیب او وحشت لاندې تېر کړ او بالاخره په ۲۰۱۵ میلادي کال کې له شیخ سیف العدل حفظه الله او شیخ ابو الخیر المصري رحمه الله سره یو ځای د یوې تبادلې په ترڅ کې آزاد شو. د نیویارک ټایمز د ۲۰۲۰ کال د اګست پر ۷ مه نېټه خپور شوي راپور کې د امریکا د استخباراتي چارواکو له قوله خبر ورکړل شو، چې شیخ ابو محمد المصري تقبله الله له خپلې لور مریم تقبلها الله سره یو ځای د تهران په یوه کوڅه کې د صهیونستي رژیم د جاسوسانو لخوا په شهادت ورسول شو. (نحسبه کذلک والله حسیبه ولا نزکي علی الله احدا)

شاعر وایي:

اذا كانت النفوس كبارا

تعبت في مرادها الاجسام

عماد الدين خالد

# په یوه شخصیت کې یوه نړۍ

«د شیخ ابو محمد المصري رحمه الله د شهادت په اړه په جزیرة العرب کې د القاعده تنظیم د محترم امیر شیخ خالد باطرفي رحمه الله د تعزیت یو څو کرښې»

دا څومره ستر دی، چې موږ له لاسه ورکړ! او څومره عزتمند دی چې خاورو ته وسپارل شو! زه پرې د مناقبو د خاوندانو په څېر ژړا کوم، له ځلېدونکو ستورو سره یو ځای ورباندې مرثیه وایم او د لوړتیاوو او ښکلا ګانو له ژړا سره یو ځای ورباندې اوښکې تویوم.

موږ په ابومحمد پسې په داسې مصیبت ودرېدلو، چې په یوه شخصیت کې مو یوه نړۍ له لاسه ورکړه او په یوه سا کې مو یو بشپړ امت بایلود. هغه لاړ، په داسې حال کې چې لوړتیاوې پرې ژاړي او ښېګڼې پکې تسلي ورکوي.

موږ هغه په داسې وخت کې له لاسه ورکړ، چې موږ او امت ډېره زیاته اړتیا ورته لرله؛ داسې وخت چې مرسته کونکي په کې لږ دي او هر ذلیل سړي پکې غاړه هسکه نیولې ده.

هغه زموږ لپاره د څوارلسم سپوږمۍ وه، چې په تورو تیارو کې یې ځلا کوله او روڼ ستوری و، چې موږ ته یې د حق مستقیمه لار را ښودله.

د همت خاوند و، سستي یې نه پېژندله؛ زړور و، د دښمن پروا یې نه کوله.

هغه رحمه الله، سره له دې چې د خپلو وروڼو په منځ کې او د مجاهدینو د رهبرۍ په نظر کې یې لوړ مقام درلود، خو بیا هم ډېر متواضع و؛ دومره چې تا به د یو نوي مجاهد او د هغه ترمنځ توپیر نه شوای کولی.

هغه رحمه الله ډېر حیا دار و، سخي و او د لوړو اخلاقو خاوند و. زه خپله وایم، چې ده زما ځینې ناسم ګمانونه یوازې د خپل ډېر ادب او عالي سلوک په وسیله بدل کړل.

تر دې چې د خپل رب حکم ورته راورسېد، نو عزتمند شهید شو، د غدر او کینې په لاسونو. غدار لاسونه ور اوږده شول او په ډېره نامردي یې شهید کړ، تر څو له خپل آسه را پیاده شي، وروسته له هغه چې کلونه کلونه یې د هجرت، جهاد او سختو لارو مشقتونه تېر کړل؛ ډېر صابر و، د لارې له سختۍ او کړاوونو سره.

مورې هیڅکله ترې د دردونو غږ نه دی اورېدلی، سره له دې چې ډېر تکلیفونه یې لیدلي وو او کله مو هم نه دی لیدلی چې د درد له کبله غمجن ښکاره شي.

مورې هغه همداسې ګڼو، خو پر الله جل جلاله د هېڅ ستاینه نه کوو.

اې ابو محمده! ته له دې بې معنی نړۍ لاړې او مورې دې شاته په ژور غم کې پرېښودو.

خو زموږ تسلي او آرام دا دی، چې ته شهید، عزتمند او سپېڅلی لاړې؛ ته پر خپل دین ټینګ وې، له خپل منهج سره وفادار وې، نه دې څه تغییر کړل او نه دې څه ته بدلون ورکړ.

الله جل جلاله دې درباندې د نېکانو رحمت و اوروي، د شهیدانو په ډله کې دې تا هم قبول کړي، ستا درجه دې د فردوس اعلی په لوړ پوړ کې پورته کړي او مورې دې هم په تا پسې شهیدان کړي، داسې چې نه ذلیله شو، نه پښېمانه شو او نه هم د فتنو ښکار شو.

شیخ خالد باطرفي رحمه الله

په جزیرة العرب کې د القاعده تنظیم امیر

# سوډان

په ۱۴۱۶ هجري[1] کې چې د تېرې میلادي پېړۍ له ۱۹۹۶ کال سره سمون خوري، د سوډان د حکومت لخوا داسې نښې او علامې وې، چې له سوډان څخه یوه نامعلوم لوري ته یې زموږ د ایستل کېدو خبرداری ورکاوه. سترو نړیوالو قدرتونو د سوډان پر حکومت فشار راووړ، ترڅو موږ له خپلې خاورې وباسي او ددې کار لپاره خو جعلي تورونه لا له وړاندې چمتو شوي وو، چې د غوښتنې پر وخت یې یوازې په الماریو کې له ذخیره شویو فایلونو څخه را واخیستل، په کومو کې چې لویو استعمارگرو هیوادونو پر هر هغه حکومت فشار راوړی و، چې د دوی له لوري له کاږل شویو کرښو څخه گام واړوي. دا موضوع له نړیوالو فشارونو سره ونه درېدله، بلکې ځینو سیمه ییزو قوتونو هم زموږ په ایستلو کې د سوډان له حکومت سره ورته چلند وکړ او د گاځرې او زور د سیاست[2] په کارولو سره یې ورته رول اداء کړ، د هغوی له جملې څخه یو د سعودي عربستان هیواد دی، چې په دې اړه تور تاریخ لري. د سعودي حکومت د تاسیس له نېټې راهیسې یو په بل پسې په سیمه کې د غرب او په ځانگړې توگه د انگلیسي سیاست په پلي کولو کې گړندي او چټک گامونه اخلي او په دې وروستیو کې یې له خپل تش په نوم دیني وجاهت، بډاینې او د تیلو له ښه حالت څخه په استفاده د امریکایي ناپاک سیاست او ناولو د سیسو د عملي کولو پر لور مخ اړولی دی.

د سوډان پر حکومت د فشارونو د زیاتېدو په پایله کې د دې هیواد ځینو چارواکو شیخ اسامه بن لادن رحمه الله ته د اړتیا په صورت کې د سوډان د خاورې پرېښودلو ته د امادگي نیولو خبر ورکړ، خو دا خبر بېړنی او په ټینگار

1 موږ به هجري او میلادي دواړه تاریخونه لیکو، که څه هم اصل دادی، چې یوازې پر هجري تاریخ اعتماد وشي، نه پر میلادي تاریخ، ځکه په دې کې د مسلمان لپاره د خپل دین، ژبې، فرهنگ او د خپل امت د تاریخ عزت دی. دا د امت د سترو محققینو علماوو رایه ده، د مثال په توگه محدث او محقق شیخ احمدشاکر رحمه الله او او شیخ بکر ابوزید رحمه الله او دا هغه څوک و، چې هجري تاریخ به یې په خپل لیک کې لیکی خو (ه) یې نه ورسره لیکله ،ځکه رایه یې دا وه، چې له موږ سره له دې پرته بل تاریخ د اعتبار وړ نه دی. په دې کې د خلکو د هغه عادت د سمون هڅه شوې ده، چې یوازې پر میلادي تاریخ تکیه کوي، دا کار له پېړیو راهیسې د اسلامي امت پر وړاندې د صلیبي او غربي یرغلونو پایله ده، دوی هڅه کړې ده، چې زموږ ډېر مفاهیم او اصطلاحات بدل کړي او دا د دوی د فکري اشغال یوه بنسټیزه برخه ده، چې زموږ پر امت یې تطبیقوي.

ځیني علماء کرام وایي، چې د نصراني یا د دوی په اصطلاح میلادي تاریخ کارول له کفر سره د دوستۍ او مذموم مشابهت یوه نوعه ده او ځیني نور علماء لکه شیخ ابن جبرین بیا د هجري او میلادي تاریخونو یو ځای کارول روا گڼي، موږ دوهم نظر ته لومړیتوب ورکړی دی، تر څو لوستونکو ته آسانه وي، که څه هم لومړی نظر غوره دی.

دا مسأله ماته په تنظیم کې یوه معتبر طالب العلم را وښودله، الله ﷻ دې هغه ته ښه بدله ورکړي او ماېې دلته یادونه ځکه وکړه، چې دا فضیلت خپل حقدار ته ورسوم. والله اعلم.

2 یو چا ته له یوه لوري د انعام وعده ورکول او له بل لوري گواښ ورته کول (ژباړن).

سره نه و، ګواکې دوی ددې کار لپاره تیاري نیوله، ددې له پاره چې کله یې وخت رارسېږي، ددې کار له پاره به تیاره مقدمه جوړه وي، نو د بیا بیا غوښتنو له امله شیخ اسامه رحمه الله له ولسمشر عمر البشیر (په هغه وخت کې د سوډان پاچا) سره په خصوصي ډول د موضوع د حل لپاره د لیدلو غوښتنه وکړه، په ځانګړې توګه هغه وخت چې کرنیزو شرکتونو د ختیځ سوډان په کسلا سیمه کې د قاش سترې ویالې ته، چې بیخي ډېرې اوبه لري، د یوه لوی زراعتي فصل تابیا نیوله. د قاش ویالې نوي فیصده اوبه بې له کومې استفادې بهېږي او دا ستره طبیعي سرمایه د لوی غفلت په پایله کې ضائع کېږي، ځکه هلته نه بندونه شتون لري، نه د پارچاو لپاره درزونه لري او نه یې د اوبو د زیرمه کولو لپاره کوم اساسي پلان شته، پرته له دې چې ځینې کروندګر د خپلې کرکیلې لپاره څه ناڅه تخمونه په کې کري، د سهار یا ماښام له لوري یې پالي او بیا د هغه کمزوري رسد او حاصلاتو موسم ته په تمه ناست وي، چې د ژوند لسمه برخه اړتیاوې یې هم نه پوره کوي!

شیخ اسامه رحمه الله غوښتل، چې د کرنیز فصل تر پیل وړاندې د وضعیت جاج واخلي، نو د ولسمشر البشیر او د هغه د مرستیال عثمان طه ځواب دا و، چې باید شیخ د تنظیم له پاتې ټولو غړو سره یوځای له سوډان څخه ووځي. دوی ژمنه وکړه، چې دا وتل به خوندي او له لوړو امنیتي تدابیرو سره سم وي او باید د ټولیو په شکل ترسره شي، چې شیخ اسامه رحمه الله به په لومړۍ ډله کې وي. د اوس لپاره د شیخ اسامه رحمه الله او ځینو نورو ورونو لپاره د وتلو لازم ترتیب نیول شوی و. شیخ رحمه الله دا دنده ماته را وسپارله، په دې شرط چې باید په کلکه پټه وساتل شي، حتی د سفر له ملګرو څخه هم، د تنظیم له ډېر محدود شمېر مشرانو پرته هیچا ته د سفر لوری نه معلومیده. موږ د سفر لپاره د ملګرو په انتخابولو پیل وکړ او حمزة الزبیر المصري، ابوالیسر التونسي، خالد الحبیب، ابوعمر الیمني الحضرمي او عمر بن لادن مو غوره کړل. دا مو هم په پام کې وه، چې ګران ورور ابو خلیل الفلتاوي المدني هم په سفر کې ملتیا راسره وکړي، خو د ځینو ځانګړو لاملونو له امله مو ونشو کړای.

په دې سفر کې د شیخ رحمه الله له ملګرو څخه شیخ ابو الولید المصري (مصطفی حامد)، شیخ ابو حفص الکومندان المصري رحمه الله او د سوډان یو مسؤول ډاکټر محمد ابراهیم هم شامل وو. د سفر وخت د ۱۴۱۶ ه کال سهار وختي ټاکل شوی و.

ماښام مهال ټولو ملګرو ته خبر ورکړل شو، چې د سفر لپاره ځانونه چمتو کړي او سبا سهار به موږ ټول په خپل یوه میلمستون کې سره وینو، بیا به موږ یوه داسې ځای ته حرکت کوو، چې په دوی کې یې هیچا په اړه معلومات نلرل، خو ټاکلي ځای ته ټول راغلل، په خرطوم کې د شیخ اسامه رحمه الله کورته لاړو او له هغه ځای څخه مو هوایي ډګر ته حرکت وکړ، تر څو له سوډان څخه د وتلو لپاره یوه الوتکه ځانګړې کړو.

## د سوډان له پلازمینې خرطوم څخه خدای پاماني

د خرطوم هوايي ډګر ته لکه څنګه چې تمه کېدله نه لاړو، بلکې یوه خصوصي هوايي ډګر ته لاړو، زما په آند دا د خرطوم نړیوال هوايي ډګر برخه ده، چې د ولسمشر او نورو سوډاني لوړپوړو چارواکو د سفر لپاره ځانګړې شوې ده. موږ د رئیسانو په انتظارخانه کې ناست وو، دا صالون د الوتکو د پرواز میدان ته مخامخ و، ډېر وخت نه وتېر شوی، چې د سهار لمانځه لپاره مؤذن آذان وکړ. موږ د لمانځه لپاره پاڅېدو او د مجاهد اوعابد محترم ورور ابوعمر الحضرمي چې خوږ او ښکلی بږغ لري، په امامت مو لمونځ اداء کړ، له جماعت اداء کولو وروسته مو د سهار مسنون اذکار وویل، څو دقیقې لا نه وې تېرې شوې، چې ډاکټر محمد ابراهیم غږ وکړ: الوتکه د پرواز لپاره اماده ده. موږ ټول د الوتکې په لور لاړو، هلته د اړتیا وړ توکي چې موږ افغانستان ته د اوږده سفر پر مهال اړتیا ورته لرله، ټول چمتو شوي وو. دا یوه کوچنۍ الوتکه وه او زما په فکر د سوډان د لوړ رتبه مسؤولینو لپاره ځانګړې شوې وه او درې برخې یې لرلې:

۱ ـ د الوتکې د پیلوټ او د هغه د مرستیال کابین

۲ ـ شپږ لوکس څوکۍ

۳ ـ آرایشي نیم سرکلر څوکۍ، داسې ښکارېده، لکه دا چې د سفر پر مهال د مسؤولینو د ناستې ځای وي.

موږ الوتکې ته پورته شوو او له ځان سره مو سپکې شخصي کڅوړې، یو شمېر کلاشنکوفونه، توپنګچې او لاسي بمونه هم راخیستي وو.

د الوتکې په دروازه کې وروستی کس چې له موږ سره یې خدای پاماني وکړه، ګران ورور او اتل مجاهد رضا التونسي حفظه الله و[3].

3 نوموړی د هغو پخوانیو عرب مجاهدینو له ډلې څخه و، چې د افغان ورونو د ملاتړ لپاره یې د شوروي د ظالمانه یرغل پر وړاندې افغانستان ته هجرت وکړ، د جګړې په ډګر کې یې ډېر ځله د میړانې او شجاعت ښودنه وکړه، هغو افغان جهادي قومندانانو ته ډېر محبوب و، چې دی ورسره ملګری و، نوموړی د غیرت او اقدام سړی و، د القاعده تنظیم یو کدر و او د اوږدې مودې لپاره یې د شیخ اسامه رحمه الله د شخصي ساتنې مسؤولیت پر غاړه درلود، موږ هغه د شیخ اسامه رحمه الله له ځانګړو مینوالو څخه شمېرو، نوموړی په پاکستان کې د امریکا له یرغل وروسته ونیول شو او امریکایانو ته وسپارل شو، تر څو په باګرام زندان کې د څه باندې یوې نیمې لسیزې لپاره د امریکایي صلیبي ځواکونو له داسې وحشتونو سره مخ و، چې د یادولو هم نه دي، خو دا د امریکا د صلیبي پالیسیو عادت دی، چې له مسلمانانو سره کرکه او نفرت ځای په کې لري. هغه هلته صبر وکړ او خپل ایمان ته وفادار پاتې شو، ددې ظالمانه کړنو پر وړاندې نه یوازې دا چې هغه خپل ایمان وساته، بلکې لا یې پیاوړی کړ، تر دې چې په خپل دین او دریځ عزتمند له زندانه ازاد شو او خپل هیواد تونس ته ستون شو، خو تر ښار لاندې دی، که د جهاد او مجاهدینو ملاتړ یې وکړ، نو د نیولو ګواښ یې شته. موږ هیله لرو، چې هغه ډېر ژر ووینو، چې د جهاد په ډګر کې خپله برخه واخلي او راتلونکو نسلونو ته خپل نصیحتونه او تجربې وړاندې کړي.

لږه شیبه وروسته الوتکې پرواز وکړ او زموږ ژبې په دعاء، ذکر او استغفار لمدې وې. په صحنه کې چوپتیا خپره وه او ټولو ځانونه په بشپړه توګه الله ﷻ ته تسلیم کړي وو. له لږ ځنډ وروسته دا چوپتیا ماته شوه او د ورونو په منځ کې د خبرو اترو تبادله پیل شوه، په خاصه توګه چې د سبا ناري وخت رانژدې شو او په الوتکه کې هیڅ کوربه نه و، موږ هغه خلک وو، چې باید دا کار مو ترسره کړی وای. هرڅه له مخکې چمتو شوي وو، ګرم خواړه او ګرم ښناک په یخچالونو کې وو. ځوانانو د الوتکې په وروستی برخه کې د ناشتې په تیارولو پیل وکړ، چې د همدې لپاره تیار شوی و. د شیخ مصطفی حامد له خوږو شاتو سره یوځای ډوډی، پنیر، قیماق او ګرم چای خوندور او سپک خواړه وو، چې څه ناڅه یې زموږ پام بدل کړ. ټول یو له بل سره په خبرو تبادله کولو بېرته خپلو څوکیو ته راستانه شول. ځوانانو زموږ د منزل په اړه پوښتنې شروع کړې، په ځانګړي ډول د دوی لپاره دا یو فرصت و، چې پوه شي، چېرته درومي؟

د الوتکې د شا دیوال په نقشه پوښل شوی و، چې له امله یې هرچا کولای شول، چې د الوتکې ځای او لوری معلوم کړي، ټول ملګري له توپوګرافي او نظامي سروې سره هم ښه آشنا وو. ما هغوی وپوښتل: موږ چېرته ځو؟ پر نقشه له لږ ګړی تم کېدو وروسته یې راته وویل: چې موږ ختیځ لور ته روان یو او ددې معنی داده، چې موږ ایریټیریا ته ځو او هلته به زموږ مجاهدین ورونه زموږ هرکلی وکړي. دا کومه عجیبه خبره نه وه، ځکه په دې وروستیو کې چې کله موږ په خرطوم کې وو، له ایریټیریایي مجاهدینو سره مو د پام وړ همکاري لرله، خو الوتکه له سره سمندر څخه تېره شوه او موږ د سعودي او خلیج پر لور روان وو. شیخ اسامه رحمه الله ټولو ملګرو ته وویل، چې دعاء او استغفار ډېر ووایي. الوتکه په خوندي توګه له خلیج څخه تېره شوه او د افغانستان پر لور یې خپله لاره وهله. ملګرو بیاځلې پوښتنې پیل کړې، خو ما ورته ویل تاسې مو خپل نظرونه راسره شریک کړئ، تاسې څه تمه لرئ؟ دوی ویل یوازې پاکستان پاتې شو او هلته خو زموږ تلل ناشوني دي، هر یوه خپله خبره وکړه او ځینو یې د افغانستان تمه لرله. الوتنه اوږده وه او دا وېره هم وه، چې هسې نه دا خبر کوم لور ته خپور شي، چې دا کار به موږ له نړیوالو اختطافچیانو سره لاس او ګریوان کړي، لوی صلیبي هیوادونه دغه رول لوبوي، سره له دې چې دا له هغو نړیوالو قوانینو څخه سرغړونه ده، چې دوی د ملکي هوایي چلند لپاره وضعه کړي دي، خو د دوی لپاره دا ټول قوانین که د دوی له ګټو سره په ټکر کې وو، بې معنی او بې ارزښته دي او نړیوالې رسنۍ به راپور ورکړي، چې دا بحري غله څومره آتلان دي، چې له اسخباراتي پلوه پېچلي او مهم عملیات یې د پلان مطابق په کامیابي سره ترسره کړل، هغه څه یې وکړل، چې د دوی ګټې خوندي کوي او امنیت یې ساتي، ټول به چکچکې ورته وهي او وایي به چې دا خو د دوی دنده ده!

الوتنې د نورو پروازونو په څېر عادي خط سیر لاره او مخکنۍ اجازه یې لرله، دا چې سفر اوږد و، نو اړتیا وه، چې الوتکه د تیلو اچولو لپاره ناسته وکړي، دغه خبره موږ ته کپتان او د هغه مرستیال وکړه او ویې ویل، موږ اړتیا لرو، چې الوتکې ته یوه اندازه تیل واچوو، خو د الوتنې په جریان کې په هوایي ډګرونو کې اړتیا نه وي، چې الوتکې ته بل څوک ورپورته شي. دا خبر زموږ لپاره یوڅه د اندیښنې وړ و، که څه هم د الوتکې کارمندانو ډاډګېرنه راکړې وه. نژدې یو ساعت وروسته خبر راکړل شو، چې الوتکې د افغانستان په ګاونډي هیواد کې په یوه کوچني هوایي ډګر کې ناسته وکړه. په هوایي ډګر کې ډېر وخت نه دی تېر شوی، چې الوتکې بېرته پرواز وکړ او له نیکه مرغه هیڅوک الوتکې ته را پورته نه شول. ټولو وروڼو د آرام سا واخیسته، خو بیا هم ملګرو ټینګار کاوه، چې چېرته ځو؟ که څه هم د ټولو غالب ګمان و، چې زموږ منزل افغانستان دی.

ما شیخ اسامه رحمه الله ته دا خبره وکړه، هغه راته وویل: د ملګرو په خبرولو کې کومه ستونزه نشته، موږ افغانستان ته نژدې یو او ژر ده، چې موږ به خپل منزل ته ورسېږو ان شاءالله. زه خپل ځای ته راستون شوم او په ډېره خوشحالي مې ملګري خبر کړل. ټولو د افغانستان د غرونو، دښتو او سمڅو په زړه پورې خاطرې لرلې او هیڅا هم دغه ګران هیواد ته د بیا راتګ تمه نه درلوده، چې له نوم یادولو سره یې د جهاد، سربښندنې او وفا یادونه هم کېږي.

افغانستان د الله ﷻ له فضل وروسته پر جهاد او مجاهدینو ستر فضل دی، چې پر ځمکه یې په شلمه پېړۍ کې په عملي بڼه جهاد وپېژندل شو، په دې خاوره کې شهادت او شهیدان وپېژندل شول او همدلته د جهاد فقه په آزاد ډول وروسته تر هغه تطبیق او خپره شوه، چې په کتاب او کتابخانو کې بندیوانه وه. په دې خاوره کې د اسلام زرګونه زامن روزل شوي او د سپېڅلي جهاد مفکوره او د ټول امت قضیه چې د هغو خائنو حاکمانو پر لاسونو، چې دین یې په دنیا خرڅ کړی دی، پلورل شوې وه، پر غاړه واخیسته. په دې خاوره کې لویه امپراطوري، چې د ځمکې پر مخ یې ترټولو ستر ځواک لاره او د ډېر غرور له امله یې فکر کاوه، چې د منظرې لپاره راغلې ده، دړې وړې شوه.

افغانستان به تل د جهاد، میړانې، فداکارۍ او سربښندنې سمبول وي. هر جهاد که بالفعل روان دی او که راتلونکی دی، د افغانستان له جهاد څخه سرچینه اخلي او افغانستان به له ټولو ستونزو او کړاوونو سره تل سر لوړی او هسک وي. ټولو د آرام سا واخیسته او د خپلو هغو ملګرو خاطرې یې بیانولې چې د جهاد په اوږدو کې یې په زړه پورې وخت ورسره تېر کړی و.

نور نو سفر پای ته رسېدونکی و، د افغانستان د لوړو غرونو څوکې وار په وار را څرګندېدې، په الوتکه کې سکون او ژوره چوپتیا خپره شوه، ټولو د ښکته کېدلو انتظار کاوه او شاید ټولو به د هغه څه فکر کاوه، د څه په اړه چې زه فکرمند وم.

راتلونکی به څنګه وي؟ له هغو سترو بدلونونو وروسته چې په افغانستان کې شورویانو ماتې وخوړه او د ډاکټر نجیب الله کمونست حکومت سقوط وکړ[4]، هلته به مو راتلونکي پلانونه څه وي؟

کله چې د جلال آباد هوايي میدان ته را ورسېدو، نو د پخوانیو مجاهدینو یوه پلاوي مو ښه تود هرکلی وکړ. دا هغه خلک وو، چې پر افغانستان د شوروي د وحشي یرغل په دوران کې مو په غرونو او سمڅو کې وخت ورسره تېر کړی و. داسې ښکارېده، لکه دوی چې زموږ تر ور رسېدو وړاندې ترتیب نیولی و. له دوی سره مخامخ کېدل او له افغاني دود او دستور سره سم د دوی له لوري زموږ تاوده هرکلي او ګرم استقبال زړه ته اطمینان او روح ته آرام ورکاوه. دوی د نورې نړۍ د خلکو په پرتله بې وزله دي، خو په زړه پوري او مېلمه پاله دي، هر څه چې په کور کې لري، د میلمه مخې ته یې په ورین تندي او پراخ نیت ږدي او تاسې به هلته دا احساس وکړئ، چې په خپل کور کې له خپلو ورونو او کورنۍ سره یاست. دوی تاسې ته خورا ښه خواړه پخوي او د ژوند ټولې آسانتیاوې درته برابروي، چې بیا له هیڅ ستونزې سره مخ نشئ. تاسې به داسې وانګېرئ، چې د دوی کورونه د میلمنو لپاره جوړ شوي دي، مېلمانه له ښځو څخه په بشپړه توګه جلا دي، ځکه د دوی لپاره ځانګړي ځایونه چمتو شوي وي، چې هوسا لارې ورته راغلې وي، د وتلو او ننوتلو په وخت کې هیڅ اجازې اخیستلو ته اړتیا نلري او ټول د اړتیا وړ شیان په کې اماده شوي وي. افغان مسلمان ولس لا هم پر خپل سالم، سپېڅلي او پاک فطرت پاتې دی، د معاصر تمدن ککړتیا تر اوسه نه ده ور رسېدلې، چې نر او ښځې یې یو له بل سره د تمدن او پرمختګ تر نامه لاندې په بې شرمۍ سره اختلاط وکړي. موږ په هغو موټرو کې سپاره شوو، چې زموږ په انتظار وو او د جلال آباد ښار د منځ پر لور وخوځېدو. هغه ښار چې د ټولو عربو مجاهدینو په حافظه کې د سرښندنې او فداکارۍ اوږد تاریخ لري. د شوروي ښکېلاک پر وړاندې او بیا د هغوی د لاسپوڅو غلامانو په مقابل کې، چې پر افغانستان په پرله پسې توګه واکمن وو او د عربو مجاهدینو د سختو معرکو نه هېرېدونکې خاطرې لري. د هغو عزتمندو ورونو، خاطرې لري، چې د دې دین او د خپلو افغانانو ورونو د نصرت لپاره یې په ارزانه بیه خپل سرونه قرباني کړل او د دوی قبرونه پر دې ډېر ښه شاهدان دي. داسې غر او شېله نشته چې د عربو مجاهدینو د یو شهید قبر دې په کې نه وي او دا یوازې هغه شهیدان دي، چې وصیت به یې کړی و، چې پر کوم

4 له ۱۴۰۸ ه ، ۱۹۸۷/سپتمبر/۳۰ م څخه تر ۱۴۱۲ه، ۱۹۹۲/اپریل/۱٦ م پورې د افغانستان واکمن و.

ځای شهید شي همالته دې ښخ کړل شي، پرته د تورخم د شهیدانو له هدیرې څخه، چې د جلال آباد ښار هر سیلاني یې د لارې په اوږدو کې ویني. کله چې تاسې ته همدغه آتلان درياد شي، چې له تاسې سره يې په مینه، خلوص او پاک زړه ملګرتیا او وروړګلوي پاللې وه، نو قبرونو ته یې مخامخ درېږئ، بې اختیاره مو په سترګو کې اوښکې راځي او بهېږي پرته له دې چې تاسې يې درک کړئ! زموږ لپاره زموږ ورونو ځمکه آزاده کړه، داسې ورونو چې د جنت النعیم پر لور کوچېدلي دي، د مارغانو په جیجورو کې، د دوی لپاره پر عرش راځوړند قندیلونه دي او په جنت کې چې يې چېرته زړه وغواړي هلته الوتلای شي[5].

ستا په زړه کې به په لوړ ږغ يوه چيغه وشي...

موږ کله ځو هغو غرونو او رغونو ته، چې تېر وختونه را یاد کړو، هغه وختونه را یاد کړو، چې د سپېڅلتیا، پاک زړه او ورور ګلوۍ د تعبیر لپاره یې هیڅ الفاظ نشته؟

لوی دوه پوړیز کور ته ورسېدو، چې په مېوه لرونکو ونو او رنګارنګ ګلونو پوښل شوی و، روح ته یې سکون، راحت او اطمینان ورکاوه. کور له اوسېدونکو څخه خالي و، داسې برېښېده، چې یوازې زموږ د هرکلي لپاره چمتو شوی دی، مالک یې محترم ورور مجاهد سیب زموږ ښه راغلاست ته راوتلی و او د نوموړي ښه استقبال، ورین تندي او پراخې سینې له موږ څخه د سفر سختي لرې کړه. هغه یو مېلمه پال سړی و، زموږ یې ښه میلمه پالنه وکړه، د اوسېدلو لپاره یې غوره استوګنځی راکړ، زموږ غربت یې ختم کړ او ټولې هوسا لارې یې راته پرانیستلې. موږ د ربښتيني ایماني وروړګلوۍ احساس وکړ او د صحابه کرامو سیرت مو په عملي بڼه ولېدی، چې کله دوی خپل ښارونه، کورونه او مالونه پرېښودل او د خپل دین د ساتنې په خاطر یې له مکې مکرمې څخه

---

5 «أن مسروق بن الأجدع قال: سَأَلْنَا عَبْدَ اللهِ عن هذِه الآيَةِ: {وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ} [آل عمران: 169]، قالَ: أَمَا إنَّا قدْ سَأَلْنَا عن ذلكَ، فَقالَ: أَرْوَاحُهُمْ في جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ، لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بالعَرْشِ، تَسْرَحُ مِنَ الجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ، ثُمَّ تَأْوِي إلى تِلْكَ القَنَادِيلِ، فَاطَّلَعَ إليهِم رَبُّهُمُ اطِّلَاعَةً، فَقالَ: هلْ تَشْتَهُونَ شيئًا؟ قالوا: أَيَّ شيءٍ نَشْتَهِي وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا؟ فَفَعَلَ ذلكَ بهِمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَلَمَّا رَأَوْا أنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِن أَنْ يُسْأَلُوا، قالوا: يا رَبِّ، نُرِيدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا في أَجْسَادِنَا حتَّى نُقْتَلَ في سَبِيلِكَ مَرَّةً أُخْرَى، فَلَمَّا رَأَى أَنْ ليسَ لهمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا». رواه مسلم. د حديث رقم: ۱۸۸۷

«مسروق وایي موږ له عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه څخه ددې آیت شریف په اړه پوښتنه وکړه:

«وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَٰتًا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ» (آل عمران: ١٦٩)

«کوم کسان چې د الله ﷻ په لار کې وژل شوي دي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقیقت کې ژوندي دي، د خپل رب په وړاندې روزي مومي».

هغه وفرمایل: د شهیدانو ارواوې به په جنت کې د شنو مارغانو په جیجورو کې وي، د دوی لپاره به تر عرش لاندې ځوړند قندیلونه وي، په جنت کې به هلته ځي، چېرته یې چې زړه وغواړي، بیا به بېرته همدې قندیلونو ته را ستنیږي. الله ﷻ هغوی ته په یو خاص انداز کې راڅرګندیږي او ورته وايي: تاسې کومه هیله لرئ، دوی به وايي، موږ به څه هیله ولرو، په داسې حال کې، چې موږ په جنت کې آزاد ګرځو، او هر ځای چې وغواړو تللای شو؟ دا پوښتنه الله ﷻ درې ځله تکراروي، کله چې دوی پوه شي، چې پرته له دې نه پرېښودل کېږي چې د یو څه غوښتنه ونه کړي، نو وبه وايي: اې زموږ ربه! زموږ ارواوې بېرته زموږ وجود ته ورستنې کړه، تر څو بیا ستا په لار کې ووژل شو، کله چې الله ﷻ ويني، چې دوی هیڅ اړتیا نه لري، نو به پرېښودل شي».

هجرت وکړ، نو هلته يې په استقبال کې خپل عزتمن انصار وروڼه وموندل، چې د دوی مېلمه پالنه يې وکړه، د دوی غربت يې ختم کړ، په خپل ژوند کې يې ورسره شريک کړل او له خپلې بې وزلۍ او مسکنت سره سره يې هرڅه چې په لاس کې لرل، له دوی څار کړل.

موږ له هغوی سره ځانونه نه تشبيه کوو، ځکه هغوی د مهاجرينو او انصارو يو بې مثاله او بې سارې نسل وو، چې د رښتينې وروروليۍ غوره مثالونه يې د تاريخ په پاڼو کې ثبت کړي دي[6]، الله ﷻ دوی د خپل پيغمبر ﷺ د صحبت او ملګرتيا لپاره غوره کړل او که چېرته موږ ته د دوی کيسې په صحيحو سندونو نه وای را رسېدلې نو دا به زموږ لپاره يوازې يو خيال و. دوی له انبياء کرامو او رسولانو (عليهم السلام) څخه وروسته تر ټولو غوره خلک وو ( رضی الله عنهم ورضوا عنهم). موږ په دې کور کې شاوخوا تر دريو اونيو پورې په ډېره ښه مېلمه پالنه او شاهي خدمت کې پاتې شو. د پاچا ظاهر شاه آشپز په خپله زموږ خدمت کاوه. هغه بوډا او پوخ عمر لرونکی سړی و، خو د پخلنځي له مديريت او موږ ته د خوړو د وړاندې کولو له طريقې يې څرګندېدله، چې شاهي پروټوکولونه تعقيبوي. دا سمه ده، چې موږ پر ځمکه خوراک کاوه، چې دا زموږ او د افغانانو طريقه ده، خو موږ د شاهانو يا ولسمشرانو پروټوکول ترلاسه کاوه. د استوګنې په موده کې مو هغه سپين ږيری سړی شناخته شو او هغه موږ ته د ظاهر شاه په ماڼۍ کې د خپل کار په اړه ډېرې کيسې وکړې، چې څنګه دا شاهي قصرونه او ددې په څېر نور ځايونه له عيش او عشرت، اسراف او زياتو مصارفو څخه ډک وو او د خلکو له کړاوونو، زحمتونو او د ژوند له سختيو څخه لېرې وو. موږ د هغه خبرې په ډېر دقت او غور سره اورېدلې او هڅه مو

---

6 او دا د هغه يو مثال دی:

«حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ -رضي الله عنه- قَالَ: «قَدِمَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ فَآخَى النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَيْنَهُ وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ الأَنْصَارِيِّ، فَعَرَضَ عَلَيْهِ أَنْ يُنَاصِفَهُ أَهْلَهُ وَمَالَهُ، فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ، دُلَّنِي عَلَى السُّوقِ.

فَرَبِحَ شَيْئًا مِنْ أَقِطٍ وَسَمْنٍ، فَرَآهُ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَعْدَ أَيَّامٍ وَعَلَيْهِ وَضَرٌ مِنْ صُفْرَةٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: مَهْيَمْ يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ؟ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ، قَالَ: فَمَا سُقْتَ فِيهَا؟ فَقَالَ: وَزْنَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ.

فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ». رواه البخاري حديث رقم: ۳۷۵۴

«له انس رضی الله عنه څخه روايت دی، هغه فرمايي:

عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه مديني ته راغی، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه او سعد بن ربيع الانصاري رضی الله عنه تر منځ ورورولي (اخوت) وکړ. سعد بن ربيع رضی الله عنه عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه ته وويل: چې زه به خپل مال او کورنۍ درسره نيمه کړم. عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه وويل: الله ﷻ دې ستا په کورنۍ او مال کې برکت واچوي، ماته د بازار لار راوښيه.

عبد الرحمن بازار ته لاړ او د پنير او غوړيو له لارې يې يو څه ګټه وکړه، څو ورځې وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه وليد، په داسې حال کې چې د زيړ رنګ د عطرو اثر ورباندې و. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: دا څه دي اې عبدالرحمانه! هغه وويل: يا رسول الله ما د انصارو له ښځو څخه له يوې سره واده وکړ. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: تا هغې ته څه ورکړل؟ عبدالرحمن وويل: د خرما د زړي په اندازه سره زر مې ورکړل. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

وليمه وکړه، که څه هم يو پسه حلالوې!»

کوله چې په پښتو ژبه پوه شو، تر دې چې ابو عمر الحضرمي وروور يې د خبرو ژباړه پيل کړه، هغه له پښتو ژبې سره يو اندازه بلد و. موږ داسې احساس کاوه، لکه بلې زمانې ته چې تللي يو، چې د تاريخ په پاڼو کې تېره شوې ده، د خلکو عمرونه په کې تېر شوي وو، خو ظلمونه ورسره شوي وو، بې عدالتي ورسره شوې وه او له خپلو حقونو څخه يې برخې شوي وو. ظالم او مظلوم دواړه له دې فاني نړۍ کوچېدلي دي، خو د حقونو او ظلمونو فيصله به يې د هغه خدای پاک په مخ کې کېږي، چې پر وړاندې يې هيڅوک ظلم نشي کولای[7]. تاريخ به د ظاهر شاه[8] په اړه ليکل وکړي، خو هغه واقعيتونه نه ليکي چې موږ ته بيان شول.

ډېر تاريخونه ليکل کېږي او نسلونو ته ښودل کېږي، خو په هغو کې يوازې دومره رښتيا او حقيقت وي، لکه يو کاهن او نجومي چې يې په خپلو خبرو کې وايي[9]. که څوک ددې خبرې تصديق کول غواړي[10] نو په اردن، سعودي، مراکش، دوبۍ او نورو هيوادونو کې تدريسي کتابونه دې ولولي، چې د جعل او تزوير اندازه ورته ولګېږي، چې د يوې واکمنې کورنۍ، يوه جلالت مآب پاچا، تاکل شوي ولسمشر يا د داسې رهبر چې بله مور بيا دده په څېر زوی نه شي زېږولای په خاطر د نسلونو په ذهنونو کې ور پيچکاري کېږي او ورته ويل کېږي، چې داسې نفر به بله مور بيا ونه زېږوي.

دا درې اونۍ ډېرې مهمې وې، ځکه په دې ترڅ کې مو د ګوندونو له مشرانو او د هغوی له استازو سره پرله پسې ناستې وکړې او د افغانستان او په ځانګړې توګه د جلال آباد ښار د وضعيت په اړه مو معلومات تر لاسه کړل. کور مو هيڅکله هم له محترمو مېلمنو څخه خالي نشو، په ځانګړې توګه د مازديګر له لمانځه وروسته به د کور په باغ کې يوه بالکن ته لاړو، هلته به د تازه هوا او ګلونو د خوشبويي له امله  فضا ډېره په زړه پورې وه. ډېر ليدونکي به د ګوندونو د مشرانو استازي او هغه خلک وو، چې له موږ سره په تېر جهاد کې ملګري پاتې شوي

---

7 «لتؤدُّنَّ الحُقوقَ إلى أَهلِها ، حتَّى يقادَ الشَّاةُ الجلحاءُ منَ الشَّاةِ القرناء». رواه مسلم حديث رقم: ۲۵۸۲

«له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: خامخا به د قيامت په ورځ حقونه خپلو خاوندانو ته وسپارل شي، حتی کلې وزې ته به له ښکرورې وزې څخه حق ور واخيستل شي».

8 هغه په ۱۹۳۳ ميلادي  کال کې د خپل پلار تر وژل کېدو وروسته په افغانستان کې واک ته ورسېدی او تر ۱۹۷۳ ميلادي کال  پورې يې واکمني وکړه، چې په دې کال کې د هغه د تره زوی محمد داؤد خان د هغه پر ضد انقلاب وکړ، او جمهوري حکومت يې جوړ کړ، هغه په ۲۰۰۷ ميلادي کال کې ومړ.

9 «عن عائشة رضی الله عنها زوج النبي صلى الله عليه وسلم أنها سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إنَّ الملائكةَ تنزل في العَنانِ ، فتذكر الأمرَ قُضِيَ في السماءِ ، فتسرقُ الشياطينُ السمعَ ، فتسمعه فتوحيه إلى الكُهَّانِ ، فيكذبون معها مائةَ كِذْبةٍ من عند أنفسِهم». رواه البخاري حديث رقم: ۳۲۱۰

«له عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی، چې هغې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدلي دي، چې فرمايل يې:

ملائکې په وريځو کې حرکت کوي، نو هغه احکام سره يادوي، چې په اسمان کې فيصله ورباندې شوې وي، شيطانان ددې خبرو د اورېدو هڅه کوي، اوري يې، بيا يې کاهنانو ته راوړي، نو هغوی بيا سل دروغ له ځانه ورسره جوړ کړي».

10 دواړو پاچاهيانو د برطانيې په مرسته د خلافت د نړولو لپاره قيام وکړ، تاسې رښتينی تاريخ ولولئ!

د عربو لوی انقلاب د شريف حسين په مشرۍ او د سعودي دولت د ملک عبد العزيز په مشرۍ د اسلامي خلافت د ړنګولو آلې وې او دا مفاهيم او حقائق تاسې د دې دواړو ملکونو په درسي نصاب کې نشئ موندلای.

وو او زموږ له دوی سره تودې اړیکې او ښه ورورولي وه. په دوی کې هر یوه هڅه کوله چې موږ یې مېلمانه شو یا په هغه سیمه کې واوسېږو،چې د دوی تر واک لاندې وي، ځکه جلال آباد د ډېرو ګوندونو په منځ کې وېشل شوی و. په هغه وخت کې په جلال آباد کې دوه ګوندونه ډېر قوي وو، د شیخ خالص رحمه الله ګوند او د انجینر حکمتیار ګوند. هسې نو د استاد سیاف او ځینو نورو سیمه ییزو  او منطقوي قومندانانو نفوذ هم وو. ځینو ساحوي قومندانانو به له موږ سره ملاقاتونه کول، لکه انجینر محمود، ساز نور، مجاهد سیب، معلم اول ګل، ډاکټر امین، قومندان عبدالواحد او نور ډېر...

په پیل کې دوی زموږ په اړه پوښتنې کولې، چې په سوډان کې مو اوسېدل څنګه و؟ او هلته حالات او تهدیدونه څنګه داسې شول، چې پر سوډان باندې د نړیوالو او سیمه ییزو فشارونو په پایله کې موږ مجبور شوو، چې له هغه ځایه څخه ووځو؟

سعودي عربستان دګاڅرې او زور د سیاست په کارولو سره ( یعني چې که دا کار مو داسې وکړ لکه څنګه چې موږ فرمایش درکوو نو د ستایلو وړ یاست او کنه نو وبه رټل شئ) د هغو هیوادونو مشري په غاړه واخیسته، چې پر موږ یې فشارونه راوړل، خو زموږ له وتلو وروسته سوډانیانو ټولې هغه ژمنې دروغ وموندلې،چې دوی یې له سعودي څخه د پوره کولو تمه لرله او کله چې سوډاني چارواکو د سعودي له پاچا سره لیدنه وکړه، نو هلته هم د ګاڅرې اوبه دومره نه وې چې د قهوې ګلاسونه یې ډک کړي وای (یعني ښه میلمه پالنه یې ونشوه). بیا په افغانستان کې زموږ د کاري پروګرام په اړه خبرې پیل شوې او پر دې بحث وشو، چې په افغانستان کې د اوسني وضعیت په اړه زموږ نظر څه دی؟ موږ ډېر محتاط وو، تر څو د کومې غلط فهمۍ په وجه ځینې خلک دا فکر ونکړي، چې موږ د افغانستان په قضیه کې لازمي اړخ یو. د بحث زیاتره خبرې مو د تاجیکستان په اړه وې، ځکه القاعده تنظیم د تاجیکستان د جهاد یومخیز ملاتړ کړی و او په خپلو معسکراتو کې یې ګڼ شمېر تاجک او ازبک مجاهدین وروزل او روزلي وو. ددې کار په پیل کې شیخ ابو الولید المصري، شهید شیخ ابو عطاء التونسي (نحسبه کذلک والله حسیبه)، ابوالحسن المصري، ابو الفرج اللیبي (فک الله اسره)، حمزه الزبیر او تمیم المصري  وو او وروسته قومندان عبد الهادي عراقي (فک الله اسره)  هم ورسره ملګری شو. دې مسألې له شمالي ټلوالې، رباني او مسعود پرته نورو افغانانو وروڼو ته هیڅ تکلیف نه دی رسولی، ځکه هغوی غوښتل چې د لوبې تار په بشپړ ډول په خپلو لاسونو کې واخلي او په کرښه کې د عربو شتون د دوی پلانونه شنډول.

شیخ اسامه رحمه الله له افغانانو وروڼو څخه وغوښتل، چې د تاجیکستان د جهاد ملاتړ وکړي، دوی ته یې دا خبره واضحه کړه، چې هلته بریا د دوی په ګټه ده او په تاجیکستان کې د اسلامي حکومت شتون په افغانستان او ماوراء النهر کې ستراتیژیک ژوروالی رامنځته کوي. شیخ یونس خالص رحمه الله د هغو مجاهدینو لپاره چې

تازه له معسکراتو څخه فارغ شوي وو، په بېړنۍ توګه سپکې وسلې او کلاشینکوفونه چمتو کړل او یو زیات شمېر مهماتو ته یې د تاجیکستان تر سرحده پوري د ترانسپورت ترتیب هم برابر کړ او دا هغه وخت و، چې موږ د پاچا ظاهر شاه ماڼۍ ته د اوسېدلو لپاره لاړو.

شیخ یونس خالص رحمه الله د فارغو شویو مجاهدینو له یوې ټولۍ سره ولیدل، هغوی ته یې اوږد لیکچر ورکړ، چې د جهاد په لاره کې له صبر او زغم څخه کار واخلي، ځینې نصیحتونه یې د جهاد د ژوند او د جهاد په اوږدو کې د خپلو تجربو له مخې ورته وکړل. شیخ خالص رحمه الله د اتمې لسیزې په آخري مرحلو کې و، خو ښه روغتیا او ځیرک ذهن یې لاره، جالبه خو داده، چې موږ د ۱۹۹۹ میلادي په وروستیو کې له هغه سره ولیدل، ټنډه یې له خوښۍ ځلېدله او تازه یې لور پیدا شوې وه، چې بیا یې د مدینې نوم ورباندې کېښود، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ښار مدینې منورې سره د تبرک په خاطر.

## د پاچا ظاهر شاه ماڼۍ

درې اونۍ هلته تر تم کېدو وروسته د شیخ اسامه رحمه الله په ټینګار د پاچا ظاهرشاه ماڼۍ ته لاړو، دا ځای د خالص بابا د اسلامي حزب د ملګرو له لوري زموږ لپاره غوره شوی و، ځکه په جلال آباد کې یې د دوی د ساحې په منځ کې موقعیت لاره.

آیا دا کور د مجاهد سیب له کور څخه زموږ لپاره غوره و؟ شیخ اسامه رحمه الله به د دې نیک سړي په کور کې د اوږدې مودې پاتې کېدو له امله د شرم احساس کاوه، په ځانګړې توګه هغه وخت چې هغه خپل کور په بشپړه توګه موږ ته را خالي کړ او په خپله په جلال آباد ښار کې یوه بل ځای ته کډه شو. کله چې موږ ماڼۍ ولیدله، نو ومو لیدل، چې یوه ښکلې پخوانۍ ماڼۍ ده، پراخ میدانونه لري، له هر لوري په جګو او میوه لرونکو ونو پوښل شوې ده او له بل پلوه له هر لوري رنګارنګ ښکلي ګلونه ترې چاپېر دي، چې ماحول ته یې لا ډېره ښکلا ور بښلې ده، خو په لومړي نظر داسې معلومېږي، چې دا هر څه له پام څخه غورځول شوي دي او په کلونو کلونو هیچا پاملرنه نه ده ورته کړې. ونې نه وې خشکه شوې[11] او د ګلونو او وښو د صفایي هم چا خیال نه و ساتلی. زیان رسوونکو وښو وده کړې وه او لوی شوي وو، ډېر ځای یې نیولی و، په ځینو ځایونو کې له ونو او ګلونو هم لوی شوي وو، خو له دې هر څه سره بیا هم ماڼۍ ماڼۍ وه، که څه هم خلکو پرې ایښې وه. له دننه پاکه وه او داسې ښکارېده چې د حزب اسلامي ملګرو کارولې ده. له موږ سره ملګرو ورونو راته وویل، چې ماڼۍ له

11 خشکه په کلیوالي اصطلاح کې د ونو د تېرو بیرو ښاخونو پرې کولو ته وايي(ژباړن).

څو کوټو پرته چې حزب د تجهیزاتو او وسلو لپاره د ډیپوګانو په توګه کار ترې اخلي ټوله ستاسې په واک کې ده. موږ له هغو ملګرو څخه مننه وکړه او ورته ومو ویل چې موږ نور دلته پاتې کېږو. ټولو داسې احساس کاوه، چې د مجاهد سیب رحمه الله په کور کې د اوسېدو له شرم څخه مو ځان خلاص کړی دی. حمزه الزبير او څو نور ملګري د مجاهد سیب کور ته لاړل تر څو له هغه ځایه زموږ پاتې سامان راوړي.

سره له دې چې زموږ تعداد او توښه کمه وه، خو همدلته مو د اوسېدلو ترتیب پیل کړ، ترڅو په جلال آباد کې د پړاوونو په سلسله کې یو نوی پړاو پیل کړو.

## ماڼۍ ماڼۍ وي، که څه هم زړه وي

دا ماڼۍ دوه پوړیزه وه او له اصلي دروازې پرته یې درې نورې دروازې هم لرلې، چې اصلي دروازه یې د شاهي ماڼۍ په بڼه جوړه شوې وه، لیدونکي یې په لومړي نظر داسې احساسوله،  چې تر دده اړوند د خاصو مراسمو پر مهال په یوه ځانګړي ځای کې دی. ښکته پوړ یو اوږد دهلېز دی، چې ودانۍ په دوه برخو وېشي او د کوټې ټولې دروازې په دې دهلېز کې را خلاصې دي. د دهلېز په پای کې یوه داخلي زینه ده، چې پورته پوړ ته ځي، دا زینه د هغې اصلي زینې پرته چې د مرکزي دروازې په خوله کې ده بله زینه ده. د دهلېز په پای کې دوه تشنابونه جوړ شوي دي، چې لار ښود، تفصیلي نقشې او جي پي ایس ته اړتیا لري.

پورتنی پوړ له ښکته پوړ څخه یو څه توپیر لري، ځکه دا د میلمستون لپاره لویه خونه لري، پراخ بالکن هم په کې دی، چې لیرې او نږدې سیمې ورڅخه ښکاري. هوا یې ډېره ښکلې ده او د پلازمېنو او سترو ښارونو په نسبت پاک هم دی. له اصلي دروازې څخه پورته یو لوی ځای دی، چې پر ستنو درول شوی دی، کله چې تاسې هلته یاست نو داسې احساس به کوئ، چې را ځوړند یاست. ستاسې په مخ کې د جلال آباد سیند په چټکۍ سره بهېږي او د اوبو وریښمین غږ یې اورېدل کېږي. تر دې سیمه لوړې او ښکلې ونې را چاپېر دي، ته به وایې چې یوه ماهر انځورګر په ډېر مهارت سره رسامي کړې دي. هوا یې صافه ده او د هیڅ حاکم جبر یې مخه نشي نیولای. په لوړ سر کې یې څو زینې پورته تللې دي، چې د بام پر سر د اوبو د ټانکونو د ترمیم او نورو خدماتو لپاره استفاده ترې وشي. د ماڼۍ په شاوخوا کې پر داخلي انګړونو لوړ لوړ دیوالونه راګرځېدلي وو او په بهرنۍ برخه کې یې د نارنج، شفتالو او خرما پراخ کښتونه کرل شوي وو. د ښکلا لپاره بې میوې ونې هم کرل شوې وې، چې کلونه کلونه چا توجه نه وه ورته کړې.

په عمومي سړک کې د ساتونکو پوسته وه،  یو شمېر افغانان وروڼه چې د حزب اسلامي مربوط وو، په کې مېشت وو او هیچا ته یې اجازه نه ورکوله، چې داخل ته لاړ راشي، پرته له هغو خلکو چې له موږ یې اجازه اخیسته،

خو مانۍ خورا خطرناکې امنيتي خلاوې او کمزورې نقطې هم درلودې چې په واسطه يې هر چا کولای شول، موږ ته را ورسېږي. يوازې د مانۍ مخکنۍ برخه ساتل کېده، په داسې حال کې چې پاتې برخې يې پخوا د يوه کنډک له لورې ساتل کېدې، چې اوس يې شتون نه درلود، حتی هغه زندان چې موږ د مانۍ په څنګ کې وموند، په يوه ويرانه بدل شوی و او کونجونه يې نړيدلي و. دوی په بنديانو د پاچا په مانۍ کې کار کاوه او د غلامانو په څېر يې استفاده کول، لکه نن سبا چې د عربو قومونو د خپلو شاهانو په مخکې دغه حال دی.

په دغو خلاصو نقطو کې کرنيزې ځمکې وې او يو شمېر مداخله کونکي په دې وتوانيدل، چې له دې لارې زموږ له خېمو څخه ځينې توکي غلا کړي، په ځانګړې توګه له هغو ملګرو څخه چې د مانۍ په څنډو کې يې خېمې درولې وې. د الله ﷻ په فضل سره ډېر څه يې نه دي غلا کړي، يوازې يوه اندازه پيسې، ځينې توکي او د چايو ګلاسونه يې وړي وو، چې د خېمې له اساساتو څخه وو. ددې اساسي وجه دا وه، چې زموږ شمېر لږ و او ځای پراخ و، نو د ساتونکو وروڼو لپاره دا ډېره ستونزمنه وه، چې ټوله ساحه تر پوښښ لاندې راولي.

موږ ته مجاهد سيب يو ډبل کيبين موټر او يو موټر چلوونکی راکړی و، دا چې موټر وړوکی او زموږ اړتياوې يې نه پوره کولې نو موږ مشوره وکړه، يو بل سور رنګ ټيوټا موټر مو واخيست او شيخ اسامه رحمه الله مخکنی موټر بېرته مجاهد سيب ته وسپاری، خو موټروان مو راوګرځاوه او مياشتنی معاش مو ورته مقرر کړ. په دې توګه موږ کرار کرار خپلواک کېدلو او د افغانانو وروڼو د سخاوت له امله چې له موږ څخه په هيڅ صورت نه جلا کېدل او خدمت يې کاوو، خلاص شوو.

شيخ خالص بابا رحمه الله، حزب اسلامي او استاد سياف زموږ لپاره ځانګړي استازي ټاکلي وو، چې زموږ اړتياوې پوره کړي او هغوی به له موږ سره هره ورځ شتون درلود. هلته به د پاچا په مانۍ او د مانۍ بهر انګړ کې پر شنه چمن د زرغونو ونو تر سيوري لاندې کاري مجلسونه پيل شول، يخ شمال به لګېدی او موږ به د القاعده تنظيم د راتلونکي په اړه خبرې اترې کولې. د مجلس مشري به شيخ اسامه رحمه الله کوله او په څنګ کې به شيخ ابو الوليد المصري، شيخ ابو حفص الکوميندان (صبحي ابو ستة) او ددې کرښو ليکوال ورسره وو او کله چې ګران ورونه شيخ سعيد، شيخ سيف العدل او شيخ ابو عبيده الموريتاني له خرطوم څخه راغلل، هغوی هم د مجلس غړي شول.

د بحث موضوع به مو د امريکايانو او يهودو پر وړاندې د اقدام د ممکنې لارې لټول و، چې څنګه کولای شو، په مخ کې شته خنډونه ليرې کړو او آيا دغه پلان به افغانان ورونه ومني کنه؟ په ځانګړې توګه په داسې حال کې چې د سعودي حکومت پر افغان لوري د فشار واردولو توان لري، چې له امله يې له داسې يوه پلان سره تر موافقې وړاندې زر ځله فکر کوي او سعودي عربستان له پيله تر اوسه پورې په سيمه کې د امريکا لومړی حليف

دی. داسې نړیوال فرمان، غربي پریکړه او امریکایي یرغل نشته، چې سعودي دې لا له اولې ورځې د دوی د غوښتنو مطابق همکاري نه وي ورسره کړې. هر چاته ځرګنده ده، چې داسې امریکایي پلان نشته چې د سعودي له دروازې دې نه وي راتېر شوی او همدې سعودي له لومړۍ ورځې د غلام په څېر څوکیدارۍ ته ملا تړلې ده. نور هیڅ بدلون نه دی راغلی، یوازې دومره بدلون راغلی دی، چې د برطانوي بادار پر ځای یې امریکایي بادار غوره کړ او دا ددې هیواد په فقه کې ځای لري.

موږ په ساعتونو ساعتونو د پلانونو پر جوړولو او په مخکې پېښېدونکو خنډونو او پر هغو د برلاسي کېدلو لپاره مجلسونه وکړل. د امریکا او یهودو پر ضد د کار پر پیلولو د ټولو موافقه وه. سره له دې چې موږ پوهېدو چې د افغاني مشرانو له توند غبرګون سره به مخ شو، خو بیا هم زموږ مشوره پر دې شوه ، چې د یوې اعلامیې په خپرولو سره د امریکایانو او یهودو پر وړاندې جهاد اعلان کړو، ځکه د افغاني حزبونو اکثرو رهبرانو له خلیجي هیوادونو سره چې هغوی د امریکا په نارضایتي کې یو قدم هم نه اخلي، ژورې او قوي اړیکي لرلې. دغه عربي هیوادونه د خپلو بادارانو د مزاج خلاف یو کار هم نکوي، دا خو پرېږده، چې دوی یې پر وړاندې د یوې خلاصې او نه ختمېدونکې جګړې اعلان وکړي، خو موږ پر دې سربېره د ځینو ساحوي قوماندانانو چې په سیمه کې یې نفوذ لاره او زموږ ملاتړ یې کاوه، لکه مجاهد عالم شیخ یونس خالص رحمه الله چې زموږ له مرستې څخه یې کله هم هیڅ سپما نه ده کړې او نه یې په دې اړه د شاهانو او امیرانو غوسې او خوښۍ ته فکر کړی دی، موږ ددې ګام اخیستلو ته زړه ښه کړ. د ټولو احتمالي اړخونو تر ژورې او دقیقې مطالعې او څېړنې وروسته د اعلامیې د صادرولو د اړتیا پرېکړه په متفقه توګه وشوه، چې د معاصر جهادي خوځښت په تاریخ کې د بدلون نقطه ده او مثبتې اغېزې یې په عربي او اسلامي نړۍ کې لا تر اوسه سیورى لري، چېرته چې جهادي فکر د نړیوال تروریزم د تمویلونکې امریکا او په سیمه کې د هغې د پیروانو په دښمني کې وغوړېدی او ډېرو جهادي خوځښتونو دغه نړیوال فکر منلی دی، چې د نړۍ د کفري مشرانو مرکزونه یې کمزوري کړي دي.

په فلسطین کې حالات ډېر خراب وو او په ټولو عربي هیوادونو کې د اسرائیلو پر ضد لاریونونه روان وو، هلته د عرب واکمنو پر وړاندې هم د خلکو غوسه راپاربدلې وه، هغه واکمنان چې د فلسطین د قضیې او فلسطیني ولس لپاره یې هیڅ هم نه دي کړي.لاریونونه د نړۍ ډېرو ښارونو ته خپاره شول، پرته له سعودي عربستان څخه چې هلته د ځینو علماوو د سیاسي فتوا له وجې مظاهرې حرامې دي او دا علماء داسې حکمونه صادروي، چې حاکم ته هر هغه څه روا کوي، چې د هغه زړه یې غواړي، که څه هم دا له هغو شرعي احکامو سره په ټکر کې ده، کوم چې دوی زده کړي دي. لا حول ولا قوة الا بالله

دا لاریونونه د الخبر برجونو ته له انفجار ورکولو سره چې د ۱۴۱۷ هجري قمري ، او ۱۹۹۶ میلادي کال د جون میاشتې پر ۲۵مه نېټه ترسره شول هم مهاله وو. دا برجونه ـ د دوی د گمان مطابق ـ له صدام حسین څخه د سعودي د ساتنې په موخه د امریکایي پوځیانو لپاره جوړ شوي وو. امریکایانو هغه وخت د دغو علماوو په فتوا او تائید مداخله کړې وه او تر نن ورځې پورې همدا فتوا نافذه ده.

دغه عملیات د څلورو هغو مجاهدینو وروڼو له لوري چې په افغانستان کې یې د القاعده په معسکراتو کې د روسي اشغال پر مهال تدریب کړی و، ترسره شول، چې په پایله کې یې د لومړنیو معلوماتو پر اساس ۱۹امریکایي عسکر ووژل شول او ۳۷۲ نور یې زخمیان شول، هغه زخمیان چې وروسته مړه شول د معمول په څېر یې د خبر پیکه کولو په وجه نه نومونه او نه شمېر نشر شو. دې ټولو زموږ د اعلامیې نشرولو ته اړتیا لا زیاته کړه، که څه هم اعلامیه ډېره څنډېدلې وه، ترڅو هره کلمه یې جلا جلا وڅېړل شي، چې ښه مطمئن شو، څکه دا د یوه برخلیک بیان دی او زیاتې مطالعې او بیاکتنې ته اړتیا لري.

## مانۍ ته د خلیفه د استازي راتګ

د محافظینو له ډلې یو افغان ورور راغی او راته ویې ویل، چې دلته درې نفره عربان راغلي دي، له تاسې سره ملاقات غواړي. له پېژندنې وروسته د داخلېدو اجازه ورکړل شوه. زه یې استقبال ته ورغلم او شیخ اسامه رحمه الله له دوی سره د درناوي، ښه استقبال او نرمۍ کولو سپارښتنه راته وکړه، لکه څنګه چې دا رویه له ټولو میلمنو سره زموږ عادت ده. دا د اسلامي خلافت د مسؤولینو یو پلاوی و، چې په ۱۴۱۲هـ ق، ۱۹۹۲م کې یې د پلازمینې کابل تر سقوط وړاندې ځینو عربو وروڼو اعلان کړی و او دا یې یوه اړتیا ګڼله چې هرڅوک یې باید تر حاکمیت لاندې راشي او د اقصی پر لور ددې نوي بیرغ تر سایه لاندې مزل وکړي.

دا سمه ده، چې هغه وخت یوازې یو څو کسان تر دې بیرغ لاندې را یوځای شوي وو، خو دوی له خپلو ځانو څخه خلافت، امیرالمؤمنین، د امیر المؤمنین دیوان، د جنګ وزیر، د محتسبینو محکمه او نورې ادارې تشکیل کړې وې او پکتیکا ولایت یې د خپلې استوګنې لپاره غوره کړی و.

ما د مانۍ په بهرنۍ انګړ کې د دوی استقبال وکړ، چې دا د معمول مطابق د میلمنو د ښه راغلاست لپاره زموږ ځای و. د یوې ونې په سیوري کې د چای څښلو لپاره پر یوه فرش کېناستلو. سترې مشې مو وکړه، په دوی کې یې دوه نفره له وړاندې ما پېژندل. هغه وخت یې په الفاروق معسکر کې اعداد کړی و، چې زه یې امیر وم او هغه دریم زلمی د جزیرة العرب د کویټ هیواد یو زده کونکی و، چې له دې وړاندې ما نه و لیدلی.

خبرې په ډېر نرم او ښه انداز پیل شوې، په جلال آباد کې د عرب مجاهدینو د حالاتو په اړه یې پوښتنه راڅخه وکړه او له هغوی څخه د محدود شمېر نومونه هم راته واخېستل. بیا دوی حث واړاوه، د خپل راتګ وجه یې وویله، چې د خلیفه له لوري د استازو په توګه راغلي دي، چې موږ ته له خلیفه سره د بیعت کولو بلنه راکړي او خپل ځانونه یې د مسؤولیتونو او وظائفو پر اساس داسې معرفي کړل:

ــ د جنګ وزیر

ــ د امیر المؤمنین د دیوان کاتب

ــ کویتي ورور په مننې سره یوازې دومره وویل چې دی د طالب العلم په صفت له نورو دوو ملګرو سره دی او که د مجلس په جریان کې کوم شرعي اشکال مخې ته راشي دی به بحث ورباندې کوي.

دوی د خپلو فعالیتونو او دعوت یادونه وکړه، ویې ویل، چې له ډېرو خنډونو سره مخ شوي دي او دا یې هم وویل، چې څنګه له دې خنډونو څخه را ووتل؟

دا خنډونه له خلافت څخه بهر د ځینو خلکو په ځانګړې توګه د ځینو افغان جهادي رهبرانو له لوري رامنځته شوي وو، چې د دوی په خبره پر خپل واک وېرېدل او ځینې ستونزې په خلافت کې دننه خلکو جوړې کړې وې، چې دوی په ډېره سختۍ ځانونه ترې ایستلی و. تر اوسه پورې لا زه نه پوهېږم چې خلیفه څوک دی!.

نو په مهرباني او نرمي سره مې ورته وویل: خلیفه څوک دی؟

دوی وویل: شیخ ابو همام.

ما هغه له وړاندې پېژندی، کله کله به یې د پېښور په الخوص مسجد کې تقریر کاوه.

ورته ومې ویل: خلیفه څنګه وټاکل شو؟

دوی ویل: پلان داسې جوړ شوی و، چې له جزیرة العرب څخه به یو بل نفر راځي، خو هغه له سفر څخه وګرځول شو، نو ابو همام مو امیر وټاکی، ځکه چې د امامت د صحت شرطونه ټول کې پوره و، په ځانګړې توګه هغه قریشي هم دی. نو په منځ کې مو اختلاف راغی، چې آیا د امام قریشي کېدل د امامت د صحت لپاره شرط دی، که یې د کمال لپاره؟

په نرمي سره مې ورته وویل: تاسې پوهېږئ، چې موږ څه موده مخکې له سوډان څخه راستانه شوي یو، تر اوسه پورې موږ د خپلو افغان ورونو د ساحې او سیمې زده کړه کوو او د خپلو تاجیکو ورونو د تدریب، روزنې او اکمال پروسې ته دوام ورکوو. دا یوه پخوانۍ برنامه ده چې موږ یې اوس بیا تازه کول او قوي کول غواړو او

ډېرې هڅې را څخه غواړي، نو تاسې خپل کار پر مخ بوځئ، موږ به خپله برنامه پر مخ بوځو او څومره مو چې توان و، یو له بل سره به مرسته کوو. بیا مو خبرې پر نورو شاوخوا موضوعاتو را وګرځېدې، د لمانځه له اداء کولو وروسته مو د غرمې ډوډۍ وخوړله. دوی د تګ اجازه وغوښتله ویل چې بیا به سره وینو ان شاءالله.

موږ ته له سوډان څخه خبر راکړل شو، چې دوهمه ټولۍ به هم په یو څو ورځو کې حرکت وکړي. په دې مرحله کې باید موږ د کورنیو لپاره سامان تیار کړو، په هغه اوله ټولۍ کې خو موږ ټول نارینه وو، کورنۍ نه وې راسره، نو ځکه مو ترتیبونه آسانه  او هوسا وو، خو دا ځل کورنۍ راځي نو نویو ترتیبونو او خاصو اداري کارونو ته اړتیا ده.

## نجم الجهاد

دا سیمه د شیخ خالص رحمه الله اړوند ده، پراخه سیمه وه، بیا شیخ خالص رحمه الله د هغو مجاهدینو په منځ کې ووېشله، چې کلونه کلونه یې د جهاد په زمانه کې کار او ملګرتیا ورسره کړې وه. هلته د جهاد په وخت کې یو څو کورونو شتون درلود او په منځ کې یې یوه لویه څاه (کوهی) وه، ډاکټر امین حفظه الله چې د انجنیر محمود او شیخ خالص رحمه الله نژدې ملګری و او له عربو مجاهدینو سره یې له نژدې قوي اړیکې درلودې، په ځانګړې توګه له موږ سره، ډېره ښه عربي یې ویله، موږ ته یې وړاندیز وکړ، چې ده او د ده کورنۍ ته چې کومه ځمکه ځانګړې شوې ده، هغه موږ واخلو او هغو ورونو ته کورونو ورباندې جوړ کړو، چې را روان دي. ډېره ځمکه وه او زیات کورونه ورباندې جوړېدای شول، خو ستونزه پر خپل ځای پاتې وه، هغه دا چې کور جوړلو زیات وخت ته اړتیا لرله. موږ د کورنیو راتلونکي ته په فکر کې وو، آیا په ښار کې کورونه په کرایه ورته ونیسو؟ دا خو د جلال آباد په څېر ښار کې آسانه کار نه دی او وخت هم کم دی. مشوره پر دې شوه، چې د مانۍ په انګړ کې دننه دومره خېمې ودروو، چې د ټولو کورنیو لپاره بسنه وکړي. دا کار ماته را وسپارل شو، چې باید د څو ورځو په جریان کې یې وکړم او دې کار ډېرو کارګرانو او لازمو موادو ته اړتیا لرله، چې ژر سر ته ورسېږي.

## د نارنج په کروندو کې خېمې

د اړتیا وړ توکي:

ــ یو څو کارګران

ــ د ځمکې کېندلو او هوارولو لپاره وسائل

ــ خېمې

ــ د هرې خېمې شاوخوا ته د ترپال جوړلو لپاره فرشونه

ــ د تشنابونو لپاره لرګي

ــ لوښي

ــ غټې رسۍ او تارونه

ــ د اوبو ټانکر

ــ منګي او سړوبي

ــ د خوړو د پخولو لپاره وسائل

کله چې موږ د اړتیا وړ توکي وپېرل نو له افغانانو وروڼو مو وغوښتل چې یو ښو کارګران راولي. په سبا سهار په ماڼۍ کې کار پیل شوی و او کارکونکو د نارنج د ونو په منځ کې د خېمو لپاره ځایونه چمتو کول. یوازې پنځه ورځې نه وې تېرې شوې، چې د شلو کورنیو لپاره خېمې اماده شوې او د هرې خېمې شاوخوا ترپال راګرځېدلی و، ډېر عادي تشناب او اشپزخانه یې لرلې، د مجاهدینو پر طرز باندې.

د کار له پای ته رسېدو دوې ورځې وروسته د هغې الوتکې د را رسېدو خبر راغی، چې زموږ وروڼه او خویندې یې را انتقالول، موږ هم هماغه د را رسېدو په حال کې د دوی ښه راغلاست ته ورغلي وو. دوی له سختۍ او تکلیف څخه له ډک سفر وروسته موږ ته په هغه بار وړونکې الوتکه کې راورسېدل، چې په سوډان کې له یوه شرکت څخه په کرایه نیول شوې وه. ټولې کورنۍ په خېمو کې مېشتې شوې او افغانستان ته یې د هجرت دوهم نوی پړاو پیل شو.

هوا ګرمه وه او خېمو د یخولو وسائل نلرل، د لویانو او ماشومانو لپاره د اوبو راوړل ستونزمن کار و، د پخلي طریقه د خویندو لپاره ځورونکې وه او ډېرې یې له داسې ژوند سره عادت نه وې، خو له دې سره بیا هم دلته لویه ستونزه نه وه. کورنیو به سهار ماڼۍ ته په ننوتلو پیل وکړ او هلته به تر مازدیګره پاتې کېدلې چې د لمر له ګرمۍ او زیاتو خوَلو (رطوبت) څخه ځان وساتي، کرار کرار ټولې کورنۍ په ماڼۍ کې مېشتې شوې.

په همدې حال کې په نجم الجهاد کې کارونه په چټکۍ سره پر مخ روان وو، شیخ ابو همام رحمه الله او شیخ ابو حفص العرب رحمه الله ته هلته له ساختماني پروسې څخه د څار دنده وسپارل شوې وه، هغوی د کورونو په جوړولو کې په ټاکل شوي وخت کې ډېر لوی ګامونه واخیستل، چې تر دوو میاشتو زیات وخت یې ونه

نیوی. دواړو ورونو د ساختماني چارو په برخه کې ډېره ښه پوهه لرله او شیخ ابو حفص العرب رحمه الله په دې ډګر کې له پخوا څخه ډېر مهارت درلود.

## په شاهي ماڼۍ کې سویان

وروسته له هغه چې ټوله ماڼۍ له کورونو څخه ډکه شوه، کورنیو د ځینو حیواناتو لکه هیلو، چرګو او چرګانو راوړل پیل کړل، سویان په کې وو، تر دې چې ماڼۍ د یوه باغ په څېر ښکارېدله، چې په مختلفو حجمونو کې رنګارنګ مارغان او سویان په کې ګرځېدل.

یوه ورځ موږ د ماڼۍ په انګړ کې ولاړ وو، ومو لیدل چې یوه هیلۍ د اوبو له پایپ سره د پورته پوړ له بالکن سره بنده ده او زورونه وهي، دوی ورغلل او حلاله یې کړه، چې لاندې بهر ته را وغورځېدله د ماشومانو د ژړا په منځ کې یې منډې وهلې. موږ ټولو وخندل ځکه دا یوه ناخاپه صحنه وه، چې د مجاهدینو د ژوند او ساده معیشت کیسه یې کوله که څه هم هغوی د پاچا په ماڼۍ کې اوسېدل.

څو ورځې وروسته زما ګرانې میرمنې زیری راباندې وکړ، چې زموږ ښایسته سویکې درې نور ښکلي سویان زېږولي دي، زه یې پورته پوړ ته بوتلم چې خپله ښایسته سویکه او د هغې درې بچیان ووینم، چې څه باندې دوې اونۍ مخکې یې زېږولي وو او اوس یې ښکلي روښانه رنګونه را ښکاره کړي وو.

هغې ماته په خندا وویل: دا ستا لپاره د حیرانتیا خبره ده. ما ورته وویل: الله ﷻ ته دې د هغه پر نعمتونو حمد وي او الحمدلله چې ظاهر شاه په ایټالیا کې دی. همداسې د سویانو او مارغانو نوي نسل ورو ورو د ماڼۍ انګړ په ډکولو پیل وکړ، وروسته تر هغه چې مخکې ساتونکو، غلامانو او د پاچا ظلم ډک کړی و.

## توره بوړه

شیخ اسامه رحمه الله د ماڼۍ په پرتله د یوه خوندي ځای په لټه کې و او له شیخ یونس خالص رحمه الله سره یې په دې اړه خبرې کړې وې. هغه موږ د غرونو او دښتو تر منځ په یوه ښکلي او په زړه پوري سفر تورې بوړې ته بوتلو، چې د شیخ خالص رحمه الله او د هغه د تنظیم لپاره د شوروي اتحاد پر وړاندې د جهاد لومړنۍ نقطه وه. دا سیمه ډېر په زړه پورې وه، د ناریل له ونو څخه ډکه وه او دنګ غرونه یې په شنو ونو پوښل شوي وو، تا به ویل زرغونه قیمتي جوړه یې اغوستې ده. د جلغوزو هسکې ونې ورباندې را چاپېر وې، رنې اوبه له په زړه پورې بهېدونکي کاریز څخه روانې وې او ویالې یې د اوبو د شور او څپو له وجې داسې ښکارېدې لکه روان سیندونه.

هلته دوې کوټې او یو مسجد وو او د غره په پای کې د افغانستان رواجي پخلنځی و. هغه ځای هم په طبیعي توګه کلابند و او د شیخ خالص رحمه الله د ملګرو د څار پوستې په کې وې. په دغه ورځ موږ د شیخ خالص رحمه الله مېلمانه وو او په سبا یې د همدې ځای مالکان وو. شیخ اسامه رحمه الله د ځای د نه پرېښودلو پرېکړه وکړه. دا د مجاهدینو د استوګنې لپاره یو مناسب ځای و، پر دې سربېره یې زړه وړونکې جادوګره منظره او پاکه هوا لرله، چې اوسېدونکو ته یې د زړه آرامتیا او فکري سکون ورکاوه.

موږ د تورې بورې په غرونو کې ډېرې خاطرې لرو، خو زه به دلته زموږ پر موضوع قلم وڅرخوم، چې د امریکا او یهودو پر وړاندې زموږ له کار څخه عبارت ده. نو له همدې غره څخه په یوه وړه کوټه کې د صلیبیانو او یهودو پر ضد د نړیوال جهاد اعلان وشو، چې زموږ او امریکایانو تر منځ د جګړې په ماهیت کې د بدلون نقطه وه، وروسته له هغه چې جهاد محلي و او د جغرافیې په مصنوعي حدودو کې بند و، په یوه هڅه یې نړیوال اړخ خپل کړ، د القاعده تنظیم هغه اصطلاحات او مفاهیم را ژوندي کړل، چې له منځه تللي وو او هغه خنډونه یې لیرې کړل، چې صلیبي استعمار تر شا پرې ایښي وو.

دا بیان باید خامخا پر ځمکه له عملي کار سره یوځای شوی وای او دا د هغو ټولو ژورنالیستانو او کتونکو لپاره چې له شیخ اسامه رحمه الله سره یې ملاقات کاوه، لومړنی او خورا مهمه پوښتنه وه.

## نجم الجهاد

په نجم الجهاد[12] کې د کورونو جوړولو کار بشپړ شو او پر ټولو کورنیو توزیع شول. په هر کور کې به دوې خونې، یو وړوکی صالون، پخلنځی او د دوو خونو په منځ کې د وصل لاره وه، په داسې ډول چې د اړتیا په صورت کې یې باید یو کور پر دوو کورونیو ووېشل شي او دا هغه څه و، چې وروسته پېښ شول او یو کور پر دوو کورنیو ووېشل شو. ټول په دې ساده کورونو کې اوسېدل او ټول په آرامي او اطمینان کې وو، ځکه په زړونو کې پراخوالی او په ګاونډیتوب کې راحت وو. ددې کورونو په منځ کې یو مسجد و، چې د شته شمېر لپاره مناسب و او په بله برخه کې یې د پخلنځي په شمول درې خونې او څو تشنابونه جوړ وو. هلته ډېرې پېښې را منځته شوې، چې زه به یې د اوږدوالي او له موضوع سره د تړاو نلرلو په وجه پرېږدم.

په توره بوره کې له شیخ اسامه رحمه الله سره د خبریالانو ځینې ناستې وشوې، چې له جملې څخه یې یوه مشهوره له القدس عربي ورځپاڼې سره مرکه وه، چې د لیکنو د مدیر استاد عبدالباري عطوان لخوا تر سره شوه.

---

12 په خالص بابا فامیلیو کې د نجم الجهاد سیمه. (ژباړن)

عبد الباري عطوان په دې غونډه کې ډېر ښه غړېدلی و، ځکه نوموړي د لوستونکو لپاره په زړه پورې مقالې غوره کړې وې، هغه دا لیدنه پر څو برخو ووېشله او د تورې بوړې سفر تر نامه لاندې د یونلیک سلسلو یې دا مقاله د لوستونکو او اورېدونکو لپاره لا په زړه پورې کړه، چې دا د هغه په څېر د یوه مسلکي ژورنالیست لپاره طبیعي خبره ده.

یوه له مهمو پوښتنو څخه چې هغه شیخ اسامه رحمه الله ته متوجه کړه، د اعلامیې د عملي ژباړې په اړه د هغه پوښتنه وه.

ستاسې راتلونکی منزل چېرته دی؟ هر چا د امریکایانو پر ضد د کار په اړه پوښتنه کوله، چې څرنګوالی یې څه ډول دی او تر کومه بریده شونی دی؟ په ځانګړې توګه له دې امله چې ډېر خلک پر امریکایانو د برید احتمال په شک کې اچوي، ځکه امریکایان هغه څوک دي، چې د دوی د ګټو پر وړاندې د ټولو عملیاتو د افشاء کولو توان لري، خورا ښه عصري ټکنالوژي لري، سي آی اې د نړۍ تر ټولو لویه او فعاله استخباراتي اداره ده او د دندو په مقرراتو کې یې پاچاهان او ولسمشران شامل دي. پاتې ولسمشران او پاچاهان او د دوی وسائل ټول د خپل بادار امریکا په خدمت کې دي. په امریکا کې دننه یا بهر د امریکا پر ګټو برید که ناممکن نه وي نو خورا ستونزمن کار دی. دا د نورو نظر و.

زموږ له نظره خبره په بشپړه توګه برعکس ده، په کومه ورځ چې موږ د امریکا پر وړاندې د جګړې اعلان وکړ، پر الله ﷻ زموږ باور خورا پیاوړی و، زموږ اراده قوي وه او موږ د الله ﷻ په مرسته د امریکا په داخل او خارج کې د ګوزار کولو کلک هوډ درلود.

په نجم الجهاد کې خبرې پر دښمن سخت ګوزار د ګړندي کولو په اړه وې او هغه اهداف چې موږ په دې بحث کې وړاندې کړل، لوی وو، په سمدستي توګه په یمن کې د یوه مهم هدف پر ټاکلو توافق وشو او زه ددې کار لپاره وټاکل شوم.

موږ یو پاسپورت پاکستان ته ولېږی، چې هلته یې چمتو کړو، ځکه له سوډان څخه افغانستان ته د تګ په پایله کې د اسنادو څانګه لا نه وه بشپړه شوې. موږ د سفر او نورو دلائلو لپاره د اړینو پاسپورتونو او اسنادو چمتو کولو لپاره په خورا مهارت او مسلکیتوب سره د اسنادو دفتر درلود.

له افغانانو، عربو، پاکستانیانو او بهرنیو شخصیتونو سره مو ډېرې غونډې او ناستې وکړې، که د بحث د اوږدوالي وېره نه وای، ما به ډېرې نورې پېښې هم یادې کړې وي، خو هغه له یوه سوال پرته چې د امریکایي ګټو پر وړاندې زموږ د عملي پروګرام په اړه و، له دې بحث سره تړاو نلري.

په هغو کسانو کې چې موږ ته راغلي وو، یو څو عرب ورونه هم وو، چې تاجیکستان ته د جهاد په موخه مهاجر شوي وو او له یو لړ ستونزو سره مخ وو، کله چې یې زموږ د راتګ خبر واورېد، نو د ستر مجاهد اتل ورور حمزه الغامدي حفظه الله په ملګرتیا جلال اباد ته راغلل، د ملګرو په منځ کې شهید عزام المکي رحمه الله هم و، چې وروسته یې په نیروبي کې استشهادي عملیات ترسره کړل.

## پاسپورت

په پاکستان کې ورونو زما د پاسپورت کار خلاص کړی و او جلال اباد ته یې موږ ته را ولېږی، خو له کتنې وروسته ورونو منظور نه کړ، ځکه ځینې ښکاره نیمګړتیاوې یې درلودې، پرېکړه مو وکړه چې بل پاسپورت جوړ کړو، نو دې کار یو څه وخت ونیوی.

## کینیایي پلاوی

په جلال آباد کې دوه اتلان ورونه، ورور فهد او ورور صهیب له "جهاد وال" کمپ څخه موږ ته وروسته له هغه راغلل، چې هلته یې ځینې جهادي دورې کړې وې، په حقیقت کې دوی له هغو غوره خلکو څخه وو، چې موږ ته راغلو.

جهاد وال کمپ یو له هغو مهمو کمپونو څخه دی چې له القاعده سره تړاو لري او مقر یې په پکتیا کې په ځانګړې توګه د خوست په مرکز کې دی چې د پاکستان پولې ته څېرمه پروت دی، د شوروي ضد جهاد په دوران کې یې په زرګونو مجاهدین چې د تخصصي دورو غوښتنه به یې کوله، د توپوګرافي، عسکري سروې، ښاري جګړې، تاکتیکونو، متفجراتو، توپنګچې او مخامخ جګړې په برخه کې په لوړ مهارت سره وروزل او د عالي استعداد لرونکو کدرونو فارغولو ته یې دوام ورکړ، چې په ټولو تخصصاتو کې یې د مختلفو استعدادونو په فارغولو کې خورا ښه اثر درلود، تر دې چې دا توان یې ترلاسه کړ، چې آن سوډان ته د تنظیم تر انتقال وروسته هم په بریالیتوب او وړتیا سره دې لارې ته دوام ورکړي.

ابو عطاء التونسي رحمه الله او ابو الفرج اللیبي فک الله اسره یې مشري کوله او یو څو نور استادان او د لوړ استعداد لرونکي کدرونه هم ورسره وو، چې سوډان ته له تللو وروسته یې هم دې کار ته دوام ورکړ.

دواړو ورونو فهد او صهیب په عربي ژبه خبرې کولې، ځکه دوی یمني نژاده وو، چې پلرونه یې د اسلامي فتوحاتو په وخت کې په مومباسا کې له ساحل سره آباد شوي وو. دواړه ورونه نژدې دوه میاشتې له موږ سره پاتې شول، د هغوی رښتینی طبیعت، ښه اخلاق او امتیازي فعالیت موږ ته څرګند شو او د جهادوال کمپ

ملګرو هم د دوی ستاینه کوله. د دوی له شتون او خبرو څخه موږ ته معلومه شوه، چې له امریکایانو سره څومره دښمني لري، دوی موږ ته د امریکایانو د کړنو داسې کیسې وکړې چې ماشومان به ورته سپین ږیري شي، کله چې امریکایان مومباسا ته راځي نو هر حرام کار د ورځې له مخې په ښکاره ترسره کوي. په ښار کې له نافذه قوانینو څخه سرغړونه کوي، خو داسې څوک نشته چې د دوی په مخ کې خنډ واچوي، چې دې کړنو یې د هیوداوالو غوسه را پاروله ده، خو په متو کې هیڅ زور نلري.

دا سمه ده چې مومباسا یو ساحلي ښار دی، له شراب خانو ډک دی او په زرګونو غربي سیلانیان ورځې چې هر ځای ته لاړ شي، فحاشي خپروي، خو د دوی فسق او رذالت د امریکایي پوځیانو پر وړاندې عاجز راځي، کله چې هغوی د تفریح او لامبلو لپاره ښار ته ځي، له ټولو انساني اعمالو څخه تېرېږي او له حیواناتو سره سیالي کوي، یا حتی د کبر او غرور پر نیلۍ سپاره د حیوانیت له حد څخه هم اوړي، چې د سیمه ییزو خلکو احساسات را پاروي، هغوی چې ددې کبرجنو خلکو لپاره یې احساسات هیڅ ارزښت نلري.

ورور فهد کیسه کوي، چې یوه ورځ امریکایي پوځیان پر سړکونو په هر ډول بې حیایۍ بوخت وو، له شرابو خوړلو، لوټمارۍ او هر څه څخه نیولې ، ددې په منځ کې یې د ټولو ښاریانو او اوسېدونکو په مخ کې د کینیا پر نجونو جنسي تېری کاوه[13]. له ما سره یوه اتومات توپنګچه وه، فکر مې وکړ چې لاړ شم او دا جنایتکاران ووژنم، ورور فهد د مومباسا یو له غیرتي زامنو څخه و، هغه غوښتل چې یو څه وکړي، خو هغه یو داسې چاته اړتیا لرله، چې ملاتړ یې وکړي او ویې هڅوي. یو سهار ورور فهد موږ ته پر امریکایي پوځیانو د عملیاتو یو پلان وړاندې کړ او ویې ویل، زه چمتو یم چې له تاسې سره همکاري وکړم . هر ډول اسلحه ... هر ډول چاودېدونکي توکي ... هر ډول بمونه .... زه ټول چمتو کولای شم باذن الله.

موږ پلان مطالعه کړ، او د ټولو اړخونو له څېړلو وروسته مو په شرقي افریقا کې پر امریکایي ځواکونو د عملیاتو پرېکړه وکړه، دا به یو اساسي پلان وي او د هغه بل پلان لپاره د چمتووالي څارنه امکان لري، چې زه یې خپله وکړم، په داسې حال کې چې د عملي کولو کار یې هلته یوه بل پخواني ملګري ته وسپارم، ځکه وخت ډېر را نږدې و. له فهد ورور سره د کار پر ترتیباتو موافقه وشوه، او ومو ویل چې دا خبره به تر هغه وخته پټه پاتې وي تر څو زه نیروبي ته رسېږم. ورور فهد د شرقي افریقا په لور لاړ او هلته یې کینیا ته زما د ورتګ انتظار کاوه.

---

13 په کوڅو کې پر کینیایي ښځو جنسي تېري او وژل د امریکایي سرتېرو لخوا یوه فردي تېروتنه ده، خو که چیرې دا د کینیا د سرتېرو لخوا له امریکایي میرمنو سره پیښ شي، نو دا به د غلامۍ د تیورۍ له مخې د حکومت او د کینیا د ټولو خلکو لخوا مجازات شي.

# کندهار ته  ناڅاپي تګ

شیخ اسامه رحمه الله د امیر المؤمنین رحمه الله په غوښتنه د ځینو ملګرو په ملتیا کندهار ته په سفر تللی و، امیر المؤمنین رحمه الله له هغه څخه غوښتنه وکړه، چې کندهار ته ورشي او هلته یې د استوګنې لپاره ځینې ځایونه ورته پیشنهاد کړل، په هغو کې د کندهار هوایي ډګر هم و، چې د شیخ اسامه رحمه الله په خوښه موافقه وربانديې وشوه.

له سفر څخه د شیخ اسامه رحمه الله له را ستنېدو شاوخوا دوې میاشتې وروسته موږ ته د افغانانو ورونو لخوا ځینې کره خبرونه راغلل، چې د هغه وخت د جلال آباد والي حاجي قدیر په مشرۍ زموږ پر ضد د خلیجي هیوادونو په ملاتړ یوه دسیسه روانه ده او زموږ د اوسېدو پر ځای د برید لپاره تیاری نیسي.

حاجي قدیر له تنظیمي اړخه له شیخ یونس خالص سره تړاو درلود، خو یو سرکښه سړی و او بشپړه ازادي یې لرله، د سیمې او نړۍ له هیوادونو سره د هغه شکمنو اړیکو دې ته امکان ورکاوه، چې د خپلو ناوړه پلانونو د تر لاسه کولو لپاره کار ورڅخه واخلي. څو ځله یې له شیخ رحمه الله سره د ولایت په مقام کې د ملاقات غوښتنه وکړه، خو ځینو مخلصو ورونو موږ ته ددې سړي او دده د ملګرو له چل او فریب څخه خبر راکړ، چې له همدې امله شیخ رحمه الله د ملاقات غوښتنه په ارامه او مهذبه توګه رد کړ.

دا احتمالي برید که څه هم له عملي اړخه ستونزمن و، خو ممکن و او کېدای شي چې دا برید د یوه بل خیانت له وجې نه وي عملي شوی. په تېره بیا له هغه وخته چې د پروفیسور رباني له خولې وویل شول چې هغه د عربو مجاهدینو په سپارلو کې کوم اعتراض نه لري، تر څو د هغه د نفوذ په ساحه کې وي . موږ ته دا خبر هم  دقیق را کړل شوی و، چې شمالي قومندان "احمد شاه مسعود" پلان لري چې د شیخ اسامه او عرب مجاهدینو پر وړاندې چټک عملیات وکړي.

د سهار له لمانځه وروسته موږ سره را غونډ شوو، په دې اړه مو خبرې وکړې او پرېکړه مو وکړه، چې په هماغه ورځ له جلال اباده ووځو، ټول خپلو کورونو ته لاړل، خو د سبا ناري لپاره نه، بلکې د هغه شیانو د راټولو لپاره چې د انتقال امکان یې درلود. لوی شمېر واړه بسونه ددې لپاره په کرایه ونیول شول، چې موږ تر کابله او بیا له هغه ځایه تر کندهاره  انتقال کړي. په دې اوږده سفر کې ډېرې په زړه پورې پېښې وشوې، خو له یوې پېښې پرته چې د یادولو وړ ده، له نورو څخه به تېر شم، هغه په الوتکه کې د لاسي بم یوه حادثه ده. په دې پېښه کې موږ پر موږ او اسلامي امارت ته د الله ﷻ مهرباني ومونده.

په کابل  کې درې ورځې د یوې مناسبې الوتکې په انتظار پاتې شوو، چې زموږ کورنۍ کندهار ته یوسي، موږ کابل ته د رسېدو په دویمه ورځ هوایي ډګر ته لاړو، چې تر کندهاره یوه الوتکه دربست کړو، الوتکه انتي نوف ډوله وه، څلور انجنونه یې لرل، چې د درنو پوځي آلاتو د وړلو لپاره جوړه شوې وه او په ځینو وختونو کې به یې د روزنیزو ماموریتونو لکه ځمکې ته د توپ اچونې پر مهال پوځیان هم ښکته کول، خو د ښځو او ماشومانو لېږد هغه ځه و، چې د پیلوټ او د هغه مرستیال په زړه کې هم تر اوسه نه و راګرځېدلي، نو ځکه یې په کلکه له سفر کولو څخه انکار وکړ، ویې ویل چې دا په ځانګړې توګه د ماشومانو لپاره لوی خطر دی او چې څوک ورته نژدې وي، د اورېدلو پر حس یې اغېزه کوي، ځینو خلکو د روانو خبرو اترو په جریان کې الوتکې ته زموږ د نژدې کېدو له امله خبرې نه اورېدلې.

د دوهم ځل لپاره بېرته کور ته راستانه شوو، تر څو مناسبه الوتکه ومومو، په دویمه یا دریمه ورځ بیا هوایي ډګر ته لاړو، هلته دوه انجن لرونکې انتي نوف الوتکه وه او د مخکنۍ الوتکې په پرتله یې غږ او شور لږ و، له شکل څخه یې څرګندېده، چې  د دویمې نړیوالې جګړې پاتې شونې ده، خو کله چې په کې سپاره شوو، نو معلومه شوه، چې له لومړي نړیوال جنګ څخه پاتې ده.

دا سفر په رښتیني ډول د شهادت یوه ټولیزه کړنه ګڼل کېده، ځکه ټولو یوه الوتکه دربست کړې وه، پرته له شیخ اسامه رحمه الله او ځینو ورونو څخه چې په موټر کې یې کندهار ته تلل خوښ کړل.

هرچا په الوتکه کې خپل ځایونه نیولي وو او د الوتکې په اوږدوالي کې یې پر تېرو شویو تارونو لاسونه نیولي وو، چې د اوږدې مسافې لپاره د پوځي وسایطو د ټینګولو لپاره چمتو شوي وو، یا د هوایي عملیاتو په وخت کې د پوځیانو د لاس نیولو لپاره جوړ شوي وو، ځینې ملګري بیا په جلا جلا ځایونو کې ناست وو. شیخ ابو حفص الکومندان (صبحي ابو ستة) رحمه الله، شیخ ابو زیاد الموصلي او شیخ ابو الخیر المصري دننه له پیلوټ او همکار پیلوټ سره ناست وو، تر څو پیلوټ په الوتکه کومه لوبه ونکړي او کوم بل لور ته مو انتقال نکړي. ډېرو ورونو خپلې شخصي وسلې له ځان سره راخیستې وې او ځینو یې د لاسي بمونو په ګډون بشپړې نظامي جامې اغوستې وې، الوتنه په نورمال ډول روانه وه، خاموشي وه، خو دا خاموشي ډېره اوږده نه شوه، داسې څه پېښ شول، چې ګمان یې نه کېده.

یو ځوان لاندې پر ځمکه ناست و، ځکه د ټولو لپاره څوکۍ نه وې او کله چې هغه غوښتل له خپل ځای څخه پورته شي، چې استراحت وکړي، د لاسي بم کړۍ  یې په یوه چنګک کې بنده شوه، پرته له دې چې هغه خبر شي له بم څخه کیلي را ختلې وه او د الوتکې پر دیوال په یوه چنګک را ځړېده، بم د چاودېدو لپاره تیار و، ستنه یې د راوتلو په حال کې وه، خو و نه چاودېد، ځکه د دریشي په جیب کې و او هغه نفر چې پورته شو، ستنه یې

د چاودېدونکو توکو د چاودلو لپاره له خلاصېدو څخه وژغورله. شاوخوا وروڼو یې حالت ته په داسې حال کې کتل، چې پر خپلو سترګو یې باور نه شو کولای، ځکه د دوی او بم د چاودنې په منځ کې یوازې هغه جیب و، چې بم په کې پروت و. یوه ورور په بېړه شیخ ابو حفص ته وویل، هغه ژر ځان را ورساوه او په حکمت او هوښیارۍ سره یې حالت کنټرول کړ، هغه په خپل معمولي ډاډ سره کیلي نیولې وه، چې ستنه یې بهر ونه وځي او ماته یې راکړه، چې بېرته یې بم ته ور واچوم. نو موږ د میرمنو شرایطو ته په پام سره هغه په قوي رسۍ وتړله او شیخ ابو حفص له ځان سره واخیسته، تر څو د کاکپیټ دننه وروڼو ته ووایي چې هلته څه پېښ شول، خو کله چې پیلوټ د هغه په لاس کې لاسي بم ولید، هغه بل فکر وکړ، کلک قسمونه یې واخیستل، چې پر سمه لاره روان دی او خپله لاره یې نه ده بدله کړې، خو شیخ ابو حفص یې وېره ختمه کړه او څوک چې په کاکپیټ کې دننه وو، ټولو ته یې کیسه وکړه، بیا یې هغه بم ماته راکړ، چې بیا ما تر ډېره وخته ساتلی و[14]. پیلوټ یې له کاکپیټ څخه د غورځولو خبره وکړه د امنیت او بشري ملحوظاتو په خاطر، خو موږ په ټول سفر کې راسره وساتی.

د کندهار هوایي ډګر ته راورسېدو او د هوایي ډګر د چارواکو د یوه پلاوي له خوا مو هرکلی وشو، چې د هوایي ډګر یوه مېلمستون ته یې بوتلو او زموږ لپاره یې ښه خواړه چمتو کړي و، د هغه وخت د هوایي ډګر مسؤول یو داسې څوک و، چې پر څېره یې خوشحالي او همیشنۍ موسکا څرګندیده، هغه موسکا چې هیڅکله نه ور څخه جلا کېدله، نهایت متواضع شخصیت و او د نویو راتلونکو کسانو لپاره یې د هر ډول آسانتیاوو د برابرولو لپاره پرله پسې هلې ځلې کولې، دا د ځانګړو اخلاقو څښتن شخصیت د امیر المؤمنین ملا محمد عمر رحمه الله له وفات وروسته د طالبانو د اسلامي تحریک مشر شو، چې ټولو ورسره د امیر المؤمنین په صفت بیعت کولو ته بېړه وکړه.

دا متواضع شخصیت د طالبانو د تحریک امیر ملا اختر محمد منصور رحمه الله و، چې د ټولو یې پر بیعت او محبت اتفاق و.

وروسته شیخ اسامه رحمه الله او هغه وروڼه چې ورسره وو، له موږ سره یوځای شول او زموږ یوه برخه د هوایي ډګر کمپلکس ته لاړو ترڅو د کورونو لپاره د اړتیا وړ شیان چمتو کړو، د دې کار شهسوار شهید، اتل، میړنی ورور ابو عمر الاسواني رحمه الله و، چې وروسته د"ابوبکر ګل" په نوم مشهور شو، په کندهار کې یو له مشهورو

14 که الوتکه لوېدلې وای، نو هر چا به د دې پېښې تور پر طالبانو لګولی و اوبیا به د سمندر اوبو هم دا تور له دوی نه و لېرې کړی. دطالبانو تحریک هغه وخت یو نوی خوځښت و، ځینو یې د څیرې او شهرت د خرابولو هڅه کوله او ویل به یې، چې دا د امریکایانو غلام دی، بې نذیر بوټو یې تاسیس کړی دی او ملاتړ یې کوي، تر څو د افغانستان پراخې سیمې تر خپل کنټرول لاندې راولي او له بده مرغه دا خبرې د ځینو اسلامي تحریکونو له خوا راپورته شوې، چې پر دې حرکت کې یې تهمت وایو، خو لږ وخت تېر شو، چې ددې تحریک اخلاص او پاکي ټولو ته روښانه شوه او څرګنده شوه چې څوک بې بنسټه درواغو ته وده ورکوي ، هیڅ حقیقت نه لري او همدا خلک د سیمې د واکمنانو په منځ کې یوازې د نړیوال کفر او د هغه د غلامانو په خدمت کې دي.

عربو شخصیتونو څخه و، په بازار کې به له دوکاندارانو او سوداګرو څخه داسې څوک نه تېر یدی، چې د ابوبکر ګل په اړه به یې پوښتنه نه کوله. ورور ابوبکر ګل غنمرنګه ځواني درلوده، هغه له سویلي مصر څخه و، کورنۍ یې د مصر او سوډان پر پوله پرته ده، د کورنۍ یوه یرخه یې په مصر کې او بله په سوډان کې اوسېږي، لکه په طبیعي توګه چې د نړۍ په ټولو سرحدي ښارونو کې داسې وي. موږ د مصریانو په توګه له سوډاني ورونو سره د دوی د نرمۍ، ښه اخلاقو او مهربانه زړونو په خاطر مینه لرو او که د جمال عبدالناصر د غلامۍ نتیجه نه وای، چې سوډان یې له مصر څخه جلا کړ، مصر او سوډان به یو هیواد او یو ملت پاتې و. سوډان یو د انساني او کرنیزو امکاناتو او خامو موادو لرونکی هیواد دی، چې د نړۍ د لویو هیوادونو په قطار کې راځي. سوډان د نیل سیند سرچینې د رینسانس/نهضه بند او نورو بندونو په تړلو سره خوندي کړې دي، چې د یهودانو او صلیبیانو تر کنټرول لاندې را شي او دا د مصر د حکومت او خلکو لپاره یو موجود ګواښ دی! خو دا خیانت او بزدلي ده چې د عربي او اسلامي هیوادونو د واکمنانو ځانګړتیا ده.

بېرته ابوبکر ګل ته را ګرځو، چې غنمرنګه پوستکی یې درلود او افغانانو په دې خاطر مینه ورسره کوله، چې د حضرت بلال رضی الله عنه له اولاد څخه دی. دا د هغو افغانانو نظر دی چې د رسول الله ﷺ له صحابه کرامو سره په فطري ډول مینه لري.

چمتووالی لا نه و بشپړ شوی، خو ټولو د دې لپاره غوره وګڼله چې کمپلکس ته ولاړ شي او ورونه د خپلو کورونو د بشپړېدو څارنه وکړي، چې د کار په چټکتیا کې دا کړنه مرسته کوي، دا ډېرې ښې ورځې وې، ټولو په ډېر زیار او شوق سره کار کاوه، د وروړګلوۍ په نه تکراریدونکې فضا کې، د همکارۍ په داسې ماحول کې چې زړونه له مینې او اخلاصه ډک و،ژوند ساده او د عصري ژوند له ټولو خواهشاتو څخه خالي و. ریښتینی سعادت په پیسو او ماڼیو کې نشته، ریښتنې نیکبختي هغه وخت ده، چې د ژوند په هر حال کې له الله ﷻ سره یې!

## له طالبانو سره په جګړه کې ګډون

هر څه تقریبا چمتو و او په پام کې وه، چې زه پاکستان او بیا کینیا ته لاړ شم چې هلته کار پیل کړم، خو د امیر المؤمنین ملا محمد عمر رحمه الله له خوا اجازه راغله چې موږ د طالبانو په څنګ کې د شمالي ټلوالې پر وړاندې په جګړه کې برخه واخلو. دا تایید وروسته له هغه وشو چې ملا عمر رحمه الله څو ځله[15] وځنډاوه، شیخ اسامه په هغه وخت کې ټول ورونه راټول کړل او یو لوی شمېر یې له کندهار څخه د کابل په لور رهي کړل،

15 شیخ اسامه رحمه الله له ملا عمر رحمه الله څخه غوښتنه کړې وه چې موږ ته په محاذونو کې د ګډون اجازه راکړي او دا غوښتنه یې څو څو ځله تکرار کړې وه.

ترخو په جګړه کې برخه واخلي. هلته شیخ ابو حفص الکومندان او شیخ ابو الولید المصري ( انجنیر مصطفی حامد) ته ددې کار مسؤولیت وسپارل شو. شیخ ابوحفص له شیخ اسامه څخه وغوښتل چې د یوې میاشتې لپاره یې زه په دې کار کې مرستیال شم، خو شیخ ابو الولید المصري په کلکه دا خبره رد کړه، ځکه هغه دا اړتیا لیدله چې زه د خپل شخصي کار پیل کولو لپاره لاړ شم، ځکه هغه د جبهوي کار، چې اوس یې اجازه شوې وه، څخه کم ارزښت نه درلود، خو شیخ ابو حفص پر خپله غوښتنه ټینګار وکړ او شیخ اسامه رحمه الله موافقه ورسره وکړه، موږ ټول کابل ته لاړو چې له طالبانو سره په لومړۍ کرښه کې کار پیل کړو.

په کابل کې په یوه کور کې پاتې شوو، چې طالبانو زموږ لپاره چمتو کړی و او دغه کور زموږ لپاره د لومړنی میلمستون حیثیت لاره، ورور عزام المکي مو د امیر په توګه وټاکل شو او موږ د (مراد بیک) لومړي خط ته لاړو، هلته په جګړه کې د ګډون لپاره د ځایونو غوره کولو لومړی پړاو پیل شو، ځکه د عربو ورونو مرکزونه د افغان ورونو له مرکزونو څخه په کامله توګه جلا وو، موږ یوه نقطه د هاوان او ام بي لپاره غوره کړه او زه له دوو اتلانو او مهربانه ورونو ابو طارق التونسي رحمه الله [16] او ورور ابو زیاد الموصلي[17] رحمه الله سره لاړم، چې په لومړۍ کرښه کې د توپخانې د سمولو لپاره مناسب ځای غوره کړو.

په همدې حال کې موږ د دښمن د ښکار کولو یوه غوره نقطه پیدا کړه او د طالبانو د تحریک له ورونو سره مو موافقه وکړه چې په هغه ځای کې د څارنې لپاره یو څو نفر وټاکو، دوی هم د دې کار هرکلی وکړ، ځکه له موږ سره د امیر المؤمنین ملا عمر رحمه الله خط و.

د مازدیګر لمونځ مو وکړ او بیا پیاده د هاوان ځای ته را روان شو، د طالبانو یو ساتونکی له خپلې وسلې سره زموږ په مخ کې ودرېدی، له موږ درو سره خپلې شخصي اسلحې وې. موږ د تفاهم کولو هڅه وکړه او ورته ومو ویل چې موږ ته ملا عمر رحمه الله خط راکړی دی، خو زموږ کمزورې پښتو زموږ اود هغه په خبرو د پوهېدو

---

16 هغه د القاعدې له نامتو مشرانو څخه دی، د درنو وسلو یو ماهر روزونکی و او د هرې هغې نوې درنې وسلې د پېژندلو وړتیا یې درلوده، چې په لنډه موده کې زموږ لاس ته راغلې او په الکترونیکي او میخانیکي برخه کې هم د لوړ عقل او ګړندۍ پوهې درلودونکی و، دی د لومړنیو مهاجرینو له ډلې څخه و، چې د شوروي ضد جهاد لپاره سنګر ته تللی و، هغه د جګړې په لیکو کې څو کلنه تجربه درلوده او تر هغه وخته په کې پاتې شو، تر څو چې یې د شهادت جام نوش کړ.تقبله الله

17 هغه د الله ﷻ عابد بنده، چې په آرامي او جنګ کې یې د قرآن کریم ورځنی معمول تلاوت نه پرېښود، د قرآن کریم کامل حافظ و او هر ځای چې ته به چې تللو، د خلکو امام به و، له دې سره هغه ډېر ځیرک هم و، له پوهنتون څخه یې د جیولوجي په برخه تخصص تر لاسه کړ او په افغانستان کې د شوروي اشغالګرو پر ضد په جهاد کې شامل شو.

هغه په ډېرو نظامي امورو کې ډېر تبارز او شهرت پیدا کړ، د توپوګرافي او نظامي سروې کولو په برخه کې خورا ماهر استاد او د ثقیله اسلحو له ماهرو روزونکو څخه و. په ټولو جنګي محاذونو کې یې برخه اخیستې وه او په صومالیه کې یو له خورا مهم روزونکو څخه و ... او په القاعده تنظیم کې د توپو ګرافي په برخه کې ټول د هغه شاګردان دي. د غوره اخلاقو خاوند و، هر چا د هغه د نیکۍ شاهدي ورکوله. د الله ﷻ په لار کې یې شهادت تر لاسه کړ. نحسبه کذالک فرحمه الله رحمة واسعة.

مخه ونیوله. شیخ ابو زیاد له موږ څخه شاوخوا ۵۰ متره شاته روان و او له لیرې څخه یې وضعیت څارلو. له هغه ساتونکي سره تر خبرو اترو وروسته، هغه په ټول ځواک سره پر موږ ډزې وکړې، زما او د هغه تر منځ فاصله له دریو مترو څخه زیاته نه وه او ورور ابو طارق زما تر شا په یوه نسبتا خوندي کونج کې ولاړ و، ما هیڅ شک نه درلود، لکه څنګه چې هغه ساتونکي شک نه کاوه، چې زه به حتما وژل کېږم، هغه له خپل ټوپک څخه دیرش مرمۍ زما پر خوا وویشتلې، خو وروسته چې ډزې پای ته ورسېدې، موږ ټول حیران شوو، ځکه یوه مرمۍ نه وه لګېدلې. په همدې وخت کې د طالبانو یوه ډله چې موږ ورسره د مازدیګر لمونځ ادا کړی و، تېرېدله، یو یې له موټر څخه راښکته شو او ساتونکی یې په سختو ټکو ورټی، ساتونکي په داسې حال کې چې پر مخ یې د وېرې او پښېمانۍ نښې له ورایه ښکارېدلې، په وارخطایي یې ماته مخ راواړاوو، راته ویې کتل، چې زخمونه ووینې، خو هیڅ یې ونه موندل، د خپل کار ښېنه یې غوښتله او ویل یې چې زه عربان نه پېژنم پرته له دې چې د طالبانو پر ضد له حکمتیار سره په دې مخامخ خندق کې ولاړ دي، ما فکر کاوه چې تاسې په پټه دلته د کوم هدف لپاره راغلي یاست. عجیب حالت و، ښه پخیر پای ته ورسېد او موږ بېرته خپل مرکز ته راستانه شوو او د الله ﷻ حمد مو ادا کړ، چې خوندي پاتې شوو.

کله چې موږ شیخ ابوالولید المصري ته دا کیسه وکړه، نو هغه له اورېدلو وروسته د هغه طالب محاکمه کول اړین وبلل، ځکه چې هغه نه پوهېدی، نو ولې یې ډزې کولې، د شیخ موخه دا نه وه چې زه ټپي شوی یم، بلکې د هغه موخه دا وه چې طالب باید محاکمه شي ځکه هغه معسکر نه و کړی، دا هغه څه دي د مهماتو ډېره برخه بې ګټې مصرفوي[18].

زه به هڅه وکړم چې ددې مودې په اړه لیکل لنډ کړم، او یا یې شاید وروسته په بل ځای کې ولیکم، ان شاالله.

په دې موده کې ډېرې پېښې وشوې او په لږ وخت کې موږ په دې وتوانېدو، چې یو شمېر مرکزونه فعال کړو، له موږ سره ځینې هغه محترم وروڼه و، چې په جبهوي کارونو کې یې پخوانۍ تجربه درلوده، آن تر دې چې هر یو یې د خپلې زیاتې تجربې له وجې د یوې بشپړې جبهې جوړولو وړتیا لري. په حقیقت کې هغه مهال تنظیم نادر کدرونه لرل، شخصي امکانات یې هم لرل، چې تنظیم ته یې د جبهوي، شخصي او اداري کارونو وړتیا ورکوله. هر سړی یوه متحرکه ټولۍ وه، هغه وړتیاوې چې ورونو لرلې حیرانونکې وې، هر ورور د محاذ د امیر کېدو لپاره مناسب و، که څه هم هرچا د مشرۍ‌او امارت پر ځای د فرد او لښکر په توګه اوسېدل خوښول او شاید دا یې د کامیابۍ یو راز وي.

---

18 دا د هغو مجاهدینو لپاره یوه تنبیه ده چې پرته له مناسبې روزنې څخه محاذونو ته د تللو بېړه کوي.

شیخ اسامه رحمه الله موږ پسې کابل ته راغلی، شیخ ابو ولید المصري "مصطفی حامد" به په هره غونډه کې ماته په اشارې سره ورته ویل: دا سړی ولې ناست دی؟ درې اونۍ وروسته زه په ټاپفاید تبه اخته شوم، شاوخوا یوه اونۍ د درملنې لپاره پاتې شوم او بیا کندهار ته د الوتکې په واسطه راستون شوم، چې له هیواد څخه بهر سفر ته چمتو شم، ځکه وړور فهد مې په مومباسا کې راته انتظار دی.

ما خپلې میرمنې ته وویل چې زه ډېر اوږد سفر کوم.

هغې وویل: ته به کله راځې؟

ما وویل: زه نه پوهېږم.

چېرته؟

ما وویل: د الله ﷻ یو هیواد ته.

هغه یو مثالي وفاداره ښځه وه او ده، دا ټول کلونه یې د ژوند په سختو حالاتو کې له ما سره صبر کړی دی او زما د کار په لاره کې له خطر سره سره نه ده درېدلې.

زه هغه وخت د دریو لوڼو پلار وم: مریم، فاطمه او حفصه.

او جالبه دا وه، چې زه د دوی ټولو د زوکړې په وخت کې نه وم.

زما لور مریم په پېښور کې نړۍ ته سترګې وغړولې او هغه وخت زه په خوست کې وم.

فاطمه په داسې حال کې زېږېدلې چې زه په صومالیه کې وم او دوی په سوډان کې وو.

حفصه په داسې حال کې پیدا شوه چې زه په افغانستان کې وم او دوی په یمن کې وو.

او کله چې زه له افغانستانه وتم، زما میرمن حامله وه او زما لور میمونه چې پیدا شوه، زه په کینیا کې وم.

هغې د یوې وفادارې، همکارې، صبر کونکې، مهاجرې او له دین سره مینه لرونکې میرمنې په زړه پورې مثالونه وړاندې کړي دي، پرته له دې چې کوم اعتراض وکړي، بلکې په رضایت او سخاوت سره یې کوي او دا تر اوسه هم هغسې ښه اخلاق لري، بلکې د اخلاقو زینت یې نور هم زیات شوی دی. الله ﷻ دې زما لخوا هغې ته ډېر اجر ورکړي او ما ته دې دا توان راکړي چې د هغه وخت او روغتیا یو څه بدله ورکړم چې هغې له ما سره تېر کړي.

هغه له یوې متعهدې او دینداره کورنۍ څخه ده چې د مصر د واکمنانو له ظلم څخه یې په خپل دین هجرت وکړ او په یمن کې مېشته شوه، چېرته چې د هغې پلار شیخ ابو الفرج الیمني، په تدریس بوخت شو همدا راز یې مور

محترمې خور ام ابراهیم هم د تدریس دنده تر سره کوله او ددې کار ترڅنګ يې د الله ﷻ لور ته په دعوت کې هم لوی رول درلود، بیا يې پلار له کورنۍ سره د روسانو پر ضد د جهاد لپاره افغانستان ته هجرت وکړ، هلته موږ بیا په پېښور کې دا مبارک واده وکړ، د هغې مور او پلار له الله ﷻ وروسته زما په کار کې له ما سره مرسته کونکي وو او زما په دوامداره نشتون کې يې زما د میرمنې خیال ساتی.

په ۱۴۱۸ هجري قمري کال کې، په ځانګړې توګه بیا د ۱۹۹۷ میلادي کال د سپټمبر په لومړیو کې، د اسنادو په څانګه کې وروڼو زما د پاسپورت کار نهايي کړ او زه وروسته تر هغه د تګ لپاره چمتو شوم چې په ختیځه افریقا کې د امریکا د يو هدف په نښه کولو لپاره وګمارل شوم.

له شیخ او ځینو مسؤولینو وروڼو پرته بل څوک زما په منزل نه و خبر .

شخصي کار بشپړ محرمیت ته اړتیا لري او له اړتیا سره سم باید په يوه محدود چوکاټ کې بحث وربانديې وشي، نه داسې لکه د نن ورځې کارونه چې د انټرنټ پر پاڼو د ټلګرام او واټساپ له لارې، سرې په شخصي خونه کې له مقابل لوري سره په خبرو کولو سره پر خپل ځان د هیک او څارنې څخه د خوندي کېدو ګمان کوي، چې دا د ډېرو عملیاتو د ناکامۍ او د بریدونو د ترسره کونکو وروڼو د زنداني کېدو لامل شو. دا د عملیاتو په اداره کولو کې له صداقت سره په ټکر کې دی، هغه وروڼه چې په ډګر کې دي باید د مشرتابه لخوا خوندي شي او افشاء نشي، څکه له دوی سره آساني کول يې د نیول کېدو له خطر سره مخامخ کوي، په ځانګړې توګه د رابطو په مسأله کې چې نن ورځ په کې بې غوري کېږي. لا حول ولا قوة الا بالله.

د سپټمبر د لومړۍ اونۍ د سه شنبې په سهار، ما د خپل زړه له جنته، د زړه له خواږه نسیمه، د خپل کور له رڼا، د خپل ژوند له ملګرې ، له الله ﷻ وروسته زما له تکیې او زما ګرانې مېرمنې ام محمد او زما ګرانو لوڼو، زما د زړه میوو او ټوټو مریم، فاطمې او حفصې[19] سره ګرمه خدای پاماني وکړه او دوی مې الله ﷻ ته وسپارل، ښښنه او دعاء مې ورڅخه وغوښته، څکه زه نه پوهېدم چې بیا به بل ځل ورسره وینم او که به دا زموږ په منځ کې وروستی دیدن وي؟

له کوره په داسې حال کې را ووتم چې زما د میرمنې او لوڼو له سترګو د فراق اوښکې بهېدې، بهر مې له يو څو وروڼو سره چې نه پوهېدل، زه کوم لور ته روان یم، خدای پاماني وکړه، دوو ګرانو وروڼو خالد الحبیب او ابو عبدالرحمن المهاجر ته مې زما پر کور او لوڼو د پام کولو وصیت وکړ، بیا مسجد ته لاړم، چېرته چې شیخ اسامه

---

19 «و انما اولادنا بيننا اكبادنا تمشي علي الارض».

«یشکه زموږ اولادونه زموږ په منځ کې ، زموږ زړونه دي چې پر ځمکه ګرځي».

رحمه الله د مسجد په څنګ کې په یوه وړوکې او ساده کوټه کې ناست و، چې زموږ د خاص مجلس لپاره ځانګړې وه، په دې اطاق کې به موږ له شیخ رحمه الله سره د کار او ځینو مهمو چارو په اړه د مشورې لپاره ملاقات کاوه. ما رخصت ورڅخه واخیست او وروستۍ خبرې چې هغه ماته وکړې دا وې:

هغه هدف چې سل کیلو بارود غواړي، پنځه سوه کیلو ورکړه، ویې ویل، موږ غواړو دوی ته دردونکې ضربه ورکړو او که کوم استشهادي ملګري ته اړتیا شوه، زما زوی عبد الرحمن تیار دی.

ماته یې د خیر دعاء وکړه او بیا سره جلا شوو.

موږ د شیخ ابو حفص الکومندان او شیخ ابو الخیر المصري په ملګرتیا په هغه موټر کې سپاره شوو، چې د موټرو تم ځای ته یې وړلو، څکه دوی تر هغه ځایه له ماسره پر ملګرتیا ټینګار کاوه، هلته ما او یوه پاکستاني ورور ټکسي ونیوله، دا ورور له ماسره پاکستان ته د سفر ملګری و او زه یې تر هغه وخته پرېښنبودم تر څو د کراچي په هوایي میدان کې مې وروسته تر هغه رخصت ورڅخه واخیست، چې زما د سفر ټولې چارې یې پوره کړې او دا مجاهد ورور د عملیاتو په ټوله موده کې زما او د شیخ ابو حفص الکومندان تر منځ د اړیکو مسؤول و، هغه د ښه امنیت درلودونکی و، که څه هم د عملیاتو په اړه هیڅ نه پوهېده، خو په امانتداري او چټکۍ سره یې کار کاوه.

زه یې نوم د امنیتي شرائطو له امله نه اخلم.

## د کراچي هوایي ډګر

ما د کراچي په هوایي ډګر کې پخوانۍ تجربه درلوده، نو مې خپلې کړنلارې په چټکۍ سره بشپړې کړې الحمدلله، او د ټرانزیټ لانچ ته لاړم چې دوحې او له هغه ځایه خرطوم ته د الوتکې د وخت انتظار وکړم .

شاوخوا یوولس بجې د دوحې هوایي ډګر ته ورسېدم، یوولس بجې وې او درې ساعته مې په ټرانزیټ کې انتظار وکړ، هلته مې د ماسپښین او مازدیګر لمونځ ادا کړ، لږه اندازه ډوډۍ مې وخوړله او د ماسپښین له دوو بجو وروسته د خرطوم پر لور تلونکې الوتکې وخت راورسېده، څو ساعته نه و تېر شوي، چې الوتکې د خرطوم په هوایي ډګر کې ناسته وکړه.

اکثره مسافر سوډاني وروڼه وو، چې په قطر کې یې کار کاوه، نو کله چې د الوتکې دروازه د کښته کېدو لپاره خلاصه شوه، د ګران خرطوم هوا زموږ پر څېرو ولګېده، هوا ډېره ګرمه وه خو زه نه پوهېږم چې دا د تودوخې له

امله وه؟ که د تاوده هرکلي له امله؟ په هر صورت له سوډاني مسافرو څخه یوه یې په همدې حال کې د سوډاني خلکو د ښه طبیعت له وجې مسخره تبصره وکړه ، ويې ويل موږ اتومات تنور ته راغلو، هغه او موږ ټولو وخندل.

د هوايي ډګر تالار ته لاړو، زه په چټکۍ سره اړوند افسر ته ورغلم او د ننوتلو کړنلارې مې بشپړې کړې، له لږ ځنډ وروسته له هوايي ډګره بهر وم، د ښار مرکز ته په ټکسي کې لاړم او په یوه درې ستوریز هوټل کې پاتې شوم.

لږ استراحت مې وکړ، بیا له هوټله ووتم او ورور طلحه السوداني رحمه الله ته مې زنګ وواهه، هغه یو له پخوانیو مجاهدینو ورونړو او د تنظیم له مهمو کدرونو څخه و، د ثقیله هاوان ماهر روزونکی و، د افغانستان په کمپونو کې یې د توپوګرافي د تدریس په برخه کې د غوره مهارت ترڅنګ د شوروي ضد جهاد کې ګډون کړی و ، موږ له هغه سره د وروزګلوۍ او مینې ګرمې اړیکې درلودې، چې دا اړیکې د نسب تر قرابت ډېرې پورته دي، هغه یو مهربانه، مشفق او خندان ورور و، چې موسکا یې له څېرې نه جلا کېده، خدمت ګار شخصیت و او د شیخ اسامه رحمه الله په سترګو کې یې ستر مقام درلود، په سوډان کې یې د اوږدې مودې لپاره د شیخ اسامه رحمه الله د شخصي ساتونکي په توګه دنده ترسره کوله او په سفر او حضر کې به ورسره و، د خرطوم په پوهنتون کې یې د انجینرۍ زده کړې کړې وې، په انګلیسي ژبه یې رواني خبرې کولای شوای، واده یې کړی و، درې لوڼې یې لرلې او په پلازمینه خرطوم کې له خپل پلار سره په کور کې اوسېدی.

هغه په چټکۍ سره په خپل پک اپ موټر کې زما خوا ته راغی او زه ورسره د یوې اوږدې ناستې لپاره ناست وم، چې په ترڅ کې مو د افغانستان د ورونړو او د شیخ اسامه رحمه الله د حالاتو په اړه خبرې وکړې، هغه دوی ته د سفر لپاره لیواله و خو هغه باید د شیخ اسامه تر لارښوونې لاندې په سوډان کې پاتې شوی وای، تر څو د شرکتونو چارې تعقیب کړي، ځینې اړینې کړنلارې بشپړې کړي، او د پلورلو وسائل او موټر چې اړتیا یې ده، ويې پلوري او همدارنګه د پلورنځیو لیست کول او په هغو کې د توکو او وسائلو پلورل هم د هغه کار و، ما هغه ته د یو بېړني سفر زیری ورکړ چې هغه به افغانستان ته ځي ترڅو شیخ اسامه رحمه الله ته ځینې مسائل ورسوي، په دې شرط چې هغه بېرته مستقیم خرطوم راشي.

هغه په دې خبر ډېر خوشحاله شي.

ورونړو یوځانګړی او ښکاره صفت درلود، هغه په خوشحالي او سختي کې د سمع او طاعت مسأله وه.

د مشرتابه لخوا به چې کوم فرمان صادرېدی، که د القاعده هر فرد ته به و، بې له چون و چرا به عملي کېدی او دا په ډېرو کارونو کې د کامیابۍ سبب هم و.

زه د جهاد په ډګرونو کې خپلو مجاهدینو ورونو ته دا وصیت کوم چې د خپلو مشرانو اطاعت تر هغه وخته وکړئ، چې دوی مو په نیکي امر کوي او دا د رسول الله ﷺ فرمان هم دی، لکه څنګه چې په حدیث شریف کې راځي: وأنا آمركم بخمس أمرني الله بهن: الجماعة ، والسمع ، والطاعة ، والهجرة ، والجهاد في سبيل الله[20].

« زه تاسې ته د پنځو شیانو امر کوم چې الله ﷻ په هغو ماته امر کړی دی: جماعت، سمع، طاعت، هجرت او د الله ﷻ په لاره کې جهاد».

شیخ اسامه رحمه الله د افغانستان په الفاروق معسکر کې په خپل یوه درس کې وایي:

د محمد ﷺ پیروانو ته وایو: دا لاره ده، په دې کې باید یوه مسلمانه ډله وي، سمع او طاعت وي، د هجرت په صورت کې باید هجرت وي، او د الله ﷻ په لاره کې جهاد وي، نو هر څوک چې غواړي د الله ﷻ د دین نصرت پرته له دې قاعدو وکړي، هغه دا لاره سمه نه ده پېژندلې او نه یې د رسول الله ﷺ منهج پېژندلی دی.

په حقیقت کې طلحه ورور له ما سره تر حاتم طایي ډېر سخي و، په خرطوم کې یې زما تر تګ پورې له ماسره ملګرتیا وکړه او د خوب له وخت پرته له ما نه جلا کېدی. له ما سره ځینې کارونه و، چې باید نیروبي ته تر تللو وړاندې مو پای ته رسولي وای، له هغه وروسته به دی افغانستان ته تللی و، د دې کارونو په ترڅ کې موږ له ډېرو اداري او عادي ستونزو سره مخ شو، خو د ځینو ورونو په همکاري ترې تېر شو، چې ما ته یې نسبتاً د قناعت وړ آسانتیاوې برابرې کړې، خو زه پوه شوم، چې خبره ډېره خطرناکه ده، هغه داسې چې د کار دغه عادي طریقه زموږ د کار له طبیعت سره نه برابرېږي، ځکه زموږ په کار کې په ځینو ځایونو کې ځنډ د زغملو وړ نه و.

په خرطوم کې مې د استوګنې پر مهال له ډېرو هغو ورونو سره ولیدل چې نه یې غوښتل افغانستان ته سفر وکړي او د هغوی ځینې نظرونه و، چې موږ د هغوی احترام کوو، د وروګلوۍ پر اساس درناوی ورته لرو او د همدې وروګلوۍ په حدودو کې له هغوی سره همکاري کوو، په دوی کې ځینو یې اروپا ته د سفر لپاره پیسو ته اړتیا لرله، ځینو یې د سفر کاغذونو ته اړتیا لرله او ځینو یې د هغه یوازیتوب په پایله کې چې د خپلو ورونو څخه د جلا کېدو وروسته یې تجربه کړې و، افغانستان ته د تګ لپاره لاره لټوله. ما له ټولو ورونو سره که هغه په تنظیم کې وو که نه ناستې وکړې، دوی ټول زموږ ورونه دي، چې د جګړې خندقونو او د رباط لیکو سره یو ځای کړي و، ما د تنظیم په استازیتوب د هغه خدمتونو په وړاندې کولو کې ځنډ ونه کړ، چې په توان کې مې وو او دا د هغه څه ډېره لږه برخه وه، چې موږ دوی ته وړاندې کول، د دوی په څېر خلک په امت کې ډېر لږ دي.

---

20 رواه الترمذي.

ما له محترم شیخ، مشر استاد او صادق مجاهد سره ولیدل، هغه د مجاهدینو له شیخانو او مشرانو څخه دی، شیخ ابو برهان السوري (نحسبه کذالک والله حسیبه) یادوم او کله چې هغه زه ولیدم ویې ویل: **لامر جدع قصیر انفه.**

"یوه داسې پېښه ده، چې قصیر په کې پوزه پرې کړې ده".[21]

---

21 دا یو متل دی چې عرب یې پر هغه چا باندې تطبیقوي چې د خپل انتقام په لټه کې وي.
«زما په لاس، نه د عمرو په لاس»
دا عمرو ، عمرو بن عدي بن نصر لخمي د جذیمه د خور زوی دی او د لخم د پاچاهانو له ډلې څخه لومړی کس و، چې پاچاهي یې وکړه، ددې لامل دا و چې کله زباء جذیمه قتل کړ، نو قصیر عمرو بن عدي ته راغی او ورته وېې ویل: ولاړ شه او له زباء څخه دې د خپل ماما انتقام واخله. عمرو ورته وویل: زه څنګه دا کار کولای شم؟ هغه خو د هوا له بازانو څخه هم قوي ده. قصیر وویل: یو کار وکړه، کرار کیناستل دې د ملامتي سبب دی. هغه ورته وویل: په خدای قسم زه به د هغه د وینې د انتقام په طلب پسې تر هغه وخته نه ویده کېږم تر څو چې ستوري نه وي ځلیدلي یا لمر نه وي راختلی او یا ما ځان نه وي ترې قربان کړی. قصیر عمرو ته وویل: زما پوزه پرې کړه، وینبتان مې پرې کړه او شا مې ووهه، تر څو چې ستا اثر ورباندې ښکاره شي او بیا دا ماته را پرېږده، عمرو هم همداسې وکړل، ځینې خلک وایي ، چې عمرو انکار وکړ نو هغه په خپله دا کار وکړ. نو عربو به ویل: "یوه داسې پیښه ده، چې قصیر په کې پوزه پرې کړې ده".
دا خبره بیا یو متل وګرځېده، متلمس شاعر وایي:
فمن طلب الاوتار ما حز انفه
قصیر و خاض الموت بالسیف بیهس
«قصیر د انتقام په طلب پوزه پرې کړه او د زمري په څېر یې د تورې مرګ ته غوټه ور ووهله».
قصیر لاړ، له زباء سره ملګری شو، هغې ورته وویل: ته څه شي دلته راوستلی یې؟ زموږ او ستاسې تر منځ خو ډېرې د لورې بیې وینې توی شوې دي. قصیر ځواب ورکړ: اې د سترو پاچاهانو لورې، د پاچا یعنې ستا د پلار وینې د جذیمه غوښتنه کوله، تردې چې ترلاسه یې کړ او زه چې په کوم کار کې تاته راغلی یم، زما کیسه هم ستا د کیسې په څېر ده، تاته مې له عمرو څخه پناه راوړې ده، ځکه هغه پر ما تهمت لګولی دی، چې ماما یې ما وژلی دی او له ما سره یې هغه څه وکړل، چې ته یې وینې، هغه زما او زما د ښځې او اولادونو تر منځ خنډ جوړ شو او زه پر ځان ورڅخه وویریدم، نو هغې له خپل ځان سره پناه ورکړه، له ځان سره یې میلمه کړ، ښه اکرام او خدمت یې ورته وکړ. دی هم تر یو وخته ورسره پاتې شو، له دې سره به یې داسې خبره نکوله، چې ده به په کې د هغې لپاره حیلې نه پلټلې او د فرصت په اړه به یې فکر نه کاوه. بیا یې یوه ورځ ورته وویل: "زه په عراق کې ډېرې پیسې او قیمتي ذخیرې لرم، چې ستا په څېر له پاچاهانو سره ښایي، که چیرې ته ماته اجازه راکړې، چې زه عراق ته لاړ شم او یوڅه پیسې ما ته راکړې، چې سوداګري ورباندې وکړم، هغو مالونو ته ځان ورسوم، نو زه به له هغو مالونو څخه هغه څه تاته درکړم چې زه یې درکولای شم، هغې پیسې ورکړې، او دی هم له ډېرو ګټو او خطري مهماتو سره بېرته را وګرځیدی. کله چې هغې دا مالونه ولیدل، ډېر خوند یې ورکړ، په سترګو کې یې دده ځای هم خورا ښه شو، او رغبت یې ورته زیات شو، همداسې یې له هغې سره دا نرمه رویه کوله او ځان یې ورته نژدې کاوه، تر څو چې هغې بیا عراق ته ولېږی او له هغې خوا یې دوه چنده نور مال هم ورته راوړ، جواهر، وریښمن، کتاني او دیباج رختونه یې بیخې ډېر راوړل. د هغې په نظر کې یې منزله نوره هم لوړه شوه، ویل کېږي، چې هغه د دریم ځل لپاره هم لاړ او تر دواړو وارونو یې ډېر مال راوړ. نو د زباء په نظر یې مقام دومره لوړ شو، چې په خپلو ماموریتونو کې به یې له هغه څخه مرسته غوښته، دی هم یو هوښیار او ادیب سړی و. زباء د فرات سیند پر غاړه دوه لوی ښارونه جوړ کړي و او د دواړو ښارونو په منځ کې یې تونل جوړ کړی و، کله به یې چې د کوم شر احساس وکړ، هلته به یې ځان پناه کاوه، قصیر چې کله ددې تونل په اړه معلومات ترلاسه کړل، تونل او تونل ته تللې لار دواړه ورته معلوم شول نو په دې وخت کې یې یو ځل بیا ورته وویل، چې زه د تجارت لپاره ځم، داسې هم ویل کېږي، چې دې په خپله ورته وویل، چې زه غواړم، د شام پر فلاني ښار حمله وکړم، ته عراق ته لاړ شه او ماته په دومره اندازه اسلحه، زغرې، غلامان او جامې راوړه.
قصیر وویل: زه د عمرو بن عدي په ښار کې زر اوښان او د اسلحو ډېپو لرم، خو عمرو ته په دې اړه هیڅ معلومات نشته، که هغه په دې شیانو خبر شي، نو د ملکې پر وړاندې به یې په جګړه کې استعمال کړي، زه همدې ته انتظار وم او دادی، زه له دې ځایه په نابلده څېره کې ورځم چې هغه مې ونه پیژني، زه به دا مال او هغه چې ملکه یې غواړي، ټول له ځانه سره راوړم، نو ملکې زباء دومره پیسې ورکړې، چې دده پکار وې، او ورته ویې ویل، په دې صورت کې نو

ما وخندل، په ډاډ سره مې ورته وویل چې دلته د لنډې مودې لپاره راغلی یم او ډېر ژر به سفر وکړم، ان شاءالله.

شیخ زما په مېلمه پالنه او د شیخ اسامه رحمه الله د ځینو کارونو په پای ته رسولو کې ډېره مرسته وکړه. الله ﷻ دې ښه بدله ورکړي.

کله چې هغه زما د منزل په اړه وپوښتل، ما ورته وویل افریقا ته سفر کوم، دا د ټولو لپاره د قناعت وړ ځواب و، ځکه د الله ﷻ په فضل زه د هغه روزنیز ټیم برخه وم چې  کله موږ په سوډان کې وو، نو هغه ټیم په صومالیه

---

قصیره! دا پاچاهي ستا په څېر خلکو سره ښایي او ستا په څېر خلکو پر لاس کارونه سمېږي. ما اورېدلي دي چې د جذیمه موضوع را سربېره کول او صادرول ستا لپاره و، نو کوم څه چې ستا له لاسه وځي، زما له لاسه به یې ترلاسه کوې او که چېرته حالاتو غورځولې، زه به دې راپورته کوم.
د دې خبرې د دې د قوم یوه خاص سړي واورېدې، نو ویې ویل: یو کمزوری زمری، غوسه دی، خو حملې ته چمتو دی. قصیر چې د ملکې خبرې واورېدې، او پوه شو، چې د هغې زړه ته یې لار کړې ده، نو ویې ویل: اوس فریب ورکول امکان لري. له دې څخه را روان شو او عمرو ته راغی، هغه ته یې وویل: اوس فرصت لاس ته راغلی دی. عمر ورته وویل: ته ووایه، زه یې اورم، ته امر وکړه، زه یې منم. ته ددې زخم طبیب یې. قصیر وویل: خلک او مالونه مې پکار دي. عمرو ورته وویل، حکم دې منل کېږي. دواړه راغلل او دوه زره ځوانان یې په تورو کڅوړو کې پر اوښانو بار کړل، ویل کېږي، ده جوالونه ورته جوړ کړل او لومړنی هغه څوک و، چې جوالونه یې وکارول، ځوانان یې په کې ځای پر ځای کړل او له دننه خوا څخه یې خولې ور وتړلې. دا لښکر یې له ځان سره واخیست، پر کومه لا ر چې راغلی و، هغه یې بدله کړه، پر بله لار روان شول، د شپې لخوا به یې مزل کاوه او د ورځې به یې کمین نیوی، عمرو ورسره ملګری و.
عمر د زباء د ناستې، ولاړې او سپارلې د حالت تصویرونه جوړ کړي و، کله چې د قصیر حالات نادرکه شول، نو زباء یې په اړه یې پوښتنه وکړه، ورته وویل شول، چې هغه د درو پر لار را روان دی، دې ورته وویل: شاید د درو لار بدبخته وي. کله چې د ملکې خوا ته نژدې شول، قصیر را مخکې شو، زباء ته ورغی او ورته ویې ویل، ولاړه شه او قافلې ته وګوره، دا را جګه شوه، چت ته پورته شوه، هغو اوښانو ته یې کتل چې سړي وربانده بار و، نو ویې ویل: اې قصیره!
ما للحمال مشبها وئیدا
أ جندلا یحملن ام حدیدا
ام صرفانا باردا شدیدا
ام الرجال جثما قعودا
«څه دي، باروړونکو لره، چې د ژوندیو ښخ کړل شویو په څېر ښکاري؟ آیا پوځیان یې را بار کړي دي، که اوسپنه؟ که د یخ باران اوبه؟ که د سړیو ناست وجودونه؟»
ویل کېږي چې زباء ته قصیر دا کاروان ډېر ښایسته تعبیر کړی و، کله چې هغې د اوښانو رفتار ولیدی، نو زیاته شکمنه شوه، ویې ویل همدا دي.
کله چې قافله ماښې ته ننوته، پر دروازه د نبط قبیلې دوه ساتونکي ولاړ وو، د یوه نبطي په لاس کې لکړه وه، یو جوال یې ور باندې وواهه، هغه لکړه یوه سپاره پوځي ته ور ورسېده، له هغه څخه باد ووت، څوکیدار په نبطي ژبه نعرې کړې : بشتا!
یعني شر دی، شر دی.
قصیر توره را وایسته هغه نبطي یې وواژه، عمرو دننه لاړ ، په داسې حال کې چې هغه په اوښانو پسې و، اوښان یې پر ګونډو کړل او خلک ورڅخه را ووتل، عمرو لاړ، د تونل پر سر ودرېدی، دا تونل هغه ته قصیر ښودلی و او ده هم پر هغو ننبو وپېژندی،
زباء د تونل پر خوا راغله، کله چې یې عمرو ولیدی، نو ویې پېژندی، ځکه هغې ته یې شکل مخکې جوړ کړل شوی و، نو دې هغه ګوتمۍ چې په زهرو یې لړلې وه، وزبیښله، او ویې ویل: زما په لاس نه د عمرو په لاس. ویل کېږي، چې عمرو دا په خپله توره ووژله او ددې په ښار کې یې د عام وژنې اجازه وکړه.
کتاب: زهر الاکم في الأمثال والحکم په لږ تغییر سره.

کې د جهاد د تخم په اینښودلو کې برخه اخیستې وه. زما تګ او بېرته راستنیدل د ټولو ورونو لپاره یوه پېژندل شوې موضوع وه، موږ به چې له کینیا را ستنیدو نو له ځانه سره به مو د اناناس، ناریل او افوکاډو ډالۍ راوړې.

په خرطوم کې د پاتې کېدو په وخت کې ما څو ځله ورور فهد ته زنګ وواهه چې د کار په اړه اطمینان ترلاسه کړم، هغه راته ویل کارونه سم روان دي او ډېر ښه زیري شته، ویل یې چې یوه اندازه چاودېدونکي توکي یې اخیستي دي، خو هغه پیسې چې ورسره وې ختمې شوې دي او په عاجل ډول یې پیسو ته اړتیا درلوده، ما ډاډ ورکړ چې پیسې به ژر درته ورسېږي.

## د عملیاتو تمویل

شیخ اسامه رحمه الله د عملیاتو لپاره د اړتیا تر کچې د پیسو را کولو وعده را سره کړې وه او له کندهاره تر وتلو له مخه یې راته وویل چې هر څومره پیسې چې تاسې ورته اړتیا لرئ، له غوښتنې سره سم به یې ترلاسه کړئ، که څه هم زه هغه وخت له مالي وضعیت څخه خبر وم، چې د تنظیم خزانه د پیسو له کمښت سره مخ وه. خو له دې سره سره ډاډه وم چې شیخ رحمه الله به د معمول په څېر خپله ژمنه پوره کړي. کله چې ما له ورور طلحه السوداني رحمه الله سره ملاقات وکړ، هغه له شیخ ابو برهان سره په ګودامونو کې د ډېری تجهیزاتو پلورلو او د پاتې ډېرو حسابونو د صفاکولو څارنه کوله، ما ورڅخه وغوښتل چې زما لپاره په حساب کې سل زره ډالر ونیسي، چې هر وخت وغوښتل شوې باید آماده وي او په سوډان کې به هیڅوک هم نه ورباندې خبروي. هغه راته وویل چې پیسې تیارې ورسره شته، خو هغه وخت یوازینۍ ستونزه دا وه، چې کله ما پیسې غوښتې وای، نو د رالېږلو کومه آسانه لاره یې نه وه، خو هغه په مینه دا ژمنه وکړه چې د لېږد لپاره به یې هم خوندي او آسانه لاره ومومي، دا هغه څه دي، چې بیا وروسته همداسې وشول، زه به یې په راتلونکي کې یاودنه وکړم.

## ختیځې افریقا ته

ما کینیا ته د تګ پرېکړه وکړه، چې هلته شرایط وګورم او ورور فهد ته پیسې هم ورکړم ترڅو د پېرلو هغه بهیر چې یې پیل کړی و، ونه دریږي. طلحه ورور ته مې د خپل سفر خبر وکړ او ژمنه مې ورسره وکړه، چې که هغه افغانستان ته خپل سفر زما تر راتګ پورې وځنډوي، نو په دوې یا درې اونۍ که به زه بېرته را وګرځم. د اوس لپاره مې د سفر تذکره د خرطوم، نیروبي او خرطوم کینیا لپاره اماده کړه. دا ۱۴۱۸ هجري کال و او د ۱۹۹۷ میلادي کال د اکتوبر میاشت لومړۍ ورځې وې.

له طلحه ورور سره هوايي ډګر ته لاړم ، چې د نیروبي په لور الوتکه کې ځای ونیسم، دا له نیمې شپې اوښتې شاوخوا درې بجې وې، ما د سفر بیک تیار کړ، چې زما جامې، یوه راډیو او یو وړوکی اوتو چې زما له اړتیا سره سم و او یوه اندازه ډالر په کې و.

د هوايي ډګر تالار ته ننوتم او د الوتنې تر وخته پورې د انتظار په خونه کې پاتې شوم، خو ډېر تم نشوم، دروازه خلاصه شوه او موږ د الوتکې په لور روان شو، هغه څه چې مایې په دې وخت کې فکر کاوه د سهار لمونځ و، ځکه د الوتنې وخت د سهار له اذان څخه نیم ساعت مخکې و او طبعي خبره ده، چې ناسته به یې له لمر خاته وروسته وي. دا له فقهي اړخه کومه ستونزه نه وه، ځکه زموږ دین په خپلو احکامو او قوانینو کې آسانه دی، خو د حکم پلي کول او په الوتکه کې لمونځ کول، بیا چې ټولو خواوو ته بهرني عیسویان او خپله کینیایان وي، زه له دې وېرېدم، چې هسې نه زما په څنګ کې د کینیا د استخباراتو کوم غړی وي، چې هغه بیا هغه خلک څاري، چې نیروبي ته ننوځي او لمانځه ته پابند وي.

دا معلومه خبره ده، چې نیروبي ته ډېری مسافر د سیاحت، طبیعي زیرمو لیدلو، خلاصو ځنګلونو (سفاري) او د شپې د ځایونو چې کینیا له ختیځه تر لویدیزه په ډکه ده، شرابو او فحاشیو او نورو کیسو چې ددې په منځ کې دي، د لیدلو لپاره ځي. خو ما د لمانځه پر اداء کولو ټینګار وکړ او هغه وخت مې د الله ﷻ حمد ادا کړ، چې څنګ ته مې یو بوډا سړی او بوډۍ ښځه کښیناستل، د دوی پر څېرو د اروپا نښې ښکارېدې. د الوتکې د حرکت په وخت کې د سهار وخت داخل شو او چې کله یو څه په هوا کې پورته شوه، نو ما د لمانځه اراده وکړه، پر خپل ځای ناست وم، د لمانځه نیت مې وکړ او قبله مې هغه طرف و، چې الوتکې راته سیده کړی و. سفر شاوخوا دوه نیم ساعته دوام وکړ چې په دې ترځ کې مو له ناشتې سره د کینیا ځانګړې چای وڅیښلی.

د الوتکې کپتان د الوتنې د پای ته رسېدو اعلان وکړ، ما د الله ﷻ دربار ته لاسونه لپې کړل، دعاء مې وکړه، بیا مې بیک را واخیست، چې د کوزیدو لپاره ځان تیار کړم.

## د نیروبي هوايي ډګر

الوتکه په خوندي توګه ښکته شوه او موږ د ویزې ترلاسه کولو لپاره د هوايي ډګر خونې ته ننوتلو، ما د نیروبي په هوايي ډګر کې پخوانی شناخت درلود، ځکه صومالیې ته د تلو په وخت کې مې له نیروبي څخه ډېر ځله لیدنه کړې وه او د دې هوايي ډګر او کارمندانو په اړه مې ښه تجربه درلوده. د معلوماتي کاغذونو ډکولو لپاره مې کاغذونه واخیستل او کله چې مې د معلوماتو په لیکلو پیل وکړ، یوې ښځینه کارمندې د مرستې وړاندیز راته وکړ، ما هم سمدلاسه ومنله، هغې قلم را څخه واخیست او لاړه، د معلوماتو له لیکلو وروسته یې پاسپورت د

پاسپورټ ځانګړي افسر ته ورکړ او ما ویزه ترلاسه کړه. دا ټول یې په شل ډالره راته واخیستل. له هوایي ډګره ووتم او په یوه لوکس موټر کې مې ورور فهد ښه راغلاست ته راغلی و. ما ورته ویل آیا دا ستا خپل موټر دی، ویل نه دا مې له یوه ملګري شخه ستا د هرکلي لپاره واخیست. موږ زما په غوښتنه د نیروبي په "ایس لي" سیمه کې یو هوټل ته لاړو، زه به چې صومالیې ته په سفر تلم، همدې هوټل کې به تم کېدم. دا د خپلو خدماتو او صومالي خواړو د چمتو کولوله امله ځانګړی و او ما به یې په اړه دا فکر نه کاوه، چې آیا دا خواړه حلال دي که حرام؟ په ځانګړې توګه د کینیا عیسویان د خنزیر غوښه خوري.

## هوټل ته رسېدل

زموږ موټر په چټکۍ سره د ښار مرکز ته روان و، له هوایي ډګر شخه د ښار تر مرکز پورې سړک روح ته یو شه آرام او راحت ورکاوه، په ځانګړې توګه د سهار په وخت کې، ځکه ښار له دواړه خواوو په ونو پوښلی دی، ته به وایې دا د ګڼ ځنګله په منځ کې پرې شوې ټوټه ده، له دې سره سره ځانګړې ښایسته هوا هم لري، چې د خرطوم له فضا شخه په بشپړه توګه جلا ده او دا احساس بیا د شپې لخوا کاملا سرچپه دی، ځکه تاسې به دا احساس کوئ، چې وحشي زمریانو او انسانانو له دواړو خواو شخه را محاصره کړي یاست، تاسې تعقیبوي، او فرصت ته انتظار باسي، چې ښکار مو کړي.

موږ د ښار مرکز ته ورسېدو، هغه سیمه چې له موټرو او مسافرو ډک وه، په داسې لویو او لوړو ودانیو او دوکانونو باندې پېژندل کېدله، چې هیڅکله ستاسې له سترګو شخه نه پټېږي. تاسې هلته د ژوند نبض احساسوئ، خو هغه شه چې د حیرانتیا وړ دي، د اروپایانو او سپین پوستو لوی شمېر دی، دا یوازې سیلانیان نه دي، بلکې د افریقا د لویې وچې اوسېدونکي هم دي چې د خلکو شتمني یې لوټلې او هغوی یې له ګټو محروم کړي دي، دوی افریقا ته په داسې سترګه ګوري، چې دلته د سرو زرو ټوټې، ستر کانونه او قیمتي ډبرې دي. دوی دې خلکو ته په کمه سترګه ګوري او داسې چلند ورسره کوي لکه یو بادار چې یې له خپل خدمتګار سره کوي، تاریخ د دې زیانمنو خلکو په وړاندې د هغوی د ناوړه جنایتونو شاهد دی.

د نیروبي په ښار کې یو بل تناقض هم شته، هغه دا چې د سهار په وخت کې ډېر حرکت او شدید شور وي، خو په بشپړ ډول د لمر لویدو تر وخته کمېږي، نو د شپې پر مهال به تاسې په ندرت سره یو موټر مومئ ، یوازې یو څو پیاده خلک به وینئ، خو او ډېرې زیاتې فاحشې ښځې به وینئ، بیخي ډېرې. چې کله شپه تیاره خپره کړي، نو دا یو ډېر خطرناک ځای دی، د هیچا ځان، مال او موټر خوندي نه وي او خطرناکې ډلې د داخله وزارت د پولیسو په همکارۍ د ښار مرکز کنټرولوي.

موټر د هوټل د دروازې مخې ته ودرېد او موږ د ځان لپاره یوه کوټه ځانګړې کړه، ورور فهد لاړ او پرېکړه یې وکړه، چې له ماسپښین وروسته راسره د کار په اړه خبرې وکړي، ما لږ استراحت وکړ، بیا را پاڅیدم، چې تر کړکۍ د مسافرو ګڼه ګوڼه وګورم، زما لپاره د پام وړ په سیمه کې د صومالیایانو لوی شمېر و، صومالیایي وروڼه په پوستکي او بڼه کې ځانګړي دي، د دوی پوستکی له افریقایي پوستکي سره توپیر لري، پر دوی له کاغذ څخه د ایستل شوي چاکلیټ رنګ غالب دی او همدارنګه د هغوی بڼه او ځانګړتیاوې له افریقایي ځانګړتیاوو سره توپیر لري، ځکه دوی له عربي خویونو سره نژدې دي، زه ورسره له پخوا څخه ښه پوهه او تعامل لرم او د صومالیې په بېلابېلو برخو کې له ډېرو صومالي وروڼو سره ښې اړیکې لرم، په ځانګړې توګه د دوی په منځ کې له مجاهدینو او ځینو هغو مبلغینو سره، چې له جهاد سره مینه لري .

ما تر هغه وخته له کړکۍ څخه بهر ته کتل، تر څو د ماسپښین د لمانځه وخت شو، د لمانځه لپاره لاړم، بیا مې د هوټل له رستورانت څخه ډوډۍ راوغوښته. خواړه له یو څه غوښو او کیلو سره سپګیټي مکروني وه، ډېر خوندور و، دا د ډېری صومالیایانو د خوښې خواړه دي، ځکه دوی له سپګیټي سره د کیلو خوراک خوښوي او د تجربې له مخې دا ډېر ښه خوند کوي، ما د چای په را غوښتلو کې ځنډ وکړ، ترڅو ورور فهد راشي چې په ګډه یې وڅیښو، دوه ساعته وروسته  فهد ورور راغی او د کینیا په زړه پورې چای مو وڅیښلو، ما د هغه د حال، د هغه د مور او وروڼو په اړه پوښتنه پیل کړه او له همدې ځایه  مو خبرې د کار په لور لاړې.

دا وخت مو خبرې باید په داسې ځای کې شوې وای، چې بام نلري او دا هغه څه و، چې همالته وشول، موږ د هغه هدف په اړه چې توافق مو ورباندې کړی و، د دې کار د امکان او د عملیاتو لپاره د اړتیا وړ هرڅه چمتو کولو په اړه اوږدې خبرې وکړې. فهد ورور دومره خوشبین و چې د هغه چا په ژبه یې ویل چې پر خپل رب کامل باور لري: " چې د عملیاتو لپاره هر څه ته اړتیا وي، زه ورته  چمتو یم،ان شاءالله، او که د عملي کولو لپاره زما اړتیا وي، نو هم اماده یم، هغه یو عملي، فعال ځوان و،  ډېر کوشش یې کاوه، نه ستړي کېدی، نه یې سستي کوله، شکایت به دې نه و ترې اورېدلی او نه به یې کله د یوه کار په اړه د اوف په اندازه کلمه هم ویلې وي، د هغه غنمرنګې ځوانۍ ته پر مائله څېره به تل خندا وه، چې نه ورڅخه جلاکېدله، حتی په سختو شرایطو کې.

## کاري پلان

د عملیاتو او د اړتیا وړ تجهیزاتو په اړه له اوږدو خبرو وروسته، موږ کاري پلان او یوه امنیتي برنامه جوړه کړه، چې موږ تګ ورباندې وکړو او یو ساده کوډ مو جوړ کړ، چې د اورېدونکو لپاره ګران وي او پرې پوه نشي او د کار لپاره یو مناسب پوښښ چې موږ ورته اړتیا لرله او همدارنګه په کینیا کې زما د اوسېدو لپاره یو پوښ مو را

منځته کړ. پلان له موږ څخه دا غوښتنه کوله، چې له صومالیایي ورونو سره ټولې زړې اړیکې پرې کړو، ترڅو موږ دوی ته کومه ستونزه ونه رسوو او ځان ته هم امنیتي ستونزه جوړه نکړو، حتی هغه ورونه چې في الحال د القاعدې غړي دي، موږ به دوی په دې کار نه خبروو، ترڅو د امنیتي ادارو تر څار لاندې رانشي.

## لومړی باران د بریښنا فیوز دی

فهد ورور ماته لومړی وړاندیز وکړ چې د چمتو کولو پروسه پیل کړي، که څه هم هغه یو څه توکي اخیستي و، بیا یې هغه نیروبي ته زما له رارسېدو وړاندې ترتیب کړي هم و او غوښتل یې چې ما حیران کړي، ترڅو یو هڅونکی پیل شي. دا د کورټیکس دوه رولونه او د ټي ان ټي مادې شدید انفجار کونکي یوه اندازه مواد و، هغه ماته وویل چې ورور عبدالقادر الصومالي غواړي دا توکي وپلوري، هغه یو ښه پېژندل شوی او باوري ورور دی، ما په تېرو کلونو کې په راس کمبوني کې هغه ته روزنه ورکړې وه، خو ما دا وړاندیز رد کړ ځکه دا له هغه ترون سره په ټکر کې وه، چې موږ پرې موافقه کړې وه چې له زړو ورونو سره باید اړیکې پرې کړو، د تجهیزاتو لپاره له زړو ملګرو څخه لیرې نوې لارې ومومو او له هغه خلکو څخه هم لیرې شو، چې که زما له شتون څخه خبر شي نو په دې اړه به شک پیدا کړي، د خپلو مسائلو لپاره به له ما سره د لیدو غوښتنه وکړي او دا کار به په راتلونکي کې جدي عواقب ولري چې کېدای شي د ټولو عملیاتو د ناکامۍ لامل شي. نو دا خورا خوندي وه چې موږ یو سم پیل وکړو ، که څه هم وړاندیز خورا زړه راښکونکی و او دا کار هغه څوک چې غواړي په ښارونو کې کار وکړي ستړي کوي. په دې وخت کې له ما سره یو څه پیسې هم په لاس کې وې چې ما فکر کاوه چې د یوې یا دوو میاشتو لپاره به کافي وي، خو د فهد ورور هوډ حیران کړم، هغه ماته د اړتیا وړ چاودېدونکو توکو او نورو وسائلو د ترلاسه کولو لپاره بله لاره وړاندې کړه، نوې لارې مشکلات او ستر خطرونه هم لرل، یوازې د پلورونکي په اړه شک ممکن جدي پایلې ولري، خو دا اړینه وه، چې دا خطرونه واخلو، بیا ما هغه امنیتي کورسونه را یاد کړل چې ما ویلي و او د دې سختو امنیتي قوانینو د پلي کېدو امکان او عملي حقیقت له نظري اړخه ډېر توپیر لري، په داسې حال کې چې د امنیتي کورسونو ویل ګنې ګټې لري، خو ټولو مجاهدینو ورونو ته دا مشوره ورکوم چې د کار کولو په وخت کې یې عملي کړئ، خو د ټولو ضروري امنیتي تدابیرو له نیولو وروسته باید خطرونه قبول کړو. استخاره مو وکړه او د پیل کولو پرېکړه مو وکړه، دعاء مو وکړه، چې الله ﷻ توفیق او بریا را نصیب کړي.

## د سفر پیل

ما ټولې پیسې فهد ورور ته وسپارلې او ورته ومې ویل: د قیمت په اړه یې اندیښنه مه کوه، مهم د شیانو په خوندي توګه ترلاسه کول دي. د توکو د لېږد لپاره موږ یوه موټر ته اړتیا لرله، خو له ماسره چې کومې پیسې وې، د موټر اخیستلو لپاره یې کفایت نه کاوه. فهد وویل، زه به تر هغه وخته خپل شخصي موټر کاروم، تر څو د بل موټر لپاره پیسې پیدا کېږي. په داسې حال کې چې پر څېره یې موسکا ښکارېده، له خبرو او نرم غږ څخه یې خوشبیني څرګندیدله.

## ساحل ته تګ

زه باید د صومالیې د کارونو د تعقیب لپاره هلته د معسکراتو د برحاله استاذانو ورونو سره د لیدو لپاره ساحل ته تللی وای، دوی څلور باصلاحیته ورونه وو، چې په نظامي او اداري کارونو کې ممتاز وو، او قوماندان یې مجاهد ورور عبدالوکیل یا ابوجهاد النوبي، یا مصطفی المصري، یا ابو بلال و او دا ټول د یوه نفر نومونه دي.

عبدالوکیل ورور د تېرې پېړۍ په آخري لسیزه کې د القاعدې په کمپونو کې روزل شوی و، ما هغه ته د معسکر اعداد ورکړی و، هغه وخت د ابوجهاد النوبي په نوم پېژندل کېده، او په هغه وخت کې لا د سوداګرۍ په پوهنځي کې زده کوونکی و، هغه یو هوښیار ځوان و، د نرم طبیعت خاوند و، د ډېر ادب له وجې به یې غږ بیخي نه اورېدل کېده، د ښه نظر او ښایسته ځوانۍ لرونکی و، دا هغه صفات و، چې هغه یې په لنډه موده کې د القاعده تنظیم له مخکښو مشرانو څخه وګرځاوه.

انجینر ورور مروان الفلسطیني، ورور شعیب المصري او هارون القمري یې په کارونو کې مرسته ورسره کوله، دوی ټول یو له بل سره مساوي او برابر وو، ټول په عسکري اعداد او اداري کارونو کې د لوړ مهارت خاوندان وو، دري واړو ورونو د کینیا په معززو کورنیو کې ودونه کړي وو او ورور هارون د کوموروس په ټاپوګانو کې په خپلو خپلوانو کې واده کړی و.

زه مومباسا ته لاړم او په یوه هوټل کې تم شوم، ورور فهد ملګرو ته خبر ورکړ چې زه هلته یم، دا خبره ټولو ته د حیرانتیا وړ وه، ځکه له ډېرې مودې راهیسې زموږ له اړخه هیڅوک هم نه وو ورغلي، ټولو فکر کاوه چې زه ددې لپاره راغلی یم، چې په صومالیه کې کار ته دوام ورکړو.

بله ورځ ورور فهد راته وویل چې ورور مصطفی غواړي، درسره ووینې او د غونډې ځای به دی په خپله داسې ترتیب کړي، چې د امنیت له اړخه ښه ډاډه وي، ځکه هغه ویریدی، چې شاید دی او ملګري یې تر څار لاندې

وي، نو د هغه امنيتي تدابير ډېر په احتياط سره و، ورور فهد د شپې راته راغی او په تنګو کوڅو کې لاړو، د لارو څارنه مو د هغو لارښوونو مطابق وکړه، چې مصطفی فهد ته کړې وې، چې هسې نه تر تعقيب لاندې يو، کله چې موږ ښه ډاډه شوو چې تر کوم مراقبت لاندې نه يو، نو د مصطفی خوا ته لاړو چې په يوه کور کې زموږ په تمه و.

کله چې زه کور ته ور داخل شوم، هلته مې مصطفی ورور وليدی، يو ګرم ملاقات و، ځکه د فراق موده مو اوږده وه او زموږ په منځ کې چې کومې اړيکې وې هغه ډېرې قوي وې. ټول ملګري لاړل، زه او مصطفی ورور پاتې شوو او تر سهاره مو مجلس وکړ.

موږ په صوماليه کې د هر کار اړوند خبرې وکړې، هغه ماته په تفصيل سره دا تشريح کړه چې دوی هلته څه رول لوبوي، د وضعيت پرمختګ، د اوسني اداري کيفيت، معسکرات، عسکري پلانونه او د مسؤولينو ورونو لکه د شيخ حسن حرسي رحمه الله په مثال خلکو او د هغه د مرستيالانو ارمانونه څه دي؟ ما له هغه شخه د اسلامي اتحاد د ځينو ورونو او له هغوی سره د اړيکو د کچې په اړه هم پوښتنه وکړه. دا ډېر په زړه پورې مجلس و، موږ د وخت د تېرېدو احساس هيڅ نه کاوه ، په ځانګړې توګه له ماښام ناوخته ډوډۍ خوړلو وروسته د کينيايي چای څښلو پرمهال.

دلته زموږ له ناستې سره يوه بله ستونزه هم ملګرې وه، هغه دا چې ټوله شپه موسيقي او سندرې وې، ځکه دا د اونۍ پای و او د اونۍ پای يو ځانګړی رواج درلود، چې له اروپايي ستايل سره يې توپير نه درلود، شرابخانې او تفريح ځايونه تر سهاره پورې له پيرودونکو ډک وو، دا له راډيو سره نژدې و، چې ټوله شپه يې په هماغه خونه کې چېرې چې موږ خبرې کولې د مصطفی ورور د غوښتنې پر اساس فعاليت کاوه، تر څو زموږ خبرې ورباندې ګډې وډې کړي.

هغه څه چې مصطفی يې دې احتياطي تدابيرو ته هڅولی و، په مومباسا کې بد امنيتي وضعيت و، هلته لويې پېښې رامينځته شوې وې، چې د جزيرې وضعيت يې را پارولی و، په ښار کې د پوليسو او مسلمانانو ترمنځ نښتې شوې وې، خو ډېر ژر آرامه شوې او وضعيت بېرته په ښکاره عادي حالت ته راستون شو، خو په واقعيت کې د امنيت تاو تريخوالی موجود و، د دې احساس سربيره چې ورور مصطفی په خپله د امنيت په اړه حساس و، هغه ټول هغه امنيتي نظريات پلي کول چې زده کړي يې و او د هغه له هارون القمري سره د ستونزې لامل دا و، چې هغه د امنيت په برخه کې خورا غفلت کوي، دا د مصطفی نظر و، خو د هارون له نظره، هغه خپل کار نورمال بلکې طبيعي باله او ما بايد په دې اړه پرېکړه کړې وای، تر څو هر يوه ته خپل کار بشپړول آسانه شي.

## د هارون کینیا پرېښودل

مصطفی ماته د هارون القمري په اړه د امنیتي ملاحظو یو لوی اړخ یاد کړ، کوم چې کولای شي ، د ټولو لپاره د ناورین لامل  شي او له دې ملاحظو څخه یوه له خورا مهمو څخه یې د هارون د ټولنیزو اړیکو پراختیا وه. هغه په نیروبي کې د مصطفی له نظره له  شکمنو خلکو سره اړیکې درلودې. هغه د شیخ ابو عبیدة البنشیري رحمه الله له کورنۍ سره په نیروبي کې ژورې ټولنیزې اړیکې درلودې خو مصطفی ورور په دې اړیکه کې راحته نه و، ځکه چې د هغه د کورنۍ له غړو څخه  یې یو د مصطفی له نظره د اعتبار وړ نه و. هارون القمري د صومالیې له هغو ورونو سره هم اړیکې درلودې چې په کینیا کې دایمي اوسېدل او دلته یې خپل شخصي کاروبار او تجارت درلود.

مصطفی ورور وېره درلوده، چې دا خلک به په صومالیه کې زموږ د کار د څرنګوالي په اړه پوه شي ځکه دوی پوهېدل چې هارون صومالیې ته د مرستې لپاره تللی و. دې او نورو شیانو مصطفی اړ کړی و، چې پر دې ټینګار وکړي، چې هارون ژر تر ژره سفر وکړي او په افغانستان کې له ورونو سره یو ځای شي، ځکه هلته جبهوي کارونه دومره امنیتي تدابیرو ته اړتیا نه لري، څومره یې چې ښارونه لري، له ما یې دا غوښتنه وکړه او زارۍ  یې راته وکړې، ما ژمنه ور سره وکړه چې دا موضوع به زه پای ته ورسوم، خو یوازې له هارون ورور سره زما له لیدنې وروسته.

## د هند د بحر پر څنډه

د هند د بحر په څنډه کې، چېرې چې داسې روښانه شنې اوبه ، آرامه څپې، تازه هوا او د لمر روښانه وړانګې شتون لري، چې د اوبو پر سطحه انعکاس کوي، نو یوه روښانه جوړه ور اغوندي، چې په کې رنګونه په په زړه پورې هنري ډول سره یو ځای کېږي او د صحنې ښکلا او کیف نور هم زیاتوي، ما له هارون القمري سره ولیدل، دې لیدنې څو ساعته دوام وکړ، هغه ما ته د هغه څه یادونه وکړه چې ورور مصطفی یې یادونه کړې وه، د کار نوعیت، هغه مشکلات چې دوی ورسره مخ وو او هغ سترې لاسته راوړنې چې دوی درلودې، بیا یې د هغه د استوګنې مسألې او د امنیتي ملحوظاتو او وېرې له امله د هغه د سفر لپاره د ورونو بېړنۍ غوښتنې ته اشاره وکړه او ویې ویل، چې زما سفر به دا وېره ډېره کمه کړي. دی په هغه څه قانع نه و، چې ورونو یې په اړه ویل، خو ده هر هغه حکم نافذاوه، چې موږ ورته ویل او دا په تنظیم کې د ورونو فطرت دی: غوږ نیول او اطاعت کول، په خوشحالي او سختي کې. دا د تنظیم د کامیابي یو سبب دی، بلکې  دا د هر ډلییز عمل د بریالیتوب یو له اصلي لاملونو څخه دی.

هغه خپل نظر روښانه کړ، چې هغه افریقایي دی، په سواحلي ژبه خبرې کوي، د کینیا پېژندپاڼه لري، په نیروبي کې یې څو کلونه کار کړی او له کوموري زده کونکو سره چې په کینیا کې زده کړې کوي، ښې اړیکې لري خو ما ورته وویل چې د خرطوم له لارې افغانستان ته سفر وکړي، هغه سمدستي پردې موافقه وکړه چې هغه ته د خپلو چارو د چمتو کولو او د سفر لپاره د اړتیا وړ شیانو د ترتیب لپاره یو څه مهلت ورکړم.

بله ورځ مې مصطفی ورور ته د هغه څه په اړه خبر ورکړ، چې زما او د هارون ورور په منځ کې شوي و او دا چې په څو ورځو کې به هغه ان شاء الله سفر وکړي ، د هغه په مخ کې د انسانیت نښې څرګندې شوې، ما ترې د محترمو ورونو مروان او شعیب په اړه پوښتنه وکړه هغه وویل: "دوی ښه دي او له تاسې سره لیدو ته سترګې په لاره دي." موږ له دوی دواړو سره د شعیب په کور کې د ملاقات وخت مشخص کړ، هغه د مالنډي په ښار کې اوسېدی، دا ښار د کینیا یو له مهمو ساحلي ښارونو څخه دی.

موږ په یوه ویګو مارکه لرونکې ټکسي کې سپاره شوو، له خرابو او تنګو سړکونو سره سره یې په حیرانونکې سرعت سره موږ باندې سفر وکړ، چې دا د ډېرو حادثو لامل هم کېږي او خلک یې سرعت او خطر ته په اشارې دې سفر ته "یو ساعت او یو پاو" وایي. ورور هارون او زه د ورور شعیب کور ته ورسېدو، خو ورور مصطفی غونډې ته نه و راغلی. وروسته پوه شوم چې د امنیتي اندیښنو له امله یې ګډون نه دی کړی، زموږ له راتګ یو ساعت وروسته ورور مروان راغی. یوه اوږده ناسته مو لرله، د صومالیې له ټیم سره د کار او شخصي مسئلو په اړه مو خبرې وکړې. موږ پر دې سره جلا شوو، چې له یوې میاشتې وروسته به بیا سره وینو  ان شاءالله، زه د ځینو کارونو د سرته رسولو لپاره خرطوم ته ستنیدم.

## خرطوم ته ګرځېدل

خرطوم ته راستون شوم تر څو له ورور طلحه السوداني سره افغانستان ته د هغه له سفر څخه مخکې حالات سم کړم او ما ورته وویل چې زه د یوه ځانګړي کار لپاره هغه ته اړتیا لرم نو هغه بې له چون و چرا او بې له دې چې د کار د څرنګوالي او طبیعت په اړه پوښتنه وکړي موافقه راسره وکړه.

ما زموږ د کار د نوعیت په اړه خبر ورکړ، چې دا به له موږ څخه ډېر وخت ونیسي او ما ورته د کار د اغېزو او د بریالیتوب په صورت کې د ښو پایلو په اړه تشریح هم ورکړه، هغه وویل، د الله ﷻ په فضل سره... او ماته یې زیری راکړ چې هغه د پیسو موضوع چې ما یې غوښتنه کړې وه، ډېرې یې ترتیب شوې دي.

او هغه یې د غوښتنې پراساس ما ته د لېږلو لپاره آسانه لاره موندلې وه. ماښام د افریقې پوهنتون مخې ته لاړو او د څلویښتو کلونو له یو کس سره مو د پیسو د لېږلو پر طریقه او د هغه د کار په بدل کې د هغه د فیصدي په

اړه موافقه وکړه، خو هغه یو څه شکمن و او د ډار نښې یې وښودلې چې ګنې موږ له حکومت سره تړلي یو، خو له څو ډاډونو وروسته یې موافقه راسره وکړه چې د پیسو یوه تادیه وکړي او موږ ته یې دا طریقه تشریح کړه، چې په حقیقت کې آسانه او بې تکلیفه وه او له پېچلو بانکي معاملو څخه لیرې وه.

په حقیقت کې د پیسو پر لېږد باندې د امریکا او صلیبي هیوادونو لخوا د مجاهدینو د محدودولو لپاره سختو بندیزونو د پیسو د لېږد پر عملیاتو هیڅ اغېزه نه ده کړې، بلکې ډېرې دروازې یې پرانیستې دي، چې ډېرې خوندي او انعطاف منونکې دي، عملیات یې له څارنې او تعقیب څخه لیرې کېږي او که په تېرو وختونو کې د غیر اعلان شوې څارنې له وېرې په جزوي ډول مالي لېږدونه ترسره شوې وي ، نن ورځ مالي لېږد په پراخه پیمانه ترسره کېږي او پدې توګه دښمن یوه ګټه له لاسه ورکړې چې که یې هغې نااعلان شوې څارنې ته دوام ورکړی وای د دوی لپاره د معلوماتو سرچینه کېدای شوای، خو د امنیتي چارواکو ناپوهی موږ ته ډېر خوندي، انعطاف منونکی او ګرځنده موقف کې را کړی دی.

زما له راتګ یوه اونۍ وروسته موږ ته د هارون ورور تلیفون راغی چې هغه به د چهارشنبې په ماښام خرطوم ته راشي او د پاکستان ویزه یې ترلاسه کړې ده، موږ د هارون او د هغه د کورنۍ د لیدو لپاره هوایي ډګر ته ولاړو، خو هغه نه را ورسېدی، د هارون ورور تر پوښتنې وروسته موږ خبر شوو چې هغه د الوتکې د مسافرو په منځ کې و، خو سوډان ته د ننوتلو ویزه نه وه ورسره، نو هغه به بېرته نیروبي ته د دوهم ځل لپاره ځي، دا خبر د تندر په څېر پر موږ را پریووت. هغه، د هغه کورنۍ او ماشومان به څنګه بېرته ستنېږي؟ موږ د هغه د ننوتلو لپاره ځینې تماسونه ونیول، خو بریالي نه شوو او د هوایي ډګر د امنیت افسر هغه ته په ټینګه د ننوتلو اجازه ورنکړه. نو موږ له هغه سره د لیدلو غوښتنه وکړه، او له هڅو وروسته هغه موافقه وکړه. ما له هارون ورور سره ولیدل او ورته ومې ویل چې کار ډېر آسانه دی او تاسې به په راتلونکې سفر کې موږ ته راشئ.

بل سهار د کینیا د هوایي چلند الوتکه چې ورور هارون او کورنۍ یې په کې سپاره وو، نیروبي ته ورسېدل، هلته له یوه صومالي ورور سره د مېلمه په توګه تر هغه وخته پاتې شوو، چې تر څو بېرته خرطوم ته را ستنیدل، هغه یې ډېره ښه میلمه پالنه وکړه، لکه څنګه چې دا د صومالیې د مهربانه او میلمه پاله خلکو عادت دی.

خرطوم ته د بېرته راستنیدو په وخت کې له هغه سره یو مسخره حالت هم رامنځته شو، هغه دا چې الوتنه د کینیا د هوایي چلند له امله له ټاکل شوې نېټې څخه وځنډېدله، نو هغه وغوښتل چې د راتلونکې الوتنې تر وخته په هوټل کې پاتې شي، د نومورې له ټینګار وروسته په یوه پنځه ستوریز هوټل کې پاتې شو، چې هلته ډېر ښه خواړه، غوره خدمتونه د ماشومانو لپاره زړه راښکونکي او په زړه پورې تفریحي خدمتونه موجود و، هغه دا درې

ورځې د کینیا د هوایي چلند لخوا ده او  دده کورنۍ ته ډالۍ او د تېر ځل له خرطوم څخه د هغه د راستنیدو لپاره ښېښه ګڼله.

## خرطوم کوموري ځوان ته ښه راغلاست وايي

په نیروبي کې د میلمه پالنې د ورځې له پای ته رسېدو وروسته، ورور هارون د خرطوم په لور د الوتنې لپاره د نیروبي نړیوال هوایي ډګر ته لاړ او دا ځل یې خرطوم ته له رسېدو سره سم ورور ابو طلال المغربي ته ټیلیفون وکړ، هغه یې هرکلي ته ورغی او دی هلته د ورور ابو طلال په کور کې د یوه بې تکلفه مېلمه په توګه پاتې شو، دوی دواړو په خپل منځ کې ډېرې ښې د وروږګلوۍ اړیکې درلودې.

## یمن ته په لاره کې خنډونه

زما له دندو څخه یوه یمن ته تلل هم و، چې د نورو عملیاتو لپاره چې په افغانستان کې موږ له یوه پخواني ورور سره د هغه د لیدنې پر مهال موافقه ورباندې کړې وه . ورور طلحه رحمه الله زما له پاره د یوه عربي هیواد پاسپورت واخیست، د اسنادو د کار په اړه زما له سمې پوهې سره سره، ما خپل پاسپورت په خپله چمتو نه کړ، نو ما پاسپورت د تونس یو اعتمادي ورور ته ورکړ ، هغه څه چې اړین و، هغه په غوره طریقه ترسره کړل.

د اسنادو په امنیت کې قانون: خپل پاسپورت په خپله مه چمتو کوئ، کنه نو پر هره ټاپه او هره نېټه به مشکوک شئ او تاسې به خپل ځان په خپله لومړي امنیتي افسر ته تسلیم کړئ.

پاسپورت مخکې له دې چې هارون ورور موږ ته راشي چمتو شو، ما شیخ ابو حفص الکوموندان رحمه الله ته تلیفون وکړ، په هغه څه مې خبر کړ، چې پېښ شوي و، په دې مې هم خبر کړ، چې زه به ژر یمن ته سفر وکړم او د هارون ورور کیسه مې هم ورته وکړه نو هغه ماته دا وړاندیز وکړ، چې ورور هارون دې د هغه ټیم برخه وي، چې په شرقي افریقا کې کار کوي.

ما ور ته وویل: زه به موضوع وڅېړم.

ویې ویل: خبره ستا ده او پرېکړه هم ستا ده.

له فکر کولو وروسته مې استخاره وکړه  او ورور هارون مې په موضوع خبر کړ، په دې شرط چې موضوع په نهایت راز داري کې وساتي، که پر دې کار  موافقه رانغله نو افغانستان ته به لاړ شي او خبره به داسې هېره کړي لکه چې نه یې وي اورېدلې. یو څه خو هغه سمدلاسه له ډېرو احساساتو سره موافقه وکړه چې زما له هیلو څخه

زيات و، په ځانګړې توګه ځکه هغه پوهېده چې کينيا ته يې ببرته راستنيدل ممکن ځينې اختلافونه، ستونزې او اعتراضونه رامنځته کړي، خو هغه وويل چې د وروڼو مسأله ستاسې ده او تاسې يې په خپله طريقه حل کولای شئ.

په دې توګه له فهد او طلحه السوداني وروڼو وروسته څلورم عنصر هم په ټيم کې شامل شو.

يمن ته د تللو لپاره هر څه چمتو و، ما خپل ملګري ته زنګ وواهه او ويې ويل: زه له ډېرې مودې راهيسې ستا د کار د پيل په تمه يم، ما له طلحه ورور سره موافقه وکړه، چې د هارون، خپل ځان او د کورنۍ شرايط تر هغه وخته برابر کړي، تر څو زه له يمن څخه راستنېږم، خو ماته په يمن کې زموږ له ملګري څخه تليفوني زنګ راغی، چې ويل يې يو مصري ورور چې زه يې ښه پېژنم د صنعاء په هوايي ډګر کې د "هغه هيواد" له پاسپورت سره ونيول شو چې زه يې لرم او هغه ماته هم مشوره راکړه، چې سفر ونکړم، هسې نه همداسې پېښه بيا تکرار شي. ما د سفر پلان وځنډاوه او له طلحه ورور سره مې د هارون او د هغه د کورنۍ د شيانو په ترتيبولو پيل وکړ.

## د سوبا کورونه

په سوډان کې زموږ د استوګنې په وروستيو ورځو کې شيخ اسامه رحمه الله د خرطوم په سوبا سيمه کې څلور ختين کورونه جوړ کړي و، کورونه پراخ، ښايسته او ساده وو، د سوبا سيمه له خرطوم ښار څخه بهر پرته ده، خو اداري کارونه يې له خرطوم سره تړاو لري، هوا يې پاکه او نرمه ده او د رود نيل پر غاړه موقعيت لري.

افغانستان ته د شيخ اسامه رحمه الله او د هغه د کورنۍ له تګ وروسته ددې کورونو د پلورلو پرېکړه شوې وه او خرڅونکی يې ورور طلحه السوداني رحمه الله و، ما له هغه وغوښتل چې پلور يې وځنډوي او ورته ومې ويل، چې خپل کور د هارون په ملګرتيا هلته انتقال کړي، نو په دې سره به د دوی يو ځای والی د هارون د نشتون په وخت کې آسانه وي، په دې کورونو کې هغه وخت ابو مروان المصري ژوند کاوه، هغه په سوډان کې واده کړی و، او په هغه وخت کې يې ماشاء الله لس زامن لرل او د نورو د زياتېدو امکان هم و، دا هغه څوک و، چې د ابو مروان الزول لقب يې واخيست، طلحه ورور پر دې پلان موافقه وکړه او موږ د کورونو په مناسبو سمبالولو پيل وکړ، طلحه او هارون د سوبا کورونو ته لاړل، چې د کورنيو له خوندي کولو وروسته د کار نوې مرحله پيل کړو.

## طلحه افغانستان ته

افغانستان ته د طلحه ورور یو لنډ ضروري سفر و، هغه په افغانستان کې له شیخ اسامه رحمه الله او نورو عزتمندو ورونړو سره د ملاقات شوق درلود، د هغو کسانو په زړونو کې افغانستان ډېر لوی ځای لري چې هجرت یې ورته کړی وي او د شوروي ضد جهاد په ورځو کې یې دلته جهاد کړی وي.

د طلحه ورور دنده دا وه چې ځینې مهم امانتونه او راپورونه شیخ اسامه رحمه الله ته وسپاري، بیا د خپل کار د تعقیب لپاره سوډان ته راستون شي، کله چې د هغه کاغذونه چمتو شول، موږ د هغه سفر د قطر هوایي چلند له لارې د خرطوم ـ دوحه ـ کراچي پر مسیر ترتیب کړ، په ورته وخت کې مو د هارون په ملګرتیا نیروبي ته سفر درلود.

موږ طلحه ورور او نورو ورونړو ته په سوډان کې رخصت ورکړ او ټول په دې باور وو، چې موږ صومالیې ته روان یو، ترڅو هلته خپل پخواني کار ته دوام ورکړو، د دوی ټولو غوښتنه دا وه، چې له هغې خوا راځو، نو اناناس او چار مغز هیر نکړو، ما طلحه ته دا خبره وکړه، چې بېرته ژر راشي، ترڅو خپل کار ژر تر ژره پای ته ورسوو، هغه هم ماته دا وعده راکړه. له هغه وروسته ورور طلحه افغانستان ته سفر وکړ او خپل ماموریت یې په کامیابه هڅو سره بشپړ کړ، هلته یې له ورونړو سره ملاقات وکړ او د طالبانو د تحریک په څنګ کې یې په یوه جګړه کې برخه واخیسته، بیا سوډان ته د خپلو کارونو د بشپړولو لپاره وروسته تر هغه راستون شو، چې د طالبانو د افغانستان په میلمه پالنه کې یې یوه میاشت تېره کړه.

زه له هارون ورور سره د خرطوم نړیوال هوایي ډګر ته لاړم چې د کینیا د هوایي شرکت په الوتکه کې نیروبي ته لاړ شو، پر امریکایي ځواکونو د برید لپاره د الله ﷻ له نصرت وروسته ښه اندازه امریکایي ډالر راسره و، د پرواز نېټه له نیمې شپې وروسته پر درې بجې وه، موږ چې د انتظار په خونه کې و، د سوډان د صوفیانو ډلې مو ولیدې، چې وفدونه وفدونه د هوایي ډګر ترمینل ته راغلي وو او له هر پیر سره زیات شمېر مریدان وو، چې د خپلو پیرانو درناوی او احترام یې کاوه او د هغوی په خدمت کې یې یو له بل سره سیالي کوله. په هغه ورځ د سوډان ډېری پیران د هوایي ډګر په تالار کې راټول شوي وو او عجیبه دا وه، چې ټولو مریدانو ته یې اجازه ور کړل شوې وه، چې دننه راشي او د الوتکې د پرواز تر وخته پاتې شي.

زه او هارون ورور د سفر په انتظار کې ناست وو او زما لپاره دا ممکنه نه وه چې د صوفیانو له دومره ډېرو شیخانو سره یو ځای ووینم، زما اسلامي روزنه زموږ په هیواد کې د تصوف له طریقې څخه ډېره لیرې وه، خو زما لیوالتیا دې ته وهڅولم چې ورور هارون ته د لومړنۍ ځارنې دنده پر غاړه ورکړم ، نو هغه په خاموشۍ سره

یوه مرید ته ور نژدې شو او له هغه څخه یې  په ادب د هغه د پیر په اړه وپوښتل، د هغه ځواب دا وو، چې  دا د تیجاني طریقې شیخ دی، بیا چې کله هغه پوه شو، چې هارون سوډانی نه دی، نو یې خبرو ته دوام ورکړ او ددې لویې مجموعې د راټولیدو سبب یې ورته ووایو، ویل یې چې په سنګال کې د صوفیانو د مختلفو طریقو کلنۍ غونډه ده، دوی هلته روان دي او دا مریدان د دوی د رخصتولو او وروستي برکت د حاصلولو لپاره را ټول شوي دي، له هر پیر  سره یو معلوم شمېر  هغه خلک ملګري دي، چې  هر پیر په خپله انتخاب کړي وي.

هر پیر به پرخپله څوکۍ ناست و او مریدان به یې د احترام په خاطر له هغه څخه پر ټیټه څوکۍناست و، که چېرې به یو مرید د کوم کار لپاره تللو، نو باید له پیر څخه یې اجازه اخیستې وای، که هغه به اجازه ورکړه، نو هر یو به د پیر د شرافت او وقار په خاطر پر شا شا تللو، تر څو پیر ته یې شا نه ور وګرځي.

کله چې به پیر د اوداسه لپاره تللو، نو ټول به ورسره تلل، یوه به یې لاسي بیک راخیستی و، بل یوه به یې امسا را خیستې وه، بل به یې پګړۍ تر هغه وخته په لاس کې نیولې وه، تر څو به چې پیر اودس پای ته ورساوه او تا به د ټولو په مخونو کې خوشبختي، خوښي او خوشحالي لیدله، نو پیر ته نژدې کېدل او له هغه سره محبت د هر مرید هدف و، دا احترام او عزت نه یوازې د مریدانو هدف و، بلکې د الوتکې کارمندانو هم د خپلو رتبو پر اساس کاوه. زه پوهېدم چې تصوف د سوډان د خلکو په کلتور کې ریښه لري، خو ما د هوايي ډګر په تالار کې په ربښتیني توګه په خپله ولیدل.

موږ د الوتنې د وخت په نژدې کېدو سره وضعیت ته په لیوالتیا سره ناست و، خو  د کینیا هوايي شرکت اعلان وکړ، چې د پرواز وخت وځنډېدی، دې کار موږ ته فرصت راکړ چې په هوايي ډګر کې څه ښېښېړي ویې څارو، موږ د الوتنې د ځنډېدو ډېر په کیسه کې نه وو، ځکه دا زموږ لپاره فرصت و، چې د سهار لمونځ له سفر څخه وړاندې اداء کړو.

## مؤذن د سهار د لمانځه لپاره اذان وکړ

کله چې د لمانځه وخت راغی موږ د لمانځه لپاره ودرېدو او د هوايي ډګر د لمانځه په تالار کې مو لمونځ اداء کړ، خو د صوفیانو د مختلفو طریقو پیران او مریدان دلته ځای نشول، دوی د لمانځه لپاره د تیاري په خاطر یو څه ځنډ وکړ، په لوی تالار کې یې فرشونه وغوړول، په هغه کې یې لمونځ وکړ او د میرغانیې طریقې پیر یې امامت وکړ، له لمانځه لږ وروسته د دوی د الوتنې وخت شو، پیران الوتکې ته لاړل او یوازې مریدان یې پاتې شول، چا چې د خپلو پیرانو له وتلو وروسته اختلاف سره وکړ، ځینو ویل موږ د اصلي طریقې والا یو، زموږ پیر هغه دی، چې د سهار د لمانځه امامت یې وکړ، بل ځواب ورکړ ، نه بلکې زموږ طریقه غوره ده، خو زموږ پیر

عاجزي وکړه او د امامت لپاره مخکې نشو او دریم به بل څه ویل، غږونه لږ څه کم شول تر دې چې ټول له تالار څخه ووتل. لږ وروسته زموږ الوتکه راورسېده او الوتنه د سهار له راختو شاوخوا یو ساعت وروسته وه.

د کینیا د هوایي چلند الوتکه له خرطوم څخه د نیروبي په لور روانه شوه او ما له ځان سره پرېکړه وکړه چې د عملیاتو تر پای ته رسېدو پورې به کینیا نه پرېږدم، باذن الله، **ځکه ما وموندله چې مستقیم نظارت د عملیاتو اداره کولو لپاره غوره لاره ده او د مسؤول شتون د ډلې په منځ کې د ټولو د کنټرول او کارونو ته د متوجه کولو کار کوي، که څه هم ځینې وختونه د دوی د هیلو خلاف وي.**

موږ د ۱۴۱۸ هجري کال، د ۱۹۹۷ کال د نومبر په میاشت کې د نیروبي هوایي ډګر ته ورسېدو او د ننوتلو لپاره مو لازمې اړتیاوې بشپړې کړې، بیا د "اس لي" سیمې ته لاړو، هلته مو په هوټل کې یو کوټه ونیوله او له ښه آرام کولو وروسته، مو له کیلو سره خوندوره "پاستو" وخوړه، د کینیا ځانګړی چای مو وڅښلو، د کاري پروګرام په اړه مو خبرې وکړې او پر دې وغږېدو، چې ورونه به څه احساس وکړي کله چې دوی په کینیا کې د دوهم ځل لپاره د هارون په شتون خبر شي. دا سمه ده چې دوی به امر ته غاړه کېږدي، خو په دې اړه به د دوی په زړونو کې یو څه پاتې شي او دا ورونه د تنظیم له کدرونو څخه دي، د دوی د احساساتو او رایو خیال ساتل یو مهم کار و، خو ما هارون ته وویل، چې زه به ددې کار په اړه یو تدبیر وسنجوم.

فهد ورور ته مې زنګ وواهه او زما د راتګ خبر مې ورکړ.

هغه وویل زه به سبا له تاسې سره یم.

ما ورته وویل: اندیښنه مه کوه، زه به په دوو ورځو کې ستاسې خوا ته درشم او تاسې ته اړتیا نشته چې راشئ.

هغه وویل: "موږ ستاسې په تمه یو او ډېر ښه زیري لرو، چې موږ غواړو تاسې ورباندې خبر کړو." موږ دا ورځ په هوټل کې تېره کړه ځکه موږ استراحت ته اړتیا درلوده، سهار د ښار مرکز ته لاړو، هوا ډېره ښه وه، چې د خرطوم له هوا سره یې پرتله کړې. د ښار مرکز له پیاده خلکو او موټرو څخه ډک و او موږ له هغه هیواد سره د مناسبو یو څه جامو پیرودلو ته لاړو او دا یو آسانه کار دی، په ځانګړې توګه که تاسې د ښار مرکز ته لاړشئ ، په ښار کې په هره کڅه زیات پلورنځي شتون لري، له څو ساعتونو وروسته موږ د هغو جامو ډېره برخه وپیرلې، چې اړتیا مو ورته لرله او پرېکړه مو وکړه چې هوټل ته ستانه شو او سبا بېرته راشو ترڅو هغه څه چې پاتې شول، بشپړ یې کړو. دا یوه بریالۍ ورځ وه او موږ هغه څه ترسره کړل چې غوښتل مو او په هوټل کې له یو څه آرام وروسته مو د غرمې ډوډۍ وخوړه ، دا ځل له وریجو سره خوندور بحري خواړه و.

# یو ستوری چې د ورځې په منځ کې ځلا کوي

دا معمول دی، چې په اسمان کې ستوري ځلېږي خو یوازې په شپه کې لیدل کېږي او کله چې سپوږمۍ ور نژدې شي، نو د ستورو ځلا نوره هم روښانه او ښکلې کړي، خو د ستورو ځلا په داسې حال کې، چې لمر هم شعلې وهي، د توجه وړ خبره ده. موږ د نیروبي ښار په منځ کې روان وو، ما خپل ښي اړخ ته یوه لویه ودانۍ ولیده، د هغې په شاوخوا کې امنیتي تدابیرو، سیم خاردار او کانکریټي موانعو زما توجه ور واړوله.

له هارون ورور څخه مې د ودانۍ په اړه پوښتنه وکړه.

هغه ځواب راکړ: دا د امریکا سفارت دی.

ما وویل: ستا مطلب دا دی چې دا د امریکا سفارت و؟

هغه وویل: بلکې دا د امریکا سفارت دی چې په نیروبي کې فعالیت کوي.

ماورته وویل: ستا مطلب همدادی، څه چې ته وایې؟

هغه وویل هو، بالکل.

ما وویل : دا یو فرصت دی، له لاسه یې ورنکړې.

هغه وویل: د څه شي فرصت؟

ما ورته وویل: دا په راتلونکي کې د تنظیم لپاره هدف کېدای شي، ځکه که موږ له دې سیم خاردار او کانکریټي موانعو څخه تېر شو، نو د دې دیوالونو ته رسېدل ممکن دي.

هغه وویل: زه هره ورځ له دې ځای څخه تېرېږم، خو ما هیڅکله هم دا فکر نه دی کړی.

ما ورته وویل: ته ملامت نه یې ځکه تنظیم تر دې مخکې په ښارونو کې د کار فکر نه درلود، له ځینو محدودو ځایونو پرته چې په هغه ډېر وروښه نه دي خبر.

دا خبرې زموږ تر منځ په داسې حال کې وشوې، چې موږ د همدې سترې ودانۍ په اړه فکر کاوه، چې په افریقه او په ځانګړې توګه صومالیه کې د اسلامي امت پر ضد ټولې دسیسې په کې جوړېږي او د مصر او سوډان د ښارلو او د نیل سیند په اوبو کې د هغوی د محکومولو، د عربي نړۍ د محاصره کولو لپاره د سره سمندر او هند بحر په اوبو کې پښه اېښودلو او د نړیوال تجارت د سمندري لارې د کنټرولولو ټول یهودي او امریکایي پلانونه د نورو سترو صلیبي هیوادونو په ملتیا هم په دې ودانۍ کې جوړېږي.

موږ د ودانۍ په شاوخوا کې سروې وکړه او د ضعف نقطې مو په کې وليدلې، هغه ډېر کمزوري ځايونه مو هم په نښه کړل، چې ودانۍ ور ځخه ماتيدای شوای او د عملياتو ترسره کولو آسانه لارې مو په کې وليدې. **په حقيقت کې ما په دې سفارت کې ډېرو پلانونه وليدل، يوازې يو پلان نه. موږ کولای شو، چې پر ودانۍ حمله وکړو او د څو دقيقو په ترڅ کې يې کنټرول کړو، ځکه د هغې د مخې دروازې له عمومي سړک څخه يوازې څو متره ليرې دي او تېرېدل ورڅخه آسانه دي.**

موږ کولای شو، چې کارمندان په کې تعقيب او ووژنو.

موږ دا هم کولای شو، چې د ځينو کارمندانو د تښتونې لپاره په هغوی پسې دقيق تعقيب وکړو، دا په هغه وخت کې آسانه وه او اوس هم همداسې ده.

موږ د سفارت د موټرو د شمېر له امله حيران شوو ... په لومړي نظر کې تاسې کولای شئ د کارمندانو شمېر په اړه اټکل وکړئ چې بهر په ګراج کې پارک شوي موټرونه په سلګونو دي او کوم چې په داخل کې دي، هغه هم تر دې کم نه دي، که تاسې د موټرو شمېر په اوسط ډول له دوو نفرو سره ضرب کړئ ، نو نتيجه به يې په سلګونو خلک وي، چې دا بيا له عملياتو وروسته د امريکايي چارواکو له ځرګندونو څخه په يقيني توګه ثابته شوه.

د لومړنيو معلوماتو ترلاسه کول زموږ لپاره نسبتا آسانه و، ځکه کوڅې له مسافرو ډکې وې او هر مسافر کولای شول، چې د سفارت ديوالونو ته په داسې توګه نژدې شي، چې څوک يې په اړه فکر نه کوي او پرته له دې چې څوک تاسې ته پام وکړي، هرڅوک د امريکا سفارت ته په دې سترګه ګوري، چې دا په نړۍ کې د بيان ازادۍ نماينده دی، د ديموکراسۍ وروستی تصوير دی او د بشري حقونو د حاکميت کلاوو د دولت قانون دی. سربېره پردې سفارت په نيروبي کې د هر ليدونکي لپاره د سياحتي جاذبې استازيتوب هم کوي.

خو موږ ورته په نړۍ کې د خلکو د غلامۍ د انځورونو په سترګه ګورو، چې د ديموکراسۍ تر نامه لاندې په نړۍ کې د تر ټولو لوی سياسي چال استازيتوب کوي، دا تر ټولو لوی هيواد دی چې بشري حقونه تر پښو لاندې کوي، يو څوک تر هغه وخته هيڅ ارزښت نه ورته لري، تر څو چې هغه يو پروټيسټانټ امريکايي نه وي، دا د قانون پر وړاندې تر ټولو لوی بدمعاش دولت دی او سفارتونه يې د نړۍ د ترټولو لويې استخباراتي نښې نمايندګي کوي چې دننه په کې د خلکو د توهين او غلامۍ لپاره ټولې دسيسې جوړېږي، دا د افريقايي خلکو د غلامۍ تاريخ ځرګندوي، چېرته چې د دوی لپاره په نړۍ کې د غلامانو ترټولو لوی بازار جوړ دی، دا په تاريخ کې ترټولو لوی مجرم هيواد دی، چې په ميليونونو افريقايان يې د هغوی د لومړنۍ غلامۍ په وخت کې د جبري بېځايه کېدو پر مهال ووژل، دوی هغه څوک دي، چې خوندي کورنۍ يې سره جلا کړې، چې په زوره د سپين پوستو بادارانو په کروندو کې کار وکړي، دا هغه څوک دي، چې په مليونونو اصلي سور پوستي امريکايان يې

ووژل، دوی هغه څوک دي چې له غاصب یهودي دولت سره په فلسطین کې زموږ د ورونو په وژلو کې بې حده مرسته کوي، دا هماغه څوک دي، چې په لومړي اټومي برید کې یې په سلګونو زره جاپانیان ووژل، څېجاپانیان یې تر نن ورځې پورې د اټومي وړانګو له اغېزې څخه رنځ وړي، دا هغه څوک دي چې د ویتنام په جګړه کې یې لږ تر لږه درې ملیونه ویتنامیان ووژل، دا هغه څوک دي، چې له یوه میلیون زیات عراقیان یې ووژل، چې یوازې نیم میلیون یې ماشومان وو، دا هغه څوک دي، چې زموږ د اسلامي نړۍ شتمني او ذخائر غلا کوي اوخلک یې په هر ډول او شکل کې په فقر کې ژوند ته اړ کوي، دا هغه څوک دي، چې د مسلمانانو له خپل دین څخه د لیرې کولو لپاره بدمرغۍ او الحاد خپروي، دا هغه دولت دی، چې داسې سلګونه بد کارونه کوي او که د کتاب د اوږدېدو وېره نه وای، نو ما به د دې هیواد جنایات په تفصیل سره بیان کړي و، تر څو د اسلام ځوانان په دې پوه شي چې زموږ او د امریکایانو او د صلیبي غرب تر منځ دښمني یوه مذهبي او عقیدوي دښمني ده، دا د دوو فکرونو تر منځ یوه موازنه ده.

دا پلټنه ابتدایي او چټکه وه، ځکه ما اراده درلوده چې په راتلونکي کې یې کینیا ته ترتګ وړاندې دقیق کشف ترسره کړم، تر څو مشرتابه ته د وړاندې کېدو په وخت کې یوترتیب شوی پلان وي.

ما هغه وخت هارون ورور ته وویل: دا د ځمکې پر مخ یو ځلانده ستوری دی او هغه وخت مې احساس وکړ، چې امریکایان څومره احمقان دي، یهود څومره احمقان دي او مسلمانان څومره غفلت کوي، چې امریکایانو په دې دوکه کړي دي، چې امریکا او اسرائیل په هر څه پوهېږي، خو په حقیقت کې امریکا د هغو رسنیو چې په دروغو او فریبونو کې مهارت لري له لارې د خلکو له ګمراه کولو او هغوی ته له دروغ ویلو پرته بل څه نه پېژني.

ما ورته وویل چې د نن ورځې لپاره زموږ د هدف نوم "ستوری" دی.

خو له دې کار وروسته مو باید خپل اصلي منزل ته مخه کړې وای، چې هغه د پاټې شیانو پیرل و، ترڅو موږ مومباسا ته حرکت وکړو. وروسته له دې چې موږ د اړتیا وړ هرڅه بشپړ کړل، د ریزروېشن دفتر ته لاړو او دوه څوکۍ مو مومباسا ته د سفر لپاره ونیولې، موږ غوره وګڼله چې د شپې سفر وکړو، تر څو سهار ته ورسېږو. هوټل ته لاړو، خپل بیکونه مو چمتو کړل، بیا مو خوندوره غرمنۍ وخوړه، چې د اوبن له ځیګر، چپس او ګرمې ډوډۍ څخه تیاره شوې وه.

یوه اندازه استراحت مو وکړ، بیا هارون ورور د خپل قرض اداء کولو ته لاړ، هغه دا پیسې خرطوم ته د خپل مخکني سفر پر مهال له یو صومالیایي ورور څخه په پور اخیستې وې، د هوټل حساب یې خلاص کړ او موږ د ایلي ګڼ مېشتې سیمې پرېښودو ته چمتو شوو.

## د مومباسا له ساحلي ښار سره نوی ملاقات

موږ د ریزرویشن دفتر ته لاړو ترڅو په هغه بس کې سپاره شو چې مومباسا ته ځي، دا یو اوږد سفر دی چې نژدې ټوله شپه وخت نیسي، د فاصلې له امله نه، بلکې د سړک د تنګوالي او خراب کیفیت له امله، ټوله لاره تر پنځه سوه کلومتره نه ده زیاته.

ګاډی د سړک دواړو غاړو ته د پراخو ځنګلونو په منځ کې لاره پیدا کوي او ډېری وختونه بس د زرافو، بیزوګانو یا هوسیو د کاروان له وجې درېږي، ځکه هغه د ځنګل له یوې غاړې څخه بلې خوا ته تېرېږي، خو که چېرې د کیشپانو کاروان تېرېدی، نو تاسې باید یوه سترګه خوب ورته وکړئ، چې په زړه پورې یا کله ناکله ځورونکي خوبونه به هم وینئ، تر هغه وخته چې بس حرکت کوي. دا زړه راښکونکې او ښایسته منظرې د ورځې لخوا مومباسا ته تلونکي سیلانیان را جلبوي، کله چې موږ په صومالیه کې وو، ما د سهار لخوا پر دې سیمو سفرونه کړي و او دا ښکلې او جذابې صحنې مې لیدلې وې، په ځانګړي ډول چې زه په داسې هیواد کې را لوی شوی یم، چې اقلیم او طبیعت یې د افریقې له زړه را ښکونکې آب و هوا سره توپیر لري.

موږ سهار وختي مومباسا ته ورسېدو او په یوه هوټل کې مو د څو ساعتونو لپاره خوب وکړ، هوا ګرمه او نمناکه وه او د نیروبي له فضا څخه په بشپړه توګه مختلفه وه، خو موږ له دې فضا سره عادی شوي وو، هارون ورور د کوموروس له ټاپوګانو څخه و، د ټاپوګانو طبیعت د مومباسا له طبیعت سره خورا ورته دی او ما بیا په ساحلي سیمو کې ډېر ژوند کړی دی. د ساحل له هوا سره موږ عادت یو، نو موږ دلته د نابلدتیا احساس نه دی کړی او موږ له دې ښار څخه مخکې هم لیدنې کړې دي.

د مومباسا ښار یو ټاپو دی چې له ټولو خواوو څخه اوبو محاصره کړی دی او د یوه کوچني پل په واسطه له اصلي ځمکې سره وصل دی، چې تاسې د پلازمینې لخوا څخه د راتلو په وخت کې ورباندې تېرېږئ او تردې هم یو بل کوچنی پل دی، چې د مالیندې ساحلي ښار ته د تګ په وخت کې مخې ته راځي، که چېرې دا دوه پلونه پرې شي، نو ټاپو به په بشپړ ډول له اصلي ځمکې څخه قطع شي.

دا ښار له عربو، آسیایي او افریقایي اوسېدونکو څخه ترکیب شوی دی او لوی شمېر اروپایان هم په کې دي، چې د سیاحت او ساتېرې لپاره راځي، ترڅو د لمر له وړانګو خوند واخلي، سفاري ځنګلونو ته د وچې ځمکې د وحشي ژویو له نژدې څخه لیدلو ته لاړ شي، چې ددې کار لپاره په ځانګړو موټرو کې ورل کېږي.

په ښار کې داسې پولیس گمارل شوي دي، چې ټوله ورځ په لارو کوڅو کې گرځي، د ممنوع الخروج او مطلوبو کسانو د لټون لپاره نه او نه هم په ښار کې د امنیت ټینگښت لپاره، بلکې د هغه چا د درولو لپاره چې دوی یې په درولو کې د پیسو تر لاسه کول ویني.

هغه کسان چې تر ټولو زیات نیول کېږي عربان، صومالیایان او آسیایان دي.

په ښار کې ډېر تفریحي ځایونه شتون لري، شراب خانې په هر ځای کې خپرې شوې دي او د شپې لخوا ډېر پیریدونکي ورته راځي، په ځانگړې توگه د اونۍ په پای کې.

د فاحشو ښځو چې خپل ځان او بدن ښکاره کوي، په اړه نو وغږېږه هیڅ پروا نلري، دا ستاسې لپاره کافي ده چې په ناځاپي ډول خپل موټر دوی ته په خطا نژدې پارک کړئ، دوی به داسې دربانديې را ټولې شي، لکه اوښان چې پر اوبو راټولېږي.

په ښار کې د پام وړ ډېر جوماتونه شتون لري او کله چې د لمانځه وخت شي، تاسې به د هغه کلي له ټولو خواوو څخه د اذان غږ واورئ، چې په کې اوسېږئ، په دې کار به موږ د زړه له هغه افسوس سره سره هم د امن احساس کاوه، چې د مسلمانانو ښار د مسلمانانو له لاسونو څخه د هغوی د واکمنانو له امله چې د خپلو شخصي گټو او یو څو بانکونو چې د کنگل کېدو له خطر سره مخ وو، د ساتلو په خاطر یې له خپل دین او خلکو سره خیانت وکړ.

د ډېری ځمکنیو او غیر ځمکنیو مذهبونو او فرقو لپاره د عبادت ځایونه په ټول ښار کې خپاره شوي دي او مالکین یې په آزاده توگه خپل رسمونه ترسره کوي ، نارینه او ښځینه یې د دوی د خپل رواج مطابق یونیفورم اغوندي، حتی په خپلو اصلي ژبو خبرې کوي. دوی لا هم خپل ډېر دودونه او رواجونه ساتي، په ځانگړې توگه د واده او ماتم په مراسمو کې، پر دوی د هند بڼه غالبه ده، ځکه دوی اکثره اصلا د هند دي، چې په تېرو وختونو کې انگلیسانو له هغو برطانوي ځواکونو سره راوړي دي، چې پر افریقا یې حمله وکړه، تر څو شتمنۍ یې لاندې کړي او د دې سیمې خلک د دوی له لږ تر لږه حقونو څخه هم محروم کړي. د دوی پلرونو دغه ښارونه اباد کړل او ماشومان یې له خپل اصلي ټاټوبي څخه لیرې په همدې ځمکو کې لوی شول.

## له فهد سره زما ملاقات

ما فهد ورور ته زنگ وواهه او د خپل راتگ خبره مې ورته وکړه، هغه په چټکۍ سره هوټل ته راغی، د ورور هارون القمري په شتون حیران شو، خو په اړه یې څه ونه ویل. موږ پر دې خبره لنډه ناسته وکړه، چې دمازدیگر

له لمانځه وروسته به په یوه عام ځای کې سره وینو. پر ټاکلي وخت ورور فهد او زه سره ناست وو او د عملیاتو د هرڅه په اړه مو خبرې وکړې، هغه ما ته د هغه ټي ان ټي موادو د اندازې په اړه خبر راکړ، چې اخیستي یې وو او ویې ویل چې په زیرمه کې دي. همداسې یې د پام وړ د حرارتي ډیټونیټرونو د ترلاسه کولو توان هم پیدا کړی و.

ما د هغه د ښو هڅو ستاینه وکړه او ورته ومې ویل چې ما خپل ټول کار پای ته رسولی او د عملیاتو لپاره به د ټولو اړینو انتظامات تر پای ته رسېدو پورې په کینیا کې پاتې شم او ډاډ مې ورکړ، چې مالي معاملات په بشپړ ډول خوندي شوي دي او موږ باید د ماموریت د ترسره کولو لپاره په دوامداره توګه کار وکړو.

بیا هغه له ما څخه د هارون په اړه پوښتنه وکړه چې ولې بېرته راغی؟ په ځانګړې توګه فهد هغه یادښتونه درلودل چې ورور مصطفی یې مخکې یادونه کړې وه، نو ما ورته وویل چې شیخ ابو حفص الکوماندان وړاندیز کړی و، چې ورور هارون له موږ سره په کار کې وي او خبره یې ماته پرېښوده، په حقیقت کې هارون ورور ځینې ځانګړتیاوې لري چې له موږ سره د کار کولو لپاره خورا مناسبې دي، له هغو ځانګړتیاوو څخه یې د هغه غنمرنګ پوستکی، په دې هیواد کې بلدتیا او د سواحلي په شمول په څو ژبو خبرې کول دي، دا د هغه له ځیرکتیا او چسپاندي پرته نورې ځانګړتیاوې دي. د امنیت په برخه کې زه له تاسې سره په بشپړه توګه موافق یم، خو زه به ددې اړخ علاج په خپله طریقه سره وکړم، هیله لرم چې تاسې به له هارون ورور سره ښه همکاري وکړئ او زه نه غواړم چې هغه ستاسې پر کار اغېزه وکړي. هغه وویل، توکل پر خدای دی، چې تا یې امنیتي اړخ پر غاړه واخیست.

## نوی پیک اپ

ما له فهد ورور څخه وغوښتل چې د کار لپاره مناسب موټر واخلي، هغه په موټرو کې ډېر ماهر و، دوې اونۍ هم نه وې تېرې شوې چې نوی پیک اپ موټر د چاودېدونکو توکو لېږدولو ته چمتو و. دا ډول موټر د مومباسا په سړکونو کې ترټولو عام دي او موږ په خورا دقیق پوښ سره مجهز کړ، ترڅو توکي په خوندي ډول انتقال کړي، ما په داسې مسلکي کارونو کې له پخوا څخه مهارت درلود. کار په ډېر ګړندي ډول او د فهد ورور په دوه چنده هڅو پیل شو او ما هره ورځ په خپل کار کې د پام وړ پرمختګ احساساوه. د چاودېدونکو توکو مقدار د زیاتېدو په حالت کې و او همدارنګه د ډیټونېټرونو او فیوزونو شمېر د اړتیا په صورت کې له امکان سره سم اضافه کېدی.

خو دا ډول کار فولادي اعصابو، پراخې سینې او د خطرونو برداشت ته اړتیا لري. هره ورځ چې پر تاسې تېرېږي او تاسې په ښار کې کار کوئ، دا په خپل ځان کې هم یو بریالیتوب دی، تاسې په یوه رش لرونکي مرکز کې کار

کوئ، چې د هر څه په اړه پوښتنه کوي، د امنیت په منځ کې، چې هغوي پټ وي، خپلې دندې تعقیبوي او د پولیسو په منځ کې کار کوئ، چې ښار هیڅ نه ورڅخه خالي کېږي او هر ډول غلطي یا غفلت کولای شي، چې د یو لوی ناورین سبب شي، آرام، پر ځان کنټرول او ساړه اعصاب به د الله ﷻ له فضل وروسته په خورا سختو شرایطو کې له تاسې سره مرسته وکړي، چې ستاسې په شاوخوا کې بحرانونه له منځه یوسئ.

## په صومالیه کې د کار نظارت کونکي

ما په صومالیه کې د کاري ټیم له ملګرو سره د ملاقات وخت وټاکی او اوږد مجلس مو سره وکړ، په صومالیه کې مو د کار د پراختیا د لارو چارو په اړه خبرې وکړې، ملګرو په دې اړه ډېر کوششونه کړي و، ډېر صومالي استعدادونه په کار وګومارل شول، چې صومالیایي اداره سل سلنه د مصطفی، مروان او شعیب تر مدیریت لاندې راشي، دوی به د اړتیا په صورت کې پر نوبت داخل (صومالیې) ته تلل.

وروڼو په تېره بیا له واده وروسته د یوې ګډې سوداګریزې پروژې په اړه فکر کاوه او هغه یې شیخ ابو عبیدة البنشیري رحمه الله ته وړاندې کړه، هغه بودیجه ورته منظوره کړه، دا یوه مکمله پروژه وه، چې زموږ د ملکیت د یوې کښتۍ په کارولو سره یې ماهیان ښکار کول او مومباسا ته یې لېږدول، چې زموږ د خپل پلورنځي له لارې یې وپلوري، وروڼو یې په هغه وخت کې ډېر تجربه نه درلودله، چې دوی یې له ستړیا او تاوان سره مخ کړل، نو هر یوه یې پرېکړه وکړه چې یوه مستقل کار شروع کړي، ما دوی ته په افغانستان کې د وروڼو له غوښتنې څخه خبر ورکړ، چې تاسې او ستاسې کورنۍ ټول هلته سفر وکړي او هرڅوک باید د خپل سفر کاغذونه د سفر تر وخته پوره ترتیب کړي. د هارون ورور د شتون په اړه ما هغوی ته ډاډ ورکړ، چې زه هغه ته د یوې مودې لپاره اړتیا لرم، له هغه وروسته به افغانستان ته سفر وکړي، زه د هغه د امنیتي اړخونو د کنټرول مسؤولیت په غاړه لرم، له دې وروسته نور هغه د صومالیې له ټیم سره هیڅ اړه نلري، ما هغه ته په کینیا کې زما د شتون په اړه ځینې اداري مسائل ګمارلي دي او زه به دلته تر هغه وخته پاتې شم تر څو هغه کارونه بشپړ کړي. باذن الله

## مومباسا او د روژې میاشت

د روژې مبارکه میاشت را نژدې شوې وه او خوږ نسیم یې پر موږ چلېدی. د روژې د مبارکې میاشتې ښکلې یادونه زما سترګو ته درېدلې وو، ما خپله ګرانه میرمن او زما ګرانې لوڼې را یادې کړې. د کندهار د هوایي ډګر

مسجد او د تراویح لمونځ مې را یاد کړ، ما هغه رباني عالم شیخ عبد اللطیف الموریتاني[22] او هغه عبادت گذاره عاجز شیخ سعید المحاسب[23] را یاد کړل. نحسبهم کذالک والله حسیبه، دوی به د تراویح په لمانځه کې زموږ امامت کاوه. د هوایي ډگر جومات خپلې ځانگړتیاوې درلودې، چې هر څوک وربانديې نه پوهېږي، بلکې یوازې هغه څوک وربانديې پوهېږي چې د مجاهدینود رهبرانواو د پخوانیو تجربه کارو مجاهدینو له دې مبارکې ډلې سره اوسېدل. اوښکې به را باندې غالبې شوې، خو په داسې کار کې زما شتون، چې الله ﷻ وربانديې اسلام او مسلمانانو ته گټه رسوي، به له ما څخه ددې خاطرو درد ډېر کماوه. له څو ورځو تېرېدو وروسته د روژې مبارکه میاشت پیل شوه، دا د روژې میاشت زما له توقع خلاف ډېره ځانگړې وه او زه داسې خاطرې ورڅخه لرم، چې تر نن ورځې مې هم له یاده نه دي وتلي. د تودوخې درجه لوړه او رطوبت خورا ډېر و، خو تاسې به یې په هره شیبه کې د الله ﷻ د مهربانۍ احساس کړی و.

مومباسا لکه څنگه چې ما مخکې یادونه وکړه، د مسلمانانو، عیسویانو، بت پرستانو او د نورو مذهبونو او فرقو د خلکو گډ نفوس لري، خو په ساحلي سیمه کې یې په ظاهره مسلمانان زیات دي، ځکه ددې سیمې زیات شمېر اوسېدونکي مخکې تر هغه چې انگریزان یې کینیایي دولت ته وسپاري، مسلمانان و، چې وروسته یې بیا دې اداري د دیموگرافیک جوړښت لپاره کار وکړ. دا هغه څه دي چې تر ډېره حده د اسلامي نړۍ له خپل رښتیني کردار څخه د غفلت، له خپل تریخ واقعیت څخه د مخ اړولو او د واکمنانو د خیانت په وجه په کې بریالي شول. سره له دې چې بدلون راغلی دی، خو د روژې د میاشتې راتگ په هغه هیواد کې یوه ښکاره خبره وه، ځکه چې ټول اوسېدونکي یې د دې سپېځلې میاشتې لپاره چمتووالی نیسي، مسلمانان یې د دین دارۍ په وجه او نور خلک یې د کسب وکار په خاطر، د روژې په پیل کې د سوداگرۍ او پیرودلو فعالیت ډېرېږي، په هټیو کې گڼه گوڼه وي، مالونه متفاوت وي، د خرماوو ډولونه موجود وي او د ماښام له لمانځه مخکې کوڅې له پلورونکو ډکې وي، چې رنگارنگ وطني خواړه پخوي، او د لویو لارو پر دواړو غاړو ولاړ وي دا خواړه خورا خوندور او

22 قاري و، لس قرائتونه یې ښه زده و، په عربي ژبه کې یې پراخ علم درلود، د عاجزۍ، حیاء او حلم خاوند و. د مجاهدینو ژوند یې له سختیو او کړاوونو سره سره خوښاوه، سره له دې چې د مدرسې له طالبانو سره یې ډېره علاقه نلرله. هغه د خرطوم په پوهنتون کې د قرآئت درس ورکاوه او کله چې موږ افغانستان ته لاړو، هغه له موږ سره تگ خوښ کړ، له موږ سره پاتې شو، تر څو چې موږ افغانستان ته حرکت وکړ، اصلا د مالي هیواد و او موریتانیې ته یې کډه کړې وه. د خپل یوه خپلوان پر لاس یې زده کړه کړې وه او هغه تر خپلو همزولو او حتی تر خپلو مشرانو هم ښه و.

23 لوی شیخ، ښه حافظ، عبادت گذار مصطفی ابو الیزید له پخوانیو مجاهدینو او د قاعدة الجهاد تنظیم له مخکښو مشرانو څخه و، هغه د شپې د تهجد عادت درلود، چې هیڅ نه ور څخه قضا کېدی، په مصر کې زنداني شو، بیا له دریو کلونو زندان وروسته آزاد شو او افغانستان ته لاړ، چې هلته پاتې شي. تر دې چې الله جل جلاله هغه او د هغه کورنۍ ته په امریکایي ظالم ډرون کې شهادت ور نصیب کړ. د نوموړي دوه زامن عبدالله او عبدالرحمن له هغو ځوانو مشرانو څخه وو، چې له امریکایانو سره یې په جگړه کې ښې سرښندنې ترسره کړې. تر دې چې الله ﷻ په خپله لار کې شهادت ور نصیب کړ. نحسبهم کذالک والله حسیبه.

په زړه پوري وي، چې تر ټولو مشهور یې په ځانګړي ډول چپس دي چې "ویازی" نومېږي، سموسه چې له غوښې څخه ډکه شوي وي، په اور د پخو شویو کریسپي فلافل، هندی پتېره ، "چپاتي" او مختلف خواړه، چې ډېری شکلونه او خوندونه لري، محلي ډوډۍ، له هر ډول تازه سبزیجاتو سره او دا مه هېروئ چې کور ته د تګ په لاره کې شنه ناریل له ځان سره واخلئ. "ناریل" چې پلورونکي یې په ښکلي هنري ډول خلاصوي او د ناریل له یو ډول مغز لرونکې کاچوغې سره یې د پیریدونکي لپاره ځړوي، هغه ډېره ښه ذایقه لري، که تاسې یې خوند وڅکئ نو له روژې وروسته به یې هم نه پرېږدئ. له دوی سره یو قسم مشهور خوندور خواړه دي او چا چې دا خواړه ونه خوړل، نو د کینیا اصلي عادت ورڅخه پاتې شوی دی، دا خواړه کباب شوې غوښه ده، چې دوی یې په سواحلي ژبه کې "نیاما چوما" بولي، دا داسې خوندور خواړه دي، چې بل هر ځای ته زه تللی یم، نه مې دي خوړلي. دا له طبیعي ساړه جوس پرته بل ډول دی چې څو ډوله خوندورې افریقایي میوې او تازه اناناس او هر ډول آم په کې اچول شوي وي. زه هره ورځ بهر ته تلم، چې زما د اړتیا وړ خوندور خواړه واخلم او ما ناریل نه هیراوه.

جوماتونه له عبادت کوونکو ډک دي، د ښار په هر کور کې د لمانځه اذان اورېدل کېږي، خلک له هرې خوا د جماعت په لمانځه کې د ګډون لپاره راځي، هلته شافعي او حنفي مذهب ډېر نشر شوی دی اوتصوف هم د پام وړ او ډېر پراخ دي، سره له دې چې هلته د دعوت لپاره مرکزونه شته، خو دا چې هغه دعوت کونکي ځوانان خلک وي او د دعوت حکمت او اصول په پام کې نه نیسي، نو ځکه د عامو خلکو په منځ کې د شرعي علومو په برخه کې د ناپوهۍ کچه لوړه ده. خو دا یو مبارک دعوت دی، چې په خپریدو او میوه ورکولو یې پیل کړی دی اوپیروان او ملاتړي به ولري.

هغه څه چې پام ځانته را اړوي د جوماتونو ګڼه ګونه او هغو ته راتلونکو خلکو لوی شمېر او د دعوت آزادي ده، چې د ډېرو نصاراوو په اسلام کې د داخلیدو سبب شوی دی.

هلته مختلفې شیعه فرقې شتون لري چې تر ټولو مهمې یې اثناء عشریه، اسماعیلیه او بهره ډلې دي، دوی خپلې تکیه خانې لري، د خپلو فرقو په تبلیغ کې د پام وړ فعالیت لري او په دې لاره کې ډېرې پیسې مصرفوي، چې د دوی ملاتړي یې دوی ته بې له کومه مالي قیده ورکوي، د مجاهدینو د مالي مرستو برعکس، چې د لویو صلیبي هیوادونو تر جدي څارنې لاندې دي، تر څو د مجاهدینو د تمویل سرچینې تنګې او کمې کړي.

د تراويح له لمانځه وروسته، چې د الله ﷻ په فضل سره مو د قران کريم[24] ختم په کې بشپړ کړ، موږ به د لارو کوڅو له ګڼې ګوڼې ځخه په ګټې اخيستو کار ته تللو، د مسافرو او پېرېدونکو ډلې ډلې به د ځانونو او اولادونو لپاره د اختر د جامو اخيستلو ته راغلي وو، لکه څنګه چې بازارونه او دوکانونه له ګڼې ګوڼې ډک وو او حتی سړکونه له ګرځېدونکو پلورونکو ځخه ډک وو، نو د روژې مياشت پر موږ په خير تېرېده، د مسافرۍ احساس مو نه کاوه، لکه نور مسلمانان چې يې په خارجي هيوادونو کې کوي، موږ پر دې د الله ﷻ حمد ادا کړ. سره له دې چې په زړونو کې مو د اسلامي هيوادونو د له لاسه وتلو باندې حسرت او افسوس و، چې خائنان او غلام واکمنان يې د عثماني خلافت د سقوط لامل شول، لکه عبدالعزيز آل سعود د حرمينو شريفينو په خاوره کې او شريف حسين چې د تش په نامه لوی عرب پاڅون مشر دی، چې په حقيقت کې دا د ستر خيانت انقلاب دی. تر ټولو ستره هيله مو دا ده چې له اوږده فراق وروسته دا هېوادونه د خپلو زامنو غېږې ته ولوېږي.

## نوي کور ته تلل

د روژې په مبارکه مياشت کې مو د خپل ځان لپاره د مناسب کور په لټه کې ډېر کار وکړ او د کرايې د دفترونو له لارې مو ډېر کورونه وکتل، چې زموږ لپاره مناسب نه وو، خو په مومباسا کې د هارون ورور شناخته خلک وو، هغه د يوې کورنۍ له لارې پر دې وتوانيدی، چې موږ ته په زاړه ښار کې يو مناسب کور پيدا کړي، چې دوی Old town ورته وايي.

دا په دريم پوړ کې يو اپارتمان و، چې په مستقيم ډول د اسماعيليانو اصلي معبد يا "آغا خان" ور ځخه ليدل کيده.

درې اطاقونه او له هغو سره د اړتيا وړ ځايونه يې لرل، په څلورو خواوو کې يې کلکينونه لرل او له دننه ځخه تاسې کولای شول، چې ټول هغه رسمونه وګورئ چې د اسماعيليه فرقې خلک يې ترسره کوي، پرته له يوه حاله، چې کله دوی ځراغونه بندکړي او دروازې او کړکۍ د يوه ساعت وخت لپاره وتړي. بيا دوی د کړکيو او دروازو د خلاصولو لپاره بېرته راځي او بيا ځراغونه لګوي، زه د رسمونو په هغه طبيعت نه پوهېږم چې دوی يې

24 دا مې د ځينو خلکو لپاره وويل، چې د شخصي کارونو لپاره بهر ته ځي، خو سنت او واجب پرېږدي، د پيسو ګټلو په خاطر او د نه توجه په خاطر، ما په دې تراويح کې يو پراخوالی ليدلی چې ځينې ځوانان پام نه ورته کوي او وروسته له دې يې پر اخلاقو منفي اغېزه پريوځي، نو ځوانانو ته دا مشوره ورکوم چې په مباحو شيانو کې دومره پراخي ونکړي، د شرعي امورو پابندي وکړي او هر هغه څه چې له تاسې ځخه په شخصي کار کې غوښتل کېږي، داسې فکر په کې کوه، چې ته يو عادي څوک يې. دا د ځان په رښتينې معنی پټ ساتل دي.

په دې وخت کې تر سره کوي، ما د عقیدې او مذهبونو په کتابونو کې لټون وکړ،خو ما داسې څه ونه موندل، چې زړه ته ډاډ ورکړي، چې دلته یې ولیکم، شاید دا د دوی د عبادت ځانګړي رسمونه وي.

پخواني کلي ماته ډېر راحت را کاوه، ځکه زه له داسې هیواد ( افغانستان ) څخه راغلی وم، چې خلک یې لا هم د پاک فطرت خاوندان وو او نوي مدنیت او کلتور نه وو فاسد کړي. موږ د هوایي ډګر په کمپلیکس کې له کلیوالي ژوند سره نژدې ژوند کاوه. د رڼا لپاره مو بریښنا نلرله او اوبه د ذخیرو له لارې راتللې چې پر ټانکر یا الوانیت ډوله لارۍ به لېږدول کېدې، زموږ کورونه عادي وو، خو دا ښه ژوند دی، چې هلته د ژوند او خلکو سادګي او ښه فکر به دې خوشحاله کړي. د عصري تمدن غوښتنې یوازې تاسې ته اجازه درکوي چې په دې اړه فکر وکړئ، چې مدني ژوند څه ته اړتیا لري، خو د امت د اندیښنو په اړه په کې فکر کول دا د تېرې شوې زمانې کار دی او په مومباسا کې د زاړه ښار سادګۍ ما ته دا ښکلي احساسات راکړل چې زه هغه خوښوم او مینه ورسره لرم.

زموږ ښه ګاونډیان وو، له موږ سره یې ښه چلند کاوه، موږ هم له دوی سره همداسې چلند کاوه، زما یو همسایه و، چې صوفني نومیدی، د کومور د جزیرې اوسېدونکی و او له ټولې کورنۍ سره په همدې کلي کې اوسېدی، عربي یې ډېره ښه زده وه او په ازهر پوهنتون کې زده کونکی و، کور ته به راتلی او خپلې د پوهنتون کیسې به یې راته کولې، هغه نه پوهېدی، چې زه مصری یم، بلکې له ماسره به یې داسې خبرې کولې، لکه زه چې یمنی یم. ما د ازهر پوهنتون د داخل په اړه له هغه څخه ډېرې پوښتنې کولې، هغه ماته ډېرې داسې کیسې وکړې، چې په پوهنتون کې یې د پراخ اداري فساد او له بهرنیو محصلینو د ناوړه استفادې کچه راته بیانوله، هغه څوک چې مصر ته په دې تمه راغلي وو، چې د علم او اخلاقو لوړو څوکو ته به ورسېږي او هغه څوکې په الازهر پوهنتون کې موجودې دي، خو رهبري یې نه کوي، بلکې هغه کسان یې رهبري کوي چې د دولتي او امنیتي مامورینو تر نظارت لاندې ټاکل کېږي، هغه چې په ولس کې یې فساد کړی او پر خلکو یې ظلم کړی دی. لا حول ولا قوة الا بالله.

پوهنتون به د هر تابعیت لپاره یو چارواکی ټاکی او د دې مامور یوه دنده دا وه، چې له هر محصل څخه یوه مشخصه اندازه پیسې راټولې کړي او د پوهنتون لوړ پوړو مدیرانو ته یې ورکړي، کوم محصل چې د پیسو ورکولو څخه ډډه کوله، له پوهنتون څخه د شړلو او پر هغه د سختې راوستلو تهدید ورکول کېده. نو هرڅوک به د دې بلیک میل ته تسلیم شول. ورته ومې ویل: چې زه خبر شوی یم چې د جنورۍ له انقلاب وروسته کله چې یو شمېر وفادارو کسانو په پوهنتون کې په مهمو پوستونو لاس پورې کړ، نو د دومره فساد او غلاوو شاهدان وو، چې هېڅکله یې تصور هم نه وو شوی، خو له پوځي خونړۍ کودتا چې د متحده عربي اماراتو او سعودي

عربستان لخوا تمویل شوې وه او د مصر له پوځ سره په همکارۍ یې تش په نامه سیاسي اسلام له واکه لیرې کړ، مفسدینو ډېر ژر بېرته د خپلو غلاوو او بې عدالتیو په عملي کولو لاس پورې کړ. هغه ماته د هغه سفرونو کیسې وکړې، چې پوهنتون اسکندریې، لوکسور او اسوان ته تنظیم کړي وو او ددې سفرونو په اړه یې د مسؤولینو د حرص کیسې راته وکړې، چې دا سفرونه څنګه د دوی د ګېډو سر چینې دي؟ هغه کسان چې پر خولو یې دا خبرې وې: هل من مزید، آیا نور هم شته؟

هغه ماته د مصر په اړه ډېرې په زړه پورې کیسې وکړې، او هغه د هغه ښارونو کیسې راته وکړې چې هغه لیدلی وو، لکه اسکندریه، مرسی مطروح او جنوبي سیاحتي ښارونه. هغه د الازهر پوهنتون په اړه ډېرې کیسې راته وکړې او د هغه سپورتي فعالیتونو کیسې یې راته وکړې، چې دوی یې د ټولنو ترمنځ تنظیموې اوبیا پیسې ور څخه تر لاسه کوي. هغه ماته د پخلي په برخه کې د خپل ځانګړي مهارت په اړه وویل، په ځانګړې توګه د کوموري خوړو په اړه چې دی یې مهارت لري، یوه ورځ ما له هغه څخه وغوښتل چې د بلې ورځې د غرمې آشپزي راته وکړي، هغه زما غوښتنه ومنله او ما د هغه لپاره هغه ټول شیان واخیستل چې ده غوښتل. په حقیقت کې د هغه اشپزۍ په واضح ډول پر دې دلالت کاوه، چې ده په خپل ژوند کې هیڅکله هسې شوقي پخلی هم نه دی کړی، خو په هوښیارۍ سره مې خواړه وخوړل او د هغه د ښې هڅې له امله مې مننه ور څخه وکړه، خو احساس یې وکړ چې بریالی شوی نه دی. نو یې د اشپزۍ اړوند د خپل مهارت په اړه د خبرو کولو دروازه وتړله. هغه د فوټبال مینه وال و او تل به یې له ما سره د ډېرو مشهورو لوبغاړو په اړه خبرې کولې، په حقیقت کې ما هغه یو هم نه پېژندی او ما هڅه وکړه چې دی خوشحاله کړم او ستاینه یې وکړم، خو د فوټبال د ستورو په اړه د هغه پرله پسې خبرې زما لپاره د سپورت یو بحث وګرځېدی، چې پروا مې نه ساتله.

د ۱۹۹۸ نړیوال جام نژدې و، هغه تل ما ته د نړیوالو ټیمونو او د هرې ټیم د ستورو په اړه خبرې کولې، د برازیل ټیم او د ټیم له ځینو نامتو لوبغاړو څخه ډېر متاثر و، له ما څخه یې وغوښتل چې د نړیوال جام سیالیو لیدلو لپاره یو تلویزیون واخلم، خو ما له هغه څخه ښښنه وغوښته چې زه به په راډیو یا په عامه ځایونو کې په تلویزیون کې لوبې تعقیب کړم او که دی په حقیقت پوه شوی وای، نو ډېر به حیران شوی و، ځکه زه یو وخت د فوټبال غوره لوبغاړی وم، خو ما فوټبال ډېر وختي پرې ایښی و او نور یې د خبرونو اورېدلو په کیسه کې نه وم، که څه هم وخت په وخت به مو په افغانستان کې دا تمرین کاوه.

هغه په کینیا کې د خپلو کاغذونو د ترلاسه کولو لپاره پاتې و، ترڅو یو خلیجي هیواد ته د کار لپاره لاړ شي، د راتلونکي لپاره ډېر خوشبین و، ځکه چې دی به نه یوازې په یوه بست کې کار وکړي، بلکې په خپله وظیفه کې به کار وکړي، تر څو چې یو څه پیسې ذخیره کړي، بیا به په هغو پیسو تجارتي سامان واخلي، چې هغه به ټاپوګانو

ته د سوداګرۍ لپاره لېږي، په دې سره به يې پيسې زياتې شي، نو يو لوی تجارت به پيل کړي، چې په دې سره زياتې پيسې پيدا کړي او له همدې لارې به دی د ښار يو له شتمنو خلکو څخه شي. ما له نظري اړخه د هغه فکر ومانه، خو په عملي بڼه دا شيان دومره ساده نه دي ، بازارونه خپل ماهيان لري، مسلکي غله په کې شته، چل او دروغ په کې شته، خو هغه هيله درلوده چې دی به هلته ربښتيني سوداګر ومومي، چې له ده سره به يې په راتلونکو پلانونو کې مرسته کوي. ما تشويق ورکاوه او په عين حال کې مې خبرداری هم ورکاوه، خو دا ټولې هيلې له منځه ولاړې او د خپلې مور رحمها الله ﷻ رحمة واسعة د وفات خبر يې تر لاسه کړ، هغه جزيرو ته لاړ، هيلې يې ميراثې شوې او خوبونه يې په اوبو لاهو شول. وروسته مې د هغه په اړه پوښتنه وکړه، هارون راته وويل چې هلته په ټاپوګانو کې د کار په لټه کې دی. په حقيقت کې، ما هغه له لاسه ورکړ، ځکه هغه ماته زما په يوازېتوب کې مينه راکوله او ما اميد درلود، چې هغه خپلو هيلوته ورسېږي، په ځانګړې توګه هغه د ښه زړه خاوند و او ډېر خير په کې و، ځکه هغه لمونځ نه قضا کاوه، که څه هم په مومباسا کې ډېرې فتنې وې او که څه هم هغه يو بې واده ځوان و، خو هغه يو با ادبه او محترم ځوان و.

په ګاونډ کې مو ښه خلک وو، زموږ يې ډېر خدمت کاوه، مثلا موږ ته يې د مخابرتي خدمتونو او زما د شخصي رابطو په څېر ډېر خدمتونه وړاندې کړل، د دوی په منځ کې يو ښه خدمتګار و، چې ما ورسره ښه اړيکه درلوده، شفقت مې ورباندې کاوه او په خبرو کې مې نرمي ورسره کوله، سره له دې چې هغه نصراني و، خو ماته يې ډېر ستر خدمتونه وکړل، د ورځې يا د شپې لخوا چې کله به ماته چا تليفون وکړ، هغه به په چټکۍ سره راتللو، ترڅو خبر راکړي، چې فلاني زنګ درته وهلی دی او په هماغه ساعت به بېرته د رابطې لپاره ستنيدی او داسې نور خدمتونه چې هلته زما د اوسېدو په وخت کې او حتی له مومباسا څخه زما د وتلو تر وخته يې ماته ډالۍ کړل. هغه کورنۍ چې هغه کار ورسره کاوه له ما سره يې خورا ښه اړيکه درلوده، دوی به تل زما د کورنۍ په اړه پوښتنه کوله چې کله به راځي؟ دوی به ما ته ويل، چې موږ فکر کوو چې ستاسې ښځه ننجا (يوه مهذبه ښځه) ده، ځکه زه يو مهذب سړی وم، که څه هم زما ظاهري بڼه د يو عادي سړي وه، خو زما ښه چلند د دوی پر روان باندې ډېر اغېز درلود.

په کلي کې ډېر جوماتونه وو، ما په يوه جومات کې په منظم ډول د جماعت لمونځ نه کاوه، د استوګنې ځای ته نژدې مې څلور جوماتونه وو، نو د دوی په منځ کې به ګرځېدم، تر څو معلوم نه شم چې د کوم مسجد سړی يم؟ هلته په مسجد کې لمونځ کول هغه ته د هميشني راتګ نښه نه ده، نو په جومات کې زما لمونځ هغه څه نه و، چې د خلکو را پام شي، بلکې دا تاسې ته د خلکو د درناوي نښه ده، په ځانګړې توګه که تاسې واده نلرئ او يوازې اوسېږئ. په کلي کې يوازې زه عرب نه وم، بلکې هلته نور هم ډېر عرب، صوماليايان او هندي مسلمانان

اوسېږي، عرب ځوانان ډېری اصلا د یمن دي، خو په دوی کې یې د ډېرو عربي نه ده زده، یا ډېر لږ. ورباندې پوهېږي. دا کلی زما د کار لپاره ډېر مناسب و، زه هلته څو میاشتې پاتې شوم، خو د ډېرې مسافرۍ احساس مې نه دی کړی. فهد ورور دا کور او ځای ډېر خوښول او باور یې درلود، چې موږ په امتحان کې بریالي شوي یو.

## د یهودو او صلیبیانو په مقابل کې د نړیوال اسلامي محاذ تاسیس:

دا هغه جبهه وه، چې د جوړولو لپاره یې شیخ اسامه رحمه الله او د هغه ملګرو په افغانستان کې کار کاوه او د پاکستان، بنګله دېش او عربي هېوادونو ډېرې هغه جهادې ډلې ورسره یو ځای شوې، چې جهاد یې د بدلون یوه وسیله بلله او همدارنګه په اسلامي نړۍ کې ډېر نفوذ لرونکي خلک ورسره یو ځای شول، دا هغه جبهه وه، چې جوړېدو یې ډېر مهم دلائل لرل، یوازې القاعده وه چې د قطر د جهادي ډلو بر عکس یې د نړیوال جهاد مفکوره درلوده، دغو ډلو هم همدې ایډیالوژۍ ته مخه کړه او دې کار د صلیبي دښمن د هڅو مخه ونیوله.

د القاعدې فکر یو نړیوال فکر وګرځېد او په اسلامي نړۍ کې د مشرانو او ځوانانو په منځ کې خورا ډېر ومنل شو، په دې توګه القاعده وتوانیده چې د سمې جګړې کیلي په لاس کې واخلي او دا هغه څه دي، چې ټول یې په اړه موافق دي، دا داسې کار و، چې د نړیوالې جبهې تر جوړېدو مخکې یې ترسره کول ډېره لیرې خبره وه. دا اعلان نه یوازې دا چې د کفارو د خواشینۍ وړ و، بلکې عربي حکومتونه را پورته شول، چې دا پلان له پیل وړاندې په ځمکه کې خښ کړي، چې په سر کې یې د راپورته کېدو او عملي کار په وخت کې د سعودي ګوډاګی حکومت و، دا هغه حکومت دی، چې په غلامۍ او د خپلو امریکایي بادارانو په خدمت کې ډوب دی، خو د الله ﷻ په اراده او قدرت سره یې هڅې ناکامې شوې.

موږ د دې جبهې د جوړېدو اعلان په راډیو کې واورېدی او همداسې مو د شیخ اسامه رحمه الله لخوا په جزیرة العرب کې د اشغالګرو امریکایانو پر ګټو باندې د برید کولو څرګند ګوابښ هم واورېدی، موږ په دې وخت کې شاوخوا دوه ټنه متفجره مواد له خپلو ټولو لازمو توکو سره لرل او ورسره مو کاري ټیم هم درلودی، چې د شپې او ورځې یې کار کاوه، ممکن دا ډول بیان پر موږ رڼا واچوي ... دا د هغه سړي فکر دی، چې په همدې میدان کې کار کوي، خو موږ وروسته د امریکایي مشرانو د اعلامیو له لارې پوه شوو چې سترګې یې د جزیرة العرب په داخل کې د برید لپاره خلاصې وې، وروسته موږ زر ځله پوه شوو، چې امریکایان خالي ذهنونه او تش په زړه پورې بیانونه لري او د دوی د ګټو خلاف کار کول د هغو کسانو لپاره ساده او آسانه خبره ده چې الله ﷻ ورته آسانه کړې وي. په نړۍ کې هره جهادي ډله د دوی پر ضد کار کولای شي، دوی علم الغیب نلري، لکه څنګه چې یې ځیني خلک تصور کوي او ځیني خلک یې له جهاد څخه د کښېنستلو سبب بولي، دوی داسې

هم نه دي، لکه ځینې خلک چې د دوی په اړه خیالي انځورونه جوړوي چې دوی ځواکمن دي، هیڅوک نشي ورسره جنګیدلای او د دوی د وړتیاوو په اړه عجیبې کیسې کوي، لکه څنګه چې بني اسرائیلو د موسی (علیه السلام ) پر وړاندې د جنګیدونکو ځواکمنو خلکو کیسې ددې لپاره کولې، چې له جهاد څخه پاتې شي، نو الله ﷻ د تیه په میدان کې څلوېښت کاله سزه ورکړه، ترڅو له موسی علیه السلام او یو څو مؤمنانو پرته هغه نسل ټول ختم شو، چې د جهاد او فتحې صلاحیت یې نه درلود.

زموږ ګران او لوټ شوی اسلامي امت او زموږ ګران مسلمان ځوانان د آل سعود، شریف حسین، د هغه د زامنو، کمال اتاتورک او د هغوی تر شا د صهیو ـ صلیبي اتحاد په همکارۍ د اسلامي خلافت له ړنګېدو را وروسته د واکمنانو، غدارانو او منحرفو خلکو په فکري، فرهنګي، نظامي او ټولنیز تیه[25] کې داخل شوي دي او اوس هغه وخت را رسېدلی دی، چې دا د تیه میدان نور پای ته ورسېږي او دا دی، د زوال شیبې یې په ښکاره معلومېږي، سره له دې چې مسلط واکمنان او مرستندویان یې د اوږدې مودې لپاره د پاتې کېدو هڅې کوي، که څه هم دوی په خپلو زړونو کې یوه نه یوه ورځ د خپل ځان پر زوال یقیني دي.

## په لاره کې خنډونه

فهد ورور په خاموشۍ، جدیت، هوښیارۍ او داسې موسکا سره کار کوي، چې هیڅکله یې له شونډو نه جلا کېږي، خو د سترګیا او ستومانۍ نښې ورباندې ښکاري، زه یې سترګیا او ستوماني څارم، خو وېره لرم، چې زه به د هغه په اړه خبرې وکړم او هغه به ما ته هغه څه ووایي، چې په ذهن کې یې دي او بیا به دده بدیل ستونزمن کار وي، ما به دعاء کوله، چې الله ﷻ د چمتووالي کارونه راته آسانه کړي، دا کارونه ستونزمن او سخت دي، خو له دې څخه د را ګرځېدو او د درولو هیڅ امکان نه و، تر دې چې یوه ورځ الله ﷻ آساني راوسته، یوه ورځ ورور فهد ماته راغی او وړاندیز یې وکړ چې خپل یو باوري ملګری دې په کار کې کومک ورسره وکړي، چې د عملیاتو لپاره د اړتیا وړ توکو د اخیستلو لپاره یو له بل سره په سفرونو کې کومک وکړي او په دې توګه به دواړو ته آساني وي، هغه راته وویل: که تاسې موافقه نکوئ، زه به په خپله خوښه کار ټول په یوازې ځان بشپړ کړم.

په حقیقت کې داسې یوه پرېکړه ډېر فکر ته اړتیا لري، ځکه چې هره تېروتنه، حتی که ساده هم وي، د کار لپاره د ناورین لامل کېدای شي او پر دې اساس ټول پلان له منځه تللای شي.

ځکه نو ما له فهد ورور څخه د یو څه وخت لپاره مهلت وغوښت او ورته مې ویل چې سبا ما ته راشي.

---

25 تیه د هغه میدان نوم دی، چې کله بني اسرائیلو له جهاد څخه انکار وکړ،نو الله تعالی په دې میدان کې تر څلوېښت کاله پورې سرګردانه وګرځول.(ژباړن)

ما له هارون ورور سره د فهد د وړاندیز په اړه خبرې وکړې، ورته ومې ویل: ایا ته دلته یو ورور پېژنې چې نوم یې شیخ سویدان دی؟ هغه وویل: هو زه هغه ډېر ښه پېژنم، د هغه ډېر صفات او په زړه پورې کارونه یې راته بیان کړل، چې د صومالیې په ټیم کې یې له ورونو سره ترسره کړي و او هغه یو خاموش ورور دی چې لږ خبرې کوي، ښه تجربه لري، په اوږدو سفرونو کې خورا ښه دی، ځکه هغه او د هغه ورونه د توکو د لېږد لپاره لاری لري، له دې سره هغه دین داره او ژمن شخصیت دی، چې په کار کې شاملیدل به یې ګټور وي، ان شاالله.

بله ورځ سهار وختي مې له ورور مصطفی سره وکتل، موږ د ډېرو موضوعاتو په اړه خبرې وکړې، چې په هغه کې مې په نرمي او مهرباني سره د شیخ سویدان په اړه هم پوښتنه ورڅخه وکړه، هغه ویل چې شیخ سویدان دلته یو له غوره ورونو څخه دی او غواړي چې افغانستان ته لاړ شي، خو هغه به یو څه وخت دلته وي، تر څو د میرمنې یې نوی ماشوم پیدا شي.

موږ سره جلا شوو، خو مصطفی ورور د هیڅ شي احساس ونکړ (لږ تر لږه ماته داسې ښکاره شوه) هغه یو دروند او هوښیار ورور و او د هغه څه پوښتنه یې نه کوله، چې په ده پورې یې اړه نلرله. ما په همدې ټاکلې نېټه ورور فهد راوغوښت او ورته مې وویل چې ما د شیخ سویدان په اړه د هغه وړاندیز منلی دی، چې په کار کې شامل شي، په دې شرط چې موږ له هغه څخه د هغو ټولو احکامو او تړونونو په اړه وعده واخلو، چې هغه ته صادرېږي او حتی د هغه پر نژدې خلکو به هم پټ وي، زموږ په کار کې ترټولو مهم شی د الله ﷻ له فضل وروسته دا دی، چې سرې راز داره وي، په خوشحالي او سختي کې خبره اوري او اطاعت کوي.

ما وغوښتل چې له هغه څخه د عهدونواو تړونونو د اخیستلو لپاره له هغه سره لیدنه وکړم، نو په یو عادي ځای کې مې ورسره ولیدل، له شیخ سویدان ورور سره ناست وم، هغه په عربي ژبه ښې خبرې کولې، موږ د هر څه په اړه موافقه وکړه او په دې سره په کینیا کې کاري ډلې ته پنځم نفر ور اضافه شو. په دې توګه د کار نوې روحیه راپیدا شوه او ورور شیخ سویدان له ورور فهد څخه په زیات کوشش او سخا کې کم نه و، په ځانګړې توګه داسې ښکارېده چې د کار په اړه د دوی په منځ کې پوره تفاهم شته، په دې سره کار ته د لازمو تیاریو د بشپړولو بهیر ګړندی شو او ټول خوشبین وو، ټول ټیم په خاموشۍ او دقت سره کار کاوه، د کار لومړی پړاو بشپړ شو او ډېر لږ پاتې و، چې د چمتو والي کار تکمیل شي، له موږ سره د عملیاتو لپاره کافي چاودېدونکي توکي وو، د مثال په ډول که هر موټر به سل کیلو ګرامه ټي ان ټي موادو ته اړتیا لرله، له موږ سره یې څو چنده زیاته اندازه موجود و، څو ځله مو مشوره سره وکړه، څو ځله مو د تجربې لپاره موټرونه په هغه ځایونو کې ځای پر ځای کړل، چې موږ غوښتل، خو موټرونه خالي و او د چاودنې په ساعت کې یې یوازې تنې ته د فشار ورکولو انتظار و.

## تنزانیا ته سفر

زما یو پروګرام دا و، چې تنزانیا ته سفر وکړم او بیا د خپلې ویزې ، چې موده یې پای ته رسېدونکې وه، د نوي کولو لپاره بېرته کینیا ته راشم، د تنزانیا ویزه مې څه موده مخکې اخیستې وه، خو د کار ډېر والي له سفر څخه منعه کړم، د سفر د پروګرامونو له جملې څخه مې یو دا و، چې په تنزانیا کې د امریکا سفارت وپلټم، ورور هارون په دې پوهېده او تل به یې راته ویل، چې که تاسې دا سفارت ولیدی، نو حیران به مو کړي، هغه له ما څخه و غوښتل چې د معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره هلته لاړ شم، خو د کارونو د ازدحام له امله به ما همیشه ځنډاوه او کله چې شرایطو د سفر اجازه راکړه، نو موږ په ۱۴۱۹ ه ق کال او د ۱۹۹۸ میلادي کال د می په میاشت کې دارالسلام ته لومړی ځمکنی سفر وکړ. بس موټر موږ د ورځې په پیل کې له ځانه سره بوتلو او موږ د بېړۍ له لارې له سمندر څخه تېر شو چې دوی (فیري)[26] ورته وایي.

بس موټر پر ډېر ښکلي او په زړه پوري سړک سفر وکړ، چې دواړه خواوو ته یې شنه ځنګلونه تر سترګو کېدل او په دې ځنګلونو کې داسې قومونه اوسېږي چې خپل ځانګړی لباس لري، موږ د تیز رفتار په حال کې د دوی سیمې ولیدې، له یو څه واټن سفر کولو وروسته د کینیا له پولې څخه تنزانیا ته لاړو او د تفتیش پروسې د بشپړولو او په بس کې د ځینو بهرنیانو لپاره د ویزې ترلاسه کولو لپاره مو په همدې حدودو کې شاوخوا یو ساعت انتظار وکړ. بیا بس د تنزانیا په ځمکو کې روان شو او صحنې له پخوا څخه توپیر نه درلود، شنه ځایونه پرې کېدل، خو سړکونه د کینیا د سړکونو په پرتله خورا پراخ او ښه وو او کاروانه په آرامۍ سره روان وو، پرته د ځینو اروپایانو له ځورونکي او نامناسب چلند څخه لکه څنګه چې دا د دوی عادت دی، دوی الکولي مشروبات څښل، چې ډېری مسافر یې له بوی څخه په تکلیف کېدل، په ځانګړې توګه د تنزانیا ډېری اوسېدونکي مسلمانان دي او دا څښناک حرام ګڼي، خو اروپایان د نورو د احساساتو قدر نه کوي او د نورو قومونو شخصیاتواو کلتور ته درناوی نلري.

## د بکس غل

د لارې په اوږدو کې، موږ د لنډ وخت لپاره وقفه وکړه، چې ځینې د اړتیا وړ واړه شیان واخلو او تشناب ته لاړ شو. یوې ښځینه مسافرې خپل بکس پرځای پرېښود. کله چې هغه بېرته راغله، ورته معلومه شوه چې بکس یې غلا شوی دی، وروسته له هغه چې ښځې د بس چلوونکي ته خبر ورکړ، بس حرکت وکړ او شک پر یوه ځوان

26 فیري د انګلیسي ژبې لفظ دی، چې کښتۍ ته ویل کېږي. (ژباړن)

کېده، چې د هغې ښځې په شاوخوا کې ناست و، په رښتیا سره دا معلومه شوه، چې غل هماغه سړی دی، له یو ساعت څخه تر زیاتې مودې وروسته بس توقف وکړ، ځوان د لومړی نقطې پولیسو ته وسپارل شو او مال ښځې ته تسلیم شو. موږ له بس څخه ښکته شو چې ددې په زړه پورې او زړه راښکونکو منظرو ننداره وکړو، لومړی شی چې زما پام یې ور واړاوه، یوه ډېره اوږده ونه وه او یوه عجیبه میوه ورباندې راځوړند وه، چې د اوږدې او ډېرې لویې هندوانې په څېر وه، ما سمدلاسه کامره راواخیسته او کېناستم، ددې عجیب منظر عکاسي مې کوله، دا میوه ما په مومباسا کې خوړلې وه، خو اوس د لیکلو پر مهال یې نوم یاد ته نه راځي، ددې په داخل کې په مکعب شکل کې میوه ده، چې په ډېر جالب انداز ترتیب شوې ده، کله یې چې تاسې ووینئ نو د بل شي گنجایش به ونه وینئ، بې له دې چې وواياست، پاک دی هغه ذات چې دا یې پیدا کړې او تخلیق کړې ده.

بس بیا حرکت وکړ او پر ټولو باندې چوپتیا خپره شوه، ځکه ډېری مسافر په ژور خوب کې غرق و، وخت په وخت بس درېده، یو یا دوه مسافر به ور څخه ښکته شول او په تنگو سړکونو کې به دننه د ځنگله په لمنو ور دننه شول، چې د دوی کلیو ته چې د افریقا د ځنگلونو په زړه کې موقعیت لري لاړ شي، او بیا زه پوه شوم، چې ولې تنزانیا په نړۍ کې لومړی دولت دی، چې زمریان په کې هر کال پر کلیو هجوم ور وړي.

دارالسلام ته د رسېدو لپاره مو سفر دولس ساعته وخت ونیوی، د کاریوکا سیمې ته لاړو او په الخلیج هوټل کې مو اطاق کرایه کړ، د ماښام او ماخوستن د لمانځه له اداء کولو وروسته رستورانت ته لاړو او د چرگ هندی کباب مو وخوړ، شپې خپل څادر غوړولی و، ما هارون ته وویل موږ باید بېرته لاړ شو، ځکه سړکونه امن نه دي،هغه ماته وویل، په تنزانیا کې وضعیت په بشپړ ډول د کینیا له وضعیت څخه توپیر لري، دا هیواد ډېر خوندي دی، دې خبرې زه وهڅولم چې لاړ شم او هغه کلی وپېژنم چې موږ په کې یو. د کلي ډېری اوسېدونکي مسلمانان وو اوکه تاسې په دې خبر شئ، چې دتنزانیا ډېر اوسېدونکي مسلمانان دي، نو دا عادي خبره ده، بلکې هلته داسې جزیرې شته، چې ټول نفوس یې مسلمانان دي، لکه زنجبار، چې ټول اوسېدونکي یې مسلمانان دي، که څه هم هلته د عیسویت کولو فعالیت مخ وشا ته کېږي، د مسلمانانو له قصدي بې وزلۍ څخه گټه پورته کوي او ځینې مسلمانان له اسلام څخه مسیحیت ته اړوي، لکه څنگه چې دا د افریقا د نورو هیوادونو حال ده.

پلازمینه دارالسلام که څه هم ډېری اوسېدونکي یې مسلمانان دي، خو د کلیساگانو بڼه د هغه ځانگړتیاو له امله ښکاري چې د ښار په لویو لارو کې جوړې شوې دي، د قصابانو پراخ دوکانونه چې د خنزیر غوښه پلوري ، سیلانیانو ته انځوروي چې دا یو عیسوي ښار دی او دا ناوړه پلانونه دي چې د کلیساگانو نړیواله شورا یې رهبري کوي، تر څودا لویه توره وچه عیسوي کړي، لکه څنگه چې دوی ورته عیسوي ویل غواړي. بله ورځ موږ د هوټل

په چټ کې ناشته وکړه، چېرې چې اصلي رستورانت و، بیا د ښار مرکز ته لاړو، کوم چې د پراخو سړکونو او نظم له وجې ځانګړی دی، خو د نیروبي په پرتله یې ښکلا لږ ده.

بیا په بس کې سپاره شوو او ډیپلوماتیکې ساحې ته لاړو، هارون ورور په ښار کې له پخوا څخه شناخته و، هلته او د آرامه سمندر پر ساحل ډېر سفارتونه، د ډیپلوماتانو کورونه او کلبونه و او په سیمه کې داسې ډېرې نښې دي، چې په کورونو کې د سپیانو د شتون خبرداری ورکوي. موږ د سمندر غاړې ته لاړو او شاوخوا له یوه کیلومتر وروسته مو ساحل له اروپایانو ډک ولیدی، چې د لامبو او پر اوبو د ښوییدلو تمرین یې کاوه اوله لمر څخه یې خوند اخیستی، موږ په دوی کې له ځینو څخه خبرې واورېدې، چې روانه سواحلي ژبه یې ویله، خو ټول غافل وو، که یو چا غوښتلای، چې له دوی څخه شه واخلي، ډېر به یې نه و په تکلیف کړی، خو دا خلک زموږ هدف نه دي، موږ دلته بل کار لرو.

یو څه وخت په ساحل کې ناست وو، خو له دې بربنډو بدنونو او کرکې وړ مخونو څخه لږ لیرې وو، بیا د دې ښکلي خاموش کلي په اړه له خورا مهمو معلوماتو ترلاسه کولو وروسته بېرته راستانه شوو اوو پنځلس دقیقې وروسته موږ د امریکا د سفارت مخې ته روان وو، چې موقعیت یې ددې ښکارندویې کوي، چې دوی په ډېر لوی امنیتي غفلت کې دي، دې ځای ته د رسېدو لپاره د پلان جوړولو ته اړتیا نشته، دوې لارې ورته راغلې دي، چې یوه یې تر هغې بلې آسانه ده، موږ په تګ کې له یوه ګرځېدونکي سوداګر سره یوځای شوو، کوم چې موږ ته دا فرصت راکړ، چې د ځینو غیر ضروري اړتیاوو د پېر لپاره د اوږدې مودې لپاره دلته ودرېږو. بېرته د ښار منځ ته راستانه شوو او د غرمې ډوډۍ مو وخوړله، بیا د آرام کولو لپاره هوټل ته لاړو او ماښام د هندي خوندورو خوړو له خوړلو وروسته بهر ته را ووتلو، چې په هغه کلي کې وګرځو، چېرته چې موږ اوسېږو.

## د کلیمانجارو غر

په همدې شپه مو اروشا ښار ته د تګ لپاره دوه ټکټونه واخیستل او سهار په بس کې سپاره شوو چې پر ډېر ښکلي او په زړه پورې سړک روان و، د سړک دواړو غاړو ته شنه ځنګلونه وو او ته به د بس تر کړکیو هغه وحشي حیوانات وویني، چې د افریقا ځنګلونه ورباندې مشهور دي، هلته د افریقایي مشهورې کیلې فصلونه وو، بس پر سړک په تاسې تر نیم ساعت پورې مزل کوي، خو د کیلې کښتونو د لارې دواړه اړخونه پوښلي وي، د غرمې په وخت کې بس له یوه سیاحتي رستورانټ سره پر لاره ودرول شو او موږ له خوندور کینیایي چای سره د غرمې د ډوډۍ لپاره را کوز شوو، بیا بس د خپل منزل پر لور حرکت وکړ، چې د لمر له لوېدو مخکې ور ورسېدی.

هوټلونه هر چېرې دي، موږ اړتیا نلرو چې پوښتنه یې وکړو، په یوه هوټل کې مو اطاق ونیوی، جامې مو بدلې کړې او د شپې له خوا د ښار د لیدلو لپاره لاړو، سړکونه خاموشه دي، رستورانتونه ډېر دي، سړکونه او رستورانتونه له اروپایي سیلانیانو ډک دي، په دوی کې لوی شمېر یې د سیاحتي ګروپونه په ډول ګرځي، دوی اړتیا نلري چې په ښار کې د منظرې لپاره په موټر کې سپاره شي، ځکه ښار کوچنی دی او د سیاحت اهمیت یې پدې کې دی چې دا د کلمنجارو مشهور سیاحتي غره ته نژدې دی ، چې هر کال یې په لسګونو زره اروپایي سیلانیان لیدو ته راځي. زموږ منزل د سیاحت ځای نه و، بلکې زموږ د راتلونکي کار د څارنې یو تم ځای و، خو له دې سره سره دا یو خوندور سفر و، چې موږ یې په ترځ کې د کار لپاره ډېر ګټور او مهم معلومات ترلاسه کړل. بله ورځ مو له لیرې څخه د کلیمانجارو غره ولیدی، هغه ته تلل او ورختل زموږ د پروګرام برخه نه وه، بېرته د اروشا ښار ته لاړو او هلته مو یوه بله ورځ هم تېره کړه او بیا مو د بس دوې څوکۍ ونیولې، چې تر سهاره یې موږ دارالسلام ته ورسولو، په دارالسلام کې دوې ورځې پاتې شوو، چې په دې ترځ کې مو د امریکا د سفارت یوه دقیقه سروې وکړه او د فرانسې او مصر سفارتونو، نورو سفارتونو او ډیپلوماتیکو ساحو ته مو ډېر نژدې ومونده، موږ د الله ﷻ حمد اداء کړ، چې دا توفیق یې راکړ او وروسته مو مومباسا ته د ستنیدو پرېکړه وکړه، چې خپل اصلي کار تعقیب کړو.

د فیفا د نړیوال جام نېټه په نژدې کېدو وه، چې په فرانسه کې په ۱۴۱۹ ه ق کال کې په ځانګړې توګه د ۱۹۹۸ میلادي کال د جون له ۱۰ څخه د جولای تر ۱۲ نېټې پورې ترسره شو او د دې لپاره د تیارۍ نښې د مومباسا پر سړکونو څرګندې وې، د ښار پر دیوالونو د فوټبال د مشهورو ستورو د عکسونو پوسټرونه نښلول پیل شوي وو، په پلورنځیو او سالونونو کې به داسې یوه لویشت ځای ونه وینې، چې د فوټبال د نړیوالو ستورو پوسټرونه په کې نه وي، جالبه داده، چې د سلمانیو په ځینو سالونونو کې یې پر دیوالونو بسنه نه وه کړې، بلکې د سالون چت یې هم له دوی ډک کړی وو، که تاسې د فوټبال مینه وال یاست یا نه خو باید له دې ثقافت سره آشنا شئ!

ما ځینې مشهورې څېرې ځکه وپېژندلې، چې خلکو یې په اړه ډېرې خبرې کولې، په ځانګړي ډول زما له ګاونډي صوفني القمري څخه او خورا پراخ نشرېدونکي عکسونه د برازیلي ټیم وو، ځوانانو له دوی سره دومره مینه درلوده، چې تا به یې له خبرو څخه داسې احساس کاوه، چې د دوی د تره زامن دي. په حقیقت کې، زه د فوټبال له دغه لوی موسم څخه ډېر خوشحاله وم، ځکه له دې غفلت څخه په ګټه اخیستنې سره موږ ته ډېر ښه فرصت په لاس راځي. ما غوښتل چې عملیات په داسې حال کې ترسره کړو، چې خلک په نړیوال جام بوخت وي، ترڅو موږ د خپل کار نتیجه تر دې مخکې تر لاسه کړو، چې د فوټبال له لوبډلو څخه یې یوه لوبډله نړیوال جام

تر لاسه کوي. د چمتووالي پروسه په نسبتا چټکۍ سره روانه وه، ټولو د نیټې د را نژدې کېدو احساس کاوه او له هغه سختو هڅو سره سره چې دوی کړې وې، د ټولو پر څېرو خوښي څرګنده وه.

تنزانیا ته تر سفر مخکې مې په افغانستان کې ورونو ته پیغام لېږلی و، چې ژر تر ژره د موټربم په تیارولو کې تخصص لرونکی ورور راولېږئ، ځکه چې چمتووالی یې تقریبا بشپړ شوی و، په مهربانۍ سره یې محترم، باعزته، ماهر او مسلکي ورور عبد الرحمن المهاجر رالېږلی و، چې د اړتیا وړ ماین تیارکړي، د هغه راتګ ډېر ناوخته نه و، خو په ادرس پیدا کولو کې غلطي شوې وه، خو هغه په هغه شمېره چې ما هلته ورونو ته ورکړې وه تلیفون کړی و او توانیدلی و، چې د مصطفی ورور کور ته لاړ شي، خو مصطفی کور کې نه و، نو هلته یې د شک او تردد په نظر استقبال شوی و، راتلونکې ورځ ما له عبد الرحمن المهاجر ورور سره ملاقات وکړ، د رامنځته شوې غلطۍ بښنه مې ورڅخه وغوښته، د وضعیت په اړه مې اطمینان ورکړ او ورته ومې ویل چې سبا به هارون القمري ورور تاسې ته راځي، ترڅو زموږ کور ته دې راولي.

ماښام عبد الرحمن المهاجر ورور له موږ سره په کور کې ناست و او له وریجو او کباب شوي چرګ څخه تیاره شوې ډوډۍ یې خوړله، په دې توګه له کاري ټیم سره شپږم غړی هم یوځای شو، تر څو له موږ سره په نوې حوصله مخته د کار په ګړندي کولو کې مرسته وکړي.

## مهاجر

یو مصری میانه قد لرونکی ځوان و، د ساینس له پوهنځي فارغ و، ډېر هوښیار، د ښه نظر او څېرې خاوند و، بې له سټریا او شکایت څخه یې کار کاوه، په ۱۹۹۰ میلادي کلونو کې د القاعدې په کمپونو کې روزل شوی و، بیا له تنظیم سره یو ځای شوی و  او د ځانګړو کورسونو یوه برخه یې ترسره کړه، چې په کې بریالی او د چاودېدونکو توکو او موټر بمونوپه برخه کې یو له مهمو متخصصینو څخه شو، په ځانګړې توګه د الکترونیکي شیانو په برخه کې یې ځانګړي کورسونه ترسره کړل، کومو چې ده ته په خپل تخصص کې لوړ مهارت ورکړ. هغه په خپل تخصص کې ممتاز و او تر دې وړاندې په اخلاقو کې ممتاز و، په انګلیسي ژبه کې یې ښه پوهه درلوده او له خپلو نژدې ملګرو سره خوشطبعي کونکی و.

زه په افغانستان کې د ورونو د خبرونو په لټه کې وم، له ورور مهاجر سره مو مجلس وکړ او پر بیلابیلو موضوعاتو مو بحث وکړ، هغه موږ ته د تېرو اوو میاشتو د ډېرو پېښو په یادونه وکړه، په هغو کې یې ځینې خبرې د کار اړوند وې، له طالبانو او نورو اسلامي حرکتونو سره، چې ځینې یې عربي او ځینې یې پاکستاني و د ورونو د اړیکو، د جګړې په لیکو کې د ورونو د وضعیت، د معسکراتو خبرونه، د روزونکو شمېر چې د پخوا په پرتله خورا زیات

شوی و او نژدې هره ورځ  د پاکستان له جهادي او او دعوتي ډلو سره د لیدنو، چې د امریکایانو پر ضد د جهاد ملاتړ کوي، په اړه یې کیسې راته وکړې.

په زړه پورې مجلس مو پر ټولنیزو حالاتو را تاو کړ، په دې کې داسې تفریحي کیسې وې چې له موږ څخه یې د کار د ډېرو بوختیاوو او ګڼې ګونې ډېرې اندیښنې لیرې کړې، تر دې  چې زموږ د ملګري خلیفه المصري رحمه الله د وزې چې کلینټن نومیده، په اړه مو هم کیسې وکړې، موږ ته یې خبرونه را رسېدلي و، چې د ورونو فصلونو ته یې خورا لوی ویجاړی ور رسولی دی او کله چې د کور منځته بې له اجازې ور ننوځي، د ډېرو خویندو د وېرې سبب ګرځي، له هغې سره خپل درې ماشومان هم و او دوی د نورو خلکو په کورونو کې د لاس وهنې بشپړه آزادي درلوده، چې داخبره پر خویندو نوره هم سختېده، تر دې چې د دې ستونزې چې د لا زیاتېدو نښې یې هم وې، د حل لپاره د ورونو تر منځ یوه غونډه جوړه شوه، ځکه کلینټن هیڅ ارزښت او ترون ته درناوی نه کاوه (موږ د امریکایي کلینټن په اړه هم همدا خبره کوو) هغې ته سخت ګواښونه پیل شول، تر دې چې د حلالولو له ګواښ سره مخ شوه، خو دا مسأله د ملګرو ملتونو په یوه لازمي پرېکړه لیک سره حل شوه او د کلینټن ستونزه په نه بدلیدونکې توګه پای ته ورسېده، پرېکړه وشوه چې کلینټن او د هغې درې ماشومان به شپون ته سپارل کېږي، ترڅو د نورو رمو په منځ کې وي، هلته به د خپل طبیعت له مخې پرته له کوم تکلیف څخه چلند کوي او هغه ورځ به ډېر ژر راشي، چې امریکا به په خاورو ککړه پوزه د نوې کلینټن په مشرې کې له رمې سره یو ځای کېږي، چې د سمندرونو ها خوا به څرېږي او ټوله نړۍ به یې له شر او خباثت څخه آرامه وي.

راتلونکې ورځ موږ د کار په اړه خبرې وکړې او ما هغه ته په تفصیل سره هغه تجهیزات تشریح کړل، چې زموږ په لاس کې و. ورته ومې ویل، چې موږ په هر وخت کې د عملیاتو پلي کولو لپاره چمتو یو، نو موږ باید موټرونه په هغه ځایونو کې د ځای پر ځای کولو لپاره چمتو کړو چې موږ وار له مخه ورته غوره کړي دي او هغه طریقه مې ورته تشریح کړه، چې څنګه به دا شیان سره ځای پر ځای کوو او څنګه به په هماغه ورځ دا ځای پرېږدو.

ورور عبدالرحمن المهاجر وغوښتل چې په اطاق کې چاودېدونکي توکي وګوري او ما یې د چمتووالي په لومړیو ورځو کې یوه نمونه لیدلې وه، چې اتل ورور فهد را ته له مولد سره یو ځای راوړې وه، له ټي ان ټي مادې څخه ډېر سخت چاودېدونکي قالبونه وو، چې موږ ته یې خوشحالي را کوله، زه واقعا د ذخیرې ځای ته ځکه نه یم تللی، چې هسې نه هلته زما تګ کوم امنیتي مشکل را منځته کړي، کار مې ټول فهد او شیخ سویدان ورونو ته پرېښی و. له ورور فهد څخه مې وغوښتل چې ورور عبدالرحمن ته لاره برابره کړي چې هغې سیمې ته لاړ شي چې چاودېدونکي توکي په کې ذخیره شوي دي، د بلې ورځې په ماښام دواړه ورونه لاړل او څو ساعته وروسته مهاجر ورور په داسې حال کې راستون شو، چې څېره یې له خوشحالۍ او بشارت څخه پرکېده.

هغه وويل: دا په زړه پورې خبره ده.

ما تمه نه درلوده چې دومره ډېره اندازه مواد به وي.

دا مواد ډېر عالي دي.

که هغه پر دې جملو بسنه کړې وای، نو کارونه به په عادي ډول مخته تللي وو، خو هغه وويل:

زه يوه غوښتنه لرم ، آيا امکان لري، چې پوره شي؟

ما وويل: مهرباني!

هغه وويل: زه غواړم يو ستين فيوز او يو ترمل فيوز تجربه کړم.

ما په حيرانتيا ورته وويل: ته ټوکې کوې!

موږ يې دلته څنګه وازمايو؟

موږ د افغانستان، يمن، صومالیې او نورو په معسکرونو کې نه يو.

موږ په ښار کې يو، دلته خو که په موږ کې يو کس پرنجی وکړي، ګاونډی به يې خوب ورکړي.

خو هغه پر دې غوښتنه ټينګار وکړ او ويې ويل چې دا زما لپاره خورا مهم دی.

ما ورته وويل، د دې لپاره چې د ستين فيوز له صلاحيت څخه ډاډه شې، نو د اطمينان لپاره يې بايد مکمل انفجار کړې، همداسې ترمل فيوز هم دی، چې دا به اصلي کار له منځه يوسي، خو هغه پر خپله غوښتنه ډېر ټينګار وکړ او وړانديز يې وکړ، چې د سمندر په ساحل کې دې په يوه صحرايي ځای کې چاودنه وشي، ما دا نظر په بشپړه توګه رد کړ، ځکه ښايي څوک په تصادفي ډول تېر شي او د چاودنې رڼا ووينې او يا يې غږ واوري.

د هغه د ډېر ټينګار په خاطر ما وعده ورکړه، چې ترتيب به برابر کړو، موږ له شګو څخه ډک يو لوی سطل راوړ او په يو ډېر خوندي ځای کې مو تر شګو لاندې تجربه وکړه، دا ډېره برياليی تجربه وه، هيڅ رڼا يې ترسترګو نه شوه، همدلته نو مهاجر ډاډمن شو او ماد الله ﷻ حمد اداء کړ او پخير ببرته راغلم.

زه په ښارونو کې ټولو کارکونکو مجاهدينو ته مشوره ورکوم چې دا ډول تجربې ونکړي، ځکه دا د کار اصل ته زيان رسوي او زه دا يوه له هغو غلطيو څخه ګنم چې د کار په جريان کې پېښه شوه او په بشپړه توګه يې مسؤوليت پر غاړه اخلم.

## وخت تېرېږي...

هر څه تقریبا بشپړ شوي و او یو خورا ساده شی پاتې و، هغه هدف و چې زموږ له انتظار، تعقیب او مسلسل څار سره سره تر اوسه نه و ترلاسه شوی[27]. ټول له انتظار څخه ځکه په وېره کې وو، چې کومه امنیتي تېروتنه یا غیر ارادي غلطي ونشي، یا له موږ څخه یو د غیرقانوني اوسېدنې په شک ونه نیول شي، یا زموږ په سیمه کې کومه شخړه رامنځ ته نشي چې په پایله کې به یې له موږ څخه یو د پولیسو مرکز ته ځي، یا د مخدره توکو د پلورونکو لېون پیل نشي یا داسې نور... او په ساحل کې دا شیان هر ساعت او هر ځای پېښېږي، ورونه اندېښمن وو او ما تل دوی ته د صبر او احتیاط کولو وصیت کاوه، دوی ته مې د الله ﷻ په لاره کې د رباط فضیلت وریاداوه، ځکه کینیا ته ډېر سیلانیان د سیاحت او فساد لپاره راځي او تاسې د جهاد لپاره راغلي یاست، تاسې په سیاحت کې هم له خلکو سره برخه واخیسته او هغه څه مو ولیدل، چې خلک یېویني، نو تاسې داسې سیلانیان یاست، چې اجر درکول کېږي او دوی بیا داسې سیلانیان دي، چې ګناه ورته لیکل کېږي.

هغه پوښتنه چې په مکرر ډول پوښتل کېده دا وه: چې که امریکایان نه راغلل، موږ به څه کوو؟

او ما به دوی ته اطمینان ورکاوه، چې دلته هدف بل دی.

له دوی څخه هیچا حتی ورور هارون هم دا تصور نه کاوه چې امکان لري، زه د ټولې پروسې د بدلولو پرېکړه وکړم. ما داسې اراده کړې وه، چې که هدف له یوې اونۍ څخه زیات وځنډېدی، زه به عملیات نیروبي ته انتقال کړم، چېرته چې د امریکا سفارت دی.

یوه اونۍ وروسته ما خپله پرېکړه وکړه چې ډېره ستونزمنه وه، هغه پرېکړه د ټولو عملیاتو تغییر و او لومړی هدف په دوهم بدلول وو، چې زموږ د اوسېدو له ځای څخه ډېر لیرې و. ټول په دې پرېکړه ډېر حیران شول او زه د پریکړې په اړه د دوی په لیوالتیا حیران وم، موږ د کار یو نوی پړاو پیل کړ، چې زما په شمول ټولو ملګرو په کې د سمع او طاعت برکت احساس کړ، چې دوی ټولو کړی و، سره له دې چې موضوع سخته او خطرناکه وه.

27 ما د هدف یادونه نه ده کړې، امکان لري، چې دا به زموږ راتلونکی پلان وي، ان شاءالله

# د زرو میلونو سفر په یو ګام پیلېږي

دا یوه ډېره ستونزمنه پرېکړه وه، ځکه هغه ټول ترتیبات چې موږ نیولي وو، بدل یې کړل او زه د هغو ځوانانو له منفي غبرګون څخه ویریدم، چې د عملیاتو لپاره یې د اړتیا وړ دومره ډېرو موادو چمتو کولو لپاره ډېرې هڅې کړې وې او خپل ځانونه یې هغو امنیتي خطرونو ته ورکړي وو، چې د کوکاینو تر قاچاق یې خطر زیات دی.

موږ د ټیم له ټولو غړو سره یوه اوږده ناسته وکړه، ما دوی ته نوی هدف او اړین مسائل تشریح کړل، دوی ته مې وویل، چې دا هدف د راتلونکي لپاره وړاندیز شوی پلان و، دا خورا مهم دی او که چېرې موږ د الله ﷻ په فضل سره د دې هدف په ترلاسه کولو کې بریالي شو، خپل دښمن به په خپله ځاله کې ووژنو او دا چې دا ودانۍ په ختیځه افریقا کې د استخباراتي کار د بنسټ ډېره ده، خو قربانۍ، اوسپنیزو هڅو، صبر، د اجر امید او اخلاص ته اړتیا لري. په حقیقت کې ټول ډېر ځواب ویونکي او همکار وو، ما ورته وویل چې تېر کار او نه ستړې کیدونکې هڅې باید هیرې کړو او په هماغه لیوالتیا سره چې موږ خپل پخوانی پلان پیل کړی و، بیا پیل وکړو. ټولو موافقه وکړه او په کار کې یې یو له بل سره سیالي کوله، بیا موږ د نوي پلان د جوړولو او د نقشې د وېشلو لپاره یوه کاري غونډه جوړه کړه.

## کاري پلان

ـ د هدف بیا کشف، ځکه مخکني معلومات لومړني وو.

ـ په نیروبي کې د مناسب کور کرایه کول.

ـ د چاودېدونکو توکو زیاتوالی.

ـ د نیروی په کور کې د پاتې کېدو لپاره کورنۍ درلودل.

ـ د عملیاتو د ترسره کولو لپاره د یو استشهادي مجاهد شتون.

ـ د یوې لارۍ اخیستل، چې دننه یې ماین کاري شي.

ـ د هغې کورنۍ لپاره مناسب موټر اخیستل، چې په نیروبي کې اوسېږي.

ـ د نوي کار لپاره د مناسب مقدار پیسو چمتو کول.

## د کارونو وېش

### دوه اتلان ورونه فهد او شيخ سويدان

ـ دوی به په ډېرو هڅو د اړتيا وړ توکو لوی مقدار پيرلو ته دوام ورکوي.

ـ له ساحل څخه به نيروبي ته مواد نقلوي، چېرته چې نوی کور دی.

ـ د موټربم لپاره به مناسبه لاری اخلي.

ـ لاری په هغو شيانو سمبالول چې د عملياتو لپاره اړين دي د شيخ سويدان دنده ده.

### هارون ورور

ـ نيروبي ته به سفر کوي، ترڅو هدف په دقيق ډول وپېژني.

ـ په نيروبي کې به يو مناسب کور کرايه کوي.

### مهاجر ورور

د بمونو د نصبولو لپاره به نيروبي ته ځي.

## له وخت سره سيالي

موږ بايد په چټکۍ سره کار وکړو ترڅو وکولای شو د نړيوال جام سياليو پرمهال عمليات ترسره کړو، چېرته چې ټول خلک او مامورين بوخت دي، نو فهد او سويدان په نارامۍ په کار پيل وکړ، چې ډېر چاودېدونکي توکي او د هغو لوازم واخلي. شيخ سويدان يو شخصي پيک اپ درلود، هغه وويل چې دا د کار په خدمت کې ده او زه دا کار د الله ﷻ د رضا لپاره کوم، نو په دې سره يو سفر دوه سفرونه شول، چې د اړينو موادو د انتقال د مودې په کمولو کې به مرسته وکړي او د هغو موادو په پرتله چې مخکې اخيستل شوي وو، خورا لږ مقدار پيرودلو ته اړتيا وه، چې دوو مهربانه او اتلانو ورونو وکولای شول، دا کار په ټاکلې موده کې پوره کړي.

ورور فهد يوه شپه ماته راغی، پر هغه د ستړيا او ناآرامۍ نښې ښکارېدې، موږ يو ځای بهر يوه رستورانت ته ووتو.

او د ډوډۍ پر مهال هغه راته وويل چې يوه ستونزه ده.

ما وویل: ساده.... هره ستونزه حل لري، ان شاءالله.

ستونزه څه ده؟

هغه وویل، هغه څوک چې پر موږ چاودېدونکي توکي پلوري، موږ ته یې تمه پیدا شوې ده.

ما ورته په مصری لهجه وویل: بس!

هغه وویل: هغه په دې پلمه غواړي چې پر موږ باندې نرخونه لوړ کړي، څکه هغه وایي، چې ستاسې سوداګري وده کړې او له همدې امله مو ګټه لوړه شوې ده.

ما ورته وویل: څومره زیاتوالی کوي؟

هغه وویل: تر اصلي قیمت شاوخوا 40٪ فیصده.

ما ورته په مصری لهجه وویل: هغه ډېر ښه سړی دی.

که هغه د 100٪ فیصده غوښتنه وکړي، هم بخل مه کوئ.

د قیمت په اړه فکر مه کوئ، مهم شی چاودېدونکي توکي دي.

هغه ته هغه څه ورکړئ چې هغه یې غواړي، موږ تقریبا کار بشپړ کړی دی.

ما هغه ته د هغه کار اهمیت بیان کړ، چې موږ به یې ترسره کوو او دا چې پر امریکا برید او د نړۍ او د هغې د خلکو په وړاندې یې د شهرت ماتول به د مسلمان ملت پر روحونو چې له ډېرو کلونو څخه یې د ذلت او سر ټیټۍ جام څښلی دی، مثبته اغېزه ولري او دا چې له عملیاتو څخه مطلوبې لاسته راوړنې، د جهاد لپاره د مسلمانو ځوانانو هڅول، د الله ﷻ په لاره کې اعداد ته چمتو کول او د مسلمانو خلکو دې ته هڅول، چې د دوی دردناک حالت بدل کړي او داسې نور شیان دي، چې په مقابل کې یې پیسې هیڅ ارزښت نلري .... د دې خبرو په اورېدو سره د فهد ورور پر مخ خوشحالي څرګنده شوه او هغه په داسې حال کې له ماڅخه پورته شو، چې همت او انرژي یې تر پخوا زیات شوي وو.

## د هدف کشف

هارون ورور نیروبي ته لاړ ترڅو هدف په احتیاط سره معلوم کړي اودا لارښوونه ورته شوې وه، چې هیڅ کامره له ځان سره وانخلي او په نیروبي کې به د هدف هیڅ نقشه/سکیچ نه جوړوي، هغه معلومات چې هغه یې راټولوي یوازې دې په ذهن کې حاضر وساتي، څکه ماته هدف ښه را معلوم دی او د عکس اخیستلو یا انځورولو

اړتیا یې نشته. په دریو ورځو کې هغه دنده په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او موږ ته له ټولو اړینو معلوماتو سره راستون شو، موږ د دې معلوماتو مطالعه او ارزونه، د ضعیفو نقاطو پېژندنه او د نوتلو لپاره د تر ټولو غوره نقطې تشخیص د هغې نقشې له لارې پیل کړ، چې موږ د شته معلوماتو پر اساس ، پر دې باندې له ډېر حرص سره جوړه کړه، چې د توان تر کچې ملکي خلکو ته زیان ونه رسېږي، ځکه کینیایان، په بسونو کې مسافرین او د ګاونډیو ادارو کارمندان زموږ هدف نه دي، زموږ یوازینی هدف د امریکا سفارت او د هغه کارمندان دي.

معلومات مو دا و، چې ودانۍ ته تر ټولو آسانه او لنډه لاره د سفارت مخې ته دخولي لاره ده، د ننوتلو تکل آسانه دی، ودانۍ ته د رسېدو لپاره به مو هېڅ لګښت نکېږي، د چاودېدونکو توکو کمه اندازه به کارول کېږي او ودانۍ ته به جدي زیان ورسوي.

دغه پلان له څېړلو وروسته له دې امله له پامه وغورځول شو، چې لارویانو او په ځانګړې توګه د بس او شخصي موټرو سپاریانو ته یې ستر انساني زیانونه اړول. هلته د بسونو ډېر تم ځایونه دي، چې له مسافرو ډک وي، د هیلاسیلاسي سړک د ښار په منځ کې یو له ډېرو ګڼه ګونه لرونکو سړکونو څخه دی او موږ  پر امریکا د برید اراده لرله، نه پر کینیا.

بیا یوه څېړنه د یوه کوچني بم په کارولو سره د سمنټو ځینو خنډونو په ویجاړولو سره د ودانۍ د ویجاړولو په اړه ترسره شوه، چې له هغه وروسته به بیا لارۍ موټر ودانۍ ته نژدې، د سمنټي دیوالونو په شل مترۍ کې چاودل کېږي او ویجاړی به یې له توقع سره سم پراخ وي، د ماین د اندازې په پام کې نیولو سره، دا پلان د تخنیکي ستونزو له امله لغوه شو، سربېره پر دې یې خلکو ته لوی زیان رساوه.

دریم پلان دا و، چې پر ودانۍ د شا له طرفه برید وکړو، چې د ټولو په اتفاق سخت کار دی، خو جانبي عوارض به تر اندازه زیات کم کړي.

پر دغه  طرحه داسې پرېکړه وشوه، چې هارون ورور به له مهاجر ورور سره سفر کوي، تر څو هدف په خپله ووینې، په بشپړ ډول له معلوماتو راضي شي او په دې توګه به موږ له ټولو شته اسبابو څخه ګټه پورته کړې وي. په دوو ورځو کې مهاجر او هارون  خپل ماموریت بشپړ کړ او هغه څه چې موږ پرې موافقه کړې وه تصویب شو.

اوس موږ ته یوه ډېره مهمه او حساسه موضوع پاتې ده، هغه دا چې څوک به په نیروبي کې اوسېږي، چې د کور لپاره یو مناسب پوښ جوړ کړي، په داسې حال کې چې هغه، کورنۍ او ماشومان به یې ډېرو لویو خطرونو ته اوړه ورکوي. پر دې مشورې پیل شوې، چې ددې کار لپاره د صومالیې په ټیم کې له یوه کار کونکي ورور څخه

استفاده وشي، ځکه هغوی په دې ښار کې بلدتیا لري او په سواحلي ژبه پوهېږي. ددې کار لپاره شعیب ورور وټاکل شو، خو هارون په دې دلیل اعتراض وکړ، چې هغه سپین پوستی دی، سواحلي ژبه یې نسبتا کمزورې ده او له دې سره سره د نیروبي په اړه پوهه هم نلري. په دې خاطر شعیب د اوس لپاره بېرته لیرې کړل شو.

د مصطفی ورور په اړه حساسیت ډېر دی او په کار کې ډېر خنډ راوستلای شي، مروان ورور بیا هغه وخت لیرې و او راغوښتل یې ستونزمن و. ما فکر کاوه چې هارون ورور ددې کار لپاره تر ټولو مناسب کس و، خو د هغه کارونه ډېر و، چې زه یې هغه ته ددې کار له سپارلو را گرځولم، خو هغه په ډېر اخلاص خپل ځان وړاندې کړ.

هغه وویل: شیخ ابو محمد! زه دې ماموریت ته چمتو یم.

ما ورته وویل: او ستا کورنۍ؟

هغه وویل: زه به په څو ورځو کې سفر وکړم او هغوی به راولم.

ما وویل: زه په همدې فکر کې وم.

هغه وویل: ای شیخه زه، زما کورنۍ او زما اولادونه په دې دین قربان یو.

ډېر خوشحاله شوم او ددې کار پر آسانه کېدو مې د الله ﷻ حمد ادا کړ.

موافقه مې ورسره وکړه چې خرطوم ته هغه د کورنۍ د راوستلو لپاره سفر وکړي، خو د مطلوب کور له کرایه کولو وروسته.

## د فیلا کرایه کول

ما له هارون ورور څخه وغوښتل چې نیروبي ته لاړ شي، ترڅو هلته یو کور کرایه کړي چې د نویو عملیاتو له شرایطو سره سم وي.

او باید دا لاندې شرایط په کې پوره وي:

نسبتا لوی کور.

یو لوی انگړ لرونکی.

د موټر لپاره پارکینگ.

دروازه یې باید چت ونلري، ترڅو لارۍ ور څخه ننوځي.

کلی یو څه لوړ وي.

سمدستي هارون سفر وکړ او د ورځېانو له لارې یې د اړتیا وړ ځانګړتیاوو سره یو شمېر لوی کورونه وموندل، هغه وتوانید، چې ځینې یې ووینې هم، فیصله د"فیلا" په نوم یوه کور باندې وشوه، چې په یوه ارامه کلي کې و او ټول د اړتیا وړ مشخصات او نور ډېر څه یې لرل. وروور هارون راته وویل چې له مشخصاتو سره یې یو کور موندلی او ویل یې دا کور که وګورې ډېر به دې خوښ شي، خو قیمت یې هغه وخت یو څه لوړ و، چې د میاشتې زرو ډالرو ته رسېدی او د کور مالکې میرمن دا شرط ایښی و، چې کرایه به لږ تر لږه د شپږو میاشتو لپاره وي.

ما ورته وویل چې له هغې سره د درو میاشتو هڅه وکړه او دا ستا د تره د سرطان د علاج موده هم ده، چې له هغه وروسته به بېرته جزیرو ته ستون شي . میرمن مهذبه او مهربانه وه، هارون چې کله پر دوه زره ډالرو ضمانت او دوه زره ډالرو کرایې ورکولو باندې ژمنه ورسره وکړه، نو هغې ډاډ ورکړ، چې له دې وروسته به هغه پرته له وکیل شخه مخامخ کرایه ورکوي.

دغې ښځې په فرانسوی ژبه خبرې کولې، ځکه په پاریس کې یې د کینیا په سفارت کې دنده ترسره کړې وه، دې کار ددې او هارون په منځ کې تفاهم ډېر آسانه کړ، ځکه د هارون فرانسوي ژبه ډېره ښه زده وه. د کومور جزیرې ډېر وخت د فرانسې تر اشغال لاندې وې او فرانسوي ژبه هلته لومړۍ ژبه ده.

کور د اسکندر په نوم کرایه شوی و، په حقیقت کې اسکندر د عملیاتو په اړه هیڅ خبر نه درلود او نه د کاري ټیم غړی و، له دې کار سره د هغه ټول تړاو له هارون سره د هغه پخوانی شناخت و، هغه غوښتل چې د هارون او د هغه د کورنۍ خدمت وکړي، په ځانګړې توګه چې کله د هارون د تره په مرض خبر شو، چې په کینیا کې درملنه کوي او څو میاشتې وخت تېروي، چې کله اسکندر ونیول شو دا خبره یې په تحقیقاتو کې ثابته شوه او خوشی شو.

نوی کور په یو ډېر لوړ کلي کې موقعیت درلود، دا یو کلی و، چې ډېری اروپایان او نور په کې مېشت و، خاموشي او آرامتیا یې ځانګړتیا وه، هیچا له چا شخه پوښتنه نه کوله، د مصریانو خبره: هر یوه یې خپل کار کاوه.

دلته یو خصوصي امنیتي شرکت شتون لري چې د کلي ساتنه کوي، ښکلی کلی د نیروبي ښار شخه په شل کیلومترۍ کې د راونډا ۴۴ په سیمه کې موقعیت لري.

**مشخصات:**

ــ کور دوه لوی پوړونه لري.

ــ یو لوی انګړ د ښکلو ونو په دیوال کې را محاصره شوی دی، کوم چې د کلي ښکلا نوره هم زیاتوي.

ــ یو ګراج د دوو لویو موټرو لپاره کافي لوی دی، هر ګراج خپله دروازه لري.

ــ دوه خونې د تشناب او پخلنځي سره د ساتنې لپاره په کې جوړې شوې دي.

په دې توګه، د اړتیا وړ کور په کرایه شو، پاتې دا شوه، چې هارون خرطوم ته د خپلې کورنۍ د راوستلو لپاره لاړ شي، هارون سمدستي خرطوم ته لاړ ترڅو خپله کورنۍ راولي، له طلحه السوداني څخه یو څه پیسې راوړي او په مشارکاتو کې بریښنایي کورس وکړي.

## هارون په مصر کې

له مومباسا څخه خرطوم ته د ورور هارون لپاره ټکټ اخیستل شوی و، موږ ورور طلحه ته زنګ وکړ او هغه ته مو د هارون د ورتګ د وخت وویل، د ګردونو له سخت طوفان سره سره، ورور طلحه په هوایي ډګر کې د ورور هارون د راتګ شیبې شمارلې، ډېر وخت یې انتظار وکړ، خو هارون او هیڅ سپاري ونه رسېدی، دوی له پوښتنو څخه وروسته خبر شول، چې الوتکه د ګردونو د طوفانونو له امله چې هوا یې سره اړولې وه او لیدل په کې ستونزمن و، د نشست کولو توان نلري، دا ډول طوفانونه په سوډان کې ډېر راځي، چې ځینې یې آن داسې وي، چې ورځ په شپه بدلوي، خلک په وېره او ډار کې وي او فکر کوي چې قیامت را نژدې دی.

ما ماښام مهال ورور طلحه ته زنګ وواهه، د ورور هارون د راتګ په اړه یې راته وویل چې الوتکې د خرطوم پر ځای په مصر کې ببړنۍ ناسته کړې او موږ باید د خپل ورور لپاره ډېرې دعاوې وکړو. سره له دې چې ما پر هارون باور درلود، زه یې په اړه ډېر اندیښمن وم، ځکه مصریان هیڅوک بې له پوښتنې ګروېږنې نه پرېږدي او موږ له دوی سره زموږ د ځینو ملګرو ډېرې تجربې لرو. دوی په سیمه کې تر ټولو فعاله امنیتي دستګاه او ډېر غلام دي، د اردن او سعودي عربستان له مزاحمت سره سره.

موږ د خپل ورور هارون لپاره ډېرې دعاوې وکړې، چې الوتکه یې د لوکسور په هوایي ډګر کې راښکته شوې وه، الوتکه د 50 دقیقو لپاره د لوکسور په هوایي ډګر کې پاتې شوه، بیا یې د قاهرې هوایي ډګر ته الوتنه وکړه، هلته نو هارون فکر وکړ چې دا یې پای دی او حتمي به نیول کېږي، ځکه د هغه په پاسپورت د پاکستان ویزه، د سوډان ویزې او د وادي العقیق شرکت اقامه وه، چې د بن لادن له نوم سره تړاو لري، خو پر بنده ګانو د الله ﷻ رحمت را وړاندې شو، الوتکه د قاهرې په هوایي ډګر کې ښکته شوه، خو مسافر له الوتکې ښکته نشول، د مصر د امنیت کسان یوازې الوتکې ته راپورته شول او د خلکو مخونه یې وکتل، هارون د یوې ایتوپیایي ښځې څنګ

ته ناست و او د امنیتي ټیم د معاینې په وخت کې یې له هغې سره د عامو سپاریانو په څېر خبرې کولې، امنیتي اجنټان په خوندي توګه تېر شول، زموږ ورور ته هیڅ ضرر ونه رسېدی او الوتکې بېرته د خرطوم هوايي ډګر ته الوتنه وکړه، د هارون زړه هم له خوشحالۍ په هوا شو او ژبه یې د الله ﷻ په شکر اداء کولو خوځېده.

په خرطوم کې یې له ورور طلحه سره وکتل او د الکترونیکي توکو د زده کړې کورس یې وکړ، د خپلې کورنۍ د سفر بندوبست یې وکړ او د ورور ابو طلال المغربي (حسین خرشتو) په ګډون یې له یو شمېر ورونو سره وکتل، هغه د القاعده غړی و، خو له ځینو ورونو سره یې اختلاف راغی، چې هغه یې د جماعت له ترجیحاتو څخه لیرې کړ او اوس پر خپلو وزرونو الوت کوي، موږ له الله ﷻ څخه زموږ او د هغه لپاره د هدایت غوښتنه کوو.

## په دارالسلام کې نوې ګرمه نېټه

موږ په مومباسا کې له ورونو سره په کاري ناسته کې وو، ما له دوی سره تنزانیا ته زما د سفر په اړه خبرې وکړې او پر دې وغږېدو چې موږ یوه سروې ترسره کړې، چې هلته د امریکا سفارت دی او که اړین توکي ورته چمتو شي، نو دا یو آسانه هدف دی.

ورور فهد وویل: که تاسې پرې د کار کولو هوډ لرئ، زه کولای شم چې پر ټاکلي وخت اړین توکي چمتو کړم.

ما ورته وویل دا لوی مقدار ته اړتیا لري، د نیروبي له هغه څخه لږ کم.

هغه وویل: زه چمتو یم او پرېکړه ستاسې ده.

له ټولو سره تر مشورې وروسته مې پرېکړه وکړه چې په دارالسلام کې د امریکا پر سفارت کار وکړم.

هلته د کار لپاره اړین پلان ترتیب شو او ددې شیانو غوښتنه یې کوله:

ـــ د ذخیره کولو او ماین چمتو کولو لپاره د لوی کور کرایه کول.

ـــ په کور کې د ژوند کولو لپاره د کورنۍ درلودل یو طبیعي او ساده پوښ دی.

ـــ د موټربم تیارولو لپاره یوه لارۍ اخیستل.

ـــ د ماموریت د ترسره کولو لپاره یو استشهادي ملګری.

ـــ ژر تر ژره اړین توکي چمتو کول.

ـــ د عملیاتو لپاره د اړتیا وړ بودیجې چمتو کول.

له شیخ ابو حفص الکومندان سره مې د یوه پاکستاني ورور له لارې اړیکه ونیوله، اړیکې پټې او له عربي ژبې پرته په بله ژبه وې، ورته مې وویل چې دوو استشهادیانو ته اړتیا لرم او باید لارۍ چلول ور زده شي. یو دریم ملګری هم باید وي، چې د اړتیا په صورت کې شاید پکار شي او یو څه پیسو ته اړتیا لرم، څو ورځې وروسته، هغه ماته وویل چې ستاسې غوښتنه پوره شوې ده ان شاءالله، پیسې به د یوه ورور په لاس ژر درته ورسېږي، ورور له پیسو سره رالېږل شوی و، ما د هغه د هرکلي بندوبست وکړ، خو هغه ډېر وځنډېدی، وروسته پوه شوم چې هغه له ځینو ستونزو سره مخ شوی دی، چې موږ ته یې د رارسېدو په مخ کې خنډ جوړ شوی دی.

## مصطفی او پټ کار

ما غوره وبلله چې ورور مصطفی تنزانیا ته لاړ شي ترڅو په هغه کور کې پاتې شي چې موږ یې د موټر بم د چمتو کېدو تر وخته په کرایه اخلو، ټولو له دې وېره درلوده، چې ورور مصطفی به له دې ماموریت څخه انکار وکړي، ځکه چې هغه دومره امنیتي خطر نشي زغملای او هغه به بې د چا له ویلو په دې پوه شي، ما بل نظر درلود که چېرې ورور مصطفی له موږ سره کار ونکړي ، هغه خورا راز داره دی او د القاعدې ټول مشران ورباندې باوري دي، هغه به زموږ هیڅ راز افشاء نکړي، بلکې هغه د القاعدې له مهمو کدرونو څخه دی، چې موږ په صومالیه کې اعتماد ورباندې کوو.

ما استخاره وکړ او د سهار په لسو بجو د ورور مصطفی کور ته لاړم، موږ د 1439 هجري قمري کال د صفرې په میاشت کې وو او د ۱۹۹۸ میلادي کال د جون میاشت وه، ما د کینیا د کاغذونو په اړه خبرې ورسره وکړې، چې آیا هغه خلاص شوي دي کنه؟ د صومالیې په اړه مو په یو شمېر نورو مسائلو هم خبرې وکړې او پر امریکایانو د برید د اړتیا او د هغوی د وقار د ماتولو په اړه مې خبرې پیل کړې، چې دا کار به د جهاد په لاره کې سترې مثبتې اغېزې ولري. دا به ډېر ځوانان دې ته وهڅوي چې جهاد او اعداد ته اماده شي او عرب او مسلمان خلک به دا احساس کړي چې د دوی د غلامو حکومتونو د حامي وهل ټکول او سپکاوی هم امکان لري، چې خلک به د دوی د واکمنانو پر وړاندې پاڅون وکړي ترڅو د دوی دردناک واقعیت بدل کړي.

بیا مې د موضوع په وړاندې کولو پیل وکړ.

ما وویل: زه به تاسې ته د یو ډېر پټ کار وړاندیز وکړم، که تا ومانه، خو صحیح ده، کنه نو ته باید ژر تر ژره افغانستان ته لاړ شې او داسې فکر وکړې، چې هیڅ دې نه دي اورېدلي، پرته له دې چې: کاغذونه دې بشپړ کړي دي، کنه؟

په ارامه غږ یې وویل: مهرباني وکړه!

ما ورته وویل: موږ په دارالسلام کې د امریکا پر سفارت د برید اراده لرو او غواړو، چې ته او ستا کورنۍ په هماغه کور کې تر هغه وخته پاتې شئ، ترڅو موټر بم تیاریږي او دا حتمي امر نه دی، بلکې که یې توان نلرې، کولای شې رد یې کړې.

هغه وویل: ماته وخت راکړه، سبا به ځواب درکړم.

ما وویل: سبا د سهار لس بجې به زه له تا سره یم.

ویې ویل: ښه

بله ورځ پر هماغه وخت یې راته وویل، "زه موافق یم، خو زما له کورنۍ او ماشومانو پرته."

ما وویل: د یوې کورنۍ شتون اړین دی ځکه د دوی شتون ټول هغه شکونه لیرې کوي چې د یو کور په اړه راپورته کیږي.

هغه وویل دا سمه ده، خو زه مې پر کورنۍ ویریږم.

له لنډو خبرو اترو وروسته، هغه موافقه وکړه چې تنزانیا ته له خپلې کورنۍ سره د استوګنې لپاره سفر وکړي، په دې شرط چې د هغه لپاره پاسپورت او د پاکستان ویزه چمتو شي، چې د عملیاتو له پای ته رسېدو وروسته سمدستي سفر وکړي، ما د هغه غوښتنه ومنله او زموږ له هوکړې سره سم چې هر څه اړین و، چمتو شول.

## هارون کینیا ته ستنیږي

شاوخوا یوه اونۍ وروسته هارون نیروبي ته راستون شو، خپله کورنۍ یې د خپلو ځینو ملګرو په کور کې پرېښوده او د ډېرو پیسو په اخیستو سره د ساحل په لور روان شو، د چټک بریښنایي زده کړې کورس او ځینې نوي معلومات یې له هغه ورونو څخه تر لاسه کړل، چې اروپا ته یې سفر کړی و.

بیا هغه د ورور فهد په شخصي موټر کې نیروبي ته راغی، تر دې چې موږ ورته یو موټر واخیست، په دوه ورځو کې ورور هارون په خپل نوي کور کې و او کورنۍ یې د سوبا له ختیځو کورونو څخه د نیروبي ترټولو غوره کلي ته لاړه، دغسې د مجاهدینو حال دی.

## د زر کیلومترو سفر په یو گام پیلیږي

د ساحل او نیروبي تر منځ د تگ او راتگ فاصله شاوخوا زر کیلومتره ده او ورور فهد او شیخ سویدان باید د کار له جدي والي، ستونزو او د لارې له خطر سره سره په ځانگړې توگه د شپې لخوا له ساحل څخه نیروبي ته مواد انتقال کړي، وروښو په ټول جدیت او فعالیت سره خپل کار پیل کړ، هر یوه داسې احساس وکړ چې هغه ساعت نژدې دی، چې دوی یې د اوږدې مودې لپاره انتظار کاوه او ورور هارون د هغو موادو ترلاسه کول پیل کړل. په حقیقت کې، د کار سرعت په حیرانتیا سره روان و، ساحلي ورکشاپ خالي کېدی او د نیروبي ورکشاپ ډکېدی.

## امونیم نایټریټ

ورور المهاجر رحمه الله په خپل کار کې ډېر هوښیار و او غوښتل یې چې د دې ماینونو د بشپړ نه چاودېدو له هر احتماله ډډه وکړي، ځکه چې دا به د بم تخریبي ځواک کم کړي، نو ماته یې وړاندیز وکړ، ځیني وړاندیزونه چې له تخنیکي پلوه ښه وو، خو په عمل کې یې پلي کول ستونزمن کار و، په ځانگړې توگه کله چې تاسې په ښارونو کې کار کوئ . هغه وړاندیز وکړ چې د ټي ان ټي ماده ذوب / ویلې شي او په لویو قالبونو کې واچول شي، ددې طرحې تر بحث وروسته د مادې د ذوب کولو د سختۍ او د استوگنې په سیمه کې د کیمیایي بوی د خپریدو د احتمال له امله چې زموږ لپاره لوی ناورین کېدای شو، پرېښودل شوه.

## دوهم وړاندیز

د چاودېدونکو قالبونو یوه برخه په پوډرو بدلول و، چې په قالب کې ټول تش ځایونه ډک کړي، چې دا یقیني کوي چې چاودنه د ټول ماین په اوږدو کې ترسره کېږي. دا وړاندیز له ډېر سختوالي سره سره ممکن دی، دا ډېرو هڅو ته اړتیا لري، په ځانگړې توگه کله چې موږ پوهېږو چې نژدې د یوه ټن څلورمه برخه قالبونه په پوډرو بدل کړو، مهاجر ورور ژمنه وکړه چې دا کار به په لاس ترسره کړي.

## د ژرندې د مِل نظریه

ما له مهاجر ورور سره د یوې داسې طریقې پیدا کولو په اړه خبرې وکړې، چې زموږ مطلوبه اندازه مواد ژر وربانديې میده کړای شي، هغه ددې کار لپاره د یوې وړې ژرندې د اخیستلو وړاندیز وکړ، ما له ورور فهد څخه وغوښتل چې د یوې مناسبې ژرندې پوښتنه وکړي، چې حجم یې کم وي، د کور په برېښنا وچلېږي او غږ یې

ورو وي، چې د کوم تکلیف لامل نشي. وررور فهد د وړې ژرندې لټون وکړ، خو ویې نه موندله، یوه ورځ موږ د ژرندو یوه لوی شرکت ته لاړو، هلته ډېرې ژرندې وې، چې بیلابیلې اندازې یې لرلې، هغه یوه ته اشاره وکړه او ویې ویل: "دا په دې ځای کې تر ټولو کوچنۍ ژرنده ده، موږ د ژرندو په اړه پوښتنه ورځخه وکړه، نو پوه شوو، چې تر ټولو کوچنۍ مل یې په درو فیوزونو کار کوي، پدې معنی چې دا د کور بریښنا لپاره مناسبه نه ده او غږ یې د استوګنې د آرام کلي لپاره مناسب نه دی. مهاجر وررور د غوښتنې په مشکل قانع شو او ویې ویل: "زه به دا په لاس باندې میده کړم، که څه هم دا خورا پېچلې او په ورته وخت کې د روغتیا له نظره خطرناک کار دی."

له کارګرانو څخه یو موږ ته وویل چې تاسې کولای شئ خپل مطلوب شی په نیروبي کې ومومئ او هغه موږ ته د یوه پلورنځي ادرس راکړ، چې هلته د ژرندو پلورلو کاروبار کوي.

ما فهد وررور ته وویل چې نیروبي ته لاړ شي او په ټولو پلورنځیو کې چې دا ډول ژرندې پلوري، پوښتنه به وکړي، هغه سمدستي نیروبي ته لاړ او هلته یې څو ورځې پوښتنه وکړه، خو کومه ګټه یې ونه کړه، یو سوداګر ورته وویل، ما د کور د کارونې لپاره درې وړې ژرندې اخیستې وې، په هغو کې مې یوه د خپل کور لپاره واخیسته او هغه تر اوسه پورې نوې ده، موږ یې نه کاروو، که ستا ورته اړتیا وي، سبا راشه، چې ویې ګورې، په سبا سهار فهد وررور دکان ته ورغلی او ویې لیدل، چې ژرنده د دکان مخې ته پرته ده، نژدې و، چې له خوشحالۍ څخه والوزي، سمدستي یې ماته زنګ وواهه، خبر یې راکړ او ویې ویل چې هغه سړي زما له اړتیا څخه ګټه پورته کړه او قیمت یې دوه چنده کړ.

نو ما ورته وویل، دا واقعا ښه سړی دی، چې هر څومره غواړي، زه به یې ورکړم.

دوه یا درې ورځې وروسته ژرنده زموږ په کور کې وه، موږ یې تجربه وکړه، په زړه پورې وه، حبوبات یې په خورا چټکۍ سره ژرنده کول او مختلف سرعتونه یې لرل، همداراز یې په نرمي او سختي سره کار کاوه. د مهاجر وررور لپاره دا له خوشحالۍ ډکه حیرانتیا وه، ځکه دا به د هغه ډېر وخت او هڅې وسپموي.

## د لرګیو بکسونه

وررور المهاجر د څو بکسونو د ډیزاین غوښتنه وکړه چې ماینونه له ټاکلو ځانګړتیاوو سره سره په کې ځای پر ځای کړي او هغه یې هغه اړخونه معلوم کړل، چې ده غوښتل، ما دا کار وررور ابو یحیی ته وسپاره، ( خپل نوم یې شیخ سویدان دی) هغه په مسلکي ممتازه هوښیاري پېژندل کېدی، موږ به چې داسې یو څه ورځخه وغوښتل، نو هغه به تر هغه ډېر ښه راته جوړاوه، چې موږ به غوښتی و، هغه په اصل کې له یوه نجار سره تړون وکړ چې درې نمونې بکسونه جوړ کړي، چې یو یې غوره شو، بیا پر پاتې نورو موافقه وشوه، ورکشاپ په وقفه وقفه کې

د اړتیا وړ هرڅه چمتو کول پیل کړل او هغه په نیروبي کې ښکلې فیلا ته ولېږدول شول، خو په داسې طریقه چې هیڅکله به د چا ور پام نه شي.

## امونیم نایټریټ

موږ په افغانستان کې پخوانۍ تجربې درلودې چې د امونیم نایټریټ لوی ماینونه چې له المونیم پوډر سره مخلوط شوي وي، که د تیاري په وخت کې وچاودل شي، نو نسبتا ډېر تاثیر لري، خو که د څو ورځو لپاره وځنډول شي، ډېر کمزوری کېږي، ځکه رطوبت ډېر ژر جذبوي او کله چې د رطوبت سطحه لوړه شي، ویجاړونکی ځواک ضعیفه کوي، آن تر دې چې که وځنډېږي، نو ټول ماین له بشپړ زیان سره مخ کېږي، **زه هیڅ هغه ټیم ته چې په ښارونو کې کار کوي، مشوره نه ورکوم چې پر دې ماینونو د اصلي ماینونو په توګه تکیه وکړي، په ځانګړې توګه که هدف ودانۍ وي، یا هدف د ټینګښت او پایښت لرونکی وي، خو دا ډول مواد کېدای شي په بسته بندي کولو کې مرسته کوونکی فکتور وي، نه اصلي مواد.**

له ډېرو خبرو، بحث او فکر سره مو دا نظر راغی چې یو اندازه امونیم نایټریټ او المونیم پوډر وپېرو، او سره یوځای یې کړو، چې د صندوقونو خالي ځایونه ډک کړي، دا به ډېر کوشش وسپموي، وخت به را لنډ کړي او د ماین جوړونې اندازه به زیاته کړي.

ما له ورور فهد او شیخ سویدان څخه د نایټریټ امونیم او المونیم پوډرو د اندازې د پیرلو غوښتنه وکړه، دوی ویل، موږ به دا په ډېره نرمي سره وپلټو، ځکه دا مواد له رسمي اجازې پرته نه پلورل کېږي او که امکان ولري، موږ باید له یوه بزګر څخه د نایټریټ په اخیستلو کې کومک واخلو. له څو ورځو وروسته د دوی ځواب راغی، چې د نایټریټ اخیستل امکان لري، خو احتمالي خطر ورسره شته، ځکه موږ چې له هرچا ددې موادو پوښتنه کړې ده، هغه راته وایي، د څه لپاره مو پکار دي؟ موږ ورته وایو د تجارت لپاره، موږ یې د بزګرانو لپاره اخلو او ځینې نیک تجاران بیا موږ ته نصیحت کوي، چې له دې ډول توکو څخه لیرې واوسو.

د المونیم پوډرو بیا خورا سخت او ستونزمن کار دی، هر څوک چې موږ د المونیم پوډر په اړه پوښتنه ورڅخه کوو، زموږ څېرو ته د حیرانتیا او شک په نظر ګوري او ځواب راکوي، چې دا خطرناک مواد دي،په چاودنو کې کارول کېږي او یوازې په رسمي اجازه یې پلور کېږي.

ما ورته وویل: د المونیم پوډر په هغه پلورنځیو کې پلورل کېږي چې د رنګمالۍ وسائل پلوري، خو هغه چې اجازه لري یوازې څو محدود ګرامونه دي، چې د ډیکوریشن له ځینو رنګونو سره ګډېږي، ما په دې اړه مخکنۍ تجربه درلوده او ما دا پوډر څو ځلې اخیستي وو، خو هغه وخت زه نه پوهېدم چې دا مواد منع دي.

د موضوع له ستونزو او امنيتي خطر سره سره، موږ پرېکړه وکړه چې دوام ورکړو، سره له دې چې موږ پوهېدو، چې دا مواد په نړیواله کچه له هغو چاودېدونکو توکو سره طبقه بندي شوي دي، چې له رسمي جواز پرته يې پلورل منع دي، حتی د دوی په اړه پوښتنه کول لوی شک څرګندوي او دد غه کس په اړه امنيتي چارواکو ته خبر ورکول کېږي.

په لومړي سر کې ورور فهد وکولای شول چې د رنګ کولو له يوه پلورونکي څخه سل ګرامه المونيم پوډر واخلي، کار سخت نه و، ځکه مقدار لږ و او د دې کار د خلکو له غوښتنو سره يې سمون خوړ، هغه يې کور ته راوړل.

هغه وویل: ایا دا د اړتیا وړ پوډر دی؟

ما وویل: بالکل عین همدا شی دی.

هغه وویل: نو بیا زه د دوهم ځل لپاره هڅه کوم.

ما وویل: خو په ډېر احتیاط سره.

هغه همغه سوداګر ته ورغی او د زیاتو موادو غوښتنه يې ورڅخه وکړه.

هغه ترې وپوښتل چې د څه لپاره يې غواړې؟

فهد وویل: زه غواړم په تنزانیا کې يې په لوړه بیه وپلورم ځکه دا مواد هلته نشته او يوه سوداګر يې له ما څخه غوښتنه کړې ده.

هغه وویل: دا ممنوع توکي دي، خو که له تاسې سره سوداګر وي او ته غواړې، چې د نرخ له توپیر څخه ګټه پورته کړې، نو ګټه به يې په خپل منځ کې برابره سره وېشو او زه به تاته دا مواد چمتو کوم.

ورور فهد د هندي سوداګر وړاندیز ومانه او له هغه يې وغوښتل چې دوه کیلوګرامه د لومړۍ معاملې په توګه چمتو کړي او شاید په راتلونکو معاملو کې به ددې اندازه نوره هم زیاته وي، چې ګټه به يې زیاته وي.

څو ورځې وروسته ورور فهد د مال د ترلاسه کولو لپاره ورغلی، خو سوداګر د وېرې له امله له خپلې ژمنې پر شا شو.

ورور فهد له یو ځخه زیاتو سوداګرو سره هڅه وکړه، خو هغه یوازې د څو محدودو ګرامو[28] په ترلاسه کولو وتوانیدی، خو هڅې یې ونه درولې او ورونو د یوه سوداګر له لارې وکولای شول چې یوه شرکت ته ورشي، کوم چې دا ډول توکي پلوري، دوی د شرکت یو کارمند شتاخته کړ او له ډېرو هڅو وروسته یې قانع کړ، چې دوی د المونیم پوډرو یوې اندازې ته د سوداګرۍ لپاره اړتیا لري[29]. هغه موافقه وکړه چې هغه مقدار چمتو کړي چې دوی یې په ډېر مشکل سره غوښتنه کړې وه.

او ناټریټ که څه هم ترلاسه کول یې ستونزمن دي، خو د المونیم پوډر په پرتله آسانه دي، ځکه د ملکي ژوند په لومړنیو ضرورتونو کې ډېر پکارېږي، په ځانګړې توګه په کرنه کې، او په لوی مقدار شتون هم لري.

له سختو هڅو او سترو امنیتي خطرونو وروسته الله ﷻ فهد او شیخ سویدان ورونو ته توفیق ورکړ، چې د عملیاتو لپاره دا اړتیا وړ او حتی تر هغه هم زیات مواد واخلي. توکي د نیروبي فیلا ته ولېږل شول، په همدې توګه د موادو کار خلاص شو او هر څه د ماینونو د ترکیب لپاره چمتو شول.

اتل او صابر ورور ابو عبدالرحمن المهاجر په ټاکلي وخت کې د ماینونو تیارولو لپاره ډېرې سختې هلې ځلې وکړې، د سهار له لمانځه وروسته به هغې غرفې ته ننوت، چې د کار لپاره ځانګړې شوې وه او د ماسپښین تر اذانه پورې به یې هلته کار کاوه. هغه یوازې د ډوډۍ او ترخو چایو څښلو لپاره بهر ته راوتی.

نیکې خور ام لقمان د الله ﷻ د رضا لپاره د ورونو ښه خدمت کاوه، که څه هم خاوند به یې ورته ویل چې دا کار له سمندري سوداګرۍ سره تړاو لري، موږ په شرقي افریقاکې اقتصادي کار پیل کړی دی او موږ په ساحل او په ځانګړې توګه مومباسا کې ځانګې لرو.

## په تنزانیا کې د چمتووالي لړۍ

په تنزانیا کې کار د کینیا له کار سره په موازي توګه روان و، ورور فهد په کاري ټیم کې یو غړی شامل کړ او هغه ته یې ځینې مهم کارونه وسپارل، چې ځینې یې دادي:

ــ د یوه داسې کور موندل چې د نیروبي د کور په څېر ځانګړتیاوې ولري.

ــ د اړینو چاودېدونکو توکو د اخیستلو لړۍ پیلول.

28 دا په ښارونو کې د کار طبیعت دی، چې باید ځینې خطرونه پر ځان واخیستل شي.

29 دوی له الله ﷻ سره د تجارت نیت کړی و او دا بې له شکه یو ګټور تجارت دی.

په حقیقت کې کار په چټکۍ سره پر مخ روان و، د توکو اخیستل او لېږد رالېږد د پخوا په پرتله ډېر آسانه و او موږ ټولو د خپل کار په ټولو پړاوونو کې د الله ﷻ د مرستې احساس کاوه.

## مصطفی تنزانیا ته ځي

وروړ مصطفی خپل کور په ساحل کې پرېښود او د تنزانیا لور ته یې د خپلې کورنۍ له غړو سره مخه کړه، هغه راته وویل چې پاسپورت به یې ډېر ژر راشي او که راغی نو ډېر به ښه شي، موږ به د هغه او د هغه د میرمنې لپاره ویزه ترلاسه کړو، ترڅو هغه وکولای شي، چې د خپل کار له سر ته رسولو وروسته دا هیواد پرېږدي او ما د همدې ژمنه ورسره کړې وه.

## د لومړي استشهادي راتګ

له موږ سره د وروڼو رابطه وشوه، چې وروړ عزام المکي، چې اصلي نوم یې جهاد دی، د عملیاتو لپاره راځي او وروړ عزام المکي د عربي جزیرې یو ځوان دی، چې د شلو کلونو په لومړیو کې دی هغه یو آرامه، مؤدب، خوش اخلاقه او ښکلی سړی دی، چې پر مخ یې تل ښکلا ځرګنده وي.

له خپلې کم عمرۍ سره سره پر زړه د امت غم او مسائل ګرځوي او له لومړۍ ورځې څخه یې چې په جلال اباد کې له موږ سره ولیدل له شیخ اسامه رحمه الله څخه یې وغوښتل چې نوم یې د استشهادیانو په لیست کې شامل کړي او شیخ هغه یو خیر ګاڼه. د هغه د راتګ په ورځ ما له وروړ هارون څخه وغوښتل چې د هغه د استقبال لپاره په هوایي ډګر کې وي او زه به احتیاطا د مومباسا هوایي ډګر ته لاړ شم، پر ټاکل شوي وخت عزام د نیروبي په هوایي ډګر کې و، هارون وروړ یې استقبال کاوه او له پروسې بشپړولو وروسته دوی دواړه کور ته لاړل، ماته هارون زنګ وواهه او د هغه د رارسېدو خبر یې راکړ.

## د پیسو په کیسه کې نه کېدل

کارونه په چټکۍ سره روان و او پیسې د ختمېدو په حال کې وې، نو ما طلحه وروړ ته زنګ وواهه او ورڅخه ومې غوښتل، چې ژر تر ژره ۳۰۰۰۰ ډالر را انتقال کړي، په سهار زه لاړم او پیسې مې ترلاسه کړې، د کار څرخ په هماغه تیزۍ سره اوښت، ټیم په حیرانتیا سره کار کاوه، ټول وروڼه که له ما سره په کینیا او تنزانیا کې وو، یا په سوډان کې وروړ طلحه و، چې دوی ته به کومه لاښوونه وشوه، سمدلاسه یې په سمه توګه ترسره کوله، په

حقیقت کې زه د کار په هره مرحله کې د سمع او طاعت نه کولو له امله نه یم په تکلیف شوی، دوی ټولو په مثالي توګه هر امر ته ځواب وایه.

زه وایم: چې د معاصرو جهادي ډلو په تاریخ کې مې په لوستلو سره ولیدل چې د دې ډلو په لاره کې تر ټولو لویه نیمګړتیا د سمع او طاعت د مسألې کمزورتیا او د ځینو عناصرو په منځ کې د هغې نشتوالی دی، چې د دې ډلو په منځ کې په انفرادي او اجتماعي کچه د رخنې د رامنځته کېدو بهیر یې ګړندی کړی دی او د نیمګړتیا اصلي لامل د دوو بنسټیزو ستنو په اهمیت د پوهېدو نشتوالی دی، چې دا په معروف کې د سمع او طاعت ستنې دي، ځینې نورې نیمګړتیاوې د نورو مسائلو له امله دي، چې ځینې یې شخصي دي او ځینې یې اخلاقي دي، په ځانګړې توګه له دې امله چې په جهادي کار کې د امت ګڼ شمېر وګړي د بېلابېلو مذاهبو او افکارو په لرلو سره شامل دي، پر دې چې ټول د الله ﷻ په لاره کې د جهاد غوښتونکي دي، جهاد د اشرافو لخوا نشي کېدای، لکه څنګه چې یې دا ځینې خلک فکر کوي.

## د لارۍ اخیستل

مهاجر ورور شېه او ورځ په نیروبي کې په هغه آرام کور کې کار کاوه، له ما څخه به یې د لارۍ پوښتنه کوله نو ما به ورته ویل، چې پر ټاکلي وخت به درته ورسېږي ان شاءالله . ما ورڅخه وغوښتل، چې موږ ته د هغو بکسونو شمېر راوښیي، چې موږ یې د لارۍ شاته په سمه توګه چمتو کړو، نو هغه موږ ته د بکسونو دقیق شمېر په ګوته کړ، موږ هغه ځای په دقت سره اندازه کړ، چې د لارۍ دننه په اوږدوالي او عرض باندې بکسونهورباندې ځایېږي، له دې سره مو هغه بیټرۍ هم وکتله، چې د انفجار په وخت کې کار ورڅخه اخیستل کېږي، په دې توګه دغه لارۍ په دقیق او مستحکم ډول په ورکشاپ کې دننه چمتو شوه، چې د الله ﷻ په فضل سره دغه فضیلت د محترم ورور شیخ سویدان چې کنیت یې «ابو یحیی الکیني» و، په برخه شو.

## عملي تجربه

فهد ورور د لارۍ په اړه نظر درلود، هغه دا چې موږ باید د لارۍ پر ځای یو پک اپ واخلو، د هغه لپاره به د شا د بکس ترتیب جوړ کړو او د هغه له نظره دا به د کار کولو لپاره کافي وي او په دې سره به موږ د لارۍ له پیرلو څخه وژغورل شو، چې ممکن د پام وړ وي او پوښتنې راپورته کړي. که څه هم ما هغه ته هغه طریقه تشریح کړه چې لارۍ به وربانډې استفاده کړل شي او پاملرنه به هم راجلب نه کړي، دا مې هم ورته وویل چې بمې بسته

لویه ده او ډېر ځای ته اړتیا لري، خو هغه په خپل قناعت ټینګار وکړ، سره له دې چې هغه د هر هغه کار کولو ته تیار و، چې ورڅخه غوښتل کېدی.

ما وویل: ایا ته د یوې ورځې لپاره له خپل یو ملګري څخه پک اپ اخیستلای شې؟

هغه وویل حتما.

ما وویل: سبا ستا په انتظار یم.

بله ورځ موټر زما له کور سره په نژدې مسافه کې ولاړ و او له فهد ورور سره شیخ سویدان ورسره و.

ما فهد ورور ته وویل: اوس لاړ شه او په موټر کې یو نیم ټن سیمنټ او یا د سمنټو ډبرې واچوه ، دا د هغه ماینونو له بار څخه ډېر سپک بار دی، چې په نیروبي کې چمتو کېږي او بیا یې د شا له طرفه وګوره، چې د موټر حالت څنګه دی؟

هغه سمدستي لاړ او له توافق شوي بار سره بېرته راستون شو، خو له یوه نوي قناعت سره، ځکه موټر د شا لخوا ډېر ځوړند شوی و او د هر عادي سړي پام یې ځانته را اړاوه، ترافیک پولیس خو لا پرېږده.

هغه په خندا راته وویل: اوس په درس پوه شوم!

په دې توګه مهربانه ورونه فهد او شیخ سویدان (ابو یحیی الکیني) د اووه ټنه وزن وړونکې لارۍ، چې ښه کیفیت ولري اخیستلو لپاره لاړل[30]، دا په هغه صورت کې که چېرې "زیرو" موټر نه پیدا کېدی، دواړو ورونو له موټرو سره خورا ښه تجربه درلوده، په ځانګړې توګه ورور شیخ سویدان، دوی تحقیق او پوښتنې وکړې، په څو ورځو کې موټر زموږ په لاسونو کې و او سمدستي ورور ابو یحیی د هغه څه د چمتو کولو لپاره لاړ، چې موږ وړاندې موافقه کړې وه، ما ترې وغوښتل چې ما په جریان کې واچوي، ځکه زه په دې کار کې پخوانۍ تجربه لرم. له ورور فهد څخه مې وغوښتل چې په کینیا کې غوره بیټرۍ واخلي، نو هغه ماته د څو ډوله بیټریانو وړاندیز وکړ، چې غوره یې د کینیا بیټرۍ وه، موږ دوې لویې بیټرۍ واخیستې او ورور ابو یحیی د موټر د بکس دننه په مسلکي او پراخه توګه ځای پرځای کړې، د دې لپاره چې د لارۍ هدف ته د تګ پر مهال بیټرۍ هیڅ ډول حرکت

30 زه هغو ټولو مجاهدینو ورونو ته چې په ښارونو کې کار کوي نصیحت کوم، سخي اوسه... ځینې ورونه د مناسب موټر په اخیستلو کې د خپلو نیمګړتیاوو له امله په عملیاتو کې ناکام شوي دي، په دې دلیل چې دوی وایي دا موټر به د عملیاتو په لومړۍ لحظه کې لا ایرې شي، نو د نوي موټر اخیستلو ته اړتیا نشته دا بس دی چې یو زوړ موټر وي، هدف ته ورسېږي او هلته له منځه لاړ شي، دا د ځینو ورونو له خوا تر ټولو لویه غلطي ده، دوی دا ګمان کوي، چې د مسلمانانو د مالونو ساتنه کوي، خو اصل خبره ددې برعکس ده. غوره موټر، غوره بیټرۍ، غوره امنیتي کیلي او غوره د انفجار کیلي واخله او د دواړو کیلیانو رنګ باید سره جلا وي.

ونه کړي، ما له هغه سره په ورکشاپ کې د موټر چمتو کولو مرحلې تعقیبولې، په حقیقت کې د ابو یحیی مهارت په دې برخه کې زما په پرتله ډېر ښه و، زه د هغه له په زړه پورې هنري لمسونو څخه متاثر شوم چې ډېزاین ته یې کمال او ښایست ورکاوه. وروسته له هغه چې ډېزاین بشپړ شو او بکس دننه مکمل چمتو شو، بیا په ډېر ښکلي رنګ ورنګول شو[31]، چې د جمال او کمال په انتها کې و. فهد ورور له وروستنیو لاسوهنو وروسته هغه نیروبي ته بوتله چې په هغه خاموش کور کې ناوې شي، د امریکایانو په وړاندې له اوره ډکه شي، او په نړۍ کې د میلیونونو مظلومانو غچ واخلي.

## په ښار کې دننه چټکه روزنه

ورور عزام رحمه الله، په موټر چلولو کې هم ښه مهارت درلود او پر هغه لاره یې څو ځله تجربه وکړه، چې د عملیاتو لپاره به وړاندې ټګ کوي، خو له یوه کوچني موټر سره او چې کله لارۍ راغله، غوښتل یې پر همدې لاره یې تجربه کړي، خو دا یو ډول خطر و، په ځانګړې توګه ځکه چې هغه د موټر چلولو لایسنس نه درلود، خو دا اړینه وه چې هغه دا کار وکړي، نو سمدلاسه له لارۍ سره تر یو ځل زیات هدف ته لاړ، البته د عملیاتو ځای ته نژدې عین هغه ځای ته نه. هغه د هغه چا په ژبه چې پر الله ﷻ باور لري وویل: زه په آسانۍ سره هدف ته رسېدلای شم، ان شاءالله.

موټر د عملیاتو د ورځې په تمه د تیارۍ لپاره د کور یوې کوټې ته ننوت.

## د ۱۹۹۸م فوټبال نړیوال جام

د نړیوال جام سیالۍ پیل شوې او د مومباسا ښار په یو نوي ښار بدل شو، نوې جامې یې اغوستې وې، څوک چې پر دې سړکونو تېرېږي فکر کوي چې د نړیوال جام لوبې د همدې ښار په لوبغالي کې ترسره کېږي. د نړیوالو لوبغاړو عکسونه په پراخه کچه نشر شوي دي، خلک شپه او ورځ د سیالیو په اړه خبرې کوي، چې نن لوبه به څوک وګټي؟ غوره لوبغاړی څوک دی؟ جام به څوک وګټي او څوک؟ او څوک؟

د زاړه ښار Old town یو ځانګړی حالت و، چې ما په خپل ژوند کې کومو هیوادونو ته سفر کړی دی، په یوه کې مې نه و لیدلی. د شپې د لوبې پیلیدو له وخت څخه مخکې سړکونه په بشپړه توګه تړل کېږي او یو څوک د

31 بکس رنګ کېدای شي او په ښار کې د کار کونکو شرکتونو نقاشي پر هغه باندې رسم کېدای شي ، لکه د آیس کریم شرکتونه، د ماشومانو د لوبو، پیپسي کولا او داسې نور.

ټلویزیون لوی سکرین د کلي په منځ کې ځای پر ځای کړي، ځوانان او سپین ږیري د لوبې لیدلو لپاره راټولېږي، د لوبې له مزل سره سم د خلکو غږونه پورته او ښکته کېږي او که تاسې په همدې وخت کې کار لرئ نو باید د کیپ اپ ګوډ هوپ پر لاره تېر شئ، ترڅو خپل هدف ته ورسېږئ.

د خلکو ژوند په سپورتي عرس بدل شوی و، هر چا غوښتل، چې ټول کال دا لوبې دوام ولري، ځکه د خلکو ژوند خورا ستونزمن او له سترپاوو ډک دی، نو د دې سپورت عرس د خلکو له ژونده دردونه او ستونزې کمې کړې، که څه هم زه په دې اړه مختلف نظر لرم، چې زه به یې راسره وساتم. زه له دې جام څخه ډېر خوشحاله وم، که څه هم ما هیڅ لوبه نه ده تعقیب کړې، خو ما د خپل کار لپاره په آزاده توګه، په امن و امان کې تګ راتګ کاوه او دوی ټول په نړیوال جام بوخت و. زه یوازې د خبرونو له لارې د پایلو اورېدلو ته لیواله وم ترڅو له صوفني ورور سره د روان بهیر په اړه د خبرو توان ولرم، چې کله هغه ما ته د لوبو په اړه د خبرو کولو لپاره د ځانښت په وخت کې راځي، زه ویریدم، چې که چېرته ورته ووایم، چې ما لوبې نه دي لیدلې، دا به هغه ډېر زیات حیران کړي، ما به هر وخت له هغه سره په خبرو شروع کوله، د مثال په توګه، تاسې د فرانسې د ټیم په اړه څه فکر کوئ؟ یابه مې د بل ټیم په اړه پوښتنه ورڅخه وکړه، ورته ناست به وم او د هغه نظرونو، پر ځینو لوبغاړو او هغو روزنکو نیوکو ته به غوږ وم، چې د ځینو مهمو لوبغاړو په شاملولو کې پاتې راغلي وو او داسې نور.

ما هیله درلوده چې هر څه به د نړیوال جام له پای ته رسېدو څخه مخکې پای ته ورسېږي، خو موږ له خپلو ټولو هڅو سره سره دا کار ونشو کولای.

## دوهم استشهادي مجاهد

ما شیخ ابو حفص ته زنګ وواهه، د کار د پرمختګ په اړه مې ډاډ ورکړ، له هغه مې وغوښتل چې دوهم استشهادي مجاهد راولېږي او د اړتیا په صورت کې دریم استشهادي مجاهد هم تیار وي. په څو ورځو کې ورور احمد عبدالله موږ ته پر لاره و، ما له شیخ ابو حفص څخه وغوښتل چې هغه په مستقیمه توګه مومباسا ته ولېږي، خو له هارون څخه مې وغوښتل چې د احتیاط په توګه هغه ته د نیروبي په هوایي ډګر کې انتظار شي، ماته یې سمدستي راولېږي او فیلا ته یې انتقال نکړي. زه له صوفني ورور سره د مومباسا هوایي ډګر ته لاړم، ترڅو د احمد ورور هرکلی وکړو. پر ټاکلي وخت الوتکه راورسېده، احمد عبدالله ورور په کې و، ژر تر ژره له هوایي ډګر څخه راووت، موږ تر کوره په ټکسي کې لاړو، صوفني ورور د لوبې د وخت را نژدې کېدو له امله د تګ اجازه وغوښتله.

ورور احمد عبدالله په جهاد کې یو له پخوانیو وروڼو څخه و، چې د تېرې پېړۍ په لومړیو کې افغانستان ته مهاجر شو او سره له دې چې هغه د مصر د اسلامي ګوند غړی و، د القاعدې په معسکراتو کې یې اعداد وکړ، ځکه د القاعدې معسکراتو هر هغه ځوک روزل چې افغانستان ته راتلل او دا شرط یې نه وربانډې لګاوه، چې له تنظیم سره دې ملګري شي، ځکه زموږ پالیسي دا وه چې د امت ځوانان وروزل شي او د امریکایانو او یهودو پر وړاندې د نړیوال جهاد لپاره یې لارښوونه وشي، قطع نظر له دې چې هغه کوم طرف ته میلان لري.

هغه د الله ﷻ د کتاب ښه حافظ و، د نرم مزاج خاوند و، ډېر عبادت یې کاوه، د تهجد لمونځ یې نه قضا کاوه او د چاودېدونکو توکو په تیارولو کې یې ډېره تجربه درلوده، خو له ډېرې مودې یې پر استشهادي عملیاتو ټینګار کاوه، سپین پوستی و، تر دې چې په احمد الالماني پېژندل کېدی. موږ ډېر وخت د افغانستان د حالاتو، د طالبانو او د وروڼو د خبرونو په اړه مجلس وکړ، بیا مو د کار او د هغه د طبیعت په اړه خبرې وکړې، ما هغه ته د کارونو په اړه معلومات ورکړل، چې څنګه به موټر بم تیاروو؟ هغه د هغه مقدار په اړه حیران شو چې موږ چمتو کړی و او په چاودېدونکو موادو کې د هغه د لوړ مهارت له وجې یې وویل، چې زه یو وړاندیز لرم.

ما وویل: مهرباني وکړه.

هغه وویل: دا ماین یوازې پر ستین فیوز تکیه کوي، چې په ټول ماین کې چاودنه را منځته کړي او دا ممکنه ده، چې د فیوز دننه کومه خلا رامنځته شي، چې د چاودېدونکې څپې مخه به په بشپړ ډول ونیسي.

ما وویل: د حل لاره څه ده؟

هغه وویل: موږ به یوه بشپړه برېښنایي کړۍ د لومړۍ کړۍ په څنګ کې تېره کړو او په دې توګه به موږ ټول اسباب په پام کې نیولي وي.

ما وویل: ته پوهېږې چې ستا وړاندیز به موږ ته څومره ګران وي؟

هغه وویل: هو.

ما وویل چې هغه به لږترلږه له سلو څخه زیاتو فیوزونو ته اړتیا ولري.

هغه وویل: که امکان ولري، دا به غوره او ضمانتي شی وي.

په حقیقت کې، زه د هغه له وړاندیز څخه که څه هم سخت و، متاثر شوم، ما له فهد ورور سره د دې شمېرې برقي فیوزونو چمتو کولو د امکان په اړه خبرې وکړې.

فهد ورور وویل زه به هڅه وکړم.

څو ورځې وروسته يې وويل: ورته هيله من يم، ان شاءالله.

د ورور احمد عبدالله له راتګ څخه وروسته موږ په يوه اونۍ کې تر خپل مطلوب عدد ډېر برقي فيوزونه تر لاسه کړي وو، موږ ټول په ډېره خوشحالۍ کې نغښتي و او پر دې توفيق مو د الله ﷻ حمد اداء کړ.

ما به ټولو ورونو ته ويل، چې عمليات به ان شاء الله بريالي کېږي. ما تل دا احساس درلود، په ځانګړې توګه د عملياتو په اخرو دوو مياشتو کې ډېر خوشبين وم او پر الله ﷻ نيک ګمان به د کار په هر ګام کې لومړيتوب و.

ورته ومې ويل: ته به نيروبي ته لاړ شې چې له ورور ابو عبدالرحمن المهاجر سره د موټر بم په تيارولو کې مرسته وکړې، ستا نظر به ورته وړاندې کړې او يو له بل سره به يې په نصبولو کې مرسته وکړئ!

ما په نيروبي کې د اسرائيلو د سفارت د څارنې په اړه له ورور احمد عبدالله سره خبرې کړې وې او دا مې هم ورته وويل، چې موږ په دې اړه ټول اړين معلومات راټول کړي دي، نو په راتلونکي کې به دا زموږ لپاره يو هدف وي، ان شاءالله، سره له دې چې ځينې شرعي سوالونه يې درلودل، داسې چا ته يې اړتيا لرله، چې ددې کار اجازه راکړي.

هغه وويل: که موږ دا سروې يو ځل بيا په سمه توګه تکرار کړو، شايد موږ داسې لاره ورته پيدا کړو، چې له دې سوالونو څخه خالي وي.

ما ورته وويل: دا به د کار ساحه پراخه کړي، نورو موادو او استشهاديانو ته اړتيا لري او وخت زموږ په واک کې نه دی، ځکه موږ يې د نړيوال جام د سياليو په وخت کې پلي کول غواړو، خو په بياکتنې او غور کولو کې هيڅ زيان نشته .

ما ورور هارون ته زنګ وواهه، چې راشي او له احمد ورور سره نيروبي ته لاړ شي.

احمد او هارون ورونه نيروبي ته روان شول، ترڅو د اسرائيلو د سفارت وروستی دقيق څار وکړي او معلومات راغونډ کړي.

## د اسرائيلو د سفارت معلومات

ورور هارون د اسرائيلو د سفارت په اړه ټول اړين معلومات راټول کړل او معلومات خورا دقيق و، يوازينۍ ضعيفه نقطه د سفارت د ديوالونو شاته وه، هلته يو ښونځی و، چې ديوالونه يې د سفارت له ديوال سره يوځای شوي و، هلته د کينيا او نورو هيوادونو ډېری زده کونکي موجود و، او هر ډول انفجار ښوونځي ته لوی زيان رساوه، له زده کونکو سره داسې کول، نو هغه کار دی، چې زموږ په نظر روا نه دی، په قصدي توګه د ماشومانو په نښه

کول، که څه هم هغه یهودیان وي، یوه داسې مسأله ده چې اجتهاد او نظر ته اړتیا لري، زما په آند نا جائز ګڼل یې غوره دي او هلته د شپې د پاتې کېدو مسأله یو بل حکم دی چې زموږ له مسألې سره توپیر لري. له همدې امله د یهودو په سفارت باندې کار رد شو، ځکه زموږ هدف یوازې چاودنه نه ده، بلکې موږ په خپل جهاد سره د الله ﷻ عبادت کوو. نو موږ باید له احکامو څخه په دې خاطر سرغړونه ونه کړو، چې موږ له یهودانو څخه کرکه او نفرت لرو[32]، که څه هم په بحث کې د بالمثل عمل یادونه وشوه، خو دا زما په نظر راجح کار نه و.

په نیروبي کې کار په چټکۍ سره روان و، په ځانګړې توګه وروسته له هغه چې ورور احمد عبدالله له المهاجر سره یوځای شو او په تنزانیا کې هم کار په ورته چټکۍ روان و او په سرعت کې و.

## د موټربم د نصبولو بشپړیدل

له نیروبي څخه ورونو اړیکه راسره ونیوله او راته ویې ویل چې هرڅه چمتو دي، د بمي ماین یوازې بټنې ته فشار ورکول پاتې دي او دوی زما امر ته انتظار باسي. ما له ورونو المهاجر او احمد عبدالله څخه وغوښتل چې د تنزانیا ویزه ترلاسه کړي او بیا ساحل ته د خپل سفر د ترتیب لپاره لاړ شي او خبر مې ورکړ، چې له ځینو کوچنیو کارونو پرته نور هرڅه چمتو دي.

ویې ویل: هر څه تیار دي؟!

ما وویل: تقریبا.

هغوی وویل: په څو ورځو کې به ان شاءالله له تاسره یو.

درې ورځې وروسته، دوی خپله ویزه ترلاسه کړه او د ساحل په لور روان شول، ترڅو دارالسلام ته نوی سفر پیل کړي. کله چې راورسېدل، ډېر سترې ښکارېدل، ځکه په ټاکلي وخت کې یې ډېر زیات کوشش وکړ او ستر کار

32 عن ابن شهاب عن سليمان بن يسار أن رسول الله كان يبعث عبد الله بن رواحة يخرص بينه وبين يهود خيبر ، قال : فجمعوا له حليا من حلي نسائهم ، فقالوا : هذا لك وتجاوز في القسم . فقال عبد الله بن رواحة : يا معشر اليهود ، والله إنكم لمن أبغض خلق الله إلي ، وما ذلك بحاملي على أن أحيف عليكم، فأما ما عرضتم من الرشوة فإنها سحت ، وإنا لا نأكلها ، فقالوا : بهذا قامت السماوات والأرض . رواه مالك في الموطأ (كتاب المساقاة) مرسل/ انظر التمهيد لابن عبدالبر، و صححه الالباني و ساق له عددا من الطرق/ انظر غاية المرام في تخريج،احاديث الحلال و الحرام.

«له حضرت ابن شهاب څخه روایت دی، هغه له حضرت سلیمان بن یسار څخه روایت کوي، چې رسول الله (صلی الله علیه و اله و صحبه و سلم) سیدنا عبدالله بن رواحه د خیبر له یهودو سره دده او دوی تر منځ د نوبت معلومولو لپاره ولېږی، نو دوی د خپلو ښځو ګینې او زیورات ورته راټول کړل او ورته ویې ویل چې دا ستا لپاره دي، نو پر موږ لږ تخفیف راوله او له نوبت څخه را تېر شه. عبدالله بن رواحه ورته وویل: ای د یهودو ډلې! په الله ﷻ قسم چې تاسې ماته د الله ﷻ په ټولو مخلوقاتو کې بد ترین مخلوق یاست، خو دا ما له تاسې سره پر تعصب نه حمل کوي او کوم چې تاسې د رشوت وړاندیز کړی دی، نو دا رشوت دی او موږ یې نه خورو. دوی وویل، په همدې ځمکه او اسمانونه ولاړ دي».

يې ترسره کړ، خو له دې سترېا سره سره دوی دار السلام ته د تګ لپاره تیار او خوشحاله وو، موږ یوځای تر ډېره وخته پورې سره ناست وو، دوی دا کیسه بیانوله، چې څنګه الله ﷻ ددې بمي بستې د نصبولو توفيق ورکړ، د هغو ګامونو بیان یې راته وکړ، چې دوی د ډاډ ترلاسه کولو لپاره اخيستي وو، چې ټوله بمي بسته به انفجار ورسره کوي، حتی د چاودېدونکې تنې پينل او د خونديتوب بټن، او دا یې هم وویل، چې دابمي بسته په لارۍ کې څنګه ځای پر ځای شوې ده، په داسې ډول چې د هدف په لور د لارۍ د خوځيدو په وخت کې به هيڅ ډول حرکتونه زيان ور ونه رسوي او بيټرۍ نو ددې چاودېدونکو فيوزونو لس چنده زياتو فيوزونو لپاره بس وې.

د بکسونو د چمتو کولو طريقه خاص د سارډين او فيسيک جوړولو طريقه ده، دوی به په بکس کې ميده شوی ناټريټ، چې د المونيم له پوډر سره به خلط شوی و او ميده شوي ټي ان ټي مواد هوارول، بيا به يې د قالبونو لومړی پوړ ورباندې کېښود او بيا به يې د قالبونو په منځ کې هر خالي ځای په همدې مخکې يادو شويو موادو ډکاوه. بيا به يې د قالبونو دوهم پوړ ورباندې کېښود، ترڅو چې بکسونه ډکېدل. همداسې يې سټين فيوز، ډيټونېټرونه، تارونه او بريښنايي فيوزونه پر خپلو ځايونو سم ايښودل. يوه بکس ديرش کيلو ګرامه ځايول، ترڅو لېږد او بارول يې آسانه وي.

موږ ټولو ته دا نصيحت کوو، چې تردې اندازې يې مه زياتوئ، چې د بکس وړل درته آسانه وي او پر فيوزونو زور رانشي.

دوی د کار له پای ته رسولو وروسته په کار کې ټول کارول شوي وسائل په بکسونو کې واچول، آن هغه ګرانه ژرنده، د ګاز پايپونه، جامې، بوټان، جرابې او نور... د مصريانو خبره... دا امريکايانو ته تاوان نه دی.

## زيرى ورکونکى خوب

ما خپل تره (خسر) شيخ ابو الفرج حفظه الله ته زنګ وواهه.

ويې ويل: له کومه ځايه دې اړيکه نيولې ده؟

ما ورته وويل: د الله ﷻ له پراخ هيواد څخه.

هغه وويل :زه ستا لپاره يو زيری لرم.

ما ته په خوب کې وليدې، چې د رسول الله ﷺ له مبارک قبر سره ولاړ وې، مخ دې قبلې ته و او له الله ﷻ څخه دې په ډېر عجز دعاء غوښته.

بيا يې راته وويل: اې ابو محمده!

آیا ته داسې بېړنی حاجت لرې چې ته غواړې الله ﷻ یې در پوره کړي؟

ما ورته وویل: زموږ لپاره دعاء وکړه.

زما تره یو ښه سړی دی (نحسبه کذالک) هغه له قرآن کریم سره د رابطه لرونکو له ډلې څخه دی، د شپې تهجد لمانځه ته خامخا پاځېږي، حتی په ډېرو سختو وختونو او سختو حالتونو کې، د جنګ په لومړۍ لیکو او روزنیزو معسکراتو کې.

په دې خوب زه ډېر خوشحاله شوم او له ماسره ټول ملګري ډېر خوشحاله شول، دوی ټول زما تره ښه پېژني، هغه له بزرګانو، مجاهدینو او دعوت کونکو څخه دی، هغه به د جهاد په سنګرونو او معسکراتو کې درسونه او نصحیتونه کول، موږ دعاء وکړه، چې الله ﷻ زموږ کار ته د بریالیتوب تاج ور پر سر کړي.

## ابو طلال المغربي په نیروبي کې

هغه د مراکش له ګران عربي وطن څخه دی او یو له هغو ورونو څخه و، چې په افغانستان کې یې له موږ سره کار کاوه، د تېرې پېړۍ په ۱۹۹۰ کلونو کې د جهاد لپاره له ایټالیا څخه راغی او د شیخ ابو عبدالرحمن المصري چې په ایټالیا کې د یوه اسلامي مرکز مشر دی، له دعوت څخه اغېزمن شوی و. ابو طلال یو هوښیار او با تهذیبه ځوان و، په ډېرو بهرنیو ژبو یې خبرې کولې، ویې کولای شول، چې په ډېره کمه موده کې خپل استعداد ثابت کړي، هغه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په معسکرکې د روزنې له ټیم سره د تدریب په برخه کې کار کاوه. د مراکش له یوې نیکې خور سره یې واده وکړ، ډېر خوش اخلاقه ځوان و، خو له ځینو عادي اداري ستونزو سره مخ شو، چې هر کار نه وي ورڅخه خالي، نو کارونه ورباندې ډېر شول او هغه له ځینو ورونو غچ اخیستل پیل کړل، کله چې موږ سوډان ته لاړو هغه له موږ سره و او د الوتکې د چلولو د زده کړې ترلاسه کولو لپاره ولېږل شو، نو کینیا ته لاړ، د لوړې کچې روزنې کورس یې ترلاسه کړ، چې تنظیم یې ټول لګښتونه پر غاړه واخیستل او نوموړی په بریالیتوب سره ترې فارغ شو. هغه به د هغو ورونو په استقبال کې برخه اخیسته، چې صومالیې ته د سفر په موخه به راتلل، هغه یو شریف او د اعتماد وړ ورور و، که څه هم د هغه پر وړاندې ځینې شکایتونه شوي و او دا د هرچا لپاره یوه عادي خبره ده.

هغه له هغه وروسته سوډان ته لاړ او کله چې موږ افغانستان ته د تګ پرېکړه وکړه، هغه غوره کړه چې سفر ونه کړي، په ځانګړې توګه له دې وجې چې هیله یې لرله چې په یوه هوایي شرکت کې کار وکړي.

هغه په یوه خصوصي شرکت کې کار کولو ته دوام ورکړ، د سختو کاري شرایطو او ضعیف معاش له امله یې پرېکړه وکړه چې په خپلواکه توګه کار وکړي او خپله میرمن او دوه لوڼې مراکش ته واستوي، نو د مراکش له سفارت سره یې اړیکه نیول پیل کړل. له هغه وروسته، یې حال کرار کرار بدل شو، د هغه شاوخوا هرچا د دې بدلون احساس وکړ او په شاوخوا کې یې ځینې شکونه څرګند شول، دا شکونه هغه وخت نور هم ټینګ شول، چې کله هغه په نیروبي کې د خپل هغه ایټالوي ښوونکي، چې الوتکه چلول یې ورښودلي و، له لارې یې د کار قرارداد ترلاسه کړ.

ابوطلال د کار د ترون د بشپړولو لپاره نیروبي ته راغی، نو د هارون په اړه یې پوښتنه وکړه او د یو صومالي سوداګر له لارې، چې له هارون سره یې پخوانۍ رابطه لرله، وتوانیدی، چې له هغه سره وویني، هغه له هارون سره په نیروبي کې ولیدل او له هغه څخه یې زما په اړه پوښتنه وکړه، هارون ورته ویلي و، چې هغه په صومالیه کې کار کوي او زه له هغه سره خورا ښه اړیکه لرم. لکه څنګه چې ما مخکې وویل، هغه یو ښه اخلاق لرونکی ملګری دی.

هارون ته یې د خپلو راتلو علت بیان کړ او دا یې وویل چې د معاهدې له پای ته رسېدو وروسته به سوډان ته لاړ شي، چې خپل ټول شیان ختم کړي، کورنۍ به یې ولېږدوي او بیا به بېرته کار ته ستون شي او هغه ته یې ویلي و، چې ابو محمد ته ووایه چې زه ورسره د تنظیم په چوکاټ کې د ورونو د هرکلي او د هغوی د سفر کولو په برخه کې نور د پخوا په څېر همکاري نکوم.

کله چې ما هارون ته زنګ وواهه، کورنۍ یې تلیفون ته ځواب ورکړ او د ابو طلال په اړه یې خبر راکړ.

ما ورته وویل: هارون ته ووایه چې هغه ته د کور ادرس یا د تلیفون شمېره مه ورکوه او زموږ په اړه هیڅ معلومات مه ورکوه، ځکه زه له دې ورور څخه یو څه اندېښنه لرم.

ابو طلال وروسته د امریکا له تحقیقاتي ادارې اف بي آی سره یو له مهمو همکارانو څخه و، د هغه اعترافات د محققینو لپاره د یوې مهمې خزانې په څېر و او د ډېرو ورونو په اوږده بند د محکومیدو سبب شو. ما د هغه ځینې ځانګړتیاوې بیان کړې، اوس به زه د هغه په اړه یو بشپړ باب وقف کړم، ترڅو لوستونکي د هغه د کار په حقیقت پوه شي.

# حسین خرشتو

یو هوښیار مراکشي ځوان چې په ۱۴۱۱/۱۴۱۰ هجري قمري کال کې چې له ۱۹۹۱ میلادي سره سمون خوري، له ایټالیې څخه د افغانستان جهاد ته راغی، د شیخ ابو عبد الرحمن المصري له تقریرونو څخه متاثر شوی و، ابو عبد الرحمن المصري د ایټالیا په میلانو[33] کې د اسلامي مرکز مسؤول و، هغه چې خطبو او پارونکو تقریرونو یې په ایټالیا کې د مسلمانانو ضمیرونه را ویښ کړل، چې افغانستان ته هجرت وکړي. په هغو کې خرشتو هم و، د کفر او اخلاقي جبر له خاورې څخه چې د مسیحي اروپا اصلي نښه بلل کېږي، په ډېره احساساتي دفاع سره راغی، چې د خپلو هغو معززو ورونیو له هرکلي سره مخ شي، چې د هغه د آرامۍ او د ټولو راغلو کسانو د هوساینې لپاره یې کار کاوه، په بیت الانصار کې حسین خرشتو ټولې اړینې اړتیاوې پوره کړې، ترڅو په الفاروق معسکر کې شامل شي.

د ورونیو په منځ کې پېژندل شوی کس و، ځکه یو هوښیار مهذب ځوان و او په کمپ کې په ابو طلال المغربي مشهور و، هغه میلمستون ته د راتګ پر مهال دا کنیة د ځان لپاره غوره کړې و.

خرشتو په انګلیسي، فرانسوي او ایټالوي ژبو خبرې کولې، وروسته له هغه چې نومورې منځنۍ زده کړې، پای ته ورسولې، هغه د هوټل هنرونو د زده کړې لپاره په یوه انستیتیوت کې شامل شو او دا هغه څه و، چې په دوو ژبو انګلیسي او فرانسوي کې یې هغه ته مهارت ورکړ،دا هغه ژبې وې، چې له شاملیدو څخه مخکې یې هم زده وې او کله یې چې ایټالیې ته سفر وکړ، د ایټالوۍ ژبې له یو څه زده کړې وروسته یې د سفرونو په یوه اداره کې کار وکړ. داسې ښکارېده، چې هغه یو فعال ځوان دی، چې په کار کې له خپلو ملګرو سره مینه لري، حتی د هغه مدیر وړاندیز ورته کړی و، چې له یوې اروپایي نجلۍ سره چې له دوی سره یې په دفتر کې کار کاوه، واده ور وکړي، هغه ایټالوۍ وه، دا هغه څه و، چې هغه ماته په خپله وویل.

حسین له الفاروق معسکر څخه فارغ شو او د استادانو له لوري یې تر تزکیې وروسته له القاعدې سره یو ځای شو، هغه د وړتیا زیاتونې ځینې کورسونه واخیستل، چې بیا د ابو بکر صدیق رضی الله عنه په معسکر کې د روزنې له ټیم سره کار وکړي، کله چې زه په الفاروق معسکر کې استاد وم، ښه اړیکه مې ورسره درلوده او زموږ تر منځ دااړیکې تر ۱۴۱۷ هجري چې له ۱۹۹۷ میلادي سره سمون خوري، کال پورې زیاتې شوې او همدا وروستی کال و، چې ما له ابو طلال سره ولیدل.

---

33 شاید دا مرکز په کوم بل ښار کې وي، حافظه مرسته نه راسره کوي.

# د ابو طلال واده

د القاعدې تنظیم له خپلو غړو سره د واده په برخه کې پوره مرسته کوله، له تنظیم سره له یوځای کېدو درې کاله یې تېر شول، ابو طلال په دې وتوانېدی، چې واده وکړي، په هغه وخت کې شیخ سعید "مصطفی ابو الیزید" رحمه الله د تنظیم مالي مسؤول و. هغه له یوې نیکمرغه مراکشۍ خور سره واده وکړ، چې له خپل پلار سره له اروپا څخه دلته مهاجره راغلې وه، د پاکستان په پېښور ښار کې واده وشو، چې ډېرو ورونړو او خویندو په دې مبارک واده کې ګډون وکړ. کله چې په ۱۴۱۲هـ ـ ۱۹۹۲ م کې د کابل حکومت سقوط وکړ، نو د تنظیم مرکزیت سوډان ته انتقال شو، د هغوی له جملې څخه یو ابو طلال المغربي هم و، چې هغه او کورنۍ یې د خرطوم په تر ټولو ښکلې کلي حی الریاض کې اوسېدل. تنظیم یوه لویه د استوګنې ودانۍ د کورنیو د استقبال لپاره په کرایه نیولې وه، چې هر اپارتمان یې څلور لویې خونې، دوه تشنابونه، یو پخلنځی او دوه بالکونونه لرل، د ودانۍ په ټولو خواوو کې یې لوی پارکینګ ګراج او یو لوی انګړ درلود، د کور لپاره یو ساتونکی و، د "کاکا حسن" په نامه. تنظیم د ټول کور اکمال کاوه. یو نفر یې ددې لپاره ټاکلی و، چې پر هغو کورنیو چې خاوند یې له سوډان څخه بهر د کوم کار لپاره سفر کوي، پاملرنه وکړي، ابو مروان المصري ورور، چې په ابو مروان الزول مشهور دی، د دې کورنیو مسؤولیت په غاړه درلود. وروسته له هغه چې ابو طلال خرطوم ته راغی او هغه څه چې د هغه د کور او د هغه د عزتمنې کورنۍ لپاره اړین و بشپړ یې کړل، هغه ددې لپاره انتخاب شو، چې کینیا ته لاړ شي ترڅو په نیروبي کې د هوایي چلند په یوه ښوونځي کې د روزنې کورس ترلاسه کړي او همدارنګه له هغه ورونړو سره چې صومالیې ته د تګ راتګ په وخت کې پر نیروبي تېرېږي، مرسته وکړي. هغه تدریبي دوره پای ته ورسوله، زه یوه ورځ تعلیمي مرکز ته ورسره لاړم، هغه مې ولیدی، چې له خپل ایټالوي روزونکي سره یې الوتکه پورته او ښکته کوله، هغه استاد له ده سره ښه اړیکه درلوده، ځکه د حسین ایټالوي ژبه زده وه او دا هغه څوک و، چې وروسته یې زما په غالب ګومان ابو طلال استخدام کړ، چې د اروپا له یوې استخباراتي ادارې سره کار وکړي، ما د استخدام د پروسې جزئیات په مستقیم ډول نه دي لیدلي، ځکه چې کله د هغه په اړه شکونه را پورته شول، تنظیم هغه وخت له ابو طلال څخه تحقیق نه دی کړی. ځکه هغه مهال تنظیم په افغانستان کې و او ابو طلال په خرطوم کې و، خو ما له ابو طلال څخه یو څه لږ معلومات ترلاسه کړل چې له هغه څخه له ماسره د خبرو اترو په جریان کې په غیر ارادي توګه ویل کېدل، خو دا یوازې شکونه وو، د ډاډ وړ نه و او زه یې دلته په دې خاطر وایم چې د هغو خبرو د نقلولو امانت اداء کړم.

ابو طلال په کینیا کې له خپلو مجاهدینو ورونړو سره مرسته کوله او په هرو څو میاشتو کې به خپلې کورنۍ ته راستنیدی، لکه څنګه چې د صومالیې د ټیم نور ملګري راتلل. د هغه کورنۍ ته به هره هغه آسانتیا او خدمت

رسېدی، چې نورو ټولو کورنیو ته به رسېدی، هر څه ته به یې چې له بهر څخه اړتیا وه، ابو مروان الزول ته یې د خپلو ټولو غوښتنو لیکل کافي و، چې د یوې خور په لاس یې ور ولېږي او په لنډ وخت کې د خپل اپارتمان د دروازې مخې ته خپل ټول سامان ومومي. دې کار ورونه ډېر وهڅول چې له سوډان بهر خپل کار ته دوام ورکړي او ابو طلال به د خرطوم او نیروبي په منځ کې تګ راتګ کاوه، هغه د خپلې کورنۍ او لور په اړه ډېر خوښ او ډاډمن و.

## د هغه لیکنو په اړه بحث چې علي صوفان او دانیال فریدمان له دوی سره د کار لپاره د ابو طلال د هڅونې په اړه لیکلې دي

دوی په خپل کتاب "تور بیرغونه" کې په شپږم څپرکي د "کنړي په څېر به چیغې وکړې" تر سرلیک لاندې له غلطیو، سپکاوي او نفرت څخه ډکو ټکو چې د دوی زړونه ورڅخه ډک دي، په لیکلو ناکامه هڅه کړې ده، چې د القاعده څېره خرابه وښیي، د ابو طلال هڅونه چې له دوی سره یې د خپلو مجاهدینو ملګرو په وړاندې کار کړی دی، توجیه کړي، او د دې پر ځای چې د دوی سپکاوی په سمه توګه پټ کړي او لوستونکی یې ومني، دوی داسې کیسې سره اوبدلې دي، چې لوستونکی یې له پای ته رسېدو وړاندې ورڅخه تښتي. شاید ابو طلال په دې له ځانه جوړه شوې کیسه باندې خفه شي، چې د هغه او د هغه د میرمنې، چې د ساتنې یې ډېر خیال ساتل کېدی او د نورو خویندو په څېر یې لوړ خدمت کېدی، د سپکاوي تصویر په کې وړاندې شوی دی.

دواړه لیکوالان وایي: حسین خرشتو، هغه سړی چې د القاعدې مشرانو لخوا د بن لادن د خصوصي پیلوټ په توګه ټاکل شوی و، په ۱۹۹۵ میلادي کال کې په نیروبي کې د الوتنې له ښوونځي څخه سوډان ته راستون شو، چې خپله امیندواره میرمن یې د خرطوم په کوڅو کې د پیسو د ترلاسه کولو لپاره د فقر په حال کې ومونده، تر څو د اولاد د ولادت عملیات ورباندې وکړي.

لیکوالان بیا وایي، چې د القاعدې امنیتي ادارو هغه له خپلې میرمنې سره له اړیکو بند کړی و، ځکه نو نه پوهېدی، چې میرمن یې فقر کوي، هغه دا کیسه په داسې حال کې پای ته ورسوله، چې له سترګو یې اوښکې روانې وې، چې دا به پیسې ټولې کړي او بیا به د خرطوم په مرکزي روغتون کې داخله وکړي. حسین خرشتو د شیخ سعید المصري، چې په هغه وخت کې د القاعده تنظیم مالي مسؤول و، لیدلو ته ورغی او دا هغه وروستی ځل و، چې دی یې د بن لادن او نورو مشرانو له دفتر څخه جلا کړ، سعید المصري ته یې وویل: "زه پیسو ته اړتیا لرم چې هغه روغتون ته یې ورکړم چې زما میرمن به د ولادت عملیات په کې کوي، زه پنځه سوه ډالرو ته اړتیا لرم. سعید المصري په عذر غوښتنکي لهجه وویل: زه افسوس کوم، له موږ سره پیسې نشته او زه تاته هیڅ

شی نشم درکولای. دا هغه خبرې وې چې په اورېدو يې ابو طلال د شيخ سعيد له دفتره په داسې حال کې را ووتی، چې له غوسې را خوټيدی. دواړو ليکوالانو د خپل تخيل له لارې داسې کيسې ليکلې دي، چې له حقيقت سره هيڅ تړاو نه لري او زه فکر نه کوم چې ابوطلال دې دا دروغ چې د هغه د شخصيت او ميرمنې سپکاوی يې په کې شوی دی، دوی ته بيان کړې وي.

زه به دلته ځينو نښو ته اشاره وکړم چې ددې دوو ليکوالانو درواغو، بې عقلۍ او لوستونکي ته د درناوي نشتوالی څرګندوي..

له هغو نښو څخه يې ځينې دادي:

ـ د بن لادن ( چې د تنظيم تر ټولو مهم شخصيت دی) د الوتکې د پيلوټ په توګه او صوماليې ته د ورونو د تګ راتګ په برخه کې د ابوطلال د همکار په توګه ټاکل که هغه او د هغه کورنۍ له نورو کورنيو سره په معاملاتو او خدماتو کې که مساوي نکړي، نوځانګړی کوي يې.

ـ موږ هيڅکله نه اورېدلي او نه ليدلي دي، چې يوې خور د خرطوم په کوڅو کې سوال کاوه، خو دا هغه ړنده کينه ده، چې د دښمنانو زړونه ورڅخه ډک دي.

ـ هغه مياشتنی معاش چې ابو طلال ترلاسه کاوه او هغه معاش چې د هرې مياشتې په پيل کې د هغه په نه شتون کې د هغه کورنۍ ته سپارل کېدی، د هغه د ميرمنې لپاره کافي و، چې په سوډان کې د بډايه خلکو په څېر ژوند وکړي، په ځانګړې توګه چې د کور کرايه يې هم په بشپړه توګه د تنظيم لخوا ورکول کېږي او شايد هغه د کبابونو بنډارونه چې حسين خرشتو ورباندې عادت و او د ودانۍ پر بام يې جوړول د دې ثبوت وي. هغه خپل معاش په ډالرو ترلاسه کاوه او د هغه معاش يوه ورځ هم د سوډاني اسعارو د ارزښت باييللو په وجه اغېزمن نه شو.

ـ کله چې موږ په خرطوم کې و، نو هلته سوالګري يو غير مشهور کار و، د خلکو ټيټ اقتصادي حالت سوالګرانو ته دا فرصت نه ورکاوه، چې د مياشتې پنځه سوه ډالر ترلاسه کړي او د سوډاني قوم له ډېر غربت سره سره، هغه داسې خلک دي، چې له يو بل سره تړلي دي، د يوې کورنۍ د غړو ترمنځ پيوستون او همکاري په سوډان کې مشهوره ده او دا د دې ښو خلکو يو له نيکو خويونو څخه دی، ځکه نو دا نادره ده، چې د خرطوم په کوڅو کې سوالګر ومومې.

ـ هغه څوک چې د خرطوم په ترټولو معتبر کلي ( حی الرياض) کې ژوند کوي، سوال ته نه اړ کېږي.

ـ دغو دوو ليکوالانو ولې دا خبره نه ده کړې چې ابوطلال خپلو ورونو او همسايه ګانو ته پر دې غوسه ونکړه، چې دده ښځه يې د خرطوم په کوڅو کې سوال کولو ته پرې ايښې ده؟

ځواب یې ډېر آسانه دی، چې دا کار اصلا شوی نه دی.

ابوطلال له خپلو ډېرو ملګرو سره په تنظیم کې دننه او له تنظیم څخه بهر ښې اړیکې درلودې، که د هغه میرمنې غوښتلي وای، چې په زرګونو ډالر قرض ترلاسه کړي، نو په سهولت او آسانۍ سره یې ترلاسه کولای شوای.

ـ دوی ویل چې د امنیت کمیټې دی له خپلې میرمنې سره له اړیکې نیولو منعه کاوه او دا خالص دروغ دي، ځکه د هغه او د تنظیم د ټولو غړو لپاره د اړیکو نیولو په برخه کې پوره آزادي وه، بلکې د تنظیم ډېرو غړو وکولای شول، چې خپلو والدینو ته خرطوم ته د راتګ بلنه ورکړي او تنظیم به یې په لوړه کچه په مالي لګښت کې مرسته کوله.

زه به له دې دوو لیکوالانو سره نور د دوی پر خیالاتو لیکل ونکړم، ځکه د علي صوفان په څېر یو لیکوال صلیبیانو ته پر غلامي کولو فخر کوي، هغه له صلیبیانو سره د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې ډېر کلونه جګړه کړې ده، د ده په څېر امریکایي درواغجن او سیاستمداران به هیڅکله له دروغو ډډه ونکړي، له همدې امله یې په خپل کتاب کې یو داسې فصل نه دی پرې ایښی، چې په درواغو یې پوښلی نه وي، ځینې سم معلومات هم په کې وي، چې د تحقیق له هغو فایلونو څخه یې ترلاسه کړي وي، چې دی خپله په کې و او د تعذیب له لارې یې ترلاسه کړي وي، یا یې د هغه خلکو له اعترافاتو تر لاسه کړي وي، چې د خپلو پخوانیو ورو‌نو پر وړاندې د امریکایانو په غلامي راضي شول. زه ښایي دا خبره رد نه کړم چې ابو طلال دې دوی ته په جاسوسۍ کې پر خپله همکاري د ځان بري کولو لپاره دا کیسه کړې وي، یا یې له دوی سره پر دې موافقه کړې وي، چې دوی هغه د یوه مظلوم په صفت وښیي، نه د هغه خائن په څېر چې په پیسو پسې منډې وهي.

زه به هغه کیسه داسې بیان کړم لکه څنګه چې پېښه شوې ده او زه هلته وم، ترڅو محترمولوستونکو ته له مسلمانانو سره د دوی د نفرت او دروغو او له هغو کسانو سره چې د شهرت لپاره له دوی سره کار کوي د کرکې اندازه معلومه شي.

القاعدې په سوډان کې څو سوداګریزې پروژې ترسره کړې او د نړۍ په هر ځای کې د نورو شرکتونو په څېر له ګټې او زیان سره مخ شوې. د دې شرکتونو د فعالیت په جریان کې، د تنظیم لپاره مالي بحران رامنځته شو او نور یې د دې توان نه درلود، چې ځینې د اړتیا وړ شیان چې مخکې تنظیم خپلو غړو ته ورکول اوس یې هم چمتو کړي، نو په موقت ډول د قرض ورکولو د بندیز فرمان صادر شو، په دې وخت کې د ابو طلال د میرمنې حمل په وروستۍ مرحله کې و او ډاکټر پرېکړه وکړه، چې ولادت به یې د عملیاتو په وسیله وي، خو له ابو طلال سره د عملیاتو پیسې نه وې او سره له دې چې له دې پریکړې خبر و، چې قرض ورکول بند شوي دي، شیخ سعید المحاسب رحمه الله ته ورغی او د خپلې ښځې د عملیاتو لپاره یې قرض ورڅخه وغوښتې، خو ونه توانیدی،

چې پیسې ترلاسه کړي، په دې سره ابو طلال ډېر په غوسه شو او له هغه وخته یې له شیخ سعید سره تعصب درلود، که څه هم شیخ سعید د پرېکړو اجراء کوونکی و نه صادرونکی، لکه څنګه چې یې ځینې خلک فکر کوي. ابو طلال د قرض ترلاسه کولو په اړه مشکل نه درلود، هغه د ولادت د عملیاتو تر اړتیا زیاتې پیسې له هغه صندوق څخه ترلاسه کړې، چې وروڼو د بېړنیو حالتو په وخت کې د مرستې لپاره جوړکړی و او د ټولنیز پیوستون صندوق نومیده. زه شخصا یو له هغو کسانو څخه وم چې د دې صندوق څارنه یې کوله، په دې توګه ابو طلال هغه څه او تر هغه زیات ترلاسه کړل چې هغه غوښتل، خو د قرض په توګه نه بلکې د ډالۍ په توګه. ډېر ځله یو ضرر ګټه رسونکی وي.

د زېږون پروسه پای ته ورسېده، او الله ﷻ هغه ته یوه ښکلې او پاکه لور ورکړه، د هغه کورنۍ له ولادت وروسته ټول هغه خدمت ترلاسه کړ، چې ټولې خویندې یې ترلاسه کوي، ټولو خویندو په خپله خوښه کار کاوه او تر دوو اونیو پورې به هره ورځ دوې خویندې د هرې هغې میرمنې کور ته ورتللې چې ماشوم یې پیدا شوی و، تر څو کور پاک او منظم کړي او د ماشوم د مور او د هغې د خاوند لپاره د اړتیا وړ خواړه چمتو کړي، چې خاوند به له کار څخه راستون شو، نو له خپل طبیعت سره سم لکه څنګه چې مناسب و، وموندل او دا ترتیب د دې کرښو د لیکلو نېټې پورې په هغو سیمو کې دوام لري، چېرته چې د تنظیم وروڼه او خویندې یوځای اوسېږي. له دې خدمتونو سره سره ابوطلال شیخ سعید ته په خپل ذهن کې یو څه ساتلي و او دا به یې چې هر وخت پر شیخ سعید د نیوکې موقع پیدا کړه، له خبرو څخه څرګندیده، هغه دې خبرو ته وده ورکوله، تر څو نور هم ورسره ملګري شي، سره له دې چې هغه ته به هر وخت وروڼو نصیحت کاوه، چې په ملګرو پسې خبرې مکوه، خو هغه له دې کاره ډډه نه کوله او له دې سره یې له خبرو څخه ځینې داسې عبارتونه څرګندیدل، چې زموږ له ادبیاتو څخه نه و، لکه د پیسو، شتمنۍ او راتلونکې په اړه خبرې کول، خو دا خبرې یې په شخصي مجلسونو کې کولې. له تنظیم سره د هغه د نظر له بدلیدو او مخالفت سره سره یې خپل کار ته تر هغه وخته دوام ورکړ، ترڅو تنظیم سوډان پرېښود. هغه خپله کورنۍ له "حی الریاض" څخه په خرطوم کې یوه بل ښکلي کلي (حی المنشیة ) ته کډه کړه او تنظیم په هغه کلي کې د شیخ حسن الترابي له کور سره نژدې یو کور چې څلور یا پنځه پوړیزه ودانۍ یې لرله، ورته کرایه کړ، دا هر څه په قصدي توګه نه، بلکې تقدیري وشول.

ما دا یادونه ددې لپاره وکړه چې لوستونکي پوه شي چې تنظیم خپلو غړو ته څومره پاملرنه کوي، چې له هغوی څخه یو ابو طلال هم و، هغه په نیروبي کې هم په یوه ښکلي کلي کې اوسېدی او زه په نیروبي کې د هغه د کار په وخت کې د میلمه په توګه ورغلی وم.

ابو طلال په یوه هوایي شرکت کې د کار د موندلو په اړه خبرې پیل کړې، چې دا کار د هغه د اټکل له مخې یو لوی مالي پرمختګ دی. کله چې د سوډان حکومت پرېکړه وکړه چې موږ افغانستان ته واستوي، ابو طلال له تګ څخه انکار وکړ، دا دلیل یې وایو، چې دا کار هیڅ ګټه نلري او هغه به په خرطوم کې کار ته دوام ورکړي، تر څو چې په یوه هوایي شرکت کې د کار فرصت ومومي، د خرطوم د بروکرز په یوه دفتر کې یې په لږ معاش دنده تر لاسه کړه، خو هغه یې د ښه کېدو تمه کوله، بیا یې په خرطوم کې د مراکش د سفارت له لارې د خپلې کورنۍ لپاره د رسمي اسنادو په ترلاسه کولو سره مراکش ته د لېږلو فکر پیل کړ، همداسې یې د طیارې د زده کړې په برخه کې له خپل استاد سره اړیکه ونیوله، تر څو مناسبه دنده ورته پیدا شي او د همدې رابطو له لارې هغه د یوې اروپایي استخباراتي ادارې لپاره استخدام شو. د اروپا استخباراتو هغه ته د هغه د کورنۍ او لوڼو مراکش ته د لېږد لپاره آسانتیاوې برابرې کړې چې له کومو امنیتي مسائلو سره مخ نشي، ابو طلال له کومې وېرې پرته د مراکش له سفارت سره معامله پیل کړه او ایټالوي استاد یې په کینیا کې یو کار ورته برابر کړ، تر څو د هغه استخباراتي دنده پټه کړي، خو ابو طلال دا رابطه او وظیفه نه پټوله، په نیروبي او دارالسلام کې پېښې وشوې، نو د ددغو دوو سفارتونو د الوزولو په ضمن کې دا ترتیبونه هم خراب شول او ابو طلال د نیروبي په یوه پنځه ستوریز هوټل کې ونیول شو، نوموړی وروسته له هغه له زندان څخه خوشی شو، چې اروپایي چارواکو مداخله وکړه، بیا یې کینیا ددې لپاره پرېښوده، ترڅو له دې وروسته د امریکایانو په جال کې ځان واچوي، د هغه کار د هغه لپاره بدل نشو، ځکه څوک چې له اروپایانو سره په همکارۍ راضي وي، له امریکایانو سره له همکارۍ به هیڅکله را ونه ګرځي.

## مراکش ته سفر

لیکوالانو، علي صوفان او دانیال فریدمان په همدې څپرکي کې یادونه کړې ده، چې دوی وتوانیدل، چې حسین خرشتو ته د تروریستي فعالیتونو د څار ادارې ( ډي ایس ټي ) له لارې فریب ورکړي او مراکش ته یې راستون کړي، دا اداره د مراکش استخباراتي اداره ده، چې حسین ته یې په سوډان کې پیغام ورکړ، خبر یې ورکاوه، چې د لوڼو د اسنادو په کتابچو کې یې ځینې اداري ستونزې رامنځته شوې دي، پیغام د مهاجرینو ادارې له لورې و، چې هغه باید د ستونزې د حل لپاره خپل هیواد ته راستون شي. خرشتو سمدلاسه مراکش ته سفر وکړ چې د اف بي آی کارمندان هغه ته په انتظار کې ومومي. په دې توګه لوستونکي ته د دې پلټونکو مهارت او د ټولو هیوادونو په ادارو کې د دوی نفوذ ښکاره کېږي.

په حقیقت کې، دا د لوستونکي لپاره یو فریب دی، نه ربښتیا دي او نه حقیقت ته ورنژدې دي، حسین لکه څنګه چې یې ما یادونه وکړه له یوې مودې څخه د مراکش له سفارت سره معاملات پیل کړي و او سفارت له اروپایي جهت سره چې غوښتل یې هغه استخدام کړي وتوانید، چې دا سړی وساتي، دی وتوانیدی، چې د مراکش له سفارت څخه نوی پاسپورت تر لاسه کړي[34]، دا هماغه پاسپورت و، چې په نیروبي کې یې خپله نوې دنده ورسره امضاء کړه. د هغه او مراکش ترمنځ اړیکې ښې شوې، دوی له هغه سره مرسته وکړه چې خپله ښځه او دوه لونې یې هلته سفر وکړي او د هغه لپاره یې ټول هغه اجراءات آسانه کړل، چې هیڅ مراکشي مجاهد یې نشي ترلاسه کولای، نو سړی خو له وخته د دوی سړی دی، چې مراکش ته د راوستلو لپاره هغه ته فریب ورکړي، بلکې دا یو بلنه وه، نه فریب او مهارت، لکه څنګه چې لیکوالانو ته دا ښایسته شوې ده، چې ځانونه ښکاره کړي.

په کتاب کې د کیسو له بیانولو سره لوستونکي ته څرګندېږي، چې ابوطلال له امریکایانو سره پر همکارۍ هیڅ اعتراض نه درلود، ځکه هغه له اروپایانو سره پر همکاري توافق کړی و او د اروپایانو او امریکایانو تر منځ هیڅ اختلاف نشته، پرته له دې چې دا کاتولیک دی او امریکایان اکثره پروتستانت دي.

د لیکوال په تعبیر د اف بي آی له غلامانو سره د یوې لنډې ناستې په جریان کې ابو طلال ددې په بدل کې چې هغوی به یې د شاهدانو د ساتنې په پروګرام کې وټاکي، په امریکا کې به د خوندي اقامې ضمانت ورکړي او چې امریکا یې ورته وړاندې کوي، له هغو ټولو ښکلو شیانو څخه به خوند واخلي، د بلبل په څېر چونبهار کاوه، له دې سره سره ډېر فرصتونه و، چې په نړیوالو چینلونو کې د القاعدې په اړه د معلوماتو ورکولو لپاره را ښکاره شي او په دې توګه دا سړی پر دې خطرناک ښویندوکي راښکته شو ( زموږ پر هغه له خفه کېدو سره) او ځان یې دښمنانو ته تسلیم کړ، ترڅو دوی له مسلمانانو سره په جګړه کې له هغه څخه ګټه پورته کړي. خرشتو له هغه وروسته چې د افغانستان په یوه معسکر کې استاد و، پر سرحدونو مرابط و، د الله ﷻ دښمنان یې ډارول او دوی هغه ویرولو، د اف بي آی کارمند شو او دا هرڅه د یو څو پیسو او د کفارو په هیواد کې د اوسېدو لپاره.

زه ابو طلال حسین خرشتو ته وایم:

سره له دې چې تا خپلو پخوانیو ورونیو ته زیان رسولی، د دوی پر وړاندې دې د ربښتیاوو او دروغو شاهدي ورکړې دي او ستا د ډېرو معلوماتو له چمتو کولو سره سره چې ستا د دین دښمنانو صلیبیانو ته ګټه رسوي او ستا مسلمانانو ورونیو ته ضرر رسوي، له تا څخه به هیڅکله کفر راضي نشي او نه به هیڅکله ستا احترام وکړي، ځکه ته د دوی یو ذلیل غلام یې، یا د هغوی د پښو بوټ یې، چې ژر به زوړ شي او دوی به یې په بل پایزار بدل

34 دې کار هغه وخت د ورونیو په زړونو کې ځینې شکونه او شبهې را پیدا کړې وې، خو کوم عملي اقدام نه دی ورباندې مرتب شوی.

کړي، څوک چې له خپل دین او ملګرو سره خیانت وکړي، هغه د دوی په نظر کې خوار دی، که څه هم دوی له دې پرته د بل څه اظهار کوي او دا هر څه چې زه یې درته وایم وخت به یې درته ثابت کړي.

زه تاته بلنه درکوم چې الله ﷻ ته توبه وباسه او حق ته رجوع وکړه، ځکه ته اوس د خپل ژوند په پنځمه لسیزه کې یې، ډېر لږ وخت پاتې دی، له دې نړۍ به کوچ کوې، چې د الله ﷻ په وړاندې ودرېږې، هغه به له تا څخه د هر څه پوښتنه وکړي.

ته به څه ځواب ورکوې؟ ته به څه ځواب ورکوې؟ ته به څه ځواب ورکوې؟

او پوه شه چې د توبې دروازې خلاصې دي له سیدنا ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

مَنْ تابَ قبلَ أنْ تطْلُعَ الشمسُ مِنْ مَغْرِبِها ، تابَ اللهُ عليْهِ[35].

«څوک چې توبه وباسي، مخکې له دې چې لمر له مغرب څخه را پورته کېږي، الله ﷻ یې توبه قبلوي».

إنَّ اللهَ يَقبَلُ توبةَ العبدِ ما لم يُغَرْغِرْ[36].

«له سیدنا ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ د بنده توبه تر هغه وخته پورې قبلوي تر څو چې یې سا غاړې ته را رسېږي».

نو ژر تر ژره توبه وباسه، مخکې له دې چې وخت در څخه تېر شي، ستا لپاره دا لوی زیری دی، چې رسول الله ﷺ یې ذکر کړی دی.

لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِينَ يَتُوبُ إلَيْهِ، مِن أَحَدِكُمْ كانَ علَى رَاحِلَتِهِ بأَرْضِ فلاةٍ، فَانْفَلَتَتْ منه وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ، فأيِسَ منها، فأتَى شَجَرَةً، فَاضْطَجَعَ في ظِلِّهَا، قدْ أَيِسَ مِن رَاحِلَتِهِ، فَبيْنَا هو كَذلكَ إذَا هو بِهَا، قَائِمَةً عِنْدَهُ، فأخَذَ بِخِطَامِهَا، ثُمَّ قالَ مِن شِدَّةِ الفَرَحِ: اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ، أَخْطَأَ مِن شِدَّةِ الفَرَحِ[37].

«الله ﷻ د خپل بنده په توبه چې کله هغه توبه باسي، له تاسې څخه د هغه چا په پرتله ډېر خوشحاله کېږي، چې په صحرا کې پر خپله سپرلي سپور وي، نو هغه مرکب یې وتښتي، پر هغه یې د خپل خوراک او څښاک شیان هم بار کړي وي، دی له پیدا کولو یې عاجزه شي، یوې ونې ته راشي او په سایه کې یې ویده شي، له خپل

35 رواه مسلم.

36 رواه الترمذي و أحمد

37 رواه مسلم

مرکب څخه مايوسه وي، په داسې حال کې چې دی پر هماغه حال وي، هغه مرکب يې ورسره ولاړ وي، نو دی يې لګام را واخلي، بيا له ډېرې خوشحالۍ څخه ووايي: ای الله ته مې بنده يې زه دې رب يم، له ډېرې خوشحالۍ څخه غلط شي».

ليکوال د هغو مرستو او خدمتونو يادونه کړې ده، چې خرشتو له ده او څېړونکو سره د څو کلونو په جريان کې کړي دي او اوس هم دا سړی د شاهدانو د ساتنې پروګرام کې د داخليدو په بدل کې خدمتونه وړاندې کوي، خو څوک به د هغه ساتنه وکړي کله چې د الله ﷻ پر وړاندې د خپلو هغو ورونو په مقابل کې چې ده ضرر ور رسولی دی، د مخالف په توګه ودريږي او بيا به نه هغه ته دينار ګټه ورسوي نه درهم، بلکې له هغه څخه به نيکي اخيستل کيږي، يا به بدۍ ورباندې غورځول کيږي.

زه د ليکوال د دروغو او لوستونکي ته د فريب ورکولو د بيان لپاره پر دې اشارو بسنه کوم. څومره ډېر ليکوالان دي، چې کتابونه ليکي او څومره ډېر مصنفين دي، چې تصنيفات کوي، خو دوی له هغو خلکو څخه دي، چې له حقيقت څخه ډېر ليرې دي **او په دې کار کې جالبه داده، چې دوی په موږ پسې دروغ وايي، په داسې حال کې چې موږ ژوندي يو، نو څه حال به يې وي، هغه وخت چې موږ له دنيا څخه رحلت وکړو.**

په هغه کتاب کې داسې فصلونه شته چې دروغ يې بايد ښکاره شي او شايد زه به يې په نورو ليکنو کې که له هغه ځای سره مناسب و، ذکر کړم که الله ﷻ راته آسانه کړه او په ليکوالي کې مې دلچسپي لرله، ځکه ليکوالي زما رشته نه ده، خو زه به هغه تاريخ کرار کرار وليکم، چې موږ شيبه په شيبه ژوند په کې کاوه او ډېرو خلکو په کې خپل وختونه، مالونه او ځانونه قربان کړل. زه له هغو ورونه څخه چې په تصنيف او ليکوالي کې مهارت لري، غواړم، چې د هغه تاريخ په ليکلو کې برخه وکړي، چې دښمنانو زموږ د سترګو پر وړاندې جعل په کې وکړ او موږ يې اورو.

## المهاجر او احمد تنزانيا ته

په تنزانيا کې کارونه تقريبا بشپړ شوي و او يوازې د موټربم د نصبولو لپاره د ورونو تلل پاتې و، د موټربم لپاره يو ځانګړی موټر واخيستل شو، هغه وخت فهد ورور په تنزانيا کې و او ما غوښتل چې دی له دې نورو دوو ورونو سره ملګری شي.

هغه وويل: زه به له دوی سره د ملګرتيا لپاره د يوه ملګري بندوبست وکړم.

او ما سمدستي په مومباسا کې له ورور احمد[38] سره ولیدل، له هغه سره مې د سفر ترتیب برابر کړ، په بل سهار موږ د بس تم ځای ته لاړو او ټول په یوه ګټور سفر دار السلام ته روان شو.

ما ته د فهد ورور زنګ راغی او راته ویې ویل چې ورونړو پر لارۍ اعتراض وکړ او د یوې بلې لارۍ غوښتنه یې وکړه چې تر دې ډېر بار وړلای شي. له مهاجر ورور سره تر لنډې مکالمې وروسته پوه شوم چې هغه لارۍ چې اخیستل شوې وه د کار لپاره مناسبه ده، خو پر هغو ځانګړنو چې زموږ مطلوب وې، برابره نه ده. ما له فهد ورور څخه وغوښتل چې همدا لارۍ سمدلاسه وپلوري او خاص د هغو مشخصاتو درلودونکې لارۍ واخلي، چې د نیروبي لارۍ لرل، سمدلاسه لارۍ وپلورل شوه او د نیروبي تر لارۍ غوره لارۍ واخیستل شوه. شیخ سویدان لارۍ او د اړتیا وړ بکسونه چمتو کړل، هغه په دې کار کې پراخه تجربه درلوده، نو دا کار د پخوا په پرتله ګړندی ترسره شو او په ورته وخت کې دوو مهربانه ورونړو موټربم چمتو کاوه.

## هارون او عزام په مومباسا کې

عزام ورور د نیروبي له سړکونو سره آشنا شوی و، هغه به همیشه له ورور هارون سره په موټر کې ګرځېده، موټر به یې په خپله چلاوه، چې د ښار، پولیسو او ترافیکي نقطو وقار مات کړي. له هارون ورور سره به یې دا خبرې کولې، چې په عملیاتو کې له ځان سره یو بل ورور ته اړتیا لري، چې لومړی د اوسپنې دروازه خلاصه کړي او هدف ته ډېر ور نژدې شي. دا غوښتنه به یې هر وخت تکراروله، او ویل به یې شیخ ابو محمد تهووایه! هارون ورته وویل: څه فکر کوې چې لاړ شې، فضا لږ څه بدله کړې او بالاخره خپله ابو محمد ته ووایې.

ورونه مومباسا ته راغلل، زه څو میاشتې په کور کې یوازې وم، دوی کور له شور او ژونده څخه وروسته له هغه ډک کړ، چې په کونجونو کې یې خاموشي وه... ما هارون ته وویل چې عزام پرېږده او بېرته نیروبي ته لاړ شه. خپله ښځه او ماشومان یوازې مه پرېږده، د هغه تره له ټاپوګانو څخه د درملنې لپاره راغلی و، هغه د معدې سرطان درلود، یو متخصص ډاکټر ته ورتلی او هارون هم باید هره ورځ په ګراج کې موټر چالان کړی وای، چې بیټرۍ یې کمزورې نشي.

هارون ورور لاړ او عزام ورور له ما سره پاتې شو. موږ به د ښار کوڅو ته تګ راتګ کاوه او له بازار څخه د شیانو د اخیستلو لپاره به ښکته ورتللو، ما هلته په کافي اندازه سواحلي ژبه هم زده کړې وه.

---

38 ورور احمد التنزاني فک الله اسره

## د الله ﷻ عابد بنده العوهلي

موږ د عملیاتو په اړه د بحث لپاره ناست و، په لاره کې مو ځینې خنډونه فرض کول او کوشش مو کاوه، چې حل لاره ورته را وباسو، د خبرو په جریان کې یې ما ته وویل چې یو ورور ته اړتیا لري، چې په عملیاتو کې ورسره وي، ترڅو د سفارت شاتنۍ دروازه پرانیزي، هغه د اوسپنې قراول دی چې یو ساتونکی یې هغه مهال خلاصوي کله چې یو موټر د شا له دروازې څخه ننوځي، چې خلاصول به یې د سفارت مسافې ته ډېر زیات نژدې والی راولي او هغه ویربړي، چې هسې نه یو داسې څه پېښ شي، چې دی یوازې نشي ورسره تېرېدلای. له مشورو او فکر کولو وروسته، پرېکړه وشوه چې یو بل استشهادي مجاهد باید په عملیاتو کې برخه واخلي، هغه داسې چې موږ هغه ته بل کار وسپارو، هغه کار په هوا کې ډزې کول دي، چې په سیمه کې موجود خلک له سیمې څخه لیرې کړي او په دې کار سره به خلک په ډېره تیزي سره له سیمې څخه تیښته وکړي، له دې سره به یوه هجومي بم ته هم چاودنه ورکړل شي، چې له سیمې څخه به د ټولو خلکو په لیرې کولو کې مرسته وکړي، چې ددې خلکو ارواوې خوندي شي، ځکه دوی زموږ هدف نه دي، که څه هم ۹۹ فیصده یې مسلمانان نه دي، خو دوی زموږ هدف نه دي.

دا پرېکړه د عزام رحمه الله لپاره د یوې معنوي دفاع په منزله وه، د العوهلي ورور کردار د دوهمې درجې نه و، لکه څنګه یې چې ځینې خلک تصور کوي، بلکې هغه د الله ﷻ له فضل او توفیق وروسته په عملیاتو کې کلیدي او پرېکړه کونکی رول ولوباوه.

## کارکونکو ته خبرداری او مشوره:

هرڅومره چې لارۍ هدف ته نژدې شي، حتی څو متره هم، ویجاړونکې پایلې دوه چنده کوي او هرکله چې له هدف څخه څو متره لیرې وي، تاسې باید د فاصلې د جبران کولو لپاره څو ټنه ماینونه زیات کړئ، ځکه د ماینونه زیاته برخه په هوا کې ځي، خو که موټربم له هدف سره نژدې وي، دا د ماینونو اندازه خورا کموي، خو د ویجاړونکې اړخ امکانات زیاتوي او که تاسې غواړئ، چې بارود داسې رهبري کړئ، چې بسته یې سیده د هدف پر لور لاړه شي، نو دا ډېر ښه کار دی، خو که ته پر دې یقیني یې، چې د پلې کولو په ورځ کولای شې لارۍ یا ماین په هغه ځای کې چې ته یې غواړې، ځای پر ځای کړې او دا په ښارونو کې یو څه ناشونی دی، ځکه په هغه وخت کې یې برید کونکی د پلې کولو وړتیا نه لري، ځکه د هغه ټول تمرکز هدف ته پر رسېدو او تنۍ ته پر فشار ورکولو وي.

له شیخ ابو حفص الکومندان سره مې اړیکه ونیوله او هغه ته مې په استشهادي عملیاتو کې د ګډون لپاره د دریم ورور په اړه د خپل رغبت خبره وکړه، ځواب مې ترلاسه کړ چې ورور به ژر تر ژره تاسې ته ورسېږي او له هغه سره د سعودي پاسپورت دی، دا خبرې ټولې په شفر کې کېدې، د معمول په څېر، ورور هارون د نیروبي نړیوال هوايي ډګر ته د راتلونکي ورور د استقبال لپاره لاړ او زه یې د هرکلي لپاره د مومباسا هوايي ډګر ته لاړم ترڅو له هرې هغې غلطۍ څخه ځان وساتل شي، چې د سفر په مسیر کې پېښېږي. الوتکه په خوندي توګه راورسېده، خو العوهلي ورور نه و په کې او دا عادي خبره ده چې هغه په الوتکه کې نه و، بلکې هغه د دوحې په هوايي ډګر کې په ژور خوب ویده و، هغه  د لمانځه ادا کولو لپاره تللی و او د هوايي ډګر د زړه راښکونکو منظرو پر ځای یې په جومات کې پاتې کېدل خوښ کړي و، چې له څو ځلي زنګونو سره سره بیا هم له خوبه نه و پاڅېدلی، تر دې چې الوتکه نیروبي ته ورسېده. هغه په راتلونکې بله الوتکه کې راپورته شو او د نیروبي نړیوال هوايي ډګر ته ورسېد، خو هغه له ټکسي چلوونکو پرته چې هغه یې په نیروبي کې یو هوټل ته ولېږداوه، بل څوک په هرکلي کې ونه موندل او موږ په پاکستان کې له ورونو سره اړیکه ونیوله، چې ورور خو نه دی را رسېدلی، آیا برنامه تغییر شوې ده؟ ویل یې ورور پر ټاکلي وخت او په هماغه الوتنه کې لاړ. ما ورته وویل چې تاسې یې ستاسې خوا ته وڅارئ  او موږ به یې زموږ طرف ته، شاید بل کوم پټ شی وي.

بل سهار مې پاکستان ته زنګ وواهه او هغوی خبر راکړ، چې ورور د نیروبي په ترمنال هوټل کې دی، هغه موږ ته را معلوم دی، د ښار په منځ کې لوی مسجدته نژدې دی.

دوی ته مې وویل چې تاسې مطمئن شئ!

ما هارون ورور ته زنګ وواهه، چې ترمنال هوټل ته لاړ شي اوالعوهلي ورور له ځان سره ملګری کړي. لږ وروسته العوهلي له هارون سره ملګری و او ماته یې زنګ وکړ، په ټوکه یې راته وویل، په ما څه نه دي شوي، بس یوه تخنیکي رخصتي رامنځته شوه.

دا په ۱۴۱۹ هجري قمري کال د ۱۹۹۸ میلادي کال د جولای میاشتې په وروستیو کې و.

په دې توګه ورور العوهلي له موږ سره په کاري ټیم کې یو ځای شو.

په حقیقت کې د ورور معنویات خورا لوړ و، لکه څنګه چې همداسې هارون ورور ماته ویلي و، د عملیاتو لپاره ډېر لیواله و، او شعار یې دا وو:

و عجلت الیک رب لترضی.

اې زما ربه ستا په لور مې بېړه کړې ده، چې ته راضي شې.

## د سفر کولو عملیات

ما له شیخ ابو حفص الکومندان څخه وغوښتل چې د ورونو د ایستلو په پروسه کې د بیا کارولو لپاره یو شمېر پاکستاني ویزې راولېږي، ددې ویزو یو شمېر یې سمدستي را ولېږل شوې، خو له مهرونو، لاسلیکونو او لیکلو څخه پاکې نه وې، ما ځینې اړین مواد واخیستل، هغه ویزې مې پاکې کړې او بېرته خپل اصل ته را واوښتې، ترڅو د اړتیا په وخت کې د اعتبار وړ وي، او دا معلومات ( د کاغذونو او پاسپورتونو ترمیم کول) اوس په انټرنټ کې ممکن دي، خو په هغو ورځو کې چې موږ هلته په شرقي افریقا کې کار کاوه، وضعیت داسې نه و.

د ورور مصطفی کورنۍ راته وویل چې پاسپورت یې چمتو دی، د کورنۍ پاسپورت یې هم چمتو دی، نو موږ سمدستي د سفر ټکټونو ترڅنګ د پاکستان ویزه ترلاسه کړه، په دې انتظار کې چې له تنزانیا څخه راشي او فورا حرکت وکړي.

د ورور شعیب په اړه به دا ووایم، چې هغه د یمن پاسپورت درلود او موږ یې د اړتیا وړ ټاپې د پاکستان له ویزې سره چمتو کړې، چې ښه والی یې د ورور مصطفی له ویزې کم نه و، چې له پاکستاني سفارت څخه یې ترلاسه کړې وه او همداسې یې د کورنۍ پاسپورت هم تیار شو. د شیخ سویدان ورور او د هغه د کورنۍ لپاره مو هم د پاکستان ویزه ترلاسه کړه او د ټولو سفر له تنزانیا څخه د دوی له راتګ سره تړاو درلود[39].

مروان ورور د یمن پاسپورت اخیستی و او ټینګار یې کاوه چې د پاسپورت عکس بدلولو ته اړتیا نه لري او دا عکس له ده سره ډېر ورته دی. د هغه د اصرار دلیل دا و چې اصلي پاسپورت یې پخوا د اسنادو د نوي کولو په وخت کې له منځه تللی و او اوس یې جعلي پاسپورتونه استفاده کول، هغه وویل: زما غم مه کوئ، زه به یو څه وکړم.

## هر څه چمتو دي

ورونو له دارالسلام څخه زنګ وکړ او ویې ویل چې هرڅه چمتو دي او دوی د تګ اجازې ته انتظار باسي[40].

ما د هر څه په اړه پوښتنه ورڅخه وکړه.

---

39 د پاکستان له سفارت څخه د ویزې ترلاسه کول د سفر او ګرځندوی شرکتونو څخه د یوه له لارې و او زه په ښارونو کې کارکونکو ورونو ته مشوره ورکوم چې د معاملاتو د آسانتیا لپاره له دې شرکتونو څخه له یو سره معامله وکړي

40 زموږ په منځ کې په معلوم شفر باندې

ـ د ورور احمد عبدالله رواني حالت څنګه دی؟

ـ ویپ ویل: په اسمان کې دی.

ـ د ماینونو له نصبولو وروسته د موټر حالت؟

ـ د نیروبي له موټر څخه غوره.

ـ احمد ورور له سړک سره بلدتیا لري؟

ـ دوی وویل چې هغه څو ځله په خالي موټر وربانديې تللی دی.

هغه ورور چې د عملیاتو تر ورځې به ورسره په کور کې وي؟

هغوی وویل: هغه حاضر دی او ټولې لارښوونې ورسره دي.

لاسي بم؟

هغه دوه لاسي بمونه لري.

توپنګچه؟

شته او له مرمیو ډکه ده.

پیسې؟

له هغه سره ٦٠٠ ډالر دي، چې د عملیاتو په وخت کې به ورسره له منځه لاړې شي.

ما وویل: دا د امریکایانو لپاره تاوان نه دی[41].

پاسپورت؟

د هر ډول بېړني حالت لپاره چمتو دی.

په حقیقت کې هر څه د صفر ساعت لپاره چمتو و.

---

41 دا مصري اصطلاح ده، (ژباړن)

## ټول په مومباسا کې

ورور مصطفی د خپلې کورنۍ او شیخ سویدان په ملتیا حرکت وکړ او چې کله مومباسا ته ورسید، خپله کورنۍ یې د هغې د پلار په کور کې پرېښوده او فورا ماته راغلی، موږ د چای څښلو پر مهال ډېرې خبرې وکړې، په تنزانیا کې له مصطفی ورور سره د کار په جریان کې ډېر امنیتي ملاحظات و، چې دده لپاره یې د یوه درانه کابوس مثال درلود، دده له امنیتي لارښوونو سره سره چې خامخا یې هره ورځ کولې، بیا هم ده له ځینو ورونو څخه غفلت لیدی.

## د مثال په توګه: توپنګچه

ورور احمد عبدالله تنزانیا ته تر سفر مخکې له ما څخه وغوښتل، چې د عملیاتو پر مهال له هغه سره باید یوه لاسي وسله وي.ما د هغه د غوښتنې د پوره کولو ژمنه وکړه او له ورور فهد څخه مې وغوښتل چې د احمد لپاره یوه توپنګچه اماده کړي.

هغه وویل: شته.

کله چې د عملیاتو وخت رانژدې شو نو ورور فهد د یوه ورور په لاس چې له موږ سره یې په کاري ټیم کې کار کاوه، توپنګچه را ولېږله. دې ورور تر دې مخکې نه افغانستان ته سفر کړی و او نه یې هم کوم پوځي او حتی امنیتي کورسونه لوستي وو. له دې حالاتو سره یې په ساده ډول او پرته له پېچلتیا چلند کاوه، نو هغه توپنګچه تر خپل کمیس لاندې کېښوده او هغه کور ته روان شو، چېرته چې مصطفی او نور ملګري وو.

مصطفی ورته وویل: توپنګچه چېرته ده؟

هغه له کمیس څخه راوایستله او په هوا کې یې د مصطفی مخې ته وغورځوله.

او ویې ویل: مهرباني وکړه.

هغه ورته چیغې کړې ... ته لیونی یې ... ته لیونی یې!

ویې ویل: هو[42].

---

42 ماته د دې ورور ارامتیا او طبیعي چلند ډېر ښه خوند راکاوه، ځکه مې په افغانستان کې ورونو ته وویل، چې هغه ته هیڅ امنیتي کورس ورنکړې، تر څو پر خپل خوندور طبیعي حالت پاتې شي.

کارونه آسانه دي.

دا پېښه د ورور مصطفی په نظر یو ناورین ګڼل کېده.

ما ورته په خندا وویل:  نو په تا څه شول، دادی پخیر راغلې.

## لاسي بمونه

د لاسي بمونو کیسه تقریبا د توپنګچې کیسې ته ورته وه، ځکه هماغه ورور بمونه را خیستي و او د مصطفی مخې ته یې د هغه له چیغو او نعرو سره سره  غورځولي وو، خو دده له طرفه غیر طبیعي آرامي او د تعجب خندا وه. نورو مسائلو ته یې اشاره وکړه او ویې ویل چې زه به بیا هیڅکله په ښارونو کې کار ونه کړم... دا خلک لیوني دي!

ما کوشش کاوه، چې د هغه جذبه را کمه کړم او له ګران ورور مصطفی رحمه الله سره مې نرمي کوله، په ځانګړې ډول چې کارونه هم وشول او نوره کیسه خلاصه ده. وروسته له هغه چې هغه  خپلې اندیښنې ټولې راته وویلې، زما د خبرو نوبت شو، ما ورته وویل چې هرڅه چمتو دي او که ته غواړې نن ورځ لاړ شې، نو موږ تیار یو چې ته، شیخ سویدان او شعیب نیروبي ته لاړ شئ، که نه نو سبا به لاړ شئ. ان شاءالله.

ویې ویل: زه چمتو یم، اوس به شیخ سویدان ته د تیاري کولو خبر ورکړم او شعیب ورور هم تیار و او هر وخت یې د سفر انتظار کاوه.

هغه یو ساعت وروسته ما ته راغی او ویې ویل چې، ټول غواړي نن شپه سفر وکړي، نو موږ د بس ټکټونه واخیستل، او دوی په هماغه شپه  په بس کې نیروبي ته لاړل، چېرته چې بیا دوی د خلیج له لارې پاکستان ته په تلونکې الوتکه کې سپاره شول.

مهاجر ورور هم د ورور فهد په  ملګرتیا مومباسا ته راغلی و، د موټر بم د ماینونو جزئیات یې راته بیان کړل، چې ضروري کار او تر هغه لا ډېر کار پای ته ورسېدی. ده او ټولو ورونو په ډېره لنډه موده کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې او هغه څه یې تر سره کړل چې ددې په دوه چنده موده کې نه شوای تر سره کېدای. دوی شپه او ورځ په سختو امنیتي شرایطو کې کار کاوه او د الله ﷻ نصرت یې په هره شیبه کې احساساوه. د دوی پر ژبه به سهار او ماښام دعاوې جاري وې، **په حقیقت کې، دوی ټولو زما په پرتله ډېر کار وکړ، د مسؤولیت قدر یې کاوه، ټول کال سره له هغو زیاتو فشارونو او سختیو چې دوی ته متوجه وو، سمع او طاعت ته ژمن وو، ما له**

**دوی څخه تر هغه ډېر څه زده کړل، کوم چې دوی له ما څخه زده کړل، دا یو حقیقت دی او زه خوښوم، چې په جهادي تارخ کې یې ثبت کړم.**

## مشرتابه ته د عملیاتو د نوعیت په اړه خبر ورکول

تر دې شېبې پورې موږ په افغانستان کې مشرتابه ته د عملیاتو د بشپړ ماهیت په اړه خبر نه وو ورکړی، پرته له دې چې په پیغامونو کې ځینې اشارې ورکړل شوې وې، په القاعده کې زموږ د کار طبیعت داسې دی، چې لومړی پراخه پلان گزاري کېږي، بیا له دې پلان سره سم ملگري ته د کار کولو فرصت ورکول کېږي او دا د کار جریان ته لوی انعطاف ورکوي.

ما له ورور سویدان څخه وغوښتل چې شیخ اسامه او شیخ ابو حفص کومندان ته د عملیاتو د څرنگوالي په اړه معلومات ورکړي، د پلې کولو بشپړ طریقه یې ورته تشریح کړي او دا هم ورته ووایه چې که د الله ﷻ خوښه شوه، نوعملیات به په یوه اونۍ کې دننه ترسره شي، په دې شرط چې دا کار به یو راز وي، حتی پر هغو ورونو باندې هم چې له هغه سره سفر کوي، ورور مصطفی د نیروبي عملیاتو په اړه هیڅ معلومات نلرل او ورور شعیب د دواړو عملیاتو په اړه معلومات نلرل. معلومات به همدومره وي، څومره چې ورته اړتیا وي.

دا هغه قاعده[43] ده چې موږ له لومړۍ ورځې راهیسې عملي کوله.

## مومباسا د خدای پامان!

نیروبي ته د ورونو له سفر وروسته، په راتلونکې ورځ ما خپلو ټولو ښو گاونډیانو ته الوداع ووایو، دوی له ماسره ښې اړیکې پاللې وې اوما ته یې داسې خدمتونه وړاندې کړل چې زه به یې هېر نه کړم، که څه هم دوی مې د کار له ماهیت څخه په بشپړه توگه ناخبره و.

43 نن سبا ډېر عملیات ناکامه کېږي او غړي یې نیول کېږي، ځکه دوی پر واټساپ، ټلگرام او نورو باندې ډېرې خبرې کوي او په ډېر افسوس سره باید ووایم، چې ځینې مسؤولین دې خطرناک کار ته تر هغه وخته توجه نکوي، ترڅو چې دوی ته خیر وي. زما په نظر دا په امانت کې خیانت او په اصل کار کې تفریط دی او دا د حیرانتیا خبره ده، چې دښمن په دې باندې تصریح کوي، چې د ارتباطي وسائلو په څارلو سره یې گڼ عملیات شنډ کړي دي او له همدې لارې توانیدلي دي، چې گڼ شمېر عناصر ونیسي، خو لا هم ځینې خلک دا مسأله جدي نه نیسي او د معلوماتو په اړه تیزي کول خپل پریس سکوپ (دا د ژورنالیزم یوه اصطلاح ده، چې د هغه ځانگړي خبر یا معلوماتو لپاره کارول کېږي، چې یو خبریال یا یوه رسنۍ یې تر نورو خلکو وړاندې ترلاسه کړي او نشر یې کړي. ژباړن) گڼي.

دوی ښه خلک وو، د دې دین خدمت یې وکړ، ددې جهاد ملاتړ یې وکړ او د الله ﷻ له فضل وروسته یې ددې کار په پوره کولو کې سهم واخیست، پرته له دې چې دوی په دې کار خبر شي.

دا هغه عام مسلمانان دي چې ما ورسره په افریقا کې چلند وکړ، که تاسې له دوی سره ښه چلند او تواضع وکړئ، دوی به ستاسې لپاره هر څه وکړي. ما چې له دوی څخه رخصت اخیست، د دوی له سترګو اوښکې بهیدې او ما هم د دوی په څېر یا تر دوی زیات احساس کاوه.

ما د کور ټول سامانونه پر دوی وویشل او زیاتې جامې مې له مینځلو او اوتو کولو وروسته کنجه[44] ته ورکړې او په دې ښه چلند هغه ډېر په تعجب او حیرانتیا کې و[45]. سره له دې چې هغه عیسوي و، خو ماته د رخصت راکولو پر وخت یې ژړل.

له کافرانو سره ښه سلوک او احسان د ولاء او براء له مسألې سره ټراو نلري او دا له هغه موالات څخه هم نه دی، چې منع ورڅخه شوې ده.

الله ﷻ فرمايي:

لَّا يَنْهَىٰكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ [سُورَةُ المُمتَحنَة : 8]

«الله ﷻ تاسې له دې خبرې څخه نه منع کوي، چې له هغو خلکو سره د نیکۍ او عدل چلند وکړئ، چې د دین په باب یې له تاسې سره جنګ نه دی کړی او تاسې یې له خپلو کورونو څخه نه یاست ایستلي، الله ﷻ عدل کونکي خوښوي».

بیا نیکي، صله رحمي او احسان د الله ﷻ په قول کې له هغوی سره د هغې مینې او محبت په معنی نه دی، چې منع ورڅخه شوې ده.

---

44 هغه زما په ګاونډ کې په یوه کور کې د نوکر په توګه کار کاوه، ما له هغه سره د ښه ګاونډیتوب په خاطر ښه سلوک کاوه، ښه وضعیت مې ورسره کاوه، نرمي مې ورسره کوله، ده هم له ماسره ورته احساس کاوه او ما به مبالغه نه وي کړې، که داسې مې وویل، چې ماته د هغه سترو خدمتونو هغه زموږ د ټیم غړی ګرځولی و، سره له دې چې هغه زموږ د کار په اړه نه پوهېدی.

45 افریقا د مخلصینو داعیانو دعوت ته ډېره اړتیا لري، چې خلک اسلام ته را وبولي او خلکو ته د اسلام صحیح تصویر په عملي او قولي شکل وړاندې کړي.

لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوْ كَانُوٓا ءَابَآءَهُمْ أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَٰٓئِكَ كَتَبَ فِى قُلُوبِهِمُ الْإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُولَٰٓئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ [سُورَةُ المجَادلة : 22]

«ته به هیڅکله دا ونه مومې، چې کوم خلک چې پر الله ﷻ او آخرت باندې ایمان لرونکي دي، هغوی دې له هغو خلکو سره مینه کونکي واوسي، چې د الله ﷻ او د هغه د پیغمبر مخالفت یې کړی دی، که څه هم د هغوی پلرونه وي، یا د هغوی زامن وي، یا د هغوی وروڼه وي، یا د هغوی ټبر او کورنۍ وي. دا هغه کسان دي، چې الله ﷻ یې په زړونو کې ایمان ثابت کړی دی او له خپل لوري د یو روح په ورکولو سره یې دوی تقویه کړي دي، هغه به دوی داسې جنتونو ته ننباسي، چې لاندې به یې ویالې بهېږي، هلته به د تل لپاره اوسېږي، الله ﷻ له دوی څخه راضي شو او دوی له الله ﷻ څخه راضي شول، دوی د الله ﷻ د ګوند خلک دي، خبر دار اوسئ! همدا د الله ﷻ د ګوند خلک بري موندونکي دي».

اسلام کافر ته د ډالۍ ورکولو جواز ورکړی دی، لکه د سیده اسماء بنت ابي بکر رضی الله عنهما په حدیث کې چې راغلی، هغه وایي:

قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وهي مُشْرِكَةٌ في عَهْدِ رَسولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ، فَاسْتَفْتَيْتُ رَسولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ، قُلتُ: وهي رَاغِبَةٌ، أفَأَصِلُ أُمِّي؟ قالَ: نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ.

«د نبي کریم ﷺ په زمانه کې مې ماته مور په داسې حال کې راغله، چې هغه مشرکه وه، نو ما له رسول الله ﷺ څخه فتوا وغوښته، ما ورته وویل: زما مور راغلې او هغه کافره ده، آیا زه له هغې سره صله رحمي وکړم؟ هغه وویل: هو له خپلې مور سره صله رحمي وکړه»[46].

عن ابن عمر أن عمر بن الخطاب رأى حلة سيراء يعني تبَّاع عند بَّاب المسجد فقال يا رسول اللهِ لو اشتريت هذه فلبستها يوم الجمعة وللوفد إذا قدموا عليك فقال رسول اللهِ صلى الله عليه وسلم إنما يلبس هذه من لا خلاق له في الآخرة ثم جاءت رسول اللهِ صلى الله عليه وسلم منها حلل فأعطى عمر حلة فقال عمر كسوتنيها يا رسول اللهِ وقد قلت في حلة عطارد ما قلت فقال رسول اللهِ إني لم أكسكها لتلبسها فكساها عمر أخا له مشركا بمكة.[47]

«له سیدنا ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی، هغه وایي: سیدنا عمر رضی الله عنه پر یوه سړي ګینه ولیده، چې پلورل کېده، نو رسول الله ﷺ ته یې وویل: دا جامه واخله، د جمعې په ورځ او کله چې وفد درته

---

46 امام بخاري رحمه الله په دې نوم باب قائم کړی دی: باب الهدية للمشركين.

47 رواه البخاري

راځي اغوندې به يې! رسول الله ﷺ وفرمايل: دا جوړې هغه څوک اغوندې چې په اخرت کې يې برخه نه وي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته داسې جامې راوړلې شوې، له هغو څخه يې عمر ته يوه جوړه ور ولېږله، عمر رضي الله عنه وويل: زه به يې څنګه اغوندم، تا خو د دې په اړه هغه څه ويلي، کوم چې تا ويلي دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا مې تاته د دې لپاره نه ده درکړې، چې ته يې واغوندې، خرڅه يې کړه يا يې بل چا ته ور واغونده، نو عمر رضی الله عنه په مکه مکرمه کې خپل يوه ورور ته چې اسلام يې نه و راوړی ور ولېږله».

شريعت له کافر څخه د ډالۍ قبلولو اجازه هم ورکړې ده، نبي کريم ﷺ د مقوقس هغه تحفې قبولې کړې، چې ورته را لېږلې يې وې، د هغوی په منځ کې يوه سيده ماريه قبطيه رضی الله عنها هم وه، چې نبي کريم ﷺ ورسره وساتله او له هغې څخه يې يو زوی ابراهيم هم پيدا شو.

وأَهْدَى مَلِكُ أَيْلَةَ للنبيِّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ بَغْلَةً بَيْضَاءَ، وكَسَاهُ بُرْدًا، وكَتَبَ له ببَحْرِهِمْ.[48]

«د ايله پاچا رسول الله ﷺ ته يوه سپينه خچره او يوه جوړه ډالۍ کړه او د خپل سمندر په اړه يې ورته وليکل».

عن انس بن مالک أن امرأة يهودية أتت رسول اللهِ صلى الله عليه وسلم بشاة مسمومة ، فأكل منها ، فجيء بها إلى رسول اللهِ صلى الله عليه وسلم ، فسألها عن ذلك ؟ فقالت : أردت لأقتلك ! فقال : ما كان الله ليسلطك على ذلك – أو قال : علي – فقالوا : ألا نقتلها ؟ قال : لا . فما زلت أعرفها في لهوات رسول اللهِ صلى الله عليه وسلم[49].

«له سيدنا انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې يوې يهودۍ ښځې رسول الله ﷺ ته په زهرو لړلی پسه راووړ، رسول الله ﷺ ته وويل شول، آيا ويې نه وژنو؟ ويې ويل: نه. او زه اوس هم هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خوښو شيانو کې پېژنم».

عن عبدالرحمن بن ابي بكر انه قال كُنَّا مع النبيِّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ ثلاثينَ ومائةً فقال النبيُّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ : هل مع أحدٍ منكم طعامٌ فإذا مع رجلٍ صاعٌ من طعامٍ أو نحوَهُ فعجنَ ثم جاء رجلٌ مشركٌ مُشْعَانٌ طويلٌ بغنمٍ يسوقها فقال النبيُّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ : أبيعًا أم عطيةً أو قال أم هديةً؟[50]

«له سيدنا عبدالرحمن بن ابی بکر رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وويل: موږ له رسول الله ﷺ سره يو سل او دېرش تنه وو.رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا په تاسې کې له چا سره خوراکي توکي شته؟ له يوه سړي سره

---

48 رواه البخاري

49 رواه البخاري

50 رواه احمد

يو صاع يا داسې شاوخوا اوړه و، نو و اغړل شول، يو اوږد مشرک سړی له پسونو سره راغی چې څرول يې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: خرڅوې يې، که يې ډالۍ کوې؟ يا يې داسې ورته وويل: که يې هبه کوې؟»[51]

اعرابي ته د پيغمبراکرم ﷺ دا خبره چې «بيعا ام يا عطية» له مشرک څخه د ډالۍ پر منلو دلالت کوي.

امام ابن حجر رحمه الله وايي: په دې حديث کې د مشرک تحفه قبوله شوې ده، ځکه يې ترې پوښتنه وکړه چې ايا پلوري يې که يې ډالۍ کوي؟

صحيح مسلم له سيدنا علي بن ابي طالب رضي الله عنه څخه روايت کوي، چې:

أن أكيدر دومة أهدى إلى النبي صلى الله عليه وسلم: ثوب حرير. فأعطاه عليا. فقال: شققه خمرا بين الفواطم.

«اکيدر دومه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د ورېښمو يوه جوړه وړاندې کړه نو هغه ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته ورکړه او ورته ويې ويل: دا د درې واړه فاطمه نومې ميرمنو[52] په منځ کې تقسيم کړه»[53].

زموږ د اپارتمان خاوند ته چې په همدې ګاونډ کې اوسېده، ورغلم، د برېښنا او اوبو بل چې لا نه و را غلي ورمې کړل، له هغه سره مې د کور د خلاصولو پر ټولو لارو چارو خبرې وکړې او په دې هيله مو لاسونه سره ورکړل، چې بيا به سره وينو، ځکه موږ د هغه په خبره تر ټولو هغه خلکو غوره وو، چې دده په کور کې اوسېدلي وو، زه به د مياشتې تر پای ته رسېدو مخکې د کرايې ورکولو لپاره هغه ته ورتللم او هغه اړتيا نه درلوده چې د کرايې غوښتنې لپاره راشي. ما له هر چا سره ښه او له مهربانۍ ډک چلند کاوه او دا هغه څه دي چې يو مسلمان يې بايد وکړي، تر څو وروسته له هغه چې خلک پوه شي، چې موږ څوک وو، په ختيځه افريقا کې مجاهدينو ته ښه نوم پربږدم، غربي او عربي رسنۍ هڅه کوي، چې مجاهدين داسې انځور کړي، چې دا ډېر سخت او تند خلک دي، الله ﷻ يې له زړونو څخه رحم ايستلی دی، د دوی د انځور د خرابولو او له

دوی څخه د خلکو د ګوښه کولو هڅه کوي، سره له دې چې مجاهدين له دې ټولنو څخه راوتلي دي، له ښو اخلاقو څخه برخمن دي، پر اسلامي امت باندې تر ټولو مهربانه او رحم کونکي خلک دي، د امت پر مسائلو تر ټولو زيات حريصان دي او د خپل دين او د هغه د مسائلو په خاطر ځانونه او مالونه قربانوي، د الله ﷻ له رضا پرته بل څه نه نشروي، له الله ﷻ څخه په هره دعاء کې دا غواړي، چې آخره خاتمه يې پر في سبيل الله

51 امام بخاري رحمه الله په دې اړه باب قائم کړی دی: باب قبول الهدية من المشركين.

52 ځينې علماء کرام وايي چې له فواطم څخه مراد حضرت فاطمه بنت رسول الله ﷺ ، فاطمه بنت اسد او فاطمه بنت حمزه رضی الله عنه مراد دي. (ژباړن)

53 رواه مسلم. او ما غوښتل چې په لنډه توګه دا موضوع بيان کړم، چې پر لوستونکو ګډوډه نشي.

شهادت شي او ډېر کم موږ په دوی کې له دوی څخه د ځینو ناسم اخلاق وینو، دا یوه طبیعي خبره ده، مجاهدین د بشر له جنس څخه دي، کله حق ته رسېږي او کله بیا خطا کېږي هم، غوسه هم کوي او حوصله هم کوي، خندا هم کوي او غم هم کوي، او کامیابه هغه دی، چې ژر تر ژره الله ﷻ ته توبه وباسي.

## د ماهي اشتها لرم

ورور عزام وروسته له هغه چې موږ د کور ټول شیان وویشل او د پخولو هیڅ پاتې نشول، راته وویل: ماهي خوړلو ته مې اشتها وشوه.

ما ورته وویل: موږ به یې په یو غوره رستورانت کې وخورو، ان شاءالله.

کنجه له موږ سره و او له ما څخه یې په سواحلي ژبه وپوښتل: څه غواړي؟

ما ورته وویل: ماهی.

ویل یې زه ځم، ماهیان اخلم او ژر یې پخوم.

ما پیسې ورکړې، هغه لاړ، ماهیان یې واخیستل او د ښو همسایه ګانو په کور کې یې پاخه کړل، له هغې خوا یې کباب راوړل او دا په مومباسا کې آخري ډوډۍ وه، چې ما وخوړه.

موږ کور پرېښود، ټولو ته مو الوداع ووایه او یوه هوټل ته لاړو چې د شپې نیروبي ته زموږ د الوتنې انتظار وکړو.

ترتیب دا و، چې له ما، عزام او مهاجر سره به فهد، احمد او مروان یو ځای شي او موږ موافقه وکړه، چې د ویزې د اجراءاتو د بشپړولو لپاره به په هیلتوب هوټل کې سره یو ځای کېږو.

بله ورځ نیروبي ته ورسېدو او په همدې هوټل کې مو یوه کوټه کرایه کړه، عزام د هارون کور ته ورغی، ما له هارون څخه وغوښتل، چې سبا ته راشي او زموږ د ټولو د ویزو کارونه را خلاص کړي.

نور ملګري مو هم د موافقې له مخې له موږ سره یوځای شول او په هماغه هوټل کې پاتې شول.

## د اسنادو غرفه

موږ د مومباسا له دفتر څخه پاکستان ته د خلیج له لارې د تګ لپاره پاسپورتونه اخیستي وو، په هوټل کې د ټولو ورونو پاسپورتونه تکمیل شول، ویزې ورباندې ولګیدې او پر ویزو اړین مهرونه ولګیدل، هارون چې د انګلیسې ژبې خط یې ډېر ښکلی و، د اړتیا وړ لیکل یې ورباندې کول او ما پر ټولو ویزو مهرونه او د سفیر لاسلیک کاوه.

بیا مو هر پاسپورت خپل مالک ته پرته له دې ورکړ، چې هغه یې د جوړولو طرزالعمل ووینې او دا ښه طریقه ده. **چاته چې پاسپورت جوړوې د کار په وخت کې دې هغه نه ګوري، بس تیار یې ورتسلیم کړه او که یې د جوړولو په وخت کې ناست و، نو پر هر حرف، هر مهر او هر لاسلیک به شک کوي او په هوايي ډګر کې به لومړي افسر ته ځان تسلیم کړي.**

## یادونه

په هوايي ډګر کې د پاسپورت پر افسر ستا او د سفیر د لاسلیک او ستا او د سفارت د مهر تر منځ هیڅ توپیر نشته، مهمه داده، چې پر الله ﷻ له توکل وروسته ته پر ځان باور ولرې او په عادي توګه پر مخ لاړ شې، هغو کسانو ته پام مه کوه، چې وايي دا رښتینې ویزه ده او هغه جعلي ویزه ده، هغه بیا څوک دی چې د دوی لیکل او ویزې اصلي بولي او زموږ ویزې، لیکل او مهرونه جعلي بولي؟ دا هغه وهمونه دي، چې خلک یې خپروي او د جعل نوم یې یو جرم او یو له لویو ګناهونو څخه ګڼلی دی، چې د هغه قانون له مخې به سزا ورکول کېږي، چې دوی د خپل عقل پر اساس تشریح کړی دی.

## وروستي لمسونه

زه او مهاجر ورور د هارون کور ته د عملیاتو د آخري لمس لپاره لاړو، چېرته چې وروڼه عزام او العوهلي او په چاودېدونکو توکو بار لارۍ وه.

هرڅه چمتو وو، کارونه په سمه توګه او آسانۍ سره روان وو، موټر بم خورا ښه جوړ شوی و او لارۍ تیاره وه، هره ورځ چالانېده، د وروڼو معنویات لوړ وو، روحانیات او ایمانیات یې بې مثاله و. تاسې څه فکر کوئ، چې دواړه وروڼه د الله ﷻ پر لور روان دي، موږ په دوی دواړو کې اخلاص او اقدام وینو. چې د الله ﷻ د کتاب یو آیت به یې واورېدی، له سترګو به یې اوښکې روانې وې، له الله ﷻ څخه ویریدل او د خپلو ګناهونو د بښنې او د عفوې امید یې ورڅخه لاره.

دا شپه مو د هارون په کور کې له وروڼو عزام او العوهلي سره تېره کړه او د سهار د لمانځه پر مهال دواړو وروڼو له ژړا څخه ځان قابو نشو کړای، غږونه یې پورته شول، په دې سخته چوپتیا کې د غږ له پورته کېدلو وویرېدم، نو لمونځ مې لنډ کړ، له لمانځه وروسته کښېنستلو او د هغه کار د فضیلت یادونه مو وکړه، چې دا دوه وروڼه ور

تلونکي وو، د ساحر او هلک کیسه مو بیان کړه،[54] له هغه وروسته د عملیاتو او د هغو د عملي کولو پر طرز وغږېدو او دوی ته مې وویل، چې زه به دا عملیات له یوه خوندي ځای څخه تعقیب کړم. دوی هیله درلوده چې زه له عملیاتو څخه مخکې سفر وکړم ځکه هسې نه کوم تکلیف راته ورسېږي. ما ورته وویل: تاسې ډاډه اوسئ..... اندیښنه مه کوئ، کارونه ټول په تقدیر روان دي.

دا د پنجشنبې ورځ وه، د عملیاتو له نېټې یوه ورځ مخکې، زموږ د سفر نېټه د همدې ورځې مازدیگر وه، خو دواړه استشهادي ورونه د سفر په نېټه نه و خبر، چې مورال یې لوړ پاتې شي.

## مشوره

رهبري باید له خپلو عناصرو او اشخاصو سره په محسوس ډول نژدې وي او که دا ممکنه نه وي نو په اخلاقي بڼه باید ورسره نژدې وي، دا د افرادو پر روحیاتو ژوره اغېزه لري او د الله ﷻ له فضل وروسته د کار په بریالیتوب کې مثبت رول لري.

## هارون ورور به د دواړو اتلانو ملگرتیا کوي

د شیخ اسامه رحمه الله یو وصیت دا و، چې یو ورور دې له استشهادي ملگري سره وي، هسې نه چې کومه پېښه رامنځته شي او هغه وخت به نو بیا فدایي ملگری د هغه حال له وجې چې ورسره مخ دی، په صحیح توگه خپل کار نشي کولای، ځکه هغه یوازې تنې ته د فشار ورکولو لپاره چمتو دی، نه د بلې پېښیدونکې ستونزې لپاره او ممکن عملیات په وروستۍ شیبه کې د یوې ساده ستونزې له امله ودرېږي ، که څه هم دا کار له امنیتي پلوه خطرناک دی.

امنیتي قاعده وایي: استشهادي مجاهد د عملیاتو په ډگر کې وروستی پاتې عنصر دی.

زه وایم چې دا مقررات په تیوریکي لحاظ غوره او خوندي دي، خو دا هر وخت ترټولو هوښیار نه دي.

موږ د هارون ورور له کوره ووتلو او هوټل ته د سفر د تیاریو په موخه لاړو او په سفر کې مو ورور مهاجر او احمد التنزاني هم شامل وو. دا سفر د پنجشنبې په مازدیگر د کینیا له هوایي شرکت څخه و.

---

54 هغې کیسې ته اشاره ده،کومه چې په سورة البروج کې بیان شوې ده. (ژباړن)

دویمه الوتنه له ماښام وروسته ، د پاکستان له پي آی آې هوايي شرکت څخه وه، چې فهد او مروان ورور به سفر ورباندې کاوه.

موږ په کینیا کې هارون، عزام او العوهلي پرېښودل او په دار السلام کې ورور احمد عبدالله او ورور خلفان پاتې شول، چې ورور خلفان[55] به له عملیاتو وروسته تنزانیا ته ځي، له هغه ځایه به جنوبي افریقا ته ځي او له هغه ځایه به د پاکستان له لوري افغانستان ته د تللو ترتیب برابروي.

له الوتنې دوه ساعته مخکې له هوټل څخه د نیروبي نړیوال هوايي ډګر ته ولاړو، هلته د امنیتي پرسونل له خوا یو څه څورول رامنځته شول، تر څو د اونې په پای کې پیسې ترلاسه کړي.

دوه امنیتي کسان ماته راغلل او زما پاسپورت یې وغوښت.

ما دوی ته خپل پاسپورت ورکړ، دوی زما بکسونه د ځانګړې معاینې لپاره یوه طرف ته کړل، دا هغه کړنلارې دي چې له کلونو څخه ورسره بلد یم، زه د نیروبي له هوايي ډګر او د هغه کارمندانو سره ښه تجربه لرم.

هغوی ویل ستا په بکس کې څه دي؟ ما دوی ته په سواحلي ژبه ځواب ورکړ: دا زما د میرمنې او لوڼو لپاره ځینې ډالۍ دي.

کله چې ما له دوی سره په سواحلي ژبه خبرې وکړې، دوی وخندل، د دوی له مخونو جعلي ترش والی ورک شو، او بکس یې خلاصه نکړ.

هغوی وویل: موږ د ویک انډ ( د اونۍ د پای د ورځې ) ډالۍ غواړو، له ما سره ډالر تیار وو، نو دوی ته مې شل ډالر ورکړل.

پاسپورت یې واخیست، د وتلو ټاپه یې ورباندې ووهله او ماته یې په مهربانۍ او موسکا سره رخصت راکړ.

د انتظار په خونه کې مې وروڼه احمد او مهاجر ولیدل، الحمد لله دوی له داسې کار سره نه و مخ شوي.

له لږ ځنډ وروسته دروازه خلاصه شوه او ټول د الوتکې په لور روان شول.

---

55 دا د خلفان ورور خوښه وه، چې جنوبي افریقا ته لاړ شي، هلته اسناد نوي کړي او له هغه ځایه بیا په موږ پسې افغانستان ته راشي.

## هوا پر هغه طرف چلېږي، چې کښتۍ یې نه غواړي[56]

حالات په نورمال ډول روان وو، خو له لسو دقیقو وروسته مو په الوتکه کې یو لوی ټکان احساس کړ، لکه د افغانستان د اریانا هوایي شرکت، یا د ایران او پاکستان داخلي شرکتونه، د الوتکې کپتان اعلان وکړ، چې د فشار په وسیله کې تخنیکي خرابي رامنځته شوه او موږ یې باید د جوړولو لپاره بېرته د نیروبي نړیوال هوایي ډګر ته ستانه شو. د مسافرو لپاره هیڅ بدلون نه دی راغلی، خو زموږ لپاره هرڅه بدل شول! موږ بېرته هوایي ډګر ته راغلو او دوی اعلان وکړ چې د ستونزې حل به درې ساعته وخت ونیسي، له دې وروسته به الوتکه یا خپل پرواز ته دوام ورکړي، یا به تر بلې ورځې پورې وځنډول شي.

## نصیحت

مشرتابه باید په داسې شرایطو کې پرته له کومو احساساتو او ګډوډۍ څخه په آرامۍ سره عمل وکړي او دا په سمه پرېکړه کولو کې ډېره مرسته کوي، ځکه جګړه آرامۍ او حوصلې ته اړتیا لري، برعکس د هغو خلکو چې بل ډول فکر کوي. د امریکایي مشرانو احساساتو ته پام مه کوه، ځکه هغه احمقان او صاحب الحال دي.

ما سمدلاسه ورور احمد د پاکستاني هوایي شرکتونو دفتر ته ولېږی، چې د هغه د بک کولو امکان وپوښتم او له هغه طرفه ځواب هو و، په الوتکه کې خالي څوکۍ پاتې وې. دا خبر زموږ لپاره خوشحاله کونکی و، ځکه موږ له ځان سره د هرې ستونزې د پېښیدو لپاره زیاتې پیسې راخیستې وې او چې هر ورور به سفر کاوه، ما ۶۰۰ سوه ډالر احتیاطي ورکول، چې د هرې ستونزې د پېښیدو په وخت کې استفاده ورڅخه وکړي.

له هوایي ډګره مې ورور هارون ته زنګ وواهه، خو عزتمنې خور ام لقمان راته وویل: ابو لقمان بهر لاړ. ما ورته وویل چې په الوتکه کې تخنیکي ستونزه را منځته شوې ده، ښایي په سفر کې ځنډ راشي، خو هارون ته ووایه چې د ماهي غوښه پر وخت را ولېږي. هغې وویل: زه به هغه ته له راستنیدو سره سم ورته ووایم، او په حقیقت کې هغه زموږ د کار په ماهیت هیڅ نه پوهېده، پرته له دې چې خپل خاوند یې ورته ویلي و، چې موږ د کب نیولو کار کوو او القاعده لکه څنګه چې یې دا ځینې خلک د تلویزون پر سکرین تحلیلوي، د ښځو تنظیم نلري.

---

56 د دې برخې اصل د متنبي شعر دی:

ما كل ما يتمنى المرء يدركه

تجري الرياح بما لا تشتهي السفن

«هر سړی هغه څه نه ترلاسه کوي، چې دی یې غواړي

بادونه پر هغه طرف چلېږي، چې کښتۍ یې نه غواړي».

هغې وویل: ورور ابوطلال لږ مخکې موږ ته زنګ وواهه او د کور ادرس یې وغوښت.

تا ورته څه وویل؟

هغې وویل: ما ورته وویل چې زه یوازې څو ورځې کېږي، راغلې یم، ادرس نه دی را معلوم.

ما وویل: هغه د تلیفون شمېره له چا څخه ترلاسه کړې؟

هغې وویل: زما په ګمان له اسکندر څخه.

ما ورته وویل: که هغه بیا زنګ ووهي، نو ادرس ورته مه وایه او هارون ته ووایه چې له هغه سره هیڅ ملاقات او هیڅ ډول اړیکه مکوه.

هغې وویل: هارون ما ته مخکې دا خبره کړې وه.

ما ورته وویل: هارون ته ووایه، چې دارالسلام ته زنګ ووهي.

هغې وویل: دا کار به وکړم.

شرکت ته را وګرځېدم، بېرته دواړو وروڼو ته ورغلم، هغوی وویل: څه باید وکړو؟

ما ورته وویل: زه پر دې ټینګار کوم، چې کارونه به له هغه ترتیب سره سم ځي، کوم چې موږ ورته جوړ کړی دی او پر خپل ټاکلي وخت باندې، پرته له کوم ځنډ څخه.

ویې ویل: او که موږ سفر ونکړ؟

ما وویل چې موږ ټول به نن شپه مومباسا ته ځو، سهار به صومالیې ته سفر کوو، او هر څه ترتیب شوي دي، ان شاءالله.

یوازې دوه ساعته تېر شول، اعلان یې وکړ چې خرابوالی ترمیم شو او الوتکه به له اوس څخه نیم ساعت وروسته پرواز وکړي، موږ د الله ﷻ حمد اداء کړ، د الوتکې په لور لاړو، تر دې چې نوی پرواز یې راباندې وکړ او د دوبۍ په هوایي ډګر کې ښکته شوه، موږ له الوتکې څخه ښکته نه شوو، ځکه ترانزیټ په الوتکه کې دننه و، یوازې یو ساعت تېر شوی و چې الوتکه له پاکستاني ښکلو مخونو څخه ډکه شوه ، پاکستاني قوم ښه متدین خلک دي، له عربو سره مینه لري او د هغوی لپاره خاص احترام لري، ځکه هغه د دوی په نظر د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو اولادونه دي، موږ له هغوی سره ګرمې اړیکې لرو، پاکستاني ولس د روسانو پر ضد د جهاد په وخت کې او د اسلامي امارت په زمانه کې له مجاهدینو سره باعزمه موقف او دریځ درلود، دا یو متدین قوم دی،

چې له مجاهدینو سره مینه لري، برعکس د دوی د حکومت، چې د اسلام او مسلمانانو پر ضد په جګړه کې له هیڅ کوشش څخه ځان نه سپموي.

الوتکه د شپې ناوخته کراچي ته راورسېده او په خاص هماغه طریقه چې د کینیا په هوایي ډګر کې مو اجراآت کړي وو، د کراچي په هوایي ډګر کې مو هم ترسره کړل، د کراچي هوایي ډګر هم په اداري فساد او رشوت کې د نیروبي له هوایي ډګر څخه یوه ذره کم نه دی. د استقبال لپاره مو هیڅوک ونه موندل، ځکه هغه ملګري چې هرکلي ته راغلي و، فکر یې کړی و، چې الوتنه ځنډېدلې ده، بېرته تللي وو.

## یو خندونکی او نه هیریدونکی حالت

موږ د هوایي ډګر مخې ته یوه ټکسي په کرایه ونیوله، چې یوه هوټل ته مو ورسوي، ټکسي د ښار د مرکز په لور روانه شوه، زه په شاته سیټ کې ناست وم، زما شا ته یو تکلیفونکی اواز و او بد بوی ورڅخه راتلی، د بد بوی له امله ما لاس د غږ په لور وغځاوه، یو لاستی مې پیدا کړ او را کش مې کړ. غږ خاموشه شو، یوازې څو شیبې تېرې شوې چې ټکسي ناڅاپه ودرېده، موټر چلوونکي د موټر دروازه پرانستله او ډېره هڅه یې وکړه چې معلومه کړي چې څه غلط دي، خو بې فایدې و، دا ځل موږ هم ډېر ډاړمن و، ځکه ستونزه په الوتکه کې نه بلکې په ټکسي کې وه، موږ خبرې سره کولې او موټر چلوونکی پر ټکسي ګرځېدی، نه پوهېدی، چې ستونزه یې په کوم ځای کې ده؟ او دا څه ناڅاپه خرابي وه چې ټکسي یې داسې ودروله لکه یو مړ، بې حرکته جسد، هغه راغی، میټر ته یې وکتل، د موټر چلونکي ګاز ننبه یې بنده وه، هغه ته یې ستونزه معلومه شوه، زما شاته راغی او هغه لاستی یې یو ځل بیا وګرځاوه، هغه غږ چې ما مخکې اورېدی او بد بوی ورڅخه راتلی، بیا شروع شو، ټکسي په چټکۍ سره روانه شوه، پر دې مسخره وضعیت ټولو وخندل او ټولو داسې څرګنده کړه، چې ددې وار ستونزې لامل هم زه وم، که څه هم هغه بل ځل د الوتکې په خرابۍ کې ما هیڅ لاس نه درلود. ما ورته وویل: زه بخښنه غواړم دا لومړی ځل دی چې زه په ټیوب سره چلیدونکې ټکسي کې سفر کوم.

## هوټل ته رسېدل

ناوخته شوی و او پر ټولو ستړیا ښکارېده، نو ژور ویده شو، د سهار له لمانځه وروسته بیا شاوخوا دوه ساعته ویده شوو، له هغه وروسته سړک ته راښکته شوم او له ورور بدر الباکستاني رحمه الله سره مې اړیکه ونیوله، ما د امنیتي ملحوظاتو له امله له هوټل څخه تلیفون کول خوښ نکړل، یو ساعت هم نه و تېر شوی، چې موږ له هوټل څخه بهر، د محترم ورور بدر کور ته روان وو.

موږ یې په سخاوتمندانه مېلمه پالنه کې پاتې شوو، لکه څنګه چې دا د پاکستان د معززو خلکو دود دی.

ما بدر ورور ته وویل: آیا له تاسې سره ډش" سټلایټ" شته؟

هغه وویل: هو.

ما ورته وویل چې زه غواړم خبرونه وګورم.

سمدلاسه یې وویل: اوس دستي به یې وګورې ان شاء الله.

موږ یوې بلې کوټې ته ولاړو، چې یو لوی ټلویزیون په کې و، خبرونه مو اورېدل، زه په ډېر اندېښمن حالت کې وم، وېرېدم چې هسې نه کومه پېښه رامنځته شي او عملیات وځنډېږي، یا خدای مه کړه ناکامه شي.

ما له بدر ورور څخه وغوښتل چې د یو مهم تلیفون لپاره راښکته شي، موږ د تلیفون کولو یوه ځای ته لاړو، هارون ورور ته مې تلیفون وکړ.

خو هغه ځواب رانه کړ، هغه له دې وېرې چې ابو طلال زنګ ورته ونکړي، له تلیفون څخه جلا شوی و.

ما د اسکندر کور ته زنګ وواهه، یوې خور ځواب راکړ، ما په سواحلي ژبه د هارون پوښتنه ورڅخه وکړه، هغې وویل، سهار مو ولیدی، د خپل تره او کورنۍ د سفر په تیاري بوخت و.

ما ورته وویل: ته مهرباني وکړه، هارون ته ووایه چې صالح تلیفون کړی و او غوښتل یې ستا په اړه اطمینان ترلاسه کړي.

اړیکه مې پرېکړه، خو زما اندیښنه بیخي ډېره زیاته شوه، که څه هم ما پر الله ﷻ باور درلود، چې عملیات به بریالي کېږي، خو دا د انسان طبیعت دی.

له هرې خوا د جوماتونو غږونه را رسېدل، د جمعې د لمانځه وخت و، خلک په مساجدو کې و او دا د دعاء د قبلیدو وخت و، موږ دعاء پیل کړه، الله ﷻ ته مو ډېرې زارۍ وکړې، د جمعې لمونځ لا نه و اداء شوی، چې پر سي ان ان تلویزون لومړی خبر راغی، چې په نیروبي کې د امریکا پر سفارت چاودنه شوې ده.

موږ په دې خبر بې اندازې زیات د سعادت او خوشحالۍ احساس وکړ، له دې سره په عزام او العوهلي ورور پسې غمجن هم شوو، خو دا غم په ځینو هغو ښو خبرو چې موږ وکړې، چې دوی شهیدان دي، ډېر ژر لیرې شو. (نحسبهم کذلک ولا نزکي علی الله احدا).

مور پر دې بریا الله ﷻ ته د شکر سجده وکړه او له الله ﷻ څخه مو خپل ورور احمد عبدالله ته د توفیق دعاء وغوښتله. څو دقیقې لا نه وې تېرې شوې، دوهم خبر راغی، چې په تنزانیا کې د امریکا پر سفارت برید شوی دی.

موږ بیا الله ﷻ ته سر د شکر پر سجده کېښود.

بدر ورور د یو څه اخیستلو لپاره ښکته تللی و، کله چې بېرته راغی ما ورته وویل چې موږ به اوس د بس تمځای ته ځو، چې سمدستي سفر وکړو، هغه له موضوع څخه هیڅ خبر نه و.

ویې ویل: د غرمې ډوډۍ تیاره ده.

موږ د غرمې ډوډۍ وخوړه او سمدلاسه د بس تمځای ته لاړو.

ما بدر ورور ته وویل چې ټولو ورونو ته ووایه چې سمدستي له پاکستانه ووځي او افغانستان ته لاړ شي.

ویې ویل: څه خبره ده؟

ما وویل: تاسې به هلته پوه شئ، ان شاءالله.

هغه وویل: زه به دلته له امیر څخه اجازه واخلم.

ما ورته وویل: زه خپله امیر یم.

ویې ویل: زه ټولو ته وایم.

په تمځای کې مو له ورور فهد سره وکتل، موږ اورېدلي وو، چې دوی د ورور مروان پر پاسپورت شک کړی و او پرېکړه یې کړې وه، چې هغه باید بېرته کینیا ته ولاړ شي، هلته زموږ یوه ملګري دا موضوع شارله، موږ ورته وویل چې هر څومره پیسې غواړې، ور یې کړه، خو چې ورور کینیا ته لاړ نشي.

موږ د کوټې ښار په لور په بس کې سپاره شوو، یو مصری ورور زما تر څنګ ناست و، چې له توه څخه کراچي ته را رسېدلی و او له افغانستان څخه راغلی و، ما له هغه سره له پخوا پېژندل، په دې حال کې هغه ته د بېرته ستنیدو امر راغلی.

هغه ماته وویل، آیا ته پوهېږې، ولې د بېرته ستنیدو امر وشو؟

ما ورته وویل: شاید یو څه پېښ شوي وي او ورونه په خپله پرېکړه ښه پوهېږي.

هغه په لاره کې خبرونه اورېدل، ما ورته کتل، چې په ډېر غور سره ورته غوږ و.

ماته یې وویل: د امریکا پر دوو سفارتونو په کینیا او تنزانیا کې چاودنې شوې دي.

ما ورته وویل: څه وخت؟

هغه وویل: نن.

ما وویل: دا ښه کار دی او د مجاهدینو په ګټه دی، ان شاءالله.

هغه وویل: بالکل، خو امکان لري، چې زما سفر وځنډوي.

ومې ویل: چېرته ځې؟

راته کړل یې: ترکیې ته.

ما وویل: عملیات چا کړي؟

هغه وویل: تر اوسه یې هیڅوک نه دی معلوم.

موږ تر هغه وخته خبرې کولې تر څو چې زما سترګې پټې شوې او په ژور خوب ویده شوم.

## د طالبانو لیلیه

موږ کوټې ښار ته ورسېدو او د طالبانو په یوه استوګنځي کې ښکته شوو، هلته ډېر طالبان راټولېدل او بیا به په بسونو کې سپریدل، چې کندهار ته یې بوځي. موږ هم په دې بسونو کې یوه ته ور پورته شوو، موږ باندې یې تر هغه وخته مزل وکړ، تر څو چې د کندهار هوایي ډګر مخې ته ورسېدو او زموږ کوروونه هم هلته وو، د هوایي ډګر مخې ته ښکته شوو او هلته مو د هوایي میدان له ساتونکو طالبانو ورونو څخه وغوښتل، چې کورونو ته مو ورسوي، زموږ کورونه د هوایي ډګر له دروازې څو کیلومتره لیرې وو، د استوګنې د کورونو په دروازه کې مې له ابو جندل الیمني ورور او یو شمېر نورو هغو ورونو سره ولیدل چې د هوایي ډګر په کمپلکس کې د ساتنې لپاره اوسېدل، هغوی ماته خبر راکړ، چې کمپلیکس څه باندې یوه اونۍ وړاندې خالي شو او اوس ټولې کورنۍ په ښار کې اوسېږي. له لږ ځنډ وروسته شیخ سعید رحمه الله راغی، موږ یې د کندهار ښار ته یووړلو او ریحان کلي ته ولاړو، هلته څو کورنۍ اوسېدې. د شیخ ابو الخیر په کور کې مې له شیخ اسامه رحمه الله، شیخ ابو حفص الکومندان او دکتور ایمن الظواهري سره ولیدل. موږ لږ ګړی سره کښېنستلو، په ټوله ناسته کې سلامونه، احترامات، مبارکیانې او پخیر رارسېدل وویل شول او دا مو سره ویل، چې له دې وروسته به د خاص کار په اړه ناستې کوو.

زه له کورنۍ او لوڼو سره د لیدو لپاره خپل کور ته لاړم، ټول مې په ښه حالت کې ولیدل، زما له یوولس میاشتني سفر وروسته پخیر کور ته په رارسېدو خوشحاله وو. ما مې د لومړي ځل لپاره خپله لور میمونه ولیدله، دا هغه وخت پیدا شوې وه، چې زه په کینیا کې وم، هغه له مریم، فاطمې او حفصې وروړسته زما څلورمه لور ده.

## مروان او العوهلي

بله ورځ مو له پاکستان څخه خبر ترلاسه کړ چې ورور مروان د هلو ځلو له ناکامۍ وروسته نیروبي ته لېږل شوی دی، خو وروسته معلومه شوه چې د هوایي ډګر اداري هغه درې ورځې د پلټنو لپاره توقیف کړی و، له هغه وروسته یې د کینیا حکومت ته سپارلی و، چې هغه حکومت بیا سمدستي امریکایانو ته وسپاره او العوهلي نه و شهید شوی.

هغه ژوندی او آزاد و، لږ ټپي شوی و او هغه هوټل ته تللی و، چېرته چې په لومړي ځل راغلی و، له هارون سره په اړیکه نیولو نه و توانېدلی، نو یې له پاکستان سره اړیکه نیولې وه او خبر یې ورکړی و، چې چېرته اوسېږي، خو امنیتي ځواکونه هغه ته تر هارون مخکې په چټکۍ سره ور رسېدلي وو، ځکه په هغه ماښام د ټولو بهرنیانو د نیولو کمپاین ترسره شو، په ځانګړې توګه له هوټلونو څخه، آن تردې چې ابو طلال یې هم له یوه پنځه ستوریز هوټل څخه نیولی و، خو هغه بیا د هغه ایټالوي شرکت له مداخلې وروسته خوشې شو، چې هغه تړون ورسره کړی و.

